# د رڼا پیغامونه

شاعر پوهاند ډاکټر سید قمبر علي حیدري
د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي استاد

**مومند خپرندویه ټولنه – جلال اباد، ننګرهار**

[redacted]

**info@momandbook.com – www.fb.com/momand626161**

۰۷۸۱٦۲٦۱٦۱ - ۰۷۰۰٦۲٦۱٦۱ – ۰۷۷۷٦۲٦۱٦۱

# د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم:** د رڼا پیغامونه

شاعر : پوهاند ډاکټرسید قمبر علي حیدري

ډیزاین: هدایت الله عادل

**چاپ کال:** ۱٤۰٤ل – ۲۰۲۵م

**چاپ وار:** لومړی

**د چاپ شمېر:** زر ټوکه

**د چاپ حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي.**

**کابل:** سمون ، جهان دانش ، مستقبل، پکتوس، اکسوس او سروش کتابپلورنځی.

**پکتیکا:** مجاهد او آریانا کتابپلورنځی.

**کندهار:** امیر کروړ، افغان او مطالعه کتابپلورنځی.

**خوست:** رحیمي، سباوون، ژوندون، ابدالي ،لېوال او رڼا کتابپلورنځی .

**هلمند:** سید جمال الدین ، القلم او تاج منور کتابپلورنځی .

**پکتیا:** ماشاءالله، همت یار، ذاکر کتابپلورنځی.

**غزني:** قیومي او خواجه عبدالله انصاري کتابپلورنځی.

**لغمان:** یونس کتابپلورنځی.

**مزار شریف:** ثقافت کتابپلورنځی.

بسم الله الرحمن الرحيم

# اهدا

دا کتاب خپلې قدرمنې مور، محترم پلار ، گرانو اولادونو او خپلې مېرمنې ته ډالۍ کوم !

حيدري

**بسم الله الرحمن الرحيم**

## سریزه

د خوشحالۍ ځاي دي چی دوهمه شعري ټولګه مي ترتیب او د چاپ لپاره اماده شوه٠

نه غواړم چي ځان په ادبي بحث کي بوخت کړم٠خو زما د نظر نه ښه شعر هغه دي چي په ادبي فنونوسمبال او د ټولني د اصلاح لپاره یومثبت پیغام ولري٠

کیداي شي زما شاعري د ادبي فنونو له نظره په تول پوره نه وي خو دوهم اړخ ئي خورا پیاوړي او هر شعر د ټولنې د بیدارۍ لپاره خاص پیغام لري٠

زمونږ ټولنه دومره په تورتم کي ډوبه ده چی هر لیکوال باید په خپلو لیکنو کي د دغه بدبختي څخه د راوتلو لپاره په خپل شعر کي د رڼا پیغام ولري٠

ما ځکه په خپل شعري کتاب (د رڼاپیغامونه) نوم ایښي دي٠

د ګرانو لوستونکو څخه مي هیله دا ده چی د لوستلو په وخت کي د غلطیو سره مخامخ کیږي او یا کوم شعر ددوي د خاص نظر سره په ټکر کي وي معافي راته وکړي٠

په پاي کي د ښاغلي هدایت الله عادل څخه د زړه له کومي مننه کوم چي د کتاب په کمپوز او تدوین کي ئي زحمت ګاللي دي٠

همدارنګه د مومند خپرندویه ټولنې د ننګرهار د څانګې څخه مننه کوم چې د رڼاپیغامونه د کتاب تر څنګ ئې زما زرګونه ټوکه طبي کتابونه چاپ او نشر کړي دي.

د کورنۍ د غړو د تشویق او همکاري څخه هم مننه کوم.

**په درنښت**

پوهاند دوکتور سید قمبرعلي (حیدري)

د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي استاد

د پېغلو بوی خو وي د پېغلو تن کې
ساده زلمي يې له عطار (۱)غواړي

داني داني لونګ نه څه جوړېږي
وړ دسينو چې شي نو تار غواړي
دمطرب ګوتو کې نور څه هنردی
که شي باچا خو دی ستار غواړي
مستي کوترې دي چنار غواړي
ظاهر کې خاندي او په پټه ژاړي
پيغله باني (۲)کوي خو يار غواړي
واعظه ټوله ورځې تاته غوړ يو
خوخلک وړي دي اوکار غواړي
دچا په کلي ګذاره دچا په ښارکې نه شي
داخلک ټول وطن ګلزار غواړي
د کلي پېغلې اوس ګودرته نه ځي
زلمي به خود چکر د ښار غواړي
ستا په پيالو يې تسل کله کېږي
دپلار نه پټه مې چينې ته غوښتې
حيدري هرڅه په تلوار غواړي

[1] عطرو پلورونکی
۲ باني. چه اصلاً بهانې ليکل کيږي؛ خود شعر د قافيي د برابرولو لپاره بانې ليکل شوي دي

غلې سترګې او د غلا کتل یې خوند کړي
د ماښام او د سبا کتل یې خوند کړي
رخصت اخلي او په شاسترګې راواړي
په مخ درومي اودشا کتل یې خوند کړي
هرکتل یې د هنر وي په خندا که په ژړا وي
په چربانګ کې د ژړاکتل یې خوند کړي
په ماښام کې خو د شرمه ښکته ګوري
خو بسترکې په خنداکتل یې خوند کړي
خاموشۍ کې لکه بحر او ګرداب شي
په شوخۍ کې دغوغاکتل یې خوند کړي
په سرولاسو چې سور جام په لاس کې درکړي
جام په لاس کې دکړنګا کتل یې خوند کړي
دکمر په سر ولاړه هسکه غاړه
دلاله په شان مسکا کتل یې خوند کړي
چې نسیم دغره دسره خوري زلفې لوبولي
ما لیدلي دنخا کتل یې خوند کړي
حیدري په دي تصویر کې یې لوی راز دی
په تیاره اوپه رڼا کتل یې خوند کړي

چې دسرو شونډو په ما داغ پاتې شي
زه دساقي په لاس کې جام ښه يم
چاکړې راتلولې چاترې تال جوړکړ
زه بنديوان په دغه دام ښه يم
هرمازيگر به په گودر تيروم
په دي گناه کې خوبدنام ښه يم
په تصور کې يې تصوير جوړوم
زه په خيالونو کې رسام ښه يم
دښار بنگلې دې د صيبانو اوسي
زه دجانان سره پروت په بام ښه يم
چې نه يې وس دسرسايي نه دزکات رسيږي
زه دغريب کلي امام ښه يم
چې يې وعده راته دشپې راکړې
زه د سهرنه په ماښام ښه يم
روغو ژوند کلي کې نه تيريږي
زه کلی نه پريږدم سرسام ښه يم
دوه ښکلاگانې به راتلولې کړمه
يار دکالام [1] زه دنورلام [2] ښه يم
پانې مې خرې خوک مې نه يادوي
گل سنجد يم په مشام ښه يم

١ کالام. دسوات يو ه شکلي سيمه

٢ نورلام دلغمان ولايت دعلينگار په ولسوالی کې يو شکلي دره

خيرکـــــــه جانـــــــان د غلغلـــــــې [1] دښـــــــاردی
زه پـــــه کنړکـــــې دبارګـــــام [2]ښـــــه يـــــم
نـــــه ځـــــم خپلونـــــو او ســـــمتونو پســـــې
زه حيـــــدري شـــــاعر دقـــــام ښـــــه يـــــم

ودېـــړي نـــن ســـبا بـــه پـــه ډولـــۍ کـــې د يـــار کورتـــه
جانـــان ســـه پـــه پالنـــګ دپريوتـــو هـــنر بـــه زده کـــړي
شـــــه شايســـــته اولاد بـــــه دې پيـــــداشي بختـــــورې
اول د خپلـــې مـــور نـــه دللـــو هـــنر بـــه زده کـــړې
بامونوتـــه ختـــل پـــه بـــد ماشـــۍ او مســـتۍ نـــه شي
بـــام تـــه چـــې ورخيـــژې دزينـــو هـــنر بـــه زده کـــړې
ديخ غـزني نـه راغلـې جـلال کـوټ کـې چـې دېـره شـوې
دلتـــه دګرمـــــۍ اودغرمـــــو هـــــنر بـــــه زده کـــــړې
زمـــونږ د شـــعبې مـــشره مـــديريت دې مبـــارك شـــه
وړ د دې چـــوکۍ يـــې دچوکـــو هـــنر بـــه زده کـــړې
ژونـــــد زمـــــونږ د کـــــلي پـــــه بـــــاور اورواجونـــــو
د دې عـــصر زلمـــي د بدليـــدو هـــنر بـــه زده کـــړې
پـــه خـــير دنيـــا تـــه راغلـــې پـــه ژړا دې ژونـــد شروع کـــړ
بيرتـــه بـــه تـــرې درومـــې دســـلګو هـــنر بـــه زده کـــړې
د ســـيند پـــه غـــاړه جـــوړه کوټـــه نـــۍ کـــړه مـــازيګرکې
ماشـــوم سره ماشـــوم شـــه دکوټـــو هنربـــه زده کـــړې

[1] دغلغلي تاريخي شار چه په باميانو کي موقعيت لري
[2] بارګام چه دکنړ په شکلي ولايت کي موقعيت لري

سندکي لمبل ښه دي ده اړتيا دانسانانو
سند کي چې ګډېږي دلامو هنر به زده کړي
يه حيدري نورې نو نتکی اوټيکی مه راوړه
تور لونګين راوړه دسينو هنربه زده کړې

دې سيلاب وړې کوډی [1]ته ژړا راشي
دې تالا والا چرګی [2]ته ژړا راشي
چې د مور په غېږ کې نه وه د چپې په غېږ کې راغله
دماشوم وړې سلګی ته ژړا راشي
د لمسي دغمه تيره ده دسره
يوبې وزلې نيا بوډی ته ژړاراشي
د شيدو په ځای دخټوشوله ډکه
دې وړې وړې خولګی ته ژړا راشي
کله ډکه دپستو ډوډو نه نه شوه
د غريب تشې شکری ته ژړا راشي
دسوالي جامونه ډکه دانا دلاس پيټی [3] وه
خړ سيلاب وړي پيټی ته ژړا راشي
هم ژړا کړم هم دغم شعرونه ليکم
حيدري يم دماتم شعرونه ليکم

[1] کوډی. يعني کور
۲ چرګی. دکور دمشخص موقعيت لپاره استعماليږي
۳ پيټی. دڅادر بکس

ښکته جنګ دی پورته جنګ دی
ټول جهان کې امن نه شته

په يو کټ راسره پروت دی
خوجانان کې امن نه شته
پيغلې لوټ به دې وربل کړي
تور ريحان کې امن نه شته
کله تندرترې ګذار شي
پاس اسمان کې امن نه شته
سيلاب راشي کلي يوسي
په باران کې امن. نه شته
د خالونو سيالي ګوري
زنخدان کې امن نه شته
چې غاټول دمخې لو شو
په بيابان کې امن نه شته
چې خنجرې پرې سپرې دي
په چشمان کې امن نه شته
نه قوده شوي نه راغونډې
په زلفان کې امن نه شته

حيدري قصې دي بس کړه
ستا داستان کې امن نه شته

خدایـــــــــــه داســـــــــــې بهـــــــــــاراوړې
چـــــــــې مرســـــــلې پـــــــه وربـــــــل شي

اور دمینـــــــي د کینـــــــې پـــــه زړه کـــــې بـــــل شي
خدایـــــــــــه داســـــــــــې بهـــــــــــار راوړې
چـــــــــې اغـــــــــــزي د مخــــــــــې دل شي
داکـــــــلي دنـــــــرګس دګـــــــل محـــــــل شي
خدایـــــــــــه داســـــــــــې بهـــــــــــار راوړي
چـــــــــې ټوپـــــــــك پکـــــــــې بـــــــدل شي
او شـــــــــپونکی پکـــــــــې اتـــــــــل شي
خدایـــــــــــه داســـــــــــې بهـــــــــــار راوړې
چـــــــــې نـــــــابو د پـــــــردي پـــــــل شي
یـــــــا پـــــــه دواړو پښـــــــو شـــــــل شي
خدایـــــــــــه داســـــــــــې بهـــــــــــار راوړې
چـــــــــې یـــــــو ورور دبـــــــل ســـــــه مـــــــل شي
او راټـــــــول پـــــــه یـــــــو کابـــــــل شي
خدایـــــــــــه داســـــــــــې بهـــــــــــار راوړې
چـــــــــې پـــــــه ځـــــــای دپګـــــــړۍ ول شي
او پـــــــــه رب زمـــــــــونږ توکـــــــــل شي
خدایـــــــــــه داســـــــــــې بهـــــــــــار راوړي
چـــــــــې اســـــــان پکـــــــې مـــــــزل شي
او دالاره ټـــــــــــــول کبـــــــــــــل شي
خدایـــــــــــه داســـــــــــې بهـــــــــــار راوړې
چـــــــــې پـــــــه لاس کـــــــې مومشـــــــعل شي

د دې کلي په کوڅو کې... د سږو نه ساه وتلې
د لیلا په سپینو متو ..... .... د بنګړو نه ساه وتلې

میخانه کې ساقي نه شته
د پیالو نه ساه وتلې
په پیسو چې شولي خرڅې
د شملو نه ساه وتلې
څه بې وخته مرګې راغې
د سلګو نه ساه وتلې
بس یواځې خوله کې ساه ده
د پښو نه ساه وتلې
ایله زار چې شو خاموشه
د ټپو نه ساه وتلې
بازارګرم د لیوانو
د زمرو نه ساه وتلې
د ښکاري ټوپک په لاس کې
د مرغو نه ساه وتلې
کلي کور د ماشومانو
د زلمو نه ساه وتلې
د پاچا له تاجه کوزې
د جوغو نه ساه وتلې
دا ترخه چې ښه لګیږي
د خوږو نه ساه وتلې
د سینې قفس کې بند دې
د زړګو نه ساه وتلې

چـــې زمـــــــونږه نـــه ســـــــــاه اخـــلي
د هغـــــــو نــــــه ســـــــــاه وتـــلي
حــــــــيدري نظـــــــر يـــــــي مـــات کــــړه
سپـــــيلنـــــو نــــه ســاه وتلـــــــــي

چـــې پـــه کـــې ښـــخ دي دزلمـــو سرونـــه
زيـــــارت دکـــــومې هــــــديرې وکړمـــــه
چـــې تـــن يـــې پـــټ کړمـــه پښـــې يـــې لـــوڅې
دغيريبـــــى يـــــې ځـــــه چـــارې وکړمـــــه
هــــــره خــــــوا ګورمـــــه يتـــــيم بچـــــوړي
يـــاد د خـــــورزيې کــــه دورېـــــرې وکړمـــــه
چـــامې ســـــينه او چـــا مـــې سرکـــړو نښـــه
دفــــع دکــــومې تومـــــانچې وکړمـــــه
هــــم مـــې ســـېځې او هــــم اوبـــه راکـــوي
ورتـــه دعـــا او کـــه ښـــېرې وکړمـــه
ورتـــه مـــې ويـــوړه دســـاداتو جرګـــه
نـــوري پـــرې ځـــومره مرکـــې وکړمـــه
ســم ليـــوني شـــوم دغمـــو لـــه بـــاره
خدايـــه زه ځـــومره حوصـــلې وکړمـــه

يـــار او ريبـــار دواړو جفـــا وکړلـــه
حيـــدري چانـــه بـــه ګيلـــې وکړمـــه
ښـــکلى ســـفر دنورســـتان مـــو وکـــړ
يـــاد يـــې د کـــومې خـــاطرې وکړمـــه

سم لیونې شومه یاړوند په سترګو
چې دسرو جام په سپین رخسار دېره شو

دادم خان دژوند قصه رنګینه
چې په لرګي د کلمو تار دېره شو
ما هله وبایلله وروسته پوه شوم
چې په لستوني کې مې مار دېره شو
دلته د سرو وینو د رنګ بدل کې
چې سپین نرګس په ننګرهار دېره شو
مونږ نه دي واخستلي خان شوي خانه
په خزانو دي اوس ښامار دیره شو
موزي خو کلي دنیستي نه پریښود
لانورغریب شو چې په ښاردېره شو
دمیني زوره تاکي ځومره زور دی
چې ځوك په دشتو ځوك په دار دېره شو

حیدري زړه دې دومره تنګ ولې دی
چې په کې یو دمیني یار دېره شو

د شعر عنوان دی شکر دره

دغـــــــــــور بنـــــــــد دســـــــــفر راغلـــــــــو
ســـتړي ســـتړي بنـــد پـــه بنـــد دســـفر راغلـــو
ښـــــــــــــــــــه ملګـــــــــــــــــــري راسره و
ښـــــــــه پـــــــــه خوندد ســـــــــفر راغلـــــــــو

+++++

چاریکـــــــار نـــــــه چـــــــې راتـــــــیر شـــــــو
ښـــــکلي ښـــــارنه چـــــې راتـــــیر. شـــــو
پـــــــــه طـــــــــرف دکوهـــــــــدامن شـــــــــو
دګلـــــزار نـــــه چـــــې راتـــــیر شـــــو

++++

یـــو ه خـــوږ لکـــه شربـــت کـــلي تـــه راغلـــو
دګـــل او دبلبـــل دمحبـــت کـــلي تـــه راغلـــو
هـــرې ونـــې د خوښـــۍ ســـندرې ویلـــې
ښـــه پـــه تـــاب او پـــه عـــزت کـــلي تـــه راغلـــو

++++

کـــــــلي نـــــــه وه سمســـــــور بـــــــاغ وه
دسرو ګلـــــــــو بـــــــــل خـــــــــراغ وه
دچینـــــــــو خـــــــــوږي اوبـــــــــه وې
چـــــــای ښـــــــه ګـــــــرم داجـــــــاغ وه

++++

پـــه یعقـــوب کـــې دجـــمال ســـه میلمانـــه شـــو
ویمـــه ســـم د زنـــې خـــال ســـه میلمانـــه شـــو

د حرمـــــــت تشـــــــبه دخـــــــه شي سره وکـــــــړم
تـــوريې زلفـــي د ســـور شـــال ســـه ميلمانـــه شـــو

++++

غـــنم رنگـــي د منگـــل پـــه نـــوم يـــو ځـــوان و
چـــــي دا خـــــومره مينـــــه نـــــاك او قـــــدردان و
دجـــــمال ســـــه يـــــو تنکـــــی زلمـــــی راغـــــلی
بـــــس پـــــه مـــــونږ لکـــــه دترونـــــو مهربـــــان و

++++

حيـــدري ســـه نـــور الفـــاظ دصـــفت نـــه شـــته
دومـــره بـــس دي بـــس دنـــورو حاجـــت نـــه شـــته
عقـــوب پـــه شـــکر دره کـــي يـــو کـــلی دی
چـــي مـــونږ ديـــو باعزتـــه ميلمـــه پالـــه سره ميلمانـــه وو

مخونـــــه نـــــه ګـــــورم خوزړونـــــه ګـــــورم
پـــــټ پـــــه پرونـــــو وربلونـــــه ګـــــورم

پـــــه سر شـــــه پوکـــــه دهنـــــدو پګـــــړۍ وي
زه یـــــې د سر مـــــنځ کـــــې مغزونـــــه ګـــــورم
خلـــــك عطـــــار دکـــــان تـــــه لاړل پســـــې
زه دلـــــیلا تـــــن کـــــې عطرونـــــه ګـــــورم
ګـــــرځم ګـــــودر پـــــه مـــــازیګر لټـــــوم
چېرتـــــه د پېغلـــــو ښایســـــتونه ګـــــورم
پـــــروت بي هوســـــه پـــــه بســـــتر کـــــې نـــــه یـــــم
دســـــینو مـــــنځ کـــــې ســـــیلابونه ګـــــورم
ســـــاقي دتانـــــه دخـــــه تمـــــه نـــــه کـــــړم
دشـــــیخ پـــــه لاس کـــــې چـــــې جامونـــــه ګـــــورم
شـــــوق دنقـــــري او دطـــــلا نـــــه کـــــوم
دیـــــار وربـــــل تـــــه سره ګلونـــــه ګـــــورم
خلـــــك لګیـــــادي تـــــوره او ډال لټـــــوي
زه مـــــات ربـــــاب تـــــه خـــــو تارونـــــه ګـــــورم
مانـــــداره دپـــــاس اســـــمان کولـــــه
کـــــه دلـــــیلا پـــــه مـــــخ خالونـــــه ګـــــورم

چـــــې پـــــه‌کي ولـــــولم ســـــبق دمینـــــې
حیـــــدري داســـــې کتابونـــــه ګـــــورم

خړ ګردونه مې د کلي د کوڅو دي
نښاني يې په سپيرو سپيرو مخو دي

ترنم مې د ګودر په سر تر غوږ شو
اوازونه د ټوټو ټوټو منګو دي
ما پري خيال د غمي وکړو خبر نه وم
چې تنې پرتي د څيرو ګريوانو دي
پسرليه دا په کومه نخره راغلې
علامې درکې د ګل د رژيدو دي
تور ماښام کې دې ډيوه د ځان سره راوړه
چې خواران يې منتظره د شغلو دي
نور مې هيڅ اوبه خواړه په دنيا نشته
دا شېبې مې د وړو وړو سلګو دي
چې ارام يې د طبيب په نسخه نه شي
دا دردونه د زخمي زړګو دي
دغه کلی دومره وران نه و ملګرو
راته ياد يې لا اورونه د نغرو دي
دغه شپې به د وطن ښکلې سبا شي
ناوي ناستې په بې ياره پالنګو دي
حيدري چې دي تندي ايښي خپل رب ته
ورته يادي سجدې په مرغکو دي (۱)

[1] مرغکي يو غرني واښه دي چې پخوا به د کلي په جوماتونو کې د فرش په ځای استعمالېدل

شیخ د کوثر په اوبو
ما په لونگ ماته کړه

چا د جومات په پوزي
صیب په بل رنگ ماته کړه
سوالگر د چړ په قطرو
پیر په قلنگ ماته کړه
زه یي په نوم کافر شوم
خو مست په کړنگ ماته کړه
څوک مسافر په غرونو
چا په پالنگ ماته کړه
د غره لمن کي د چیني اوبو سه
وچې ډوډي باندي ملنگ ماته کړه
په کې پیغام د وورلۍ نغښتی
خو مونږ د سره نه په جنگ ماته کړه
دا ځل مې زړه کي وه چې تولې نیسم
په ما شیطان څه په نیرنگ ماته کړه
ملا ممبر کې د خرما وویل
د کلي ځوانه تا په بنگ ماته کړه

زه حیدري یې په اذان ماتوم
خو چا ماښیو کې په زنگ ماته کړه

ستا اننګو کې د انار نښه ده
په نرو شونډو د ګلنار نښه ده
دومره تالا مې ګوره ونه ګڼې
لامې حجره کې د ستار نښه ده
چې خوب مې نشته ټوله شپه بیدار یم
دا د بنګړیو د شړنګهار نښه ده
چې ورسه پروت وي د اجړا په شاني
دا د کمزوري غوندي یار نښه ده
اول چېچل او بیا خوړل چې کوي
دا په ځنګله کې د ښامار نښه ده
د خولو بوی دې د ګلانو عطر
خدایګو چې دا د کوم عطار نښه ده
د شاه جهان د لاسه پاتي ماڼي
د نور جهان د اقتدار نښه ده
دي مړو کتو کې دې هنر ګورمه
پکې د میو د خمار نښه ده
دیدن کې طمعې سره خوند پیدا شي
ډېره خوږه د انتظار نښه ده
زلمو د بنګو پیالې ماتې کړلې
دا په نشه کې د هوښیار نښه ده
هلته ګودر کې اوبو اور واخیسته
دغه د مینې د انګار نښه ده
په لمبو خیژي یار ته ځان رسوي

د هورمونونـــــــــــو د انبـــــــــــار نښـــــــــــه ده
د کـــــــلي کـــــــور راتـــــــه د قصرـــــــه زيـــــــات دي
چـــــــې پکـــــــي لـــــــوړه د چنـــــــار نښـــــــه ده
حيـــــــدري پـــــــام د مينـــــــې لاس وانـــــــه خـــــــلي
لا دې پـــــــه زړه کـــــــې د رخســـــــار نښـــــــه ده

دګلونـــــــو پـــــــه دې ښـــــــار بـــــــاران وريـــــــږي
کـــــــه پـــــــه ښـــــــکلي ننګرهـــــــار بـــــــاران وريـــــــږي
عـــــــدالت بـــــــه دبارانـــــــه ځنـــــــې زده کـــــــړو
هـــــــم پـــــــه ګـــــــل او هـــــــم پـــــــه خـــــــار بـــــــاران وريـــــــږي
هـــــــم دغـــــــره پـــــــه هســـــــك نښـــــــترو
هـــــــم دکـــــــلي پـــــــه چنـــــــار بـــــــاران وريـــــــږي
دژونـــــــدون چېنـــــــي دي دواړه پـــــــه هـــــــواکې
نـــــــو پـــــــه ځمکـــــــه بـــــــه بـــــــار بـــــــار بـــــــاران وريـــــــږي
خوبـــــــولي (۱) ځوانـــــــان ټـــــــول دخوبـــــــه ويښ شي
هـــــــره ورځ کـــــــه پـــــــه ســـــــهار بـــــــاران وريـــــــږي
حيـــــــدري خوشـــــــالي نـــــــه کـــــــړي نـــــــو بـــــــه څـــــــه کـــــــړي
چـــــــې پـــــــه هـــــــاړ کـــــــې دبهـــــــار بـــــــاران وريـــــــږي (۲)

۱ همېشه وده وي
۲ د پسرلي او پشه کال ترمنځ موسم ته وايي

مـــــونږ پـــــه پيســــو د پـــــردو جنـــــګ اخلـــــو
خلـــک هـــواريږ خوښـــوي مـــونږه ګړنـــګ اخلـــو

په چا يـي قـدر دومـره ډېـر چـې ګرځوي يـي د تنـدي د پاسه
مـونږ تـريږ خـولګۍ او رخسـار دواړه پـه نيرنـګ اخلـو
پــه زلفــو زانګــو خــو د ټــال پــه قــدر نــه پــوهيږو
ســپيني ســيني يــي ښــکلوو خــو تــريږ لونــګ اخلــو
زمــونږ غـــيرت مـــونږ تـــه ســـودا د مينـــې ګرانـــه کړلـــه
چـې د پالنـګ پـه لـوري ځـو نـو قدمونـه هـم پـه ننـګ اخلو
دومـــره مـــو جنـــګ او د لمبـــو سره مينـــه ډېـــره شـــوله
هوښـــيارو واخيســـتې ډيـــوي مـــونږه پتنـــګ اخلـــو
ډېـر تنـګ نظـري شـو هـر څـه ګـورو لـه تنـګ روزانـه
د مـــزار غټـــو خربـــوزو پـــه ځـــای بادرنـــګ اخلـــو
مــونږه خپــل رنــګ ژر بــدلوو چــې نــور رنګونــه وينــو
ځکـــه پـــه بيـــړه د پـــردو خلکـــو نـــه رنـــګ اخلـــو
مـــونږ مالـــداري دهقـــاني پريښـــوده وايـــو کـــار نشـــته
پدي بحرونو چـې تيريـږو پـه پيسـو ځـان تـه نهنـګ اخلو

حيـدري مـونږ چـې څـه اخيسـتي دي دا ټـول د نـابودۍ لپـاره
مونږه بـه کلـه ښـوونځي تـه د وسلې پـه ځـای يـو زنـګ اخلو

نن دګودر د سر مزې نه شته
چې سالو نه شته سرې لمبې نه شته
سپوږمۍ دستوروموروره ښکاري
ځکه یې سپیني پلوشې نه شته
چا مې کلال دکلي وشړلو
ځکه دخښلو خو پیالې نه شته
نن مې سینه ولې زخمې نه شوله
لکه چې غشو سره جګړې نه شته
دومره خو خیري شو د ورور په لاس مې
چې دګریوان نورې ریښې نه شته
د سیمسارۍ دکان ته نه ورځم نور
چې دلونګ په کې دانې نه شته
دیار دیدن ته انتظارنه کوم
ځکه رښتینې یې وعدې نه شته
حیدري ښه به وي مزه دغزل
پکې دیار ځنې ګیلې نه شته

## کلي ته تللي وم

لوړي نښتري يې په اور ستي وي
په سوي غر مې يو غزل وليکه
چا تري ريبلي وه غاټول د ستې
په تش کمر مې يو غزل وليکه
چې شروع کړی مې دخټو کورکې
په خپل سفرمې يو غزل وليکه
ښکلي مخونه خوسپيره په ګردوه
په دې منظر مې يو غزل وليکه
مايي پرهرپره بدن وليده
په هرپره مې يو غزل وليکه
زړه لاتپيبږي دژوندون په هيله
په سور ټټر مې يو غزل وليکه
دتورو شپو سندري بس دي نورې
په روڼ سهر مې يو غزل وليکه

حيدري زار دخپل قلم د نوکې
څه په هنر يې يو غزل وليکه

زمــــا د دار حلقـــــې تــــه څــــه حاجـــت دی
کــــار چــــې دزلفـــو پــــه ولونــــو وشي
دتــــوت لرګــــی وي پــــه نغمــــه بــــدل شي
کــــه بندوبســــت یــــې دتــــارونو وشي
لمونځونــــه ټــــول پــــه جماعــــت کــــې ښــــه دي
خــــیر کــــه یولمــــونځ پــــه ګودرونــــو وشي
شــــمعي شرمیــــږي اوخپــــل مــــخ پټــــوي
چــــې رڼاګــــانې دخــــالونو وشي
هغــــه یــــاري منــــزل تــــه نــــه رســــیږي
چــــې دفــــال بــــین پــــه تعویزونــــو وشي
وچــــې چینــــې بــــه شي خړوبــــې بیرتــــه
کــــه بیــــا بــــاران پــــه لــــوړو غرونــــو وشي
دجلغــــوزو درمنــــد بــــه بیــــا تیــــار شي
کــــه لــــږ کــــرم پــــه نښــــترونو وشي
حیــــدري رابــــه شي شــــباب دځــــوانۍ
خــــوب کــــه پــــه ســــپینو مړونــــدنو وشي

**شعر**

کــــړې پیــــزوان یــــې پــــه لبــــانو پــــروت دی
شرابي حســــن پــــه چشــــمانو پــــروت دی
چاتــــه شي ټــــال اوزه بنــــدي شــــوم پکــــې
داځــــه اثــــر دې پــــه زلفــــانو پــــروت دی

پــــه ســــپین رخســــار یــــې د تــــن ســــپینه خولــــه
لکــــه شــــبنم چــــې پــــه ګلانــــو پــــروت دی

لـــــیلا بــــې غمـــــه لکـــــه مســــته هوســـــۍ
غـــم خـــو یـــې ټـــول پـــه عاشـــقانو پـــروت دی
ســـاقي داســـتا تقســـیم مـــې خـــوښ نـــه شـــولو
څـــوک پـــه پیالـــه څـــوک پـــه خمانـــو پـــروت دی
حیـــــدري ســـــتا جانــــان بـــــه کلـــــه پـــوه شي
خیـــال کـــړي دزلفـــو پـــه مـــارانو پـــروت دي

زه ملنــــګ شــــوم پــــه ملنګــــو ځمکــــو ګــــرځم
چــې جګــړې پــه اور ســیزلي پــه بــدرنګو ځمکــو ګــرځم
عصرـــي نـــه شـــوم او د پـــلار غـــیرت مـــې پریښـــود
خـــړې ســـترګې پـــه بـــې ننګـــو ځمکـــو ګـــرځم
پـــه ســـمو لارو تـــګ راتـــه پیغـــور ښـــکاري ملګـــرو
پـــه کږلیجـــو ، پـــه پیچومـــو ، پـــه ګړنګـــو ځمکـــو ګـــرځم
د کتــــاب او قلـــم مینــــه شـــیطانانو رانــــه یـــوړه
د ټوپـــک او ګردنـــۍ ســـه پـــه نیرنګـــو ځمکـــو ګـــرځم
وي پښـــو کـــې زولنـــې مـــې د ظـــالم پاچـــا پـــه امـــر
چــې بهــر یــم لــه زندانــه پــه بي شرنګــو ځمکــو ګــرځم
پــه مــونږ ځمکــه جګــه شــوې اســمان څــو نېــزې راټیــټ دی
پــه دې تنګــه شــان دنیــا کــې بــس پــه تنګــو ځمکــو ګــرځم
چـــــې د یـــــار پــــه لعــــابونو خـــړوب شـــوی
تـــش یـــې خیـــال کـــې پـــه ګلرنګـــو ځمکـــو ګـــرځم
رڼـــا ورځ مـــې د خوبـــانو تصـــور کـــې تـــوره شـــپه شي
شــــپه لا ښــــه وي پــــه لونګــــو ځمکــــو ګــــرځم
حقیقــت کــې مــې اغــزو د پښــو تلــې ســورۍ کــړې

حيدري هسي ـ په خيال کې په قشنگو څمکو گرځم

دليونتوب اثر مې اوس وليده
په ميکده کې چې کوثر لټوم

دمينتوب حده داخه دې وکړل
ديار ښو کې خپل نظرلټوم
خلک ماهيان په بحيرو کې نيسي
زه ليونی ورپسې غرلټوم
چا سه پالنگ کې تر سهره پراته
زه په جانان پسې سنگرلټوم
دي مرغلرې دبحرونو لاندې
زه په ډنډونوکې گوهر لټوم
جانان دښار شو زه په کلي پاتې
هغه پتلون اوزه څادر لټوم

حيدري گرځې کتابونو پسې
خوزه په ښکلو کې دلبرلټوم

داسې ځلیږي لکه دستوري په شان
د کومې غونډې زنې خال خونه یې

څه له دې ساتم په بکسونوکې پټ
زما دناوې د سرشال خونه یې
ستاپه لیدو زلمي بې خوده پراته
دافغاني جونو جمال خو.نه یې
مونږ قلم کیدو توره لاس کې واخلو
تاسره دواړه دې خوشال خونه یې
چې چېرته تورې دي تا ماتې کړلي
دقهرمان په لاس کې ډال خونه یې
ستا په اواز شو خلک ویښ دخوبه
د کومه راغللې بلال خو نه یې
چې په تا زانګې او.سینې جنګوي
څه دزلفانونه جوړ ټال خونه یې
دربانډې نښې دګولو پرتې دي
دنیم بسملې مرغۍ بال خونه یې
څه.دنسیم په بڼه راغلي دلته
د یار د زلفو خوږشمال خونه یې

حیدري لاړه لیونۍ ځواني دې تیره کړله
اوس ځان ته ګوره په بدحال خونه یې

قلم راوخله يو يادګار وليکه
نوم په عزت دپرستارولیکه

سپينه چپن يې دپاکوالي نښه
دمحبت ورته اظهار وليکه
په خيرې ټپ چې يې پټې لګوي
دغه لحظې ديو بيمار وليکه
د تن خولې يې دسنځلوبوی کړي
دغه تشبه په يو عطار وليکه
درته صفاکړي دبدن افرازات
ورته قربان اوورته زار وليکه
دبي هوشۍ نه دي په هوش راولي
دغه نيکي يې څو څو وار وليکه
شپه تر سهاره دې خدمت ته ويښه
ورته سلام په روڼ سهار وليکه
ماورته مينه په تحفه کې راوړه
خير که وي لبره ته بسيار وليکه

حيدري نورخه دي په وس کې نه شته
قلم راواخله او شعار وليکه

داخترونو سره شورنه شته
دلته بې غمه کوم يو کور نه شته

دبرق پايه عيدکې کافره شوله
چې کفر نه وي نو بل تور نه شته
دچانه خوږلالی د قبربندي
دلته دډېروخويندو ورورنه شته
هرکورکې اور په مړوسپرغيوبل دی
يونغري کې مې بل سکورنه شته
چې کتاب نه وي پوهه څنګه زده کړو
غليمه حق دې دپيغورنه شته
قتلان خوتيرشو دزلمواوپيغلو
دبرسرو زلموخور نه شته
ميلمه به خود ځي مرور له کلي
چې په حجروکې ټنګ ټکور نه شته
هر بهلوان مې شو معتاد په نشو
ځکه پنجوکې يې اوس زور نه شته

حيدري زور دې دځوانۍ اوبه شو
سپينوويښتوکې دې اوس تور نه شته

چـــې لاپـــرې نښـــې دهوســـۍ دوینـــو سري پرتـــې دي
پـــــامیرکې جګـــــه تـــــاتره ګــــورم غـــزل لیکمــــه
بـــــــاران وریــــــــري شــــــــپه اوږده دژمـــــــــــي
دبــــاران شــــورکې چــــې مـــــزه ګــــورم غـــزل لیکمــــه
اوښـــــــکې بــــــاران بــــــاران دیــــــار دســــــترګو
دګریوانـــــه تنهـــــې لمــــده ګــــورم غـــزل لیکمــــه
زمــا دکــلي زلمیــان ټــول پــه کــې پــه خــوب ویــده دي
زه چــــې یـــــي کلــــه هــــدیره ګــــورم غـــزل لیکمــــه
دچــا دسرو شــونډو ســورداغ مــې پــه غــومبرو [1] پــاتې
پـــاره چــــې ســـتا دلـــب مـــزه ګــــورم غـــزل لیکمــــه
یـــوه هنـــداره ده چـــې دروغ یـــې کلـــه ونـــه ویـــل
خــــوك بي ریـــا لکــــه اینــــه ګــــورم غـــزل لیکمــــه
د ســــهر ســــتوري او دلمــــر پــــه مــــازیګر پرېواتــــه
چـــــې دزمــــان دغــــه چرخــــه ګــــورم غـــزل لیکمــــه
پـــــــه ګردابــــــــوکې تاوراتاوشـــــــــومه ډېــــــــر
چېرتـــــه دسندمســــته څپــــه ګــــورم غـــزل لیکمــــه
چــــې دســــاقي دنــــازه خــــلاص شــــمه نــــور
چېرتـــــه پــــوره ډکــــه پیالــــه ګــــورم غـــزل لیکمــــه
لمـــــــــرراختلی دی جهــــــــــان رڼاشـــــــــــو
زه.چـــې پـــه خـــوب کـــې تـــوره شـــپه ګـــورم غـــزل لیکمـــه
چـــې یــــې نیـــولی پـــــــــه حلالــــــو خـــوړو
څـــم دغریـــــب ســـړي روژه ګـــورم غـــزل لیکمـــه
چــــې پـــري کنتـــــرول وه دبــــازار نرخـــــــونه
بــــیا دکوپــــون یــــو کتــــابچې ګـــورم غـــزل لیکمـــه

[1] غومبري دمخ هغه برخه چې مچکه ترې اخستل کیږي

ما رباعي او مثنوي دفارسي ولوستلي
اوس دپښتو یوه ټپه ګورم غزل لیکمه
حیدري خوند دپردو سازکي نه شته
دخپل رباب یوه نغمه ګورم غزل لیکمه

د یار حسن او جمال څنګه ژر تیر شو
دغه دولس میاشتي کال څنګه ژر تیر شو
لا هوس مي د زنګلو پوره نه و
د لیلا د زلفو ټال څنګه ژر تیر شو
لا جانان مي تر څنګل راغلي نه و
دغه عمر د وصال څنګه ژر تیر شو
د جوزا او د سرطان د برو (۱) وروسته
دا باران د پشکال (۲) څنګه ژر دیر شو
مزه داره و د لیلا په غونډه زنه
تور رانجه او شینکی خال څنګه ژر تیر شو
مونږ خو ویلي ترنم به د اذان اورو تر عمر
د دي کلي نه بلال څنګه ژر تیر شو

حیدري حالت بدل دي ځان بدل کړه
د اخلاص د ژوند مثال څنګه ژر تیر شو

[1] برو (به رو) هغه تاوده بادونه دي چي د جوزا په میاشت کي لګیږي
[2] پشکال هندي لفظ دي چي پښتو او فارسي ژبي ته یي لار موندلي او باراني موسم ته ویل کیږي

د خبيـــث مـــرض د نښـــو او ګيلـــو نـــه ځـــان خـــبر کـــړئ
د سرطـــــان د خطرو،نـــــه ځـــــان خـــــبر کـــــړئ
چـــې زمـــونږه نـــه ژونـــد اخـــلي او زمـــونږ د لاس محصـــول دي
د نســـوارو ، د چلـــم او تمـــاکو نـــه ځـــان خـــبر کـــړئ
ښـــه ســـاده خـــواړه ســـاده شـــکل کـــي وخـــوري
د سرو غوښـــو او سرو غـــوړو نـــه ځـــان خـــبر کـــړئ
چـې اوسـيږو دي محـيط کـي ځينـي ځينـي دشـمنان شـته
چـــې هـــوا ککـــړوي لـــه دي لوګـــو نـــه ځـــان خـــبر کـــړئ
چـــې زمـــونږه پـــه بـــدن لګـــي ، ځينـــي وړانګـــي دي نـــاوړه
چـې څنـګ ځـان تـري بچـوي لـه طريقـو نـه ځـان خـبر کـړئ
چـــې يـــي واخيســـتل زلمـــي بچـــې لـــه ميانـــدو
د بـــاروتو او وســـلو نـــه ځـــان خـــبر کـــړئ
کيميـــاوي مـــواد يـــي ځينـــي لا د زهـــرو هـــم بـــدتر دي
چـې پـري ځـان سـينګاروي نـو د هغـو نـه ځـان خـبر کـړئ
کـــه اړتيـــا مـــو ورتـــه نـــه وه د درملـــو مـــيلان مـــه کـــړئ
هـــم د ښـــځي هـــم د نـــر د هورمونـــو نـــه ځـــان خـــبر کـــړئ
شـــنه باغونـــه ټـــول بـــدل شـــول پـــه قشـــنګه تعميرونـــو
داســـې مـــه کـــوي د بوټـــو لـــه فايـــدو نـــه ځـــان خـــبر کـــړئ
لا تـــر څـــو بـــه د امنيـــت وايـــو چـــې نـــه شـــته
لـــږ د جنـــګ د ضررو نـــه ځـــان خـــبر کـــړئ
پـــسرلي دي بـــوټي نـــال کـــړي پـــه هـــر ځـــاي کـــي
د سرک د دواړو غـــاړو د نيـــالګو نـــه ځـــان خـــبر کـــړئ
شـــاعري يـــي ده ســـاده خـــو پوهـــاوي پکـــي د عـــامو
حيـــدري وايـــي زمـــا د زحمتـــو نـــه ځـــان خـــبر کـــړئ

چې قدمونه د یار نه وي
نو مژگان کلي ته نه ځي
چې بلې د کلي وراني
نو ریحان کلي ته نه ځي
اوربلونه چې لاړ نه شي
نو گلان کلي ته نه ځي
چې پېغلې لاړي نه شي
نو ځوانان کلي ته نه ځي
چې زلمي پري نه زنگیږي
نو زلفان کلي ته نه ځي
چې بي بي کلي ته نه ځي
مزدوران کلي ته نه ځي
چې انگور پکې شنه نه شي
نو رندان کلي ته نه ځي
بس د ښار کوڅي یې خوښي
په هیڅ شان کلي ته نه ځي
نو به کلي څنگه جوړ شي
چې دهقان کلي ته نه ځي
نو چې جوړ و زمونږ خوښ و
اوس څوك وران کلي ته نه ځي
جوماتونه یې ژړیږي
مقتدیان کلي ته نه ځي
حیدري چې رانجه نه وي
نو چشمان کلي ته نه ځي

لا د زړو جـــــامو زاړه زاړه درزونـــــــه ګنـــــدم
دکمـــي يـــې نشـــته څـــيرې څـــيرې ګريوانونـــه ګنـــډم
اخـــتره هـــيڅ پـــه تـــا خـــبره نـــه يـــم چـــې کلـــه راځـــي
د خپـــل پرهـــر زړګـــي خپـــاره خپـــاره زخمونـــه ګنـــډم
مـا سره غـم دی چـې بـه څـه خـورو د اخـتر پـه شـپه کـې
د سـوال قطـرو تـه پـه سـوالي سـتنه شـکورونه (¹) ګنـډم
د دنيـــا ټـــولې مســـلمانې اخترونـــه لمـــانځي
خـــو زه افغانـــه د غمونـــو امیلونـــه ګنـــډم
فقـر نيسـتي جنـګ جهالـت زمـونږ د کـور ميلمـه شـو
خـــود بـــه د کونـــډو د زړوکـــو پلونـــه ګنـــډم
د خلکـــو ژونـــد غـــزل غـــزل دي پـــه خوښـــي تيريـــږي
زه لا اوس هـــم د خپـــل زخمـــي بـــدن ټپونـــه ګنـــډم

پـه هـر لـوري چـې درومـم ميکـده مخـې تـه راشي
چـــې څـــم پـــه کومـــه لاره هغـــه لاره رانـــه ورکـــه
پټـــي مـــې د جـــوارو د شـــالي پـــه تـــول اوبـــه کـــړو
پخپـــل پټـــي کـــې خدايـــه خپلـــه بـــاره رانـــه ورکـــه
چـې پيغلـې مـې د کـلي د ښايسـت پـه اوبـو رنـګ کـړم
مشـــاطه چيرتـــه ورکـــه ده هوښـــياره رانـــه ورکـــه
جګـړه پـه جنـګ ورکومـه دا څـه وشـو څـه بـه کيـږي
طـــرف د ســـولې نيســـم خـــو کـــړنلاره رانـــه ورکـــه
پـه دې ښـار کـې ليـونی يـم پـه خوبـانو پسـې ګـرځم

¹ شکورونه چې د شکور جمع ده د لوخو څخه جوړيږي او ډوډۍ پکې ساتل کيږي.

د مينـــي پـــه بـــازار کـــې مـــې دلــــداره رانـــه ورکـــه
د دې کــلي هــر وړکــي مــار ښــامار شــو لويــه خدايــه
لټـــوم بـــه خزانـــې لويـــه ښـــاماره رانـــه ورکـــه
چـــې پـــه يـــو اواز پـــرې کـــلی رابيـــدار کـــــــــــړم
پـــه خولـــه کـــې مـــې د خونـــد هغـــه کوکـــاره رانـــه ورکـــه
حيـــدري لـــيکم نظمونـــه کلـــه يـــو رنـــګ کلـــه بـــل رنـــګ
د پښـــتو ټپـــه سرشـــاره رانـــــــــــــــه ورکـــــــه

نـــــه ســـــيتار کـــــې څـــــه مـــــزه شـــــته
نـــــه خونـــــد پـــــاتې شـــــاعری کـــــې
چـــــې دمـــــور دکمـــــيس نـــــه وي
څـــــه بـــــه خونـــــد وي پـــــه زولی کـــــې
بيغلـــــــې کـــــــده شـــــــوې دکـــــــلي
کشـــــمالي نـــــه شـــــته بلـــــی کـــــې
سرکـــــې شـــــوندي ســـــپيري شـــــوي
لـــــذت نـــــه شـــــته پـــــه خـــــولګی کـــــې
لـــــــــــــــيلا لاړه ځوانيمرګـــــــــــــــه
څوک .بـــــه راشي پـــــه .ډولی کـــــې
ځـــــه اخـــــتره بيرتـــــه لاړشـــــه
چېرتـــــه ګرځـــــه خوشـــــالی کـــــې
پـــــه نـــــري تـــــار دي تـــــړلي
د اژونـــــدون پـــــه دنيـــــاګی کـــــې
حيـــــــدري عمـــــــر دي تيرشـــــــو
يو .جانان .تـــــه بـــــه زاری کـــــې

داستاذانو د خولو برکت دی
د محصل دشوګیرو برکت دی
شاګرده ستا د پاکوهیلو زارشم
ستا د کامیابونتیجوبرکت دی
چې د سرطان د میاشت بې برقه شپه وي
پکې د داسې سختوشپوبرکت دی
هېره دې نه شي د مامور او مدیرانو ونډه
په کې ددا سې مېړنو برکت دی
کارګره ستاستړي بدن نه زارشم
ستادلاسونو دابلو برکت دی
احترام ټولوفاکولتوته پکار
زمونږ دټولواداروبرکت دی
دیوچانوم به ځکه نه لیکم چاپلوس به شمه
دا د وطن دشازلموبرکت دی
چا چې یې تیږه له اوله ایښې
دا دهغود خاطرو برکت دی
د طب د برخې یادونه پکار
د داوطلبو نوکرو برکت دی
لږه به یاده د درملو وکړم
په سپینه سوې دتجربوبرکت دی
حیدري ورک دی ځانله ژوند شي
داخه چې یو دیوکیدوبرکت دی

(28th Menstrual.hygien.day)دجـوزا دمیاشـتي اومـه نیټـه چـې دښـځو دقاعـده ګـي یامیاشتني عادت دورځي سره برابره ده
نـو دټـولني دټولـو اقشـارو سره لازم دي چـې ښـځوته روحیـه ورکـړي ،پـاکي تـه یـي وهڅـوي ، مرسـته ورسره وکـړي او نـور. مـاهم لازمـه وګڼلـه چـې څـو صـحي سـاده پیغامونـه پـه یـو ساده شعر کي دوطن مظلومو ښځو ته ډالي کړم .

مریـــــــــــــضي نــــــــــه ده عــــــــــــــادت دی
شرم نــــــــــه دی خــــــــــو عفــــــــــــت دی
چـــــــــې لایــــــــــــق دمورکیــــــــــــــدو شي
دا دوران یــــــــــــــــــــې اولیـــــــــــــــت دی
چـــــــــې پیغــــــــام دپــــــــــاکۍ ورکــــــــــړو
دا زمـــــــــــــــــونږه رســـــــــــــــــالت دی
لاس نیــــــــــوی د ښـــــــــــــځو وکـــــــــــــړئ
ســــــــــړو دې کـــــــــې مـــــــــو عــــــــزت دی
دا ارشــــــــــــــــــــاد نبــــــــــــــــوي دی
معــــــــــــــاف روژه او عبــــــــــــــــادت دی
دوهــــــــــــــــــــــــلولایق نـــــــــــــــــه دی
حــــــــــق یــــــــــې مینــــــــــه محبــــــــــت دی
خوینــــــــــــــــدو داخــــــــــــــــبره واورئ
چـــــــــې پـــــــــاکۍ تــــــــــه ضرورت دی
چـــــــې پــــــاك تـــــــوکي اســـــــتعمال کـــــــړي
نـــــــو دواتـــــــه څـــــــه حاجـــــــت دی
حیـــــــــــــدري دادی کــــــــــــــــمال دی
چـــــــې هـــــــر شـــــــعر دی نصـــــــیحت دی

اول خوندونـــــــــه وه وختونـــــــــه نـــــــــه وه
اوس چــــې وختونـــــه شـــــته خوندونـــــه نشـــــته

پرخــــه بــــه خـــود پـــاس پـــه اغـــزو وربـــړي
چــــې پـــه دي ځمکــــه ګلابونــــه نـــه شـــته
زني لغــــــړي شــــــوي د پيغلـــــــو پاتـــــــې
د بنجـــــــاره سره خالونـــــــــه نشتـــــــــــه
چـــې مـــونږ د څکلــو شــو نــو دا څـــه وشـــــو
خمونــــه شـــــته دي خــــو جامـــــونه نشــــته
چـــې مـــازيګر يـــې لمـــر پـــه څوکـــو خونـــد کـــړي
هــــــواره ځمکــــــه ده او غـــــــــرونه نشــــته
چنـــــار لا هســــــــک د چـــــا پــــه تمـــــه ولاړ
د زلفــــو تــــار نـــــه جـــوړ ټالونـــه نــــــشته
کــــوترې پاڅېــــدې چـــې بيرتـــه راشــــــــــې
د الوتلـــــــو يــــــــې وزرونــــــه نــــــــشته
مـــــا چـــــې بـــــوي كـــــړي د ليـــــلا بـــــدن وه
د هغـــه بـــوی پـــه شــــان عـــــــطرونه نشــــته
هـــــديرې ډكــــې د قبـــــــــرونو ځـــــــــــنې
خــــو بـــې جنـــــډو دلتـــــه قبرونـــــه نـــــــشته
وعـــــدې د يـــــــــار ټــــولې دروغ وختـــــــــې
خـــــــو د ريښـــــتياو درکـــــــــونه نـــــــشته
خلــك بــدل كــړي خپــل رنګونــه د هــر چــا خوښــيږي
ځکـــه ناکـــام دي حيـــدري سره رنګونـــه نــــــشته

رانه هېر شویدي رنګین رنګونه
د وینې رنګ سره تصویر اخلم
هره ورځ ګورمه د غم رنګونه
نن د ګلرنګ سره تصویر اخلم
چنار خو چا په لمبو وسیځلو
د کلي بنګ سره تصویر اخلم
د سیند وتل ته په مزل کې پاتې (۱)
د سیند د ځګ سره تصویر اخلم
د ښار دې ښکلو راته دروغ وویل
د یو بدرنګ سره تصویر اخلم
پتنګ چې ځان سیځي څه راز دی پکې
سوي پتنګ سره تصویر اخلم
حیدري وایي چې ځواني لټوم
د تور لونګ سره تصویر اخلم

هم یې باچا هم یې ملنګ غواړي
زما نه هر سړی قلنګ غواړي
د ښار زلمي مې د سرو شوندو تږي
د کلي ځوان رانه لونګ غواړي

[1] تل (ته ل) مطلب د سمندر ژوره ده چې هلته ملغلري وي هوښیارو قومونو ځان وروساوه او مونږ د سیند د سر ځګ سره پاتې شو.

پـــرون یـــي وویـــل چـــې جامـــــــونه ډك كـــړه
نـــن رانـــه ډكـــه پیالـــه بنـــــــــــــــګ غـــواړي
څـــوك پـــه ترخـــو او خـــــــوږو نـــه پـــوهیږي
دا ســـاده ګـــان ځكـــــــــــه بادرنـــګ غـــواړي
هـــر یـــو اغـــــــــــــــــزی زمـــا د وینـــو تـــږی
خـــو یـــو جانـــان ماتـــه ګـــــــــــلرنګ غـــواړي
چـــې ځـــان ســـیځي او پـــه ځـــان نـــه پـــوهیږي
دا خودكـــشي خـــو یـــو پتنـــــــــــــګ غـــواړي
دلتـــه پـــه دروغـــو خلـــك روږدي شـــــــــــــولو
ځكـــه ژونـــدون دلتـــه نیرنـــــــــــــګ غـــواړي
څـــوك راتـــه وایـــي تـــه نجســـه یـــې پـــه كـــور كینـــه
څـــوك پـــه میـــدان كـــې رانـــه شرنـــګ غـــــــــواړي
چـــــا د پیســـــو ســـــه مینـــــه ډیـــــره وكـــــړه
څـــوك یـــو ښایســـته زلمـــی خـــــــدنګ غـــواړي
نـــاوې د پـــلار د كـــوره ځـــــــــــــــي ژړیـــږي
خـــو شـــپه د یـــار ســـه پـــه پالنـــګ غـــــــــواړي
خدایـــه پـــه خپـــل كـــلي كـــې اوربـــــــــل كـــړې
څـوك چـــې زمـــا كـــلي كـــې جنـــــــګ غـواړي
حیـــــدري ســـــتا پـــــه شـــــعرو كلـــــه كیـــږي
دغـــه نـــاخوالي خـــو غورځنـــــــــــګ غـــواړي

د صحت لښکري راغلي تر هر کوره
راته ویې کړې خبري ښې په زوره
د ماموره نه نیولې تر وزیره
په زارۍ شول درته ویې نیوله ږیره
شاعرانو درته وویل شعرونه
عسکرو درته بند کړه سرکونه
مونږ ویلي مرض نه دی ډرامه ده
مسلمان ته د کفارو دسیسه ده
ځینو ویلې مونږ نه ښه مسلمانان یو
هم کمزوري عقیده هم په ایمان یو
نه مو ومینځل لاسونه نه مو واچول ماسکونه
نه مو ترک کړه مجلسونه
نه په کور کې قرنطین شو
نه په لاره د خپل دین شو
اوس چې ټول کلی رنځور شو
د کرونا نه جوړ ناسور شو
جنازه وه جنازې شوې
په صفونو ښې اوږدې شوې
د دین نه شو د رواج شو
د لینډا د خولۍ تاج شو

یه شاعره لیونی یې
یا د بل کلي سړی یې

په مــــونږ ډېــــرو حکومتونــــو وســـه وکـــړه
عالمـــانو د درســــــــــــونو وســـه وکـــړه
د دې کـــلي هـــر وګـــړی افلاطـــــــــــون دی
پــه هــر کــور کــې خپــل طبیــب او درملتــون دی
یـــه شـــــاعـــــــــــره لیونـــــــــــیه!!!!
هســــــــــــــې اچــوې ګنبــدې تــه غـــوزان
لانــدې لوېـــرې پـــه یـــو دم پـــه یـــو زمـــان
بـــــــــــــــس دوه لارې مــــونږ تـــه پـــاتې
یـــا بـــه خـــونې د یـــو مخـــــې شـــې میراتـــې
یـــا بدلــــــــــــــــون بــه راوړو ځـــان کـــې
یـــا منـــو بـــه دا ناخـــــــــوالې هـــر زمـــان کـــې
خـــو یـــو غـــږ مـــې پـــه مشــــــــــرانو ملایـــانو
د بـــدلون کـــاروان بـــه مخکـــې وړو دوســـتانو

لا مـــې د ښـــار کـــوڅې خـــالي د خـــــــــــلکو
اخـــتره ډېـــر پـــه خاموشـــــــــــــــۍ راغلـــې
نــه خــو تــه ورور لــرې نــه خـــــــور لــرې تــه
ځکـــه خـــو ډېـــر پـــه بـــې غمـــــــــــــۍ راغلـــې
دلتـــه لا سري وینـــې ســــــــور ډنـــډ پـــرتي دي
تـــه د کـــوم غـــم ســـه پـــه سیـــــــالۍ راغـــلي
وږي بـــه ځـــي د قدرمـــــــــــــــنو حجـــرو
چـــې پـــه دې شـــپو کـــې د نیســـــتۍ راغلـــې
لا خـــو د جنـــګ بادونـــه تنــــــــــــد لګیـــږي
تـــه ورســـه یـــو ځـــای پـــه ســــــــیلۍ راغلـــې
بیرتـــه بـــه ځـــي ځـــای یـــې د ناســـتې نشـــته

دي وچ چنـــار تـــه چـــې مرغـــــــــى راغلـــې
د کـــور چاپیـــــــــره خامـــاران پراتـــه دي
د پېغلـــې کـــور تـــه پـــه بلـــــــــــى راغلـــې
وخـــت دې غلـــط کـــړو پیغلـــه مینـــه نـــه کـــړي
ورتـــه پـــه وخـــت د مریضـــــــــــى راغلـــې
چېرتـــه بـــه ترنـــګ د ربـــــاب وانـــه ورې تـــه
چـــې د غمونـــــو پـــــه ډېـــرى راغلـــې
هغـــه پـــرون د خـــاورو لانـــــــــدې شـــوله
تـــه یـــې پـــه طمـــه د خولګـــــــــى راغلـــې
د کـــوم یـــو غـــم بـــه یـــــــــــادونه وکـــړم
تـــه خـــو د غـــم ډکـــــــــــــه زولـــى راغلـــې
زمـــا پیغـــام زمـــا پـــه زړه پـــــــــــاتې شـــو
تـــه مـــې اخـــر کـــې پـــه سلـــــــــــګى راغلـــې
حیـــدري وایـــي چـــې خفـــه نـــه شي بـــد حالـــه ومـــه
تـــه د روژې مـــونږ تـــه ډالــــــــــــى راغلـــې

حیـــــــــــــــــدري دبـــــــاغ گـــــــلان
کــــــــــه کـــــوچني دي کـــــه لويــــان
جینکـــــــــــي کـــــــــــــه هلکــــــــان
داخـــــــــــلي کــــــــــه بهـــــــــــرنیان
دغـــــه ټـــول دي زماپـــــــــــلارته حدنـــــه گـــران
شـــــم دټولـــــــو نـــــــــــــــــه قربــــــان
دغـــــه ټـــــــول دي دپشـــــد ښـــــکلي گـــــلان
پــه ننگرهــار دي ديــره ځکــه اســمان يــي دي روښــان
ترمــذي يــي پــه لياقــت كــي دي دخپــل نيكــه پــه شــان
حيــدري وايــي صفــت يــي دومــره بــس دي پــه زبــان

خـــاص خـــاص نيلوفر[حيـــدري] تـــه ډالي چـــې زمـــا دمشرـــ ورور سيدنظيف[حيدري] مشره لـور ده اوپـه بهـر كـي اوسـيږي چـې ماتـه پـه زړه كي خاص ځاي لري
سيد پسرلي [حيدري] دا شعر زما د زوی پسرلي حيدري دی

د مهربانه ذات په نامه

بي لـه شـکه چـې د کرونـا تاتـار ټـول جهـان ولـړزاوه او د بشریت د نابودي لپاره یي بډي وهلي دي
خـو دي تراژیـدي ټـول بشریـت تـه یـو پیغـام ورکـړه: او هغـــه دا چـــې سره د دي چـــې بشر ـــیت د مختلفـــو وجوهـاتو لـه کبلـه ویشـل شـویدي خـو د ټولـو دشـمن شریـک دي نـو راځـي چـې نـور د ویـش پـه ځـاي سره یو شو او د خپل شریک دشمن سره مقابله وکړو
دا شعر مي په همدي ارتباط لیکلي دي

د پـــوش مـــنځ کـــې یـــو تـــیزاب دی
ټـــول جـــهان تـــرې پـــه عـــذاب دی

نـــــه حـــــجره ده نـــــه هســـــته ده
بـــــس د دوو اغـــــزو دســـــته ده
دا دشـــــمن د ټـــــول بـــــشر دی
کـــه پـــه ســـمه کـــه پـــه غـــر دی
دا قاتـــــل د هـــــر مـــــذهب دی
کـــه د شـــرق دي کـــه د غـــرب دي
یـــو پیـــغام یـــې مـــونږ تـــه راکـــړه
ښـــه الهـــام یـــې مـــونږ تـــه راکـــړه
لـــږ دې زیـــر شي د جـــهان ســـتر قدرتونـــه
نـــور دې نـــه کـــوي پـــه خپـــل مـــنځ کـــې جنګونـــه
کـــه یـــو نـــه شـــو نـــو ورکیـــږو
د مـــرګ بحـــر کـــې ډوبیـــږو

ځـــــي چـــــې ټـــول پــــه یــــو ســـــنګر شـــــو
ټیـــــــټ او پـــــاس بــــــه برابـــــر شـــــو
خـــیر کــــه بیـــــل مـــــو دې رنګـــــونه
ټــــول بــــه یــــو کــــړو سنــــــګرونه
ځـــــي چـــــې تـــــیر د جهالــــت شـــــو
او روان پــــــه ســــــم جهـــــت شـــــو
د بشرـــــــــ دشــــــمن شـــــــریک دی
وینــــه او تـــــن زمـــــونږ شریـــــــــک دی
د حـــــــیدري غریــــب پـــــــــــیغام دی
خــــو غریـــــب تــــه د چــــا پــــام دی

نوټ: حجره یعني cell هسته یعني nucleus

مـونږ ټـول بایـد د خـپلي وسي مطـابق د کرونـا د وایـرس د مخنیـوي لپـاره هڅـې ګړنـدۍ کـړو ځکـه مـې لازمـه وګڼلـه چې پـه مختلفـو مـایکرو اورګـانیزمونو د ضـد عفـوني درملـو د تـاثیراتو یـو جـدول او خپل یو ساده شعر ګرانو دوستانو ته وړاندې کړم

**قرنطین**

خپـــــل ځانونـــــه قرنطـــــین کــــړئ
اولادونـــــه قرنطیـــــــن کـــــــړئ
قـــرار پـــه کـــور کـــې کېـــــنئ
محلونـــــه قرنطـــــین کــــړئ
د وخـــــــت تقاضــــــــــا دا ده
فامیـــــــلونه قــــــرنطین کـــــړي
هـــر وخـــــت د ګټـــې نــــه وي
هوســـــــونه قـــــرنطین کــــړئ

افراد چې قرنطین شي
ولسونه قرنطین کړئ
پاڅئ لاس په کار شئ
خپل ښارونه قرنطین کړي
وخت د روغبړ نه دی
خپل لاسونه قرنطین کړئ
بنډارونو نه تېرېږي
مجلسونه قرنطین کړئ
په خپل کور خواړه پاخه کړئ
هوټلونه قرنطین کړئ
چې خبر د څه نه یو
تقریرونه قرنطین کړي
وخت د تګ او راتګ نه دی
سفرونه قرنطین کړئ
ځي چې رب ته پناه یوسو
خپل وهمونه قرنطین کړئ

حیدري خبرې کمې
خپل شعرونه قرنطین کړئ

دا هم یو طبي شعر د محترم استاد حیدري صاحب په ژوند یې
برکت شه .

په ډنګر وجود کې ګټه
چاق یدو نه ډډه وکړئ
پاخه یري روان شي
پریوتو نه ډډه وکړئ
د غوښو خوراک پرېږدئ
د غوړو نه ډډه وکړئ
تازه میوې به ښې وي
د بورو نه ډډه وکړي
بایسیکلي ځان ته واخلي
د ریکشو نه ډډه وکړئ
د وطن ترکاري وخورئ
د خوږو نه ډډه وکړئ
چې په خیټه باندې بار شي
د خوږو نه ډډه وکړئ
چې ډاکټر ویلي نه وي
د درو نه ډډه وکړئ
دخانیات په سیند لاهو شه
تماکو نه ډډه وکړئ
خامه هوږه او سونډ وخورئ
پخیدو نه ډډه وکړئ
خامو پیازو سره مینه
سره کیدو نه ډډه وکړي

په ارام سره ژوند وکړئ
د جګړو نه ډډه وکړئ
حيدري وايي لر بر بس دی
د درجن بچو نه ډډه وکړئ

خلک ورته ګوري نن يې لار غلطه کړې
جام او ساقي دواړه دملنګ کلي ته راغلل
کور د بنګړيوالې دې اباد وي په هرځای کې
بنګړي دسپينو لېچو څه په شرنک کلي ته راغلل
وربل کې يې ټومبلي دصحرا باغي ګلونه
د پېغلووربلونه ښه ګلرنګ کلي ته راغلل
محتاجه دعطار د دکان نه شوم څومره ښه شوه
په خپله چې سنځلې او لونګ کلي ته راغلل
په دومره غريبی کې مې سر ښکته چاته نکړو
ځواني او بوډاتوب مې دواړه دننګ کلي ته راغلل
سيالي دښکلاګانو ښه په درځ کې ده روانه
چشمان يې درنجوسره په رنګ کلي ته راغلل
داور په لمبو وسول خو پتنګ دنسل کاردی
دا نور هسې بې ځايه د پتنګ کلي ته راغلل
هيڅ فکر يې دکبره کله دي ته کړي نه وه
دخوشال سواره اسونه داورنګ کلي ته راغلل
وايي حيدري درته په شعر کې مبارک شه
اختر او پسرلی مې دواړه غبرګ کلي ته راغلل

Poem about spring seasson an Eid al fitr
poet professor said qambar ali Haidary

ګرانو دوستانو اسلام. عليکم نن جلال اباد په ښار او شاو خواسيمو کي نرم او شاعرانه باران وريږي
اودنارنجو نرګسو اوزيتونو دښار فضا ورسره ډيره ګل ورينه ده
دمصروفيت سره سره دي ښکلا مجبور کړم چې خپل احساسات دشعر په واسطه درسره شريک کړم

بارانــــه لونــــد دي کـــــړم بيــــدار دي کړمــــه
دللمــــي ګـــــل ومــــه ســــنګار دي کړمــــه

زه هـــــم دوريځـــــو دغبـــــاره څــــاځم
بختــــه پــــه تــــور وربــــل انبــــار دي کړمــــه
لکــــه ملنــــګک بي اجـــــازي دي بــــوتلم
دکليـــــوالي جلکـــــي يـــــار دي کړمــــه
خدايــــه پــــه کــــوم کـــرم دي داســــې وکــــړه
دګــــودر سر کــــي پــــيره دار دي کړمــــه
هــــم مــــي ګنــــډي هــــم راتــــه خولــــه راکــــوي
دکــــوم عشــــق دتــــن پرهــــاردي کړمــــه
مــــاچې جــــوړکړي وه ديــــار دزلفــــو
پــــه هغــــه دارکــــي سر پــــه دار دي کړمــــه
دشــــين کنــــړه چــــې مــــي کــــډه وکــــړه
نــــو شــــين زيتــــون دننګرهــــار دي کړمــــه
ربــــه کــــرم دي پــــه مــــا دومــــره ډيــــر دي
چــــې دلونګــــو دمــــنځ تــــار دي کړمــــه

خاموشي به دلونګو او شوربه دبنګړو ځنې راواخلو
وربل ته سره ګلان به دغنچو ځنې راوخلو
چې ماتې شي دمستو ورږو تبږو زلمو تندې
يو څاڅکی داوبو به دليمو ځني راواخلو
چې جنګ وي دچشمانو او باڼه پکې وريږي
دارسم دجګړې به دبڼو ځنې راوخلو
قاعده ده که قيام دی خوارکان دلمانځه دي
سکون به ماتوزړوته دسجدو ځنې راواخلو
دبام په سر پرتې دي سپينې سپينې کټ کې اوړي
منظر به دسپوږمۍ دپلوشو ځنې راواخلو
يو ټال به دچنار په شاخ کې جوړکړوګل خوبان ته
تارونه به دزلفو دقودو ځنې راواخلو [1]
چې جوړ يې ورته خال کړو په جبين او يا په زنه
يو ګرد به دنجړومي درنجو ځني راوخلو
داهرڅه به راواخلو يو رنګين غزل به جوړکړو
خوښ دي حيدري شي يو ګبين غزل به جوړ کړو

[1] په دې شعر کې د قودي لغات کارول شوی دی قوده په پښتو کي ديو جنس دڅو انفرادي کميتونو مجموعي ته. وايي لکه دغنمو دلو په وخت کي داټپه لودي دغنمو ياره ګيډۍ راواچوه. بنګړي. راغلي دينه چه دغنمو ګيډۍ بيا. دغنمو دقودو دمجموعي څخه جوړيږي
هم دارنګه کله چه دشخو ويشتان خواره واره وي نو په کليوالي. سيمو کي ښځي په کارونو کي برخه اخلي چه ايله اوتار تار ويشتان ورته مزاحمت. کوي او دبلي خوانه په کليوالو سيموکي. ايله ويشتان. شه نه ګنل کيږي نو ښځي خپل ويښتان يو ځاي کوي او چونټه يي بولي نو دقودي څخه هدف دويشتانو. مجموعه ده
رنجړومه هغه کڅوړي ته. ورته جوړشت ته ويل کيږيچه درنجو يا سورمي دساتلو لپاره تري کار اخستل کيږي
چه تيله پکي کارول شوي وي او صلاحي پکي هميشه محفوظ پروت و

لو گوره دسردپاسه نه کیږي
ونه دنښتر په سردروکې شنه

هر بوټی د غر دپاسه نه کیږي
لوی شولو نرگس دکوم لښتي په سر
ژوند یې دکمر دپاسه نه کیږي
ژوند په خوشالۍ او امنیت کې ښه
ژوند گوره دشر دپاسه نه کیږي
مینه دزړگي ښه ده خو پټه وي
مینه دټټر دپاسه نه کیږي
مخکې یې لوگي کړه چې نظرنه شي
دود خو دنظر دپاسه نه کیږي
جنگ به په مرچله کړو ژوند په کلي کور کې ښه
هر څه دسنگر دپاسه نه کیږي
تنگ شولو کورونه لیلا بام ته شوه
نوره گذاره یې دټغر دپاسه نه کیږي
لوته چې ټیټ نه شي نولو نه کیږي
لو گوره دسر دپاسه نه کیږي
یه حیدري نوره زنده گي دې په هنر کوه
لویه مر تبه خو دهنر دپاسه نه کیږي

لاړې د لــــــــــــــورږ چنـــــــــــاره پاڅیـــــــــــــدلې
لاړې کـــــــوترې پــــــــه اغــــــزو دېـــــــره شـــــــوې
دکــــــــابلو جونـــــــــو داســــــــپین مخونـــــــــه
شــــــوې غنمرنګـــــــي پــــــه غرمـــــو دېــــــره شـــــوې
ګـــــــورګرو خوښـــــــه کـــــــــړه دغـــــــره لمنـــــــه
نښـــــــترې پــــــاس پــــــه سردرو دېــــــره شـــــــوې
خنجـــــري ښــــــخې شـــــوې پســــــتو ســــــینو کـــــې
ځکـــــــه سرې وینــــــــې پـــــــه بڼــــــودېره شـــــــوې
مــــــــونږ چـــــــې رســــــا دزړه پـــــــه سر ویشـــــــتلې
څـــــــه ککــــــرۍ پـــــــه هـــــــدیرو دېـــــــره شـــــــوې
بې اوره نــــــــــه پخیـــــــــږي خـــــــــام اوړه وي
ځکـــــه پیـــــړۍ (۱) پـــــه سرو لمبـــــو دېـــــره شـــــوې
لونــــــــــګ دانـــــــــې دونــــــــــې ورژیــــــــــدې
چـــې تـــار کـــې یـــو شـــوې پـــه ســـینو دېـــره شـــوې
مانـــــــــه یـــــــــې لار دتشـــــــــبه ورکـــــــــه شـــــــوله
ســــــپینې خـــــولې پـــــه اننګـــــو دېـــــره شـــــوې
هریـــــو دګـــــــل نـــــه راتـــــه ښـــــکلي ښـــــکاري
ښـــــکلا مــــــې واړه پـــــه لمســـــو دیـــــره شـــــوې
زه حیـــــــدري یـــــــم پــــــــه کوڅـــــــو تېرېـــــــږم
ځکــــه خـــــو پېغلـــــې پـــــه بلــــو دیـــــره شـــــوې
زه خـــــو نـــــه پیغلـــــه نـــــه زلمـــــې ګرومـــــه
چـــې اخـــذي یـــې پـــه حجـــرو دېـــره شـــوې (۲)

[۱] پېړې، د اوړو زوالې
[۲] وروستني. بیت کې یو طبي. مفهوم پروت دي او هغه داچه کله. جلکي پیغله شي نو دایستروجن (Estrogen)په نوم هرمون پکي ازادیږي چه داهرمون. بیا دخپلو اخذو (Receptors)سره. یو ځاي کیږي او پیغله. دپیغلتوب. په مست دریاب کي ور ګډیږي هم دارنګه په ځوانانو کي دتستو ستیرون(Testosterone)په

بنــده پــه قفــس کــې لکــه دار کــې زنــده ګــي ګــوري
تښــتي دپنجرونـــه پـــه چنـــارکې زنـــده ګـــي ګـــوري
څـه لیـونی شـمعه ده چـې ځـان کـې یـې رانغښـتي دي
سـوځي دخپـل تـاره خـو پـه تـار کـې زنـده ګـي ګـوري
کــــلي کـــــې رانجـــــه نکریځـــــي بنــــدې شــــوې
پېغلــې ځــي دکــلي ځــان تــه ښــارکې زنــده ګــي ګــوري
خـــداي لپــــاره نــــوره دبــــې لارو لمــــن مــــه نیســــئ
خپلــه پــه پــاریس تاتــه انګــار کــې زنــده ګــي ګــوري
وګـــوري تـــاریخ تـــه چـــې راغـــلي بیرتـــه تلـــلي دي
دلتـه چـې راځـي ځـان تـه پـه خـار [1]کـې زنـده ګـي ګـوري
دې دننــــګ بڅــــو سره ډغــــره ډېــــره ګرانــــه ده
ځـي دمـرګ پـه لارخوپـه دې لار کـې زنـده ګـي ګـوري

نوم هورمون.جوړ او افرازیږي چه دتستوستیرون داخذ (Recptors)وسره. یو ځاي کیږي. او ځوان دیو مست لیوني. په شان هماغه درباب. ته وردانګي کیداي شي. دادبي ډګر ملګري به. داډول تشبهات ښه ونه ګڼي. خو کله کله. مسلکي. مهارتونه ددي باعث شي چه داډول. سرغړونه واقع شي

[1] اغزی

هســـــــــې مـــــــــې عطارنــــــــه عطرراوړلـــــــــو
تـــــن کــــــې دخولونـــــه یـــــې خبرنــــــه وم

پریـــــــوتم ناڅاپــــــه پــــــه څنګــــــل بانـــــدې
لیچــــــو کـــــې بنګــــــړو نـــــه یـــــې خبرنــــــه وم
مـــــا خــــــو پـــــرې ګــــــمان د زاهـــــــد وکړلـــــو
لاس کــــــې دپیــــــالو نـــــــه یــــــې خبرنـــــــه وم
مـــــا تــــه یـــــې خنــــدلي وو پــــه ســــپینه خولـــــه
زړه کــــــې دګیلــــــو نـــــــه یــــــې خبرنـــــــه وم
ماتــــــــه یـــــې وعـــــــدې پــــــه هـــــــواراکړلې
پټومعاملونــــــــــه یـــــــــې خـــــــــبر نـــــــــه وم
ماویــــــل ســـــپین بږیـــــرى دى نــــو څــــه بــــه وي
ژونــــــد کــــــې تجربـــــو نـــــه یـــــې خبرنــــــه وم
ګــــــل خــــــو دلالــــــه بـــــې اوبــــو لــــوي شـــــولو
څــــــاڅکو دشــــــبنم دڅڅیدونــــــه یــــــې خبرنــــــه وم
مـــــــافکر کـــــــاوه ســـــــتوري ســــــاکن بـــــــه وي
څرخـــــي پـــــه محـــــور دګرځیــــدو نــــه یــــې خبرنــــه وم

ماویــــل حیـــدري مـــې یـــو ســـاده غونـــدې ملګـــري دي
زه خـــــو دلیکنـــــو او شــــــعرو نـــــه یـــــې خبرنــــــه وم

نـــــورې تنهـــــی بــــه دلتـــــه خرڅـــــې نــــه شي
دکمیســــــــونو ګریوانونــــــــه نــــــــه شــــــــته
نکریـــــــزي مــــــه.راوړه تـــــــاوان بــــــه وکـــــــړي
دچــــــا پښـــــې دچــــــا لاســـــونه نــــه شـــــته
ګـــــــلان یـــــې راوړل امانـــــــت یـــــــې ویــــــوړل
پــــــه وربلونـــــــو کـــــــې ولونـــــــه نــــــه شـــــته
بنجـــــاره کــــــلي کـــــــې بنــــــدیز پـــــــه پــــــردو
چــــــې دکورونــــــو دیوالونــــــه نــــــه شــــــته
اخـــــــتره ســـــــتا خوښــــــې بــــــه دلتـــــه خــــــه وي
چـــــــې د چـــــامور د چــــــا پلرونــــــه نــــــه شــــــته
کلــــــــــــه خوراشـــــــــــه درنګونــــــــــو سره
کـــــــلي کـــــــې سره سره ګلابونـــــــه نـــــــه شـــــــته
دښـــــار اخــــــتره دومـــــره خـــــوښ مــــې نــــه شــــوې
تــــــاکې دکـــــــلي رواجونـــــــه نـــــــه شـــــــته
حیــــــــدري ســـــــــتا قصــــــــې زړې قصـــــــې دي
شـــــعر کــــــې دې نــــــوي پیغامونــــــه نــــــه شــــــته

چـــــې راغـــــلي افتونـــــه......     زلــــزلي او ســــــيلابونه
عـــام اولـــس پکـــې بربادشـــو....پکې وران يـــې شـــو کورونـــه
ځنـــــې خــــلاص شودهســــتې نـــــه...دچامړه شــــواولادونه
دامـــنم چـــې بي وسي ده..........خوځـــه ګـــرم دي اولســـونه
چـاد خـوړ ځمکـې کـړې خرڅـې. .مـونږ پـرې جـوړ کړلـه کورونـه
خـپلي ځمکـي کـړلي ډېـري......را تـه يـي تنـګ کـړل زابرونـه ( [1] )
دلتـــه هـــر چـــا هرڅـــه کـــړي........خبر نــــه وه حکومتونــــه
اي زمـــا دکـــلي خلکـــو......لږ خـــو واخلـــئ عبرتونـــه
څـوك دچـا قصـه كـې نـه دي...شـو معلـوم پـردي ملكونـه
خـــداى لپـــاره نـــور رانـــه وړئ......د پـــردو دکـــور غمونـــه
حيــدري لكــه ســنګ ( ۲ )شــوي....په ســينوكې زمــونږ زړونــه

ددي له خاطره چې نااميده نه شو لاندي بيت ډالي کوم
دومـــــــــره ډېـــــــــر وارخطـــــــــا مـــــــــه شي
وي بـــــــــــاران تـــــــــــه اميدونـــــــــــه

[1] زابرونه ديوي منطقي څخه داوبو دويستلو وړو کانالونو ته ويل کېږي
سنګ مطلب زړونه لکه دتيږي په شان کلك شوي او دلسوزي پکي نه شته

۞

ریبـــاری کـــې مـــې هـــم دومـــره هـــنر بـــس دی
چـــې خوبـــانو تـــه ګیلـــې وړمـــه راوړمـــه
چـــې رنـــدان رانـــه بـــې ګوټـــه پـــاتې نـــه شي
میکـــدې تـــه بـــه بـــادي وړمـــه راوړمـــه
چـــې مـــاولې دغـــه کســـب انتخـــاب کـــړ
چـــې پښـــوته زولنـــې وړمـــه راوړمـــه
بـــس دې ښـــارکې یـــوه پیغلـــه شرابي شـــوه
زه تصـــویر یـــې د پیـــالې وړمـــه راومـــه
ســـا اخلـــم ساوباســـم دې کـــې ژونـــددی
خپـــل ټټرتـــه چـــې ذري وړمـــه راوړمـــه
زه شـــپونکي یمـــه ســـاده یمـــه پـــوهیږم
خوشـــپیلۍ کـــې مـــې نغمـــې وړمـــه راوړمـــه
تـــه یـــوه لیـــدلی نـــه شـــې پـــه ماجوړبـــاران د پېغلـــو
بنجـــاره یمـــه شـــانې وړمـــه راوړمـــه
خلـــک لاړل پـــه تیـــزۍ دلمـــر پـــه لـــوري
زه پـــه اوښـــو قـــافلې وړمـــه راوړمـــه
چـــاذره کـــې داتـــوم ذرې پیـــداکړې
زه منکـــر یـــې جنـــازې وړمـــه راوړمـــه
بـــس زمـــا پـــه کـــې یـــو څـــاڅکی نـــه رســـیږي
تشـــې ډکـــې پیمانـــې وړمـــه راوړمـــه
چـــې د شـــپې ډیـــوه پـــه کـــاروي زه یـــې مـــړه کـــړم
پـــه رڼـــا ورځـــې ډیـــوې وړمـــه راوړمـــه
چـــې ضـــمیرپکې د هرســـړي ښـــکاره شي
اوس کورونـــو تـــه اینـــې وړمـــه راوړمـــه
حیـــدري یـــم کـــه هـــر څـــه یـــم هوښـــیار نـــه شـــوم
زه خپـــل کـــلي تـــه جګـــړې وړمـــه راوړمـــه

کـــــلي کــــي بنـــــدي شـــــوي دبنګـــــو پيـــــالي
ښـــــارکي دوســـــتي دکـــــوم ســـــاقي پــــه کـــــارده

زلمــــــــي تباشـــــــولوخوحال نـــــــه وايــــــــي
يــــوه پـــو ښــــتنه تـــرې حتمـــي پـــه کـــارده
چارګــــل تــــه ځـــاى پـــه پـــزه پـــاتې نـــه دى
نـــــوره چـــــاره دميخکـــــي پــــه کــــارده
پيغلـــــې تــــه هرڅــــه ښــــه بســـيا پراتــــه دي
غـــــــواړي مچکـــــــه دلالي پـــــــه کـــــــارده
پـــه مـــخ يـــي شـــمار نـــن دخـــالونو نـــه شـــته
ظـــــالمې زنـــــه خـــــو خـــالي پــــه کـــارده
مـــــا چـــــې د اوښــــــکو تصـــــوير واخســـــتلو
نـــــوره دســــــترګو سره يـــــاري پــــــه کـــــــارده
څـــوك پـــه تـــارونو څـــوك پـــه زلفـــو بنـــدي
دوي تـــــــه ښښـــــنه سرکــــــاري پـــــــه کــــــارده
زلمـــــوچې پيغلـــــې نـــــورې تنګـــــې نـــه کـــړې
دخـــــداى مخلـــــوق سره دوســـــتي پـــه کـــارده
دې کـــــې د صـــــبرڅه جـــــواز نـــــه شـــــته
د پيغلــــــو مينــــــه سمدســــــتي پــــــه کـــــارده
زه منــــور تــــه بــــه قــــديم ياربـــه ايـــوب اوري
خـــــود منګــــل سره هـــــم اشـــــتي پـــــه کـــــارده
څـــــه روغ ســـــړى وه ليـــــوني کـــــړو مينـــــي
يـــــوه لـــــيلا د حيـــــدري پــــــه کــــــارده

کــــورکې خـــاموشي ګـــودرکې شـــور ښـــه وي
لونــــد د اوبوجنـــګ کـــې وربـــل تورښـــه وي
جـــام بـــه نورســـاقي پـــه رضـــاراکړي نـــور
داســـې کـــه ونـــه کـــړي جـــام پـــه زور ښـــه وي

وخـــت يمـــه دوخـــت پـــه لاره ځـــم درنـــه
بيـا بـه يـو مـاضي شمه پـه حـال کي بـه مي نـه ګـوري
پـــاس دچنـــار ښـــاخ کـــې ســـترګې ښـــخې کـــړه
ټـال بـه دې رايـاد شي خومـا بـه ټـال کـې نـه ګـوري

چاتــه پيالــه ډکــه چاتــه ګــوټ پيالــه کــې ورکــړي
ځکــه خــو ســاقي تــه نوررنــدان نــه رآټــولېږي
دشـــپې ډيـــوه پـــه کـــاروي اغيـــارمړه کړلـــه
دورځـــې خـــو ډيـــوې تـــه پتنګـــان نـــه راټـــوليږي
وويـــل راتـــه تـــن نـــن پـــه ګيلـــه ګيلـــه
داولـــې اندامونـــه مـــې پـــه ځـــان نـــه راټـــوليږي
هرچـــامې ګريـــوان نـــه ريښـــي ويـــوړلې
ځکــه پــه کمــيس کــي مــې ګريــوان نــه راټــوليږي
پـــه خپلـــوکې لانجـــې دشيطانانوشـــولې ډيـــرې
نــور ځکــه شــيطانان پــه يوشــيطان نــه راټــوليږي
هرڅوکــه مــې ګمنځــه د لرګـــي کــړه ورتــه جــوړه
خـــواره واره زلفـــان مـــې د جانـــان نـــه راټـــوليږي
چـــې درز د چمبونـــه وي دربـــاب مـــزي شـــليدلي

اتـــڼ تـــه نـــور ددې کـــلي ځوانـــان نـــه راتـــولیږي
نـــه کتونـــه پـــه حجـــره کـــې نـــه دچـــایو سره ګـــوره
دي تشـــي کنـــډوالې تـــه خویـــاران نـــه راتـــولیږي
حیـــدري بـــاغ دې خـــالي دی دنـــارنج اودزیتونـــو
پـــه مینـــه ورتـــه ځکـــه ننګراریـــان (1) نـــه راتـــولیږي

ســـوله خـــو خـــوږه وي هـــم ســـوکاله وي
کلـــه کلـــه جنـــګ پـــه ضـــددجنګ ښـــه دي
کلـــــه پـــــه ســـــرومغزو یوکارنـــــه شي
دې لـــه خـــوا انګورښـــه دي یابنـــګ ښـــه دي
ننـــګ پـــه جهالـــت کـــي بـــې ننګـــي بـــولم
جنـــګ دجهالـــت پـــه ضـــد پـــه ننـــګ ښـــه دی
ولـــویږي ظـــالم اومـــلا یـــې ماتـــه شي
ځـــای پـــه ځـــای خوداســـې یوګړنـــګ ښـــه دی
مـــه بـــدلوه رنـــګ دزمـــاني اودموســـم سره
مـــا چـــې اوریـــدلي دي یورنـــګ ښـــه دی
چاتـــه بـــه شـــیرین وي د ربـــاب اودمنګـــي اواز
ماتـــه دځنګـــل دبنګـــړو شرنـــګ ښـــه دی
هـــسي داغـــزو دکاروبارنـــه بـــه ځـــه جوړنـــه شي
حســـــن دي دارو (2) دي تورلونـــــګ ښـــــه دي
یـــه حیـــدري ړوندشـــوي پـــه دیـــدن پســـې
تانـــه خـــو د دې کـــلي ملنـــګ ښـــه دي

---

1 ننګرهاریان
2 دارو – دوا

چـــې د مخونـــو د ســـپین پـــړق لـــه زوره ســـترګې بریښـــي
دکـــوه قـــاف دجونـــو ښـــار بـــه وي او خوږ بـــه نـــه وي
زمـا دکـلي پـه حجروکـې د منګـي سره سـیتاربه وي اوخـوږ بـه نـه وي
داقضـــــــاوت بـــــــه اوس پـــــــه چاوکړمـــــــــه
دجانـــان کـــټ بـــه وي چغاربـــه وي او خـــوږ بـــه نـــه وي
ســـترګو تـــه یـــې وګـــورم پـــه ســـترکو ړونـــد شـــم
داســـې یـــو ښـــکلي غونـــدې یـــار بـــه وي او خـــوږ بـــه نـــه وي
پـــه یـــو اوچتـــه غونـــډۍ پـــروت دی دکابـــل پـــه زړه کـــې
بـــاغ بـــالا ګـــل ګلزاربـــه وي اوخـــوږ بـــه نـــه وي
ډېـــــــــر عاشـــــــــقان ورتـــــــــه قطـــــــــار ولاړدي
د یـــار د توروزلفـــو تاربـــه وي او خـــوږ بـــه نـــه وي
د اننګـــــــــو تشـــــــــبیه دڅـــــــــه سره وکـــــــــړم
دســـترګولاندې سورخســـاربه وي او خـــوږ بـــه نـــه وي
چـــې لـــږ یـــې وخـــوري دوطـــن د دښـــمنانو غوښـــې
زمـــا دلـــوړو غروښـــاماربه وي او خـــوږ بـــه نـــه وي
ســـهروختي دربانـــدې غـــږشي چـــې ســـبق تـــه پاڅـــه
د عـــاطفې اواز دپـــلار بـــه وي او خـــوږ بـــه نـــه وي
دډاګ اغـــزي مـــې لکـــه ســـپر پـــه بیابـــانو پراتـــه دي
چـــې د غلـــیم پښـــه کـــې خاربـــه وي او خوږبـــه نـــه وي
چـــې پکـــې واخـــلي خـــواږه شـــات خـــواږه انګـــوراو دســـنځلو عطـــر
چـــې دنکریځـــو او بنګـــړو د خـــرخ بازاربـــه وي او خوږبـــه نـــه وي
خـــــدای مهربانـــــه دی اخـــــر بـــــه وشي
د دیـــدنونو انتظـــار بـــه وي او خـــوږ بـــه نـــه وي
زاهـــــده دا بـــــه عجیبـــــه غونـــــدې وي
چـــې د جـــامونو کړنګهـــار بـــه وي او خـــوږ بـــه نـــه وي
حیـــــدري بـــــل څـــــه تـــــه دي پـــــام اړوم
دشـــبنم څـــاڅکی پـــه بهاربـــه وي اوخـــوږ بـــه نـــه وي

نن مې بیا په لاره کې لویدلی لونگ ولید
بیا چېرته چورشوي دي بازار دپساریانو
پیغلې چې رانجه اخلي چاپیره ورته ناستې
مونږ خو یې په لیدلو پسې خلاص شو دچشمانو
ډېره موده وشوه بنگړیواله نوره نه راځي
چا به وي گواښلي په چړو او چاقوگانو

د غلیم خوله پري هیڅکله لمده نه شوه
دساقي لاس کې جامونه غیرتي دي
که پښتون دي که تاجک دي که ازبک دي
دي وطن کې ټول قومونه غیرتي دي

ډکې خزانې شولې تقسیم په ښامارانو
په کنج کې چې څه پاتې وه نصیب شوی دمارانو
ته لاړې بل وطن ته انتخاب کړې دښارونو
توپک یوازې پاتې په اوږو شو دخوارانو
دخداي دپاره خلکو نور په چاپسې لاړنه شي
په سپین میدان یې پرېښودو مشرانو
چې مور دي درته وایي نور د نورو جنگ ته مه ځه
عمل په دې گفتار کوئ کشرانو

څـــــوك مــــــې شـــــكوي دكتـــــابونو پــــــاڼې
څــــــــــــوك رژوي دچنارونوپـــــــــــــاڼې
نـــــن مـــــــې جفــــا دفريبكـــــار وليـــــده
دكـــــــــلي وږي پـــــــــه قطارونوپــــــــــاڼې
كلـــــوكې پـــــاڼې چېرتــــه پـــاتې نـــــه شــــوې
اوس لوټـــــــوي بـــــــه دښـــــــارونو پـــــــاڼې
پاڼـــــه كــــــې ســـــاه ده پاڼـــــه روح دانســـــان
مـــــــــــه وږه زمـــــــــونږ دژونـــــــــدنونوپاڼې
مـــــونږه ســــاده ګـــــان يوســــــتا نيرنـــــګ خطـــــاكړو
پــــــــه دې ګـــــــــواه د تـــــــــاريخونو پـــــــاڼې
مــــــونږ دمعلـــــــم لاركــــــې اغـــــــزي اچــــــوو
پـــــــه صــــــيب شــــــيندو دګلابونــــــو پـــــــاڼې
د مينــــــې جنـــــګ كــــــې د وربلـــــه تــــــوی شي
څـــــــومره خوشــــــبوی دوربلونـــــــو پــــــاڼې
حيـــــــدري شــــــعردي څــــــوك بيدارنــــــه كـــــړل
هـــــسې كـــــړي ډكــــــې پــــــه شــــــعرونو پــــاڼې

تـــــه يـــــې پــــــه مـــــا زه يــــــې پــــــه تــــــامړكړم
مــــــا پـــــــه خطـــــا تـــــا پــــــه خطـــــا مړكـــــــړم
پـــــه تـــــوره شـــــپه كــــــې دكفـــــن جــــاموكې
دشــــــــپې اشـــــــنا زه پـــــــه ســـــــبا مړكـــــــړم
جـــــام مـــــې پـــــلاس دميكــــــدې پـــــه مـــــنځ كــــې
ســـــاقي يــــې وېشي ـــــ زه يــــې پـــــه څكـــــا مړكــــــړم
د مـــــــــی فروشـــــــوبه مــــــــې څـــــــه ګيلـــــــه وي
پـــــه ســــــجده پــــــروت ومـــــــه مـــــــلا مړكـــــــړم

زما گناه دحقیقت ویل و
جاهلوزه په دې گناه مړکړم
لس جنازې زما دکوره وتي
لس ځله مړ یمه زه چامړکړم
ماوه اوازدعدالت جگ کړي
زه دې د خولې په دې ندا مړکړم
زما ارزووه چې دستورو خواته ځان رسوم
تا نیمه لارکې وارخطا مړکړم
چې مرور شې ځله شاته گورې
زه حیدري دې ادا کړکړم

باد چې راشي دحريم دتوروزلفو
ماته راوړي خوږشميم دتورو زلفو
دسهار وږمې به ولي نه ښکلومه
خبرراوړي چې نسيم دتورو زلفو

ړنده مینه ړونده باور
ټول تاوان دي سراسر
داسې مه کوه زلمیه
مالیدلي تري خطر

اتکـــــا دي پـــــه خپـــــل ځـــــان وکـــــړه زلميـــــه
وروســـــته ګټـــــه اوس تـــــاوان وکـــــړه زلميـــــه
مـــــزدوري وکـــــړه بنګـــــړي بـــــازارکي واخلـــــه
شـــــپه کـــــي تمـــــه لـــــه جانـــــان وکـــــړه زلميـــــه

پـــــه ډېـــــرو تحليلونـــــو يـــــو مثبتـــــه لاره وټاکـــــه
مينـــــه پکـــــي ځـــــاي کـــــړه بي نفرتـــــه لاره وټاکـــــه
ځـــــه هـــــم پـــــه دي لاره دخـــــبرو پـــــروا مـــــه کـــــوه
جګـــــه کـــــبر جنـــــه وي تـــــه ښـــــکته لاره وټاکـــــه

مـــــا اوريـــــدلي دي چـــــې خـــــاموشي ښـــــه ده
ګـــــيلي پـــــه ســـــند لاهـــــو کـــــړه فرامـــــوشي ښـــــه ده
چـــــې نـــــه هضـــــميږي اونـــــه مفيـــــدوي تـــــن تـــــه
ددي خوړونـــــه معـــــده خـــــالي ښـــــه ده

لـــــبړې وکـــــړه ډېـــــرې واوره
نـــــوي واوره تـــــيرې واوره
د دې دواړو ګټـــــه واخلـــــه
دا دې ګټـــــه نـــــورې واوره

کـــار پـــه مشـــوره کـــوه بيـــا وگـــوره
نـــور خـــودې ليـــدلي دي داوگـــوره
هرطـــرف تـــه گـــوره انتخـــاب وکـــړه
مخـــه درتـــه ښـــکاري خـــو شـــا وکـــوره

وځـــي چـــې دښـــکار پـــه نيـــت
مـــاتې ارادې دې شي
ولـــې تـــوت خـــورکې چـــې
مـــاتې دالينـــدۍ دې شي

چـــې ورتـــه گورمـــه حســـينه نـــه ده
دومـــره خـــوډېره گـــل ورينـــه نـــه ده
دعاشـــقانومې پوښـــتلي ډېـــردي
زړه چـــې مـــين شي ښـــکلا اړينـــه نـــه ده

هـــره شـــپه کـــې زړه تنگـــون سره عـــادت يـــم
لاس اوزنـــه او د زنگـــون سره عـــادت يـــم
نـــه پـــه ســـترگو کـــې مســـکۍ شي لـــه خندانـــه
زه د دغـــه جيگـــر خـــون سره عـــادت يـــم

غـــــل دکـــــــور ځنـــــې هســـــــتي يـــــــوسي
دردونـــــــــــه راشي اومســـــــــــتي يـــــــــــوسي
خدايـــــــه يوداســــــې طوفـــــــان راوړه دلتـــــــه
د دې ملــــــت نــــــه چـــــې نيســـــتې يـــــوسي

اتکـــــا دې پـــــه خپـــــل ځـــــان وکـــــړه زلميـــــه
ټـــول کاروبـــه پـــه ښـــه شـــان وکـــړه زلميـــه
سراسر ګټـــه پـــه هـــيڅ ديـــاركې نـــه شـــته
پـــه خپـــل کلـــې کـــې ګـــذران وکـــړه زلميـــه

چـــې نظرمـــــې پـــــرې دښـــــار د پېغلومـــــات شي
ســـــــــپلني او مابوګـــــــــان دکـــــــــلي راوړه
ريبـــــاري بـــــه دې پـــــه سرســـــترګو منمـــــه
يـــــــوه نښـــــــه دجانـــــــان دکـــــــلي راوړه
خاموشـــــۍ مـــې نـــور د زړه پـــه رنـــځ اختـــه کـــړم
لـــــبر ځـــــه شـــــورخو د جانـــــان د کـــــلي راوړه
د بـــاغ مـــنځ کـــې ســـپين نـــرګس تـــه منتظـــريم
ســـــور لالـــــه خـــــو د دامـــــان دکـــــلي راوړه
يـــو بـــوډا خـــو اروپـــا کـــې بـــاد تـــه وويـــل
ځـــه خوشـــبوی خـــود افغـــان د کـــلي راوړه
لـــبر هوښـــيار بـــه شـــم پـــه عقـــل برابـــر
لـــــبرې نښـــــې د انســـــان دکـــــلي راوړه

دلتـــــه شــــپه پـــــه ځراغونورنـــــا نــــه شــــوه
ځــــــه رڼـــــا خوداســــــمان دکـــــــلي راوړه
حیــــدري تـــــه مــــې لیـــږلی یــــو پیغـــام دی
لـــــــږ دارو خـــــود درمــــــان د کـــــــلي راوړه

پــــلار دزوی نــــه مــــرور دی زوی دپــــلار نــــه مــــرور
یارزمانـــــــه مـــــــرور دی زه دیارنــــــــه مــــــرور
ســــــورګلاب اواغــــــزي دواړه یـــــــو ډنـــــــډرکې
پـــــه یوبـــــاغ کـــــې ګـــــل دخارنـــــه مــــــرور
پــــــه دې خلکوځـــــــه راوشـــــــولویه خدایــــــه
ځـــــــوان دکـــــــلي زوړ د ښـــــــارنه مـــــــرور
دپـــــردو ســــازونو دومـــــره خونـــــد راکـــــړی
ځـــــوك پردونـــــه ځـــــوك دتـــــار نـــــه مـــــرور
د شـــــبنم پــــــه شـــــان عـــــرق دســـــترګولاندې
زلمـــــــي ولـــــــې د رخســـــــارنه مـــــــرور
مـــــونږګلان پـــــه خپلـــــه پـــــرې کړلـــــو لـــــه بڼـــــه
بلبـــــــل نــــــــه راځــــــي ګلزارنــــــه مــــــرور
دیـــــو جـــــنس دی ځونرخونــــــه پـــــه بـــــازارکې
حیــــــــدري ځکــــــه بازارنـــــــه مـــــــرور


کور د دېوالونو نه جوړېږي
کلي دکورونونه جوړېږي
حرف اوکلمې شي په قالب کې
شعر خودبیتونونه جوړېږي
شعرونه دپردو (۱) په قیدکې راشي
سندرې دشعرونو نه جوړېږي
ته ماته اوز به تاته نیت کې شه شم
اړیکې دنیتونونه جوړېږي
په تندي باندې خواره واره پراته وي
وربل شي دوه لونونه جوړېږي
داشنې درې چې گورې گردچاپیره
داښکلې منظرې د لوړو غرونونه جوړېږي
مورشي دسندونو دا یې نوم شي
گوره اباسین ته دسندونونه جوړېږي
ورکه دې کینه شي مینه غوڅه کړي
مینه دخوږوخوږوحرفونونه جوړېږي
وایي حیدري انزوا ورکه شه
گوره چې بدن داندامونونه جوړېږي

---

۱ پردو – هدف د موسیقۍ دا لوی پردې دي

دســــوال پــــه اوبــــو ژرنـــــده نــــه ګرزيــــږي
پـــــه پرخوچــــــامنکي ډک کــــــړي نـــــه دي

دمينـــــي انتهــــا اوابتـــــدا بـــــه پيدانــــــه شي
پـــــه مينــــــه چـــــازړګی ډک کـــــړی نــــه دی



نه شته دي ارام ځما
شور چې په بنګړوکې دی
ګورم خپل سوری ټټر
غم ټول په بڼوکې دې
نیغ ورته کتی نه شم
لمر په اننګوکې دی
ستوري ورته نه رسي
خوند چې په خالوکې دی
ټولې ارادې دلته شکمنې شوې
ژوند په اندیښنوکې دی
بل چېرته یې مه ګوره
علم کتابوکې دی
جوني پرې ګودرته ځي
خوند خو په کوڅوکې دي
ماته وایي جنګ ته ځه
خپله په مزوکې دی
داغ یې دسرو شوندوئن
پاتې په پیالوکې دی

په فریب فریب د پېغلوحسن لوټ کړي
داکچکول اوداملنګ زما خوښ نه شو
چې په هرنوم يې زما له ستوني اخلي
دپیرانو داقلنګ زماخوښ نه شو
چې زلمی يې ددرانه خوب نه راویښ کړ
دبدلو بنګړو شرنګ زما خوښ نه شو
ګل چې رنګ يې دګلاب د ذاته نه وي
په غنچوکې بدل رنګ زما خوښ نه شو
بي سنجشه ځان داورلمبوکې سیځي
پرنده وکې پتنګ زما خوښ نه شو
دمکتب په لاره تلم چوپه چوپتیا وه
دمکتب خاموشه زنګ زما خوښ نه شو
چې پراته په کې دبل دکلي بنګ دي
بس د دې جامونو کړنګ زما خوښ نه شو
حیدري يې بدانجام خپله لیدلی
دچنار دمرغو جنګ زما خوښ نه شو

ستا په هنر ملاحظه لرمه
د زړه درزا دې نقاشي نه کړله
مخې ته يې وګوري چې سپین ښکاريږي
په شا پنډوکي کله شا دې نقاشي نه کړله

چــې نــاجوړه شــوي طبیــب لــه تــگ پــه کــاردی
چــــې وخــــت تیریــــږي مــــرض زیــــاتیږي
دمشــــکل ســــاتل هــــم دغســــې مثــــال دی
پــــټ ســاتل یــې د ناســور پــه شــان خپریــږي

ډیــــوې تــــه کینــــو چــــې رڼــــا وویــنــــو
دیــــــار پــــــه سروشوڼوومســــــکا ووینــــــو
پــه یــو پــوکي رانــه چــامړه کــړه شــپه شــوه
خدایــــه چــــې کلــــه بــــه ســــباووینو

هســــې مــــې خلــــه گرځــــوې پــــه کــــلي
گــــــــوره زه خپــــــــل دختوکــــــــورپیژنم
د ټولوســــــــــــــترگوبلانه اخلمــــــــــــه
زه دجانــــــــــان دســــــــــترگوتورپیژنم

دطــــلا پــــه حلقــــو مینــــه بــــې وفــــاده
چــــاچې داقبولــــه کــــړې نــــو خطــــاده
پــه لیــدو چــې انــدروفین (۱)پــه کــې ازادشي
حقیقــــي مینــــه هــــم داده چــــې رښــــتیاده

۱ اندروفین یوکیمیاوي ماده ده چې په دماغ کي ازادیږي اودخوشالی. سبب گرزي

په هرطرف کې چې اغزي اغزي وي
دمارکونډۍ [1]په نوم یوخار پیژنم
راشه یوبل کمال مې داوګوره
چې زه دخپل لستوڼي مارپیژنم

دسند دځپو شوره بیرته راشه
په دیروکې تنګ ټکوره بیرته راشه
دامنمه چې بي وسه یم کمزوري
اي زما دځوانۍ زوره بیرته راشه

چې دچا په مخه ښه کې غزل وایم
لکه اوښکې په پیاله کې غزل وایم
نن به دېرراسره وژاړي منمه
زه چې ژاړم په ناله کې غزل وایم

لاړه غرڅنۍ یې خامه وخوړه
خوارو شرمښانو د ښامارتصویرلیدلی دی
جوړچې د سرو وینوسره خالونه دي
دلته کلیوالو په دیوار [2]تصویرلیدلی دی

[1] مارکونډۍ دنخود په اندازه اوشکل یو اغزي دي چې هر طرف ته ده وروړکړي اغزي لري
[2] دبوار. =دیوال

زوړ مطرب دي زوړرباب دي
د زړوقصوکتاب دي
هیڅ بدلون چې ورسره نه وي
څه واه واه څه انقلاب دي

څه ناروا چې په دې ځمکه وشوه
دجنگیالوځني مې کرکه وشوه
نه په موندلونه په ورکه وشوه
قطعه دهیلو خومي ځکه وشوه

چې یې ویښ په نغمه نه شوم
درباب نه مروریم
چې لایق دوربل نه شو
دگلاب نه مروریم

چې کړم تنده دچا ماته
دسړي چینې اوبه شم
د حجرو په د سترخوان کې
تودسکړک شمه سابه شم

مـــا چـــې دنـــوي محبـــت دپـــاره ګـــام پورتـــه کـــړ
یـــــــو چاوازدانتقـــــــام پورتـــــــه کـــــــړ
وړه پیالـــــــه دي مبـــــــارک وي ده تـــــــه
مادســـــاقي دلاســـــه جـــــام پورتـــــه کـــــړ

چـــــې هرموســـــم کـــــي پـــــه شـــــتاب وریـــــږي
دپرخـــــي څـــــاڅکي پـــــه ګـــــلاب وریـــــږي
دګـــــلاب ګلـــــه تـــــه خـــــبر یـــــي کـــــه نـــــه
چـــــې دشـــــفق پـــــه تاخونـــــاب وریـــــږي

میـــــــږي هـــــــسې دلېوانونـــــــه ډاریـــــــږي
نـــــا خـــــبري پـــــه قصـــــاب بانـــــدې اسره شي
کبـــــابي پکـــــي پـــــلاس ورتـــــه ولاړدی (۱)
بیـــــا یـــــي ګـــــوره د ســـــکرو لمبـــــه چـــــې سره شي

دپنجـــــرو پـــــه ځـــــای درختـــــي کـــــورکي ښـــــي دي
کـــــه مـــــین یـــــي دمرغـــــو پـــــه اوازونـــــو
تورانکـــــه کـــــه کـــــوتره کـــــه بلبلـــــه
خونـــــد بـــــه واخـــــلي دښـــــارو داوازنـــــو

[۱] پکې یا په کی

ورانه جوړه قلانه کړي
خپلې ژبې نه چې جوړه بلانه کړي
هم خوږه ده هم ترخه ده
د وړې خبرې جوړه غوغانه کړي

چې تا ژړلي مالیدلې سترګې
هیربه مې نه شي ژړیدلې سترګې
ولې ړندې نه شولې سترګې زما
زما بې شرمه غړیدلې سترګې

ثابت په یو مقام په پښو ودریږه
په یخو په سړو په پښو ودریږه
په بل باندې تکیه دسړي کارنه دی
هروختې په خپلو پښوودریږه

خومره کوکارې مې دخولې ووتې
دبارانه په شپه دشپې ووتې
قصه د مینې دډیوې سره کېږي
تاډیوه مړه کړه بې قصې ووتې

ما د بې ډیوې ماښام
ما د تورتمونوقصې واوریدې
ما دکندوالو تنو
ما دماتوزړونوقصې واوریدې

تغذیه د خپلې مورپه شیدوښه ده
چې په نوروتغذیه شي کارخراب شي
سرچشمه د دریاب ښه پاکوچینونه
دګنده چینونه جوړګنده دریاب شي
انتظار د جانان ښه دی دیدن خوږشي
بې مزه شي هریو کار چې په شتاب شي
کشمالي که په بلې دی که په بڼ کې
نه به ګل شي دسنځلي نه ګلاب شي
دوطن باچاته داسې چارې بویه
چې ژوندون درعیت په اب وتاب شي
په قاشغو په پنجوبه وریجې وخوري
خو په دواړوخوراك کله دکباب شي
دحالاتونه زمونږناخبزي ده
خدای خبر که مخه بنده دسیلاب شي
حیدري لږخوږشربت دشونډو وڅکه
درنه هیربه د دنیا ترخه شراب شي

چې سفر کړي نو ارادې په کاردي
قوي پاپوش قوي پښې په کاردي
څوك خو قالیني چاته نه فرشوي
په اغزو تلو ته وسیلې په کاردي

دکلو پیداواردي چې ښارونه پرې اباد دي
وربشې اوانګوردي چې جامونه پرې اباد دي
دکلي نه ورغلي مزدوري کوي په ښارکې
ددوی دمټوزوردی محلونه چې اباد دي

زما په شعرکې حقیقت ولولي
نه دچاسپکه نه درنې وایم
د ژوند مسیرمې مستقل ټاکلی
نه دتسپو نه دپیالې وایم

د څخیدلو پکې څاڅکي نه شته
ډکې پیالې دې تشې شوي نورې

درده نور دومره دې بې درده کړمه
د درد خولې مې وچې شوي نورې

په تنګودیوالوکې یوه ګناراځني وشوه
ګناداوه چې خداراځني وشو

پرون مې وه خندلي منکرنه یمه زاهده
که ته یې ګناه بولي نونن بیاراځني وشوه

څه په پیالو څه په ډیوکي وړمه
دتن خولي دي په شیشوکي وړمه

څه به وڅکم اوپه څه باندي ډیوه بلوم
پریبرده چې حسن دي لمبوکي وړمه

کله به دي ناوي زلفي وګورم
کله په په لو کله دستمال کي رانه پټي دي

سترګوته دي نيغ کتلي نه شمه
تل دبڼو جال کي رانه پټي دي

لاناوخته شو لانورناوخته کيږي
ښکلوم دې مکړه شور ناوخته کيږي

مينه وکړه دنفرت ريښي به وځي
زر مي زړه ته شه ټکورناوخته کيږي

نرمې ګوتې دې نرۍ قلم ته ورته
ټول بدن دې ګلابي صنم ته ورته

په ګفتاردې زما هله شک پيداشو
هرکلام دې دماضي قسم ته ورته

چې زمرى په کې باچا د شين ځنګل شي
زه د داسې تشبه ګانومخالف يم
دباداراودبيوزله اوبې وسه
زه د درې واړو بې ګانو مخالف يم (١)

[١] يی ګانو د ( ب) حرفونه

ماته په قبرلګیدلې دوه ډیوې ښکاري
دیوې مورد دردیدلې زړه لمبې ښکاري
ټول کلي ولیدې قاتل یې د لیدو منکردی
کلي بینادي دقاتل سترګې ړندې ښکاري

دلیلا د تندي خاله څومره برخځای دې نیولی
زوره وره جګړه ماره څه دشرځای دې نیولی

نه یې سیال د زنې خال شو نه راښکته شو دکبره
لکه پاس دغره په سردمازیګرځای دې نولی

افراطیت که دزلمي که دبوډاسړي خصلت وي
دابه کرکه وي نفرت وي دابه دواړه حقیقت وي
اي شپونکیه رمه ساته په پراخه ورشوګانو
چې خوراک یې شي هربوټي په شیدوکي یې لذت وي

ای پوهانده څه یې ته څه دې کتاب دی
ټول کمال دې دجاهل دیو کلام برابرنه دي
داغزن محیط استوګن که فطرت زمونږه دادي
چې د سمې لارې تګ ته مو یو ګام برابر نه دی

ما د نی (۱) د قلم نښې په کې پريښي
زه په سولو کتابونو پسې ژاړم
مخ سپيره پښې يې لوخې تن يې لوخ وه
د دې خوارو اولسونو پسې ژاړم
تا تالاکړه ماتالاکړه بل به ګورو
دوطن دثروتونو پسې ژاړم
شرنګيدلې چې په لاس دادم خان وه
ټوله ورځ يې په تارونو پسې ژاړم
چې ډک لاړشي اوتش راشي هديري نه
په خالي تشوکټونو پسې ژاړم
چې راتوی شي دبادام دجزيري نه
په دي ترمو بارانونو پسې ژاړم
چې د شرمه ستوري پټ شولو په وريځو
دسپين مخ هغه خالونو پسې ژاړم
يو شين سترګی چه به ډک په لاس کې راکړ
هرمابنام هغه جامونو پسې ژاړم
کبرجن وم بس هم دازما جزا شوه
اوس ديار دتصويرونو پسې ژاړم
په خپل لاس مې د خپل باغ دروازه ماته
په لو شوسروګلونو پسې ژاړم
څه بدوخت وه نافرمانه وم له تانه
پلاره اوس دې قدمونو پسې ژاړم
تابه پټ کړم پيوندي کميس لمن کې مورې
ستالمن کې پيوندونو پسې ژاړم
نه دې ټول کړل نه دې جوړ ترې يوکتاب کړ
حيدري ستا په خورو ورو شعرونو پسې ژاړم

چـــې دزلفـــو ســـیوري خپورزمـــا پـــه مـــخ شـــو
نولانـــــوره دجانـــــان غیـــــږه خـــــوږه شـــــوه
دغـــه وچـــې دشـــته گـــوره گـــذاره وه پکـــې گرانـــه
دکـــوچۍ پـــه قـــدمونو د دامـــان غیـــږه خـــوږه شـــوه
دغـــزل غیـــږه خـــوږه وه د ټپـــې غیـــږه خـــوږه وه
یکـــــه زار سره د داســــتان غیـــږه خـــوږه شـــــو
چـــې پـــه حـــق ویلوبندشـــو پـــه زنځیرپـــه هتکړیـــو
خوږمحـــل شـــو د زنـــدان غیـــږه خـــوږه شـــوه
ســـــتا د خـــــال او د جـــــمال مقابلـــــه وه
پـــاس پـــه ســـتورو د اســـمان غیـــږه خـــوږه شـــوه
حیـــــدري ســـــتا غزلونـــــو خـــــو رنـــــگ راوړ
ســـتاپه مینـــه دهجـــران غیـــږه خـــوږه شـــوه

ولـــــې پردوجگـــــړو کـــــې داســـــې وشـــــول
مخـــــې تـــــه گـــــوډ راشي اوشـــــل راشي
ســـیلاب چـــې راشي کـــلی پـــاک کـــړي صـــفا
دلتـــــــه ســـــــیلاب سره خـــــــزل راشي
ټـــول یـــــو نـــــاجوړه خودوانـــــه خـــــورو
اخـــــر پـــــه دې مـــــو اجـــــل راشي
بیگـــاه ســـوري وي خـــوب مونـــه دي کـــړي
لکـــــه لیـــــوان چـــــې دځنکـــــل راشي
مـــونږ بـــه یـــي ومنـــو دسر پـــه ســـترگو
کـــــه بدلونونـــــه پـــــه اټکـــــل راشي

ژړنــــــدې زړې دي نــــــورې کــــــار نــــــه کــــوي
دانــــــــــې وروليـــــــــــــړو خـــــــــو ده ل راشي
حيـــــــدري نــــــن راتـــــــه ګـــــــودر وويــــــــل
کلـــــه بـــــه بيــــا د پيغلــــو پــــه ل (پــــل) راشي

پـه مـاضي کې هـم بدبختـه او پـه حـال کـي هـم بدبختـه
پـه هجـران کـې بـدبختي ده زه وصـال کـې هـم بدبختـه
ډيــره ســـخته دبـــدرنګي يارانـــه ده خومـــا وکـــړه
اوس مـي ښـکلي سره يـاري ده زه جـمال کـي هـم بدبختـه
تيرکــال تــير پــه معصــيت شــونوي کــال نــوي ارزوده
داسـې ښـکاري نـوي مياشـت او نـوي کـال کـي هـم بدبختـه
يوهوښـــيار دي ســـل کـــم عقلـــوسره يـــي سردي
څـه يـي ژونـد شـو دکـمال سـړي کـمال کـي هـم بدبختـه
احمقــان پــه عقــل منــدودي بــرلاسي څــه بــه کيــږي
پـه عمـران کـي هـم بدبختـه پـه زوال کـي هـم بدبختـه
حيـدري وايـي چې زه خـو يوملنـګ يـم ملنـګ ښـه يـم
خودي ځينو تـه چې ګـورم پـه شـته مـال کـي هـم بدبختـه

نـــن مـــې ځـــان تـــه تمـــه ځکـــه پيداشـــوي
چـــې دکرکونــــه مــــي کرکـــه پيداشـــــوي
مالوســــــتلي تاريخونـــــه کبرمـــــه کـــــړه
دباچـــا جوغـــه پـــه ځمکـــه پيـــدا شـــوي

تاپـــــه نشـــــوکې پــــه ټـــــق ټـــــق خنــــــدلي
تـــــا د نـــــــازکو سرولبانوخنداڅــــــه لیـــــدلې

د کـــلي ځوانــــه تــــه دښـــار پـــه رواج څـــه پـــوهیږې
تـــا پــــه محفـــل کـــې دخوبـــانو خنداڅـــه لیـــدلې

ښـــــه پاخــــــه ســــوچونه خــــــام شـــــو
ښـــــــه هوښـــــــیارخلك سرســــــام شـــــو
بـــــدي اخـــــلي او نیــــــك نــــــام شـــــو
څـــوك پــــه ښـــه عمـــــل بــــدنام شــــو
دادکومولوموجـــــــــــــــــــــــــــــــــــوړوه
چـــــې یــــو زاڼــــې ګـــــیر پـــــه دام شـــو
دانګوردوابونـــــــــــــــــــــــــــــــــــــه وه
نولایــــــــــــــق ولي دجـــــــــــام شـــــــــو
دهغوکـــــــــــــــوټې بـــــــــــه څـــــــــــاځي
چـــې پــــه خـــــام کاګـــــل یــــي بـــــام شـــو
دهرچاپښـــــــــــــــوکي خـــــــــــــــاروه
اغـــــــــــزي ولي دانعـــــــــــام شـــــــــو
بـــــــس هغــــــه کـــــــاروان رســـــــیږي
چـــــې دوخـــــــت سره همګـــــــام شـــــو
حیـــــــــــدري ځکــــــــــه هوښیارشــــــــو
ګړنګونوتــــــــــه یـــــــــي پـــــــام شــــــو

مخ ته چې يې گورم ليدی نه شمه
څنگه به پيداکړم دليدولاره
سترگې ښکته واچوي زه څه وکړم
پورته پورته گورم دکتولاره
مست به شم خماربه شم بې څکلوزه
لارکه مې پيداکړه دپيالولاره
دانازکه ځي په کومه لاره چې خبرشمه
زه به يې جاروکړم په بڼولاره
عقل په گلانوکې دکومه شو
چا ورته ښودلي دپيکولاره [1]
زه خوتورلونگ ته حيرانيږمه
څنگه يې پيداکړه دسينولاره
خپله لاره ښه ده چې بلديوپرې
چاراته ښودلې دپردولاره
هسې په زارو به څه شي ونه شي
څو چې خپله نه کړودلمبو لاره
زر په کې پيغام جانان ته ورسي
ماځکه نيولې ده دشعرولاره
تش د خولې خنداده بازاري مينه
مينې ته پکارده دزړگولاره
يه حيدري دادی اوريدلي دي
په مينه چې گل کېږي داغزولاره

[1] پيکو – ور بلونه

دمـــخ داســـپین جبـــین یـــي د خـــالونو نـــه جـــوړیږي
وربـــــل یــــې دزلفــــانو دتارونونـــــه جــــوړیږي
د اځکـــــه تـــــر ســــنځلومعطري یــــي خـــولي دي
خـــــولې یــــې دبـــــدن دخوعطرونونـــــه جــــوړیږي
چـــې پـــه زلفـــو یـــې ګنـــډې او خـــولګۍ درکـــړي
د امینــــــه خـــــودميني دزخمونونـــــه جـــــوړیږي
د اژونـــد چـــې ځـــومره لنـــډ دی ځـــومره خـــوږدی
د پرخـــــې دقطـــــرو او نرګســــونونه جــــوړیږي
راځـــــي چـــــې یوبـــــل ونیســــو پـــــه غیرکـــــې
فتنـــــــي خونفروتونـــــــو نـــــــه جـــــــوړیږي
شروع دســـــــیپاري اودحســــــاب دعلمــــــه وشي
داهرڅـــــه چـــې جــــوړیږي مکتبونونـــه جــــوړیږي
د مینـــــــې هــــــر انـــــداز دلتـــــه ګنـــــاه ده
غمونـــــه پـــــه چنـــــارکې د ټالونونـــــه جــــوړیږي
پیســــې چـــــې شي پیـــدا د دواړو لاســــوپه تنهـــاکو
ســـمباله زنـــده ګـــي پـــرې د خوندونونـــه جـــوړیږي
ډېــــرې چـــې پیســـې شي شي بـــې شـــماره کړاونــــه
داډېـــــرې سرمــــایې خـــو دظلمونـــو نـــه جـــویږي
روژه ده راروانـــــــه دیـــــــو ځـــــــه دې خبرومــــــــه
حکمــــت یــــي دخوارانـــــو د دردونونـــــه جــــوړیږي
حیـــدري چـــې ځـــان کمـــزوری احســـاس نـــه کـــړي
انقــــــلاب دې دشــــــعرونو نـــــه جــــــوړیږي

زمـــــا او ديـــــــار د لوبيـــــــدلو نښــــــه
مـــا د چنـــار پـــه ښـــاخ کـــې ټـــال ســـاتلی

زه يــــې دغونــــډې زنـــې غونـــډه زارشــــوم
چــــې يارزمـــــا د زنــــې خـــــال ســـــاتلی
دومــــره کمـــــزورې اراده کــــې نـــه يـــم
ســـتا امانـــت مـــې پـــه کـــمال ســـاتلی
اې ناويتوبــــه تــــه مـــې نـــه هيريــــږې
مــــادپنهو [1]نښــــه اوشـــــال ســــاتلی
يــــــاره اوږده مســـــــافرې دې وکـــــــړه
يـــــم منتظــــره ماوصــــال ســـــاتلی
راپســــې ګرځـــــې دښــــکلا دښـــــمنان
مـــا پـــه پلـــو کـــې پـــت جـــمال ســـاتلی
دلتــــه چـــې ګـــورم دمرغـــوسره ظلـــم
چاورتـــــه دام چاورتــــه جـــــال ســـــاتلی
کـــه لړمـــاضې تـــه شوښـــيرې بـــه وکـــړو
چـــاچې ملـــت پـــه دغـــه حـــال ســـاتلی
نـــن خوپيرانـــو پـــه دعـــاکې رنـــګ کـــړم
حيـــدري هـــم دې ســـاقي هـــم دې کـــلال ســـاتلی

پخوابــــه ناويـــانوزرې پيــــزار پـــه پښـــوکول
او پـــه سربـــه يـــې اوه رنګـــه شـــالونه پـــه سرکـــول

[1] ۱-پنهې پيزار

راځـــئ چـــې دا د جنـــګ اورونـــه مـــړه کـــړو
راځـــئ چـــې لـــوی غمونـــه لـــږ واړه کـــړو
راځـئ چـې پیـداوار او کاروبارپـه ملـك کـې وکـړو
راځـــئ پـــه نعمتونـــو دوطـــن وړي مـــاړه کـــړو

اي جنګــه نــابوده کــلی ښــاردې رانــه واخیســته
کــلي کــې ګودرښــارکې بــازاردې رانــه واخیســته
تورلونــګ دانــه دانــه پــه څمکــه بانــدې پریوتــل
راغلــې دلونګــو د مــنځ تــاردې رانــه واخیســته
زمادیــاری مــزي خوریبــار راتــه تــړلي وه
ســـت شــو چــې ریبــاردې رانــه واخیســته
تــا دیــارانې مــزي بــې وختــه راتــه غــوڅ کــړل
لاړمــه تنهاشــومه چــې یــاردې رانــه واخیســته
کــوروه مــور او پــلار وه خوینــدې ورونــه وه
واړه دې فنــاکړل اوپــلاردې رانــه واخیســته
خــولې زمــونږ عــادت پــه ښــوخبرو وي
راغلــې خوږګفتــاردې رانــه واخیســته
حرصــه نــامراده دومــره زور شــولې
تکــه سره مڼــه اوســور انــاردې رانــه واخیســته
یــه حیــدري ولــې پــه شــعرونو پښــیمانه شــوې
مــاچې ویښــوي هغــه شــعاردې رانــه واخیســته

چې باران په ننگرهاروي
لوند د يار د زلفوتاروي
د لمدو نرگسوجوړوي
دليلا دغاړې هار وي
پاس په غرونوواورې اوري
دنښترو په سرباروي
توده غېږه دجانان وي
بې نشې سړی خماروي
ديوچادواده شپه وي
د ياران شپه دې بيداروي
افرين په هغه زړونو
چې جانان دجا په لاروي
چې لوند مخ دجانان وچ كړم
دابه ثومره ښكلی كاروي
په باران مې سوال قبول كړي
چې نه خان وي اونه خوار وي
حيدري په مينه مست وي
نه رسۍ وي اونه دار وي

دلته ددې خلكو د ژوند څنگه گزاره كېږي
مينه كوي پټه جنگ ښكاره كېږي
كله چې باچا ميدان دجنگ ته ځي
زمونږ د ساده گانو خبرول په نغاره كېږي

په دې کلي کې داخه عجيب کار شو
گناه گارشو چې روان په سمه لارشو
په کبرولاروروان شي محترم شي
ړوند اولس يې ديومخې تابعدارشو

تور بريتونه تورلونګ دي
پاس دسينو په سر په جنګ دي
ساه به دې بنده شي بې خوده به شي
لونګ کې څه خواص دبنګ دي

نن مې تصويرد يوچوپاني پيغلې وليدلو
نن مې همت ديوې گرانې پيغلې وليدلو
يولاره وې ته يې اوبه دخپل تپکه [1]ورکړې
مامحبت دمهرباني پيغلې وليدلو

دانسان اوانسانيت نه په جهان کې
نور اوچت او نوردرانه لفظونه نه شته
چې پيغام پکې د مينې محبت وي
تردې پورته نو خواږه شعرونه نه شته

[1] تپک هغه ظرف چې شپانه په کې يومقداراوبه دځان سر دځر ځاي ته وړي

هـــــــــــديروکې شــــــــــــمعې بلــــــــــې
هســــــــــــې وســــــــــوځي فنــــــــاشي
ډيــــــــــــوه بلــــــــــه شي دپـــــــــوهې
چــــــــې تــــــــورتم وطــــــــن رڼــــــاشي

مـــادپيغلې پـــه نتکـــۍ کـــې يـــوه نښـــه ده مونـــدلې
اوس شرميـــــــبږي خوانکـــــــارکولي نــــــه شي
درواج پــــــه تــــول هغــــه اوزه مجـــــرم يــــم
زړه يـــــې کېـــــږي خواقرارکـــــولی نــــــه شي

دنــــاظر خــــبره لـــــره اودصــــيب خــــبره بـــــره
اي نـــاظره غـــلی کينــــه ځـــان دې نيســـه نـــاخبره
ځــه پــه پښــو کــي يــې بــې اوره ځــان لــوګي کـــړه
يامانويا‌ســـپلني شـــه چـــې صـــيب نـــه شي لـــه نظـــره

پـــــــــه اولاد نــــــــــه خفـــــــــــه کيـــــــــږو
پـــــه خپـــــل ځـــــان نـــــه خفـــــه کيـــــږو
تـــــــک تنهــــــا يــــــې کـــــــټ کــــــې پريــــــږدو
پــــــه جانـــــــان نـــــــه خفــــــــه کيـــــــږو
نــــــور پــــــــه مونږبـــــــه ځـــــــه خفـــــــه شي
پـــه خپـــل زيـــان اوپـــه تـــاوان نـــه خفـــه کيـــږو

یم خمارلارې ځارمه
اودیارلارې ځارمه
دامنمه چې ساده یم
خوپه څارلارې څارمه
چې ګنډم څیرې لمنې
نو د تارلارې څارمه
ډېرهوس مې دپیالودی
خودوار لارې څارمه
د ټګی برګی بازارکې
په باربارلارې څارمه
داقرار په لاره ځمه
دانکارلارې څارمه
چې خوندې دکلي پت شي
په اعتبارلارې څارمه
چې دسروغمونه ډک دی
دانارلارې څارمه
حیدري په ماخبردی
درخسارلارې څارمه

خپل ریښې گریوان ته گورم
نو د یار د زلفو تار مې خیال کې راشي
چې دلاندې یې جرگې د پېغلو کېږي
د گودر د سرچنارمې خیال کې راشي
د لولی په شان دیارزلفي کړي گډې
یوه سیلۍ دیوسهارمې خیال کې راشي
رانه هیرشي اننگې دگل خوبانو
سرچې پورته کړم انارمې خیال کې راشي
ماراوړي سپینې غاړې ته دیاروه
شودانه دانه یوهارمې خیال کې راشي
د دهقان دلاس تناکې مې هیرنه شوې
یوځل نه شوه په باربارمې خیال کې راشي
شپه په خوب مې سپوږمۍ ولیده نیم زاله
پاس دبام په سرنگارمې خیال کې راشي
ځومره خوږ دیار دیدن په انتظارشي
زما اوږد انتظار په خیال کې راشي
حیدري یم دخزان سیلو وهلی
دځوانۍ دوخت بهارمې خیال کې راشي

یوکاردې په مونږ پیرزودی
په ځان دې نه دی
لکه خپل ځان دې د پردي ځان دی
خپل ځان دې نه دی

سـتـرګې چـې پیـالې نـه وي او جـام نـه وي
سـتـرګې چـې پـه شـکل دبـادام نـه وي
څـه بـه پـه زنګـون وي پریواتـه دیـار
زلفـې چـې خـورې پـرې هـر ماښـام نـه وي
هسـې تورتارونـه دي پراتـه بـه وي
زلفـي چـې دیـار پښـوکې دام نـه وي
هـسې یونغمـه ده اوغږیـږي بـه
ترنـګ سـه (سره) دشـاعر چـې خـوږکلام نـه وي
تـش پـه کشـمالو بـه دبـام څـه خونـدوي
کـټ دګـل خوبـانې چـې پـه بـام نـه وي
یـه حیـدري سـتاکاروان بـه پـاتې وي
څـوچې دهـدف پـه لـوري ګـام نـه وي

هـسې دبـاغ نـه ګـلان څلـه شـکوې
پـه جبـین څوړنـد وربلونـه نـه شـته
پیغلـې بـه څـه دګرمـۍ تـاب راوړي
کـلي کـې لوړلوړچنارونـه نـه شـته
ښـکاري ټپـي کـړي د چروپـه توپـک
اوس دکـوترو وزرونـه نـه شـته
دروغـو ټـول کـلی دی پـه سرراخیسـتی
هـیخ د ربښـتیا پـه کـې لفظونـه نـه شـته
شـوې د ریـاپردې خپـرې پـه سـترګو
پـه مړوکتلـوکې خوندونـه نـه شـته

د للمـــــي ګـــــل يـــــم لمـــــره مـــــه مـــــې ســـــيځه
پـــــه سرمـــــې پرخـــــه بارانونـــــه نـــــه شـــــته
بـــــــــازارخوټول دټوپکونـــــــــــو ډک دی
پـــــه ټـــــول بـــــازار کـــــې قلمونـــــه نـــــه شـــــته
پښـــــتانه ډېـــــردي خـــــو پښـــــتو نـــــه وايـــــي
د دې ګنـــــاه څـــــه جوابونـــــه نـــــه شـــــته
مـــــاخونن ډېـــــره زاري يارتـــــه وکـــــړه
دحيـــــدري سره نورســـــوالونه نـــــه شـــــته

لکـــــه پســـــونه يـــــو پســـــه پســـــې روان يـــــو
بـــــل خـــــوا نـــــه ګوروخومخـــــامخ روان يـــــو
يـــــو طبيـــــب دی څونســـــخې غلطـــــې راکـــــړې
پـــــه بـــــار بـــــار ورتـــــه روان يـــــو مونږدعقـــــل بـــــيماران يـــــو

مشـــــــوره ښـــــــه ده مصـــــــلحت ښـــــــه دی
د قـــــــافلولارکې وحـــــــدت ښـــــــه دی
ډېـــــر څـــــه زده کېـــــږي د اولـــــس لـــــه درده
دخپلوخلکـــــــوسره صـــــــحبت ښـــــــه دی
اوس تقاضـــــــا دزمـــــــانې داســـــــې ده
ژوندموســـــــمبال پـــــــه حکمـــــــت ښـــــــه دی
زړه چـــــې پراخـــــه شي فتنـــــې ورکـــــې شي
د زړنـــــو دغســـــې خلقـــــت ښـــــه دی
څلـــــه پـــــه زوره تـــــرې خـــــولګۍ غـــــواړي
پـــــه غیږکـــــې ونیســـــه خلـــــوت ښـــــه دی

معلمـــــــه لښـــــــتي نـــــوري مــــــه ګرځـــــوه
خپلـــــو بچـــــوسره محبــــــت ښـــــه دی

ډېـــــري دي جمعـــــه کـــــړي غمونـــــه ډېرشــــو
چـــــې غـــــم دي لـــــږشي کـــــم ثـــــروت ښـــــه دی

پیـــــــسې ښـــــــې دي شـــــــتمني ښـــــــه ده
خـــــوددي ټولونـــــه صـــــحت ښـــــه دی

چـــــې پـــــه ظلـــــم نـــــاروا ګـــــټلي
ددې ثـــــروت نـــــه خـــــو غربـــــت ښـــــه دی

حیـــــدري مـــــه منـــــه پـــــردۍ خـــــبرې
خپـــــل مـــــووطن خپـــــل مومـلـــــت ښـــــه دی

دبدوهمنشـــــینونه انســـــان ملګـــــری ښـــــه دی
پـــــه ژونـــــدکي خوږجانـــــان ملګـــــری ښـــــه دی

ای دکـــــلي مـــــشره حـــــق وینـــــاده کـــــه یـــــې اورې
د ګـــــل غونـــــدې بـــــاغوان ملګـــــری ښـــــه دی

دعـــــوي څـــــوک دشـــــمال څـــــوک دجنـــــوب کـــــړي
دټولـــــودی وطـــــن افغانســـــتان ملګـــــری ښـــــه دی

بچـــــې چـــــې کښـــــتۍ شي دســـــندونودطوفانه
هوښـــــیار شـــــه جالـــــه وان ملګـــــری ښـــــه دی

مونږحـــــق ویلوځکـــــه موپښـــــوکې زولنـــــې دي
شریـــــک راسره د جـــــرم دزنـــــدان ملګـــــری ښـــــه دی

پـــــه خولـــــه کـــــې چـــــې هـــــم اور وي هـــــم اوبـــــه وي
ددغـــــه منـــــافق نـــــه خوشـــــیطان ملګـــــری ښـــــه دی

ملګـــــري بېلابیـــــل وي دمقـــــام اوددولـــــت

خوشپون ته په بيابان ملگري ښه دی

د زنې شنه خالونه اوپه شونډوسره گلونه

د پېغلې د وربل سره ريحان ملگری ښه دی

د سترگوحفاظت ته چې قطار رولاړدي

په شان دباڼوگانونگهبان ملگری ښه دی

گلانوخونيولي دشبنم لمن سهارکې

چې تنده ماتوي نوبيا باران ملگری ښه دی

حيدري توروتيارو کې ترمنزله مزل گران دی

چې نورترې راوريږي نواسمان ملگری ښه دی

ډېرې کړې خبرې خود کار خلك كم شويدي

ځې په کږليچونو او د لارخلك كم شويدي

پېغلې يې تالاکړې په تنکوتنکوعمرونوکې

څه درانه د انتظارخلك كم شويدي

هرچاپه هوس دلونگين لړونه وشکول

دلته دلونگو دروزگار خلك كم شويدي

اورپه تنرونوکې ډوډۍ پرې پخې نه شولي

هغه د لمبو او دانگار خلك كم شويدي

وه ياغي مزاجه په جامونوبه پراته وه سم

شړه ميکده ده گناهگارخلك كم شويدي

زيړزبېښلي گرځې بيکاره په ښارونو کې

سره په بدن روغ لکه انارخلك كم شوي دي

ښاريې ټول نيولي کليوالوکډه کړې ده

ښارکې اوس د ښارخلك كم شويدي

پیغلـــــې ســـــینګارنه کـــــوي بـــــدرنګې شـــوې
ســیل تـــه یـــې قطـــار خلـــك كـــم شـــویدي
ګټـــې ډېـــرې شـــویدي خـــوتیټې ارادې شـــولې
یـــه حیـــدري لـــوړ لکـــه چنارخلـــك كـــم شـــویدي

ځـــــګ (زه ګ ) دواوبـــــوهمیش پـــــه سرګرځـــــي
وي مرغلـــرې د بحرونـــو تـــه ل(تـــل) کـــې

ســـــــپکوخبرو سره ســـــــپك شي ســـــــړی
درنـــې خـــبرې وي پرتـــې د دمـــاغونو تـــل کـــې

ســـاقي پـــه ځـــان بانـــدې لـــبړ پـــام غـــواړم
کلـــــه پیالـــــه کلـــــه بـــــه جـــــام غـــــواړم

ورځ کـــې کـــه هـــر خـــومره ســـتومانه شـــمه
شـــپه دلـــیلا سره پـــاس پـــه بـــام غـــواړم
دســـــــهارباده دیـــــــار نښـــــــه راوړه
زه تـــــش دیـــــاردخولي ســـــلام غـــــواړم
ټولـــه شـــپه مـــې یارتـــه زاري وکړلـــه
کلـــه تـــرې بانـــه کلـــه بـــادام غـــواړم
مـــونږه پـــه کـــې مـــړه شـــو ګټـــه بـــل وکـــړه
نورخـــودا بـــې ګټـــې جنـــګ تمـــام غـــواړم
خوښـــې مـــې پیســـې دې دلاســـونو د تنـــاکوسره
نـــه یـــې پـــه رشـــوت نـــه یـــې حـــرام غـــواړم
توروسپینوورځوســـــیلابونه ځـــــان سره راوړل

نورخوداغریــــــــــب اولــــــــس ارام غــــــــواړم
یــه حیــدري ســتا ډېــري تپــي غــزلي یــادي دي
راوړي چـــي بـــدلون داســـي کـــلام غـــواړم

زه ویـــــــده یـــــــم یارویـــــــده دی
دمـــــلا لانــــدې مــــې دزلفوتارویــــده دی
زه دانــــــه مــــــنم چــــــې زه یــــــم
چــې پــه څنــګ کــې مــې دزلفــو ښــارویده دی
حافظــه مــي ده کمــزوري پــوه پــري نــه شــوم
پــه لســـتونې کـــې لـــړم اومـــار ویـــده دی
یــوه ســتنه کــورکې نــه شــته داغزیــو دویســتلو
پـــه پښـــوکې پـــه کلونـــو خارویـــده دی
بـــدبختي پـــه هغـــه کـــورکې میلمنـــه شي
مــور ویــده ده زوي ویــده دی پــلار ویــده دی
داکــــاروان بــــه څنکــــه رسي ترربـاطــــه
چـــې کـــارگر اوهـــم سرکښ پـــه لارویـــده دي
چـــې دیـــار دزلفوبـــوی بـــې هوشـــه کـــړي
بختـــوردي چـــې پـــه سر د دار ویـــده دي
لـــونگین چـــې بختورنـــه دی نوځـــه دی
شـــپه دیـــار پـــه لاس کـــې ویښ ســـهارویده دی
پــه پالنــګ دیارســه(سره)خوب دلتــه گنــاه ده
حیــدري څکــه ټــول ښــار پــه ډارویــده دی

داخلــــك مــــرګ تــــه ورځـــې شـــپې شــــماري
ځنــــــي بيخــــــي ورتــــــه لحظــــــې شــــــماري

عقـــل پــــه سرکــــې وي پــــه پښــــوکې نــــه وي
ولي چارپايوتـــــــــــه پښــــــــــې شـــــــــماري
خلكوكتـــــــاب قلــــــــم بــــــــې شــــــماره راوړل
زمـــــــااولس لاس كـــــــې نيـــــــزې شـــــــماري
پـــــه خولــــــه خـــــووايي د رحمتونومياشـــــت ده
بيــــــــا اخترونوتـــــــــــــه روژې شـــــــــــماري
دالاره نيغـــــــه ديـــــــار كـــــــور تـــــــه تللـــــــې
داملنګـــــــان څـــــــه لـــــــه كـــــــوڅې شـــــــماري
دوه لونګينــــــــــه پـــــــــاس پــــــــه دواړوســــــــينو
لـــــــونګين نـــــــه شـــــــماري ســـــــينې شـــــــماري
ځنــــــې بيخــــــي وي دســــــــبنو ليــــــــوني
څـــــوك لـــــونګين كـــــې چـــــې دانـــــې شـــــماري
پـــه ميكـــده كـــې ګـــوټ پـــه وار ســـه ښـــه دي
ســـــــاقي دلـــــــرې نـــــــه پيـــــــالې شـــــــماري
د يـــــــــــوقلاچې ديوالونـــــــــــه نـــــــــــه وي
ســــــــــاده ګــــــــــان ولي دروازې شــــــــــماري
پـــه داســـې كـــلي كـــې دې لـــوى كـــړم خدايـــه
حيــــــدري ټــــــول عمــــــر فتنــــــې شــــــماري

دومره په زور خو دشکولونه وه
څیري ګریوان ریښي ریښي ژاړي
دلته دې کلي کې رواج داسې شو
څوك به د ورځې څوك د شپې ژاړي
د جنګ لمبې چې ترممبره راغلې
دلته رکوع او سجدې ژاړي
زما مشرانوتاسې چېرته لاړې
چې تش کتونه دجلګۍ ژاړي
مست دریابونه اوس ډنډونه شولو
دې خاموشۍ ته اوس څپې ژاړي
اوس چې خواران دخوړوتاب نه لري
اوس ماشومونه دروژې ژاړي
نیاګاني نوري قصې نه کړې د شپې
د ډېره درده نه قصې ژاړي
حیدري شعر دې پیکه شو ولې
هم دې غزل هم دې تپې ژاړي

څو چې دا دفتنې غر وي
شنه به ونه دکیکر وي
ټولې ونې به کیکر[1] شي
څو چې داچینه د شروي
توري وریځې په اسمان کې
نه سپوږمۍ اونه به لمر وي
څو چې دا لمبې داور وي

[1] کیکر: د اغزوبیوه ونه ده.

سوځي وچ وي اوکه تروي
چې غمازته وي لارخلاصه
څه به مینه د دلبروي
څه به خوب څه به ارام وي
چې موخلاص دکوتې ورروي
څه زمونږه ناپوهي ده
هرعذاب زمونږ په سروي
جنګ به خودکوي ناصحه
نه یې پوهه نه هنروي
دهندو دکان تالاشو
نه به مشک نه به عنبروي
چې نه پرخه وي نه څاڅکي
څه منظر به د سحروي

دانه ویني لومه نه ویني ړانده دي
که حریصه انسانان دي که مرغان دي
په ظاهره ګټه وکړي خبرنه دي
سرترپایه په تاوان دي احمقان دي

بدلون په کېناستلو نه راځي
پوهه بې لوستلونه راځي
خیرات اوصدقه دواړه منمه
پیسې خوبې ګټلونه راځي

سوداگر شه دي چې مالونه وړي راوړي
دخلکو داړتیاووړڅیزونه وړي راوړي
له دې ځایه پنبه اووړۍ بارکړي
دهاخوانه رختونه وړي راوړي
زماورته سلام په دواړولاسو
دځان سره نرخونه وړي راوي
داځني سوداگر دکرکې وړدي
پیسي اخلي خو سرونه وړي راوړي
داخه کړي نن مې بله واوریدله
قام خرڅ کړي ډك جیبونه وړي راوړي
دلته دا اولس ریبار ته شیطان وایي
ریبارخو د جانان نه جوابونه وړي راوړي
قهر اوغضب دواړه دخان دخولې مزه کړي
زما په شان غریب ژبه غاښونه وړي راوړي

لکه زلفې پیچ وخم لاري مې خوښي
تکې تورې دتورتم لارې مې خوښې
لارې بیلې دزاهد او د ساقي دي
زمالارې جدا دي دصنم لارې مې خوښې
زه جدا اویار جدا دواړه په غم کې
خیرکه غم وي نودغم لارې مې خوښې
چې پرهر راله گنډې په خپلوزلفو
د زړه زخم ته مرهم لارې مې خوښې

پـــه یوځـــل بـــه رســیدل منـــزل تـــه ګـــران وي
مـــزل کړمـــه دم پـــه دم لارې مـــې خوښـــې
کـــه هـــر ځودیارجفـــاده ماتـــه زیاتـــه تروفـــاده
یـــاره ســـتا د هرســـتم لارې مـــې خوښـــې
نـــن د زلفوبـــوی مـــې ترمشـــامه رســـیدلې
پســـې ګـــرځم چـــم پـــه چـــم لارې مـــې خوښـــې
چـــې حیـــات یـــې ســـورغاټول تـــه تخفـــه کـــړې
دبـــاران دهغـــه نـــم لارې مـــې خوښـــې

چـــا چـــې مـــونږ تـــه لـــوی هـــدف ښـــودلی دي
هـــیر هغـــه سرونـــه او ســـرې کـــړو مـــونږ
لـــوی هـــدف ټاکـــل قـــوي مـــاغزه غـــواړي
لـــوي هـــدف راوخلـــو دوړوکـــي قربـــاني کړومـــونږ
مـــونږ دپرمختـــګ دومـــره پروانـــه کـــوو
تـــل پـــه وروســـته والي کـــې ســـیالي کړومـــونږ
کلـــه مـــو مرغـــان دپنجـــروخلاص نـــه کـــړل
نیســـوځوچې ځالـــه[1] یـــې خـــالي کړومـــونږ
ځـــومره د یوتنـــګ نظـــر پـــیرو یـــوو مـــونږ
ځـــومره د تـــورتم رنـــګ نـــه کـــالي کـــړو مـــونږ
مـــونږ دکـــلي پیغلـــې ســـاده ګـــانې یـــو
هرزلمـــــې تـــــه فکـــــر دلالي کړومـــــونږ

[1] ځاله (لانه یاآشیانه) اوځني خلك یې جاله بولي

دونې ستې [1] خاوروکې پټې ښې دي
څومره چې پټې يې نوهغه ستې ښې دي
که خپل قامت لکه دونې غواړې
ځنې خبرې ديار نه پټې ښې دي

په مونږ پيسي مه ويشه
مونږته دې کلي کې يوځاجوړه کړه
مونږ ته نيالګي راوړه چې ويې کرو
مونږته دژوند يوه بقاجوړه کړه

ژوند يولنډ سفر دی
څه په سمه څه په غردی
لذت واخله ژرتيري
سم د ژمي مازيګردی

کله ګل ته دساتلو خار په کاروي
تل شکيدلي ګرېوانونه تارپه کاروي
دهرکاردپاره خپله طريقه ده
چې په سمه طريقه وي کار په کاروي

[1] ستې ريشې (roots)

سپينه څوکه اودغرنوم څومره خوږدي
پري دهسك ولاړنښترنوم څومره خوږدي
مازيګردغروپه څوکوخولګۍ اخلي دنښتره
مازيګرکي دادلمرنوم څومره خوږدي

کاردکار په سړوکيږي
څه دکلي څه دښار په سړوکيږي
هري سړي مي دسروشونډطلبګاردي
خوګيله مي ددستار دسړوکيږي

څپودحرکت خبرې وکړي
اوګرداب دډوبيدوخبرې وکړي
دی ځنې شاعرانو د درياب خبرې وکړې
دې ځنې شاعرانوخو د غروخبرې وکړي
بديل دحسن نه لري دنياکې
ماځکه دماښواوسپلنوخبري وکړي
بيګاه تري ټوله شپه وم مروره
جانان چې مې دتلو خبرې وکړي
ماويلي پيالي دي چاويل ډکې تمانچې دي
يوچا دبره کنجه دښوخبرې وکړي
بې خوده شوزلمي اوکه خمارشو
شيطان يې په غوږوکې درنجوخبرې وکړي
سپين ږيري اوځوانان قطار ولاړدي

ســــــاقي چـــــې دپیـــــــالوخبرې وکـــــــړي
نـــــن بیـــــادي لیونتـــــوب تـــــه زمـــــا خوښـــــه
لونـــــــګ سره دي ولي دســــــــینوخبري وکـــــــړي
چــــې دچانــــه مونږتــــه پیښــــه دهغــــوخبرې اورو
بیـــا ولــــې حیـــدري دې دورتلـــو خـــبرې وکــــړي

ســــــوځي اوغــــــوخیږي چنارونــــــه دم پـــــه دم
ســـوکړه شـــولو پـــه بـــاغ کـــي چمنونـــه دم پـــه دم
مرغـــــانو تـــــه دژوندڅـــــه پـــــاتې نـــــه شـــــول
کــــــوچیږي روانیـــــــږي دوطنـــــــه دم پـــــــه دم

لـــوي دریـــاب یـــې پـــه شـــیلو بانـــدې تقســـیم شي
مـــوج یـــې کینـــي پـــه ولوبانـــدې تقســـیم شي
چــــې یــــي ســــیردنابودی پــــه لــــوروان دی
پـــــــه وړو وړولښـــــــتو بانـــــــدې تقســـــــیم شي
یوملــــــــت دســــــــند پــــــــه شـــــــان دی
شي کمـــــــزوری قبیلـــــــو بانـــــــدي تقســـــــیم شي
څـــــــه ښایســـــــته مـــــــخ دجانـــــــان دی
مـــخ بـــه نـــه شي کـــه ټوټوبانـــدې تقســـیم شي
پـــه سرک بانـــدې بګـــی پـــه خـــرپ روانـــې
سرک ورک شي چـــــې کوڅوبانـــــدې تقســـــیم شي
دلونګـــــودانې ټـــــولې دیـــــوې ســـــیني پـــــه سردي
لونـــــګ ورک شي چـــــې دانوبانـــــدې تقســـــیم شي

زمونږناســـــته دنـــــادانو پـــــه ولکـــــه کـــــي
سرانجـــام کـــې پــه تياروبانـــدي تقســيم شي

نـــه پوهيږوپـــه ســـکروټوکه پـــه اورڅـــو
حقيقـــت نـــه ســترګې پټــې پـــه کـــوم لورڅـــو
کلـــه کلـــه موخاموشـــه دورانديشـــه تـــګ ونکـــړ
پـــه لنډفکرلنډســـفر کړوخوپـــه شـــور ځـــو

دناځوانوديـــارۍ نـــه ليونـــوسره يـــاري ښـــه ده
دنـــا اهلـــه کوربنونـــه ميلمنـــوسره يـــاري ښـــه ده
چـــې ړنـــدې دغلـــيم ســـترګې پـــه هنرکـــړي
دماټواوســـــپيلنوسره يـــــاري ښـــــه ده

دنورونږبـــادۍ کـــې دې دځـــان ابـــادي خوښـــه
داکـــلي دي بربـــادشي خودخـــان ابـــادي خوښـــه
دادومـــره نـــاروا يـــې ځـــان تـــه ولـــې رواکـــړي
زمـــاتن دې بربـــادشي دجانـــان ابـــادي خوښـــه

ګـــــران راتـــــه دهرنژادانســـــان دی
کـــــورمې داخلورکنجـــــه جهـــــان دی
ســـمندردي کـــه فصـــا ده اوکـــه غـــردی
دوطـــن کـــانې اوبـــوټې راتـــه ګـــران دی

دګل پاچا الفت مزارته دخپلولمسو اومېرمنې سره يوځای
ورغلی وم
اودا شعرمې وليکه

يوالفـــــــــت خـــــــاوروکې پــــــــرت دی
څــــه پـــــه پــــت خــــاوروکي پـــــروت دی
مــــــونږ ړانـــــــده تــــــــري نــــــاخبره
لـــــوي ثــــروت خـــــاوروکي پـــــروت دی
دلغـــــــــمان پتمنــــــــــه خــــــــاوره
دشـــــــوکت خـــــــاوروکي پــــــــروت دي
دژونــــــــدلاره يــــــــي الفـــــــت وه
پـــــه محبــــــت خــــــاوروکې پــــــروت دی
نـــــه پـــــه قبريــــي ګنبـــده نـــــه منارشـــــته
خــــوسرلاري دنهضــــت خـــــاوروکې پـــــروت دی
دهرقـــــــام دهـــــــري ژبي خـــــــدمتګاروه
سرفــــــرازه پـــــه وحـــــدت خـــــاوروکې پـــــروت دی
حيـــــدري وايـــــي پـــــه دي مـــــي پيرزونـــــه شي
چـــې دخاوروپـــه بالښــــت خـــــاوروکي پــــروت دی

څـــــه ښايســــته څــــه بدرنګــــه خلـــــک شــــته دی
څـــــه دوه مخـــــي اودوه رنګــــه خلـــــک شــــته دی

دچاپوهــــــه ډېــــــره کمــــــه دچــــــا ډېــــــره
پـــــه قــــدټيټ اوپــــه قددنګــــه خلـــــک شــــته دی

زمونږ ژبه که وړه ده
مونږ ته سترغمونه راوړي
هرسهر دکوره وځي
ماښام مات سرونه راوړي
خولي کې سمه نه خوزیږي
ښه ده لې غمونه راوړي
ټوله ورځې چې ګړیږي
نوبلهاشرونه راوړي
کله کله خوپه کار د کارخبرې
کله کله دي ګټلي زړونه راوړې
ژبي داسې اموخته کړو
چې خواږه لفظونه راوړي
حیدري دي ددیوانه
څه خواږه شعرونه راوړي

یارکه هرڅوځله انکاروکړي
خویي په سترګوکې شوګیرښکاري

دلته انکار دمینې نه شي کیداي
دشپې هنداروکي تصویرښکاري
ګلان یې نه وخودمیونه ډکه
ماته درخته دانجیرښکاري
هرچیرته بندي په نروپښوکې

یوه کړې دیورنځیر ښکاري
هم راته جام هم راته خوله راکوي
جانان په ما ثومره زهیر ښکاري
چنارکی ډېرې شوې رنځورې ځانګې
ماته داکاردکوم شریرښکاري
زه حیدري لا ناامیده نه یم
مانه دهیلویوبهیر ښکاري

داستا مخ لکه غنچه مې نه هیریږي
ستا په شونډورنګ پیاله مې نه هیریږي
دګودرنه چې راتلې ټوله لمده شوې
مازیګر کېدباران هغه شیبه مې نه هیریږي

نور ځان ته بیل اخلم کلنګ اخلم
نورژوندکومه لاس دجنګ اخلم

شپه مې دیارسره یو پالنګ ښه ده
خوند به دغاړې اولونګ اخلم
دامې اخر پیغام دژوندوګڼه
نوردټوپک په ځاي قلم اخلم

نوري جامونوکي اوبه نه ځکمه
دګل دځوکي نه شبنم اخلم

سترگومې نن بله خطاوکړله
چې ړندوسترگوکي نظرلټوم
څوک لټوي باغ کې دباغ گلونه
زه په غاټول پسې کمرلټوم
دغه احساس راته دکومه راغی
زه چې گودر په مازیگرلټوم
دجانان غمه چې تاهیرکړمه لږ
چېرته تابیا دیوسفرلټوم
زه چې مین په رڼاگانویمه
دشپې سپوږمۍ دورځې لمرلټوم
څوًچې دحسن دښمنان وي دلته
زه به په غلا زما دلبر لټوم
حیدري څوبه خوري څپیړي په مخ
ستا په دفاع کي به خنجرلټوم

مرگی یې راوړ دممبر ترخنگه
ددي خونخوارروژه ماتیږي که نه
چې قتل وکړي اوچاړه وختې
چې په دې کارروژه ماتیږي که نه
اذان دکلي دغریب ملادی
په دي دښارروژه ماتیږي که نه
په ظاهریوڅه باطن بل څه کوي

پــــــه دې کـــــــردار روژه مــــــاتيږي کـــــه نــــــه
دبـــــــل پــــــه لاس چـــــــې راپــــــه سرشـــــــوراته
پــــــه دې دســـــــتارروژه مـــــــاتيږي کـــــه نــــــه
لـــــه مــــــونږه پــــاتي بـــــل يــــــي کورتـــــه يـــــوسي
پــــــه دې دخــــــوارروژه مـــــــاتيږي کـــــه نــــــه
مــــــــــــاروژه ونيـــــــــــوه د دارترحلقــــــــــــــې
پــــــه سر د دارروژه مـــــــاتيږي کـــــه نــــــه

دواده د زلمـــــــي کـــــــټ خوداســـــــې نــــــه وي
چـــــــې دماتوبنګړونښـــــه پـــــه کــــــي نــــه شـــــته
چــــې نـــــه هاراونـــــه لونـــــګ پکـــــي شـــــيندلي
دزفـــــاف ([1])دجګړونښـــــه پکــــــي نــــه شـــــته
چـــــــې د سرولاســــــــونورنګ ورپـــــــورې نــــــه وي
دلـــــيلا د خــــــوړو نښـــــه پکــــــې نــــه شـــــته
پــــــــه بــــــــازار دپګـــــــــړوراغلم بيرتــــــــه لاړم
بـــــس زمـــــا دپګــــــړو نښـــــه پکــــــي نــــه شـــــته
زمـــــــــــاکلي دغريبوخلکـــــــــــو کــــــــــور دی
دناڅوانــــــه مــــــه ړو ([2])نښـــــه پکــــــې نــــه شـــــته
ښـــــکارته داســــــې جــــــال دځانـــــه سره مــــــه وړه
چـــــې دجــــــال دکــــــړو ([3])نښـــــه پکــــــې نــــه شـــــته

---

[1] زفاف دواده شپه
[2] مه ړو يامړو پولداره ياسرمايه داره
[3] کړو ياکه ړو چې دښکار په جالونوکي دښکار دحيواناتودنيولو دپاره اچول کيږي

ټـــــول چــــې رڼـــــا اخــــلي دلمـــــر د نــــوره
د اســــــمان ســــتوري ټــــول دلمـــــره زارشـــــه

پــــه ســــپينه غـــــاړه دلـــــيلا چــــې زانګـــــي
ســـــــمندرواړه دګـــــــــوهره زارشــــــــــه
پــــه سرنښــــتر اوپــــه لمــــن كــــې چېنـــې
داســــــپيره غرونـــــه لــــــه دې غـــــره زارشــــه
خيركـــــــه قتليـــــــږم پــــــه نظـــــــر د جانــــــان
زمــــــانظر يـــــــــې د نظــــــــره زارشـــــــه
هـــــرې خـــــبرې نــــه غـــــزل چـــــې جـــــوړکړي
ټولـــــــه دنيـــــــا يـــــــې دهــــــنره زارشـــــه
چـــــې ورســـــــه وشي احتســــــاب [1]دظلـــــم
تــــــن مــــــې ددغســــــې محـــــــشره زار شـــــه
خــــيردى كــــه شروي خــــوچې شرپــــرې ورك شي
كـــــلى مـــــې ټــــول د داســــــې شره زارشــــه
چـــــــې تـــــــرې اواز دازادئ پورتـــــــــه شي
ملــــــــت د دغســـــــې ممــــــبره زارشــــــه
مـــــــا دناولومحلونوقصــــــــــې واوريـــــــدلي
ټـــــــول دكابـــــــل دهرګـــــــذره زارشــــــه
حيــــــدري تـــــه يـــــې دښــــــكلا ليـــــونى
ځـــــه تـــــه ورځــــه دخپـــــل دلـــــبره زارشـــــه

۱- احتساب. حساب كول

تـــــوتکۍ دي پـــــه بهــــارکلي تـــــه راغلـــــې
څـــه پـــه شـــوراوپه چغهـــارکلي تـــه راغلـــې
مهــــــاجرې دکـــــــوم خوانـــــــه الـــــــوتلې
راتیریـــــږي پـــاس پـــه ښـــارکلي تـــه راغلـــې
منفـــــــرد ســــــــفرکې ټولــــــــه ناکـــــــامي ده
واړه یوځـــــای پـــه قطـــارکلي تـــه راغلـــې
ځـــــان تـــــه ګـــــوري برنـــــډې اومنډوونـــــه[1]
زړه وري پـــــه نشـــــارکلي تـــــه راغلـــــې
ځـــــه شایســـــته وجـــــود اوښـــــکلي اوازونـــــه
دخوبـــــانو درخســـــارکلي تـــــه راغلـــــې
پـــه دې کـــلي کـــې خـــو ښـــکار دمرغوبنـــد دی
پرســـــتو[2] پـــــه اعتبـــــارکلي تـــــه راغـــــلي

١-برنـډې اومنډونـه چـې دکوټـو پـه مخـه جـوړیږي
اویوطرف یې خلاص پاتي وي
توتکي پکې ځالي جوړوي
٢-پرستو توتکیوته وایي

لمر مې خوښ دی او د شپو طرفدارنه یم
اوپه شپوکې دقصوطرفدارنه یم

دجانان سره مې شپه دسیند په غاړه
دکنخاف دبستروطرفدار نه یم

دتاریخ پاڼې ګواه دي
قهرمان دجاهلانو په لاس مړشي

خدایه لږخوسرچپه دتاریخ چرخ کړه
چې لیوه دانسانانوپه لاس مړشي

مرګیه خه بلال (۱)سړي دي یوړ
ښه کامل اودکمال سړي دي یوړ

چې پري رنګه (۲)برابره دوطن وه
لکه ګل داسې جمال(۳)سړي دي یوړ

۱– بلال اوبه یاهرشي چې دانسان مرئ لمده کړي
همدارنګه داسلام دظهور په لومړیووختونوکي مشهور موذن بلال نومیده
۲-رنګه کله چې په یوه کورنئ کي یوغړي دسړیتوب اوشهرت مفام ته ورسیږي نوویل کیږي چې ددي کورني رنګه په فلاني برابره ده
۳– جمال ښکلي ښایسته

د املـــــــــك اودا ملاولـــــــــې خـــــــاموش دی
د ټــول ملـــت پـــه ویراوپـــه ژړاولـــې خـــاموش دی
دا حکومـــــــــــت ولـــــــــې خـــــــاموش دی
یوقاتــــــل تـــــه پـــــه ســـــزاولې خـــاموش دی

چــــــې فزیکــــــي غبرګـــــون ونــــــه شي
پـــــه دعاګـــــانو بـــــه خـــــلاص نــــه شــــو
جنــــــګ دجنـــــګ پــــــه ضــــــدپکاردی
د زارۍ پـــــه اداګانوبـــــه خــــلاص نــــه شـــو

ســـتاپه پوهنتـــون کـــې یـــوه ښـــکلې جلـــۍ یـــاده ده
تاتـــه پـــه ټـــولګي کـــې یـــوه غلـــې جلـــۍ یـــاده ده
تانـــه بـــه نمـــره کـــي هروخـــت مخکـــي وه
تاتـــه کومـــه دغـــسې ښـــاغلي جلـــۍ یـــاده ده
خـــــه دکابـــــل لمـــــردي ســـــوځول کـــــوي
ماتـــه پـــه ســـایه کـــي ځلیـــدلي جلـــۍ یـــاده ده
ګرانــــه فاکولتــــه کــــې خالــــه ګانوباباګانوتــــــه
چاتــــه اســـــتاذانوته منلـــــې جلـــــۍ یـــــاده ده
تـــیره زمانــــه شـــــوه هغـــه لاړه زه هـــم لاړمـــــه
ماتـــه دســـپوږمۍ پـــه شـــانې تللـــې جلـــۍ یـــاده ده
یـــه زلمیـــــه څـــــومره عمیـــــق خـــــوب دې دی
خـــــوب کـــــې د ځنګلـــــې جلـــــۍ تللـــــې ده
یـــه حیـــدري بیـــا بـــه پـــه پـــلاس درنـــه شي
مینــــــه دې بــــــایللې جلــــــۍ تللــــــې ده

ماجانـــــان تــــه دســـــلام پـــــه ګنـــــاه وژني
اوس مـــــې ســـــترګوته دپـــــام پـــــه ګنـــــاه وژني
تــه يـــې ځکـــې اومـــايي نـــوم پـــه خولـــه اخيســـتی
بـــې ګنـــاه چـــې مـــې د جـــام پـــه ګنـــاه وژني

چـــــــې داجنـــــــګ څنګـــــــه ختميـــــــږي
نـــــه يـــــې زه شـــــمه وبـــــلی نـــــه يـــــې تـــــه
چـــــــې وطـــــــن څنګـــــــه جـــــــوړيږي
نـــــه يـــــې زه شـــــمه ويـــــلي نـــــه يـــــي تـــــه
خـــــــوچې وطـــــــن څنګـــــــه ورانيـــــــږي
هـــــــم يـــــــي زه وايـــــــم هـــــــم تـــــــه

د ژونـــــــدلارې د هرچـــــــا پـــــــه نـــــــزد بـــــــدلې
مـــــونږ دويـــــرې هريـــــوې تـــــه وايـــــو بلـــــې
د دې کـــــــلي د ملـــــــک خپلـــــــه مـــــــرزي ده
پـــه خولـــه هـــيڅ نـــه شـــوويلی چـــې داولـــې

هـــر دهقـــان بـــه دخپـــل تخـــم حاصـــل اخـــلي
د اغـــــزو د تخمـــــه ګـــــل کلـــــه شـــــين شـــــوی
چـــــا غـــــنم اوچـــــا وربشـــــې دي کرلـــــې
خوديـــو پـــه ځـــای نوبـــل کلـــه شـــين شـــوی

د سمنګ د شپې سندرې
او د زړو ښځوفالونه
پېغلې ټولې منتظرې
چې یې چاسره نصیبونه

ښه کارته تشویق اوهڅونه
یوګام دکامیابي په لورحساب دي
ملګرتوب دبدو خلکوپه کارنه دی
دا عمل دبربادي په لورحساب دی

یودین وه څوټوټې شو
دهرچا په کې خپله ټوټه خوښه
زما او دیارهم اختلاف شته
دیار بله زما بله ټوټه خوښه

د نازولي یارمې ومنله
لوبه مې سرترپایه وبایلله
لاترپایانه رسیدلي نه یم
لوبه مې اوس دورایه وبایلله

کبــــــوتردې کــــــه کفـــــتردی کــــــه کـــــوتره
دادرې واړه دیـــــو ښــــــکلي مرغــــــه نـــــوم دی
دي چنارتــــــه پــــــه نـــــاز ځکـــــه ډېـــــره ګـــــورم
دې چنــــــارکې دیـــــوتللي مرغــــــه نـــــوم دی

ســـــــترګې پټــــــې کـــــــړو کـــــــال تـــــــیروي
جانـــــــان تـــــــیروي وصـــــــال تـــــــیروي
چازماغونـــــــدې جانـــــــان مونـــــــدلي نـــــــه دي
چـــــې دیـــــاره پـــــه سرنـــــیروي دمـــــال تـــــیروي

بدخشـــــــــان ځـــــــــومره زیبـــــــــادی
بـــــــــل زیبـــــــــا پکـــــــــې زیبـــــــــاک دی
مـــــــــایوحوض پـــــــــه کـــــــــې بیامونـــــــــد
چـــــــــې ډېرښـــــــــکلي دی اوپـــــــــاک دی

دا ځلـوریزه مـې دتوپخـاني دډنـډ پـه بـاره کـې ولیکـه چـې دبدخشـان دزیباک په اولسوالۍ کې موقعیت لري

خـــبرې ســـپینې کېـــږي پـــه یـــوه خولـــه اوپـــه بلـــه
کلـــه وایـــي چـــې داســـپینه کلـــه وایـــي چـــې دابلـــه
خلـــک ولـــې ځـــان دوخـــت سره بـــدل کـــړي
پـــه یـــولاس کـــي یـــي اغـــزي بـــل کـــې ســـنځله

ځکـــم اب حیــات بــه زه دکـــومي سرچینـــي نــه
جــام کـــي دســاقي کـــه دسروشـــونه‌ودلیلي نـــه
ســـخت دي انتخـــاب راتــــه کـــم زوري یـــم
دخمـــه یـــي راواخلـــم کـــه جنـــت کـــي دویـــالي نـــه

غافـــل مـــه شـــه دهـــنر پـــه طلـــب ګرځـــه
لمرپرســـت شـــه اودلمـــر پـــه طلـــب ګرځـــه
کـــه وړووړوغونـــډوکي پیدانـــه شـــودمه مکـــړه
لعـــل پیـــداکړه دلـــوي غرپـــه طلـــب ګرځـــه

پـــه ډیووبـــه تورتمونـــه ســـپین رڼـــاکړو
تـــوري شـــپي بـــه پـــه تـــدبیرسره ســـبا کـــړو
دغصـــې پرځـــای بـــه مینـــه دژونـــدلارکړو
دعقدونـــه بـــه دا زړونـــه خپـــل صـــفاکړو

مـــا اوریـــدلي چـــې چنـــار پـــه خپلـــه اوراخـــلي
اوس زمـــونږ کـــلي چنارونـــه شـــوټول
دخپلـــه لاســـه زمـــونږ خپـــل بـــدن کـــې
خپـــل اندامونـــه موټپونـــه شـــوټول

جنګه په جنګونو ستړی نه شوې
په مياشتو په کلونو ستړی نه شوی
چې راشي نوفتني دځان سره راوړي
په قتل اوورګونو ستړي نه شوي

ما پسې سجدې به ښې پوره کوئ
زه دنازولو امام نه يمه
پريږده چې ښايسته اوبدرنګ ودريږي
زه ځانله دښکلو امام نه يمه

ته دسند په غاړه زه په غرسپوږمۍ ته کورم
وينم په کې تا په دې نظرسپوږمۍ ته ګورم
تش کتل يې هم د دادا خوښ نه دي
نوربه دکړکۍ نه په هنرسپوږمۍ ته ګورم

خلک بوټي نالوي چې باغ سمسورشيي
زما سمسورباغونه دپردو په اورکې سوځي
ترقي مودرواج او جهالت نه قرباني کړه
ولاړ ولاړ ځوانان مې دپرتو په اورکې سوځي

نــــــن روژه ســــــخته وه اوتنــــــــده ډېــــــره
نـــــن مــــي پـــــه شـــــونډوتنده نــــه مـــــاتیږي
دیارلمـــــــده خولــــــه زمـــــا وچـــــه ژبـــــه
بـــــې لــــه دې کړومــــې تنــــده نــــه مـــــاتیږي

د ســــــپوږمۍ نــــه دچېنـــــــي اوبــــــه بــــــه راوم
ســـــتا دشـــــونډوتکي ســـــړي اوبــــــه بــــــه راوم
روژه مـــــاتي بــــــه ماښـــــام څـــــومره رنګــــین وي
چــــې تـــــاڅکلي ســــتا دخــــولي اوبــــه بـــــه راوړم

کـــــه ماښـــــام راغـــــلي نویاپـــــاتي شــــه یـــاځم درسره
پـــه دي کـــي یـــو خوبـــه پـــه سرســـترګومني جانانـــه
ورځ کـــــي روژه وي نیـــــغ کتـــــل ښـــــه نـــــه وي
شـــــپه کــــي چشــــمان بـــــه جنګـــــوي راسره

بنجـــاره یـــم پـــه خـــورجین کـــې مـــې هرڅـــه شـــته
لـــــب ســـــیرین شـــــته هـــــم دســـــترګوتورانجه شـــــته
دنداســـــه شـــــته هـــــم لونـــــګ دانـــــه دانـــــه شـــــته
ســـیخه کـــي دوربلونوهروربـــــل تــــه نذرانــــه شــــته
ښــــه دشرنـــــګ بنګـــــړي مـــــي متـــــو تـــــه راوړي
څــــه د پېغلونذرانــــه اوڅــــه مـــــي ګټوتــــه راوړي
حیــــدري تـــــه بــــه یوعطردســــنځلوتحفه ورکـــــړم
دا مـــــې ځنــــــې ســـــتو تـــــه راوړي ([1])

[1] کله کله مشرانو خلکو دا اصطلاح کارول لکه پخې ستې.

وایـــــي ژرنـــــده کـــه دپـــــلارده هــــم پـــــه وارده
دلتـــــه ژرنـــــده دیــــوه ســــړي پــــه کــــارده
یــــوده ړی (۱)جوارتـــه کلـــه نوبـــت نـــه شـــته
کــــه نوبـــــت نیسيـــــ خـــــبره دخــــــروارده

لمـــــــــــره داســــــــــتا د دې زرینووړانګـــــــــو
ښـــــکلی تصـــــویریې مـــــازیګر اخلـــــم
پـــه خیـــال کـــي ناســـت یمـــه غـــزل لیکمـــه
شـــــور د دریـــــاب چوپتیـــــا دغـــــراخلم
دزلفوتــــاریي پــــه مــــخ پــــیچ وخــــم دي
زه بـــــه بوســـــه پـــــه خـــــه هـــــنراخلم
دســـــــنددغاړي دسرلــــــــــوړ چنـــــــاره
داســـــــــــــتابلابه سراسر اخلــــــــــــــم

دپټوســــــــــــترګوژوندبه دې بربــــــــــــادکړي
هـــو ښـــیار شـــه ښـــه اوبـــد وپیژنـــه
حـــــق وایـــــه دواك پـــــه دایـــــره کـــــې
خپلواجراتـــــــوکې خپــــــل حدوپیژنـــــه

۱ ده ړی دوزن یـوه انـدازه ده چـې مـن کچـه هـم ورتـه وایـي اوتقریبـاًد پنځـه کیلـو سره برابـره ده په کلوکي دغریبو خلکو دېروس نه رسیږي نو کمه دانه ژرندي ته وړي

دپټوسترگوژوندبه دې بربادکړي
هو ښیار شه ښه اوبد وپیژنه
حق وایه دواك په دایره کې
خپلواجراتوکې خپل حدوپیژنه

څوك حقیقت وایي بدنام دي
اوڅوك ښکلي دي بدنام دي
چا چې لار دمحبت ده رانیولې
که دښاردي که دکلي دی بدنام دي
زماکلي کې عجیب غوندې دستوردی
چاچې لوستي کتابونه دی بدنام دي
چې یې څوك گمراه کوی ښه ورته غوږدي
چاچې لاري ورښودلي نو بدنام دی
دښایست نامه به دي کلي کې نه اخلي
چې سپوږمۍ ته چاکتلي دي بدنام دي
زمونږ کار چې په تورتم کوټو کې کېږي
چراغونه لگېدلي دي بد نام دي
حیدري ستونزې خو شته تیښته به نکړو
چاچې ستونزې پرېښولې دي بدنام دي

مستقیم چې په یوخط سفرونه کړو
دمبدانه انتها ته نه رسیږو
دیوي نقطې روان شوبیرته راشو
ځکه مونږه کومي خواته نه رسیږو

خپـــــل تـــــاليف شـــــوي کتـــــاب چالـــــه ورکـــــړم
دکـــــلي لوســـــتی ځوانـــــان چېرتـــــه تلـــــلي
نـــــه محسوســـــيږي شـــــوراوزوګ دخلکـــــو
زمـــــا دمينـــــي يـــــاران چېرتـــــه تلـــــلي
زمـــــا جلګـــــه اوحجـــــره دواړه خـــــالي
هغـــــه ســـــپيڅلي مـــــشران چېرتـــــه تلـــــلي
د پيغلـــــو ځنـــــې دي خـــــالي دګلـــــو
د بـــــڼ د ځنـــــډوګلان چېرتـــــه تلـــــلي
پـــــه چنـــــارونو مـــــي قـــــتلان تـــــير شـــــو
پـــــاس پـــــه ښـــــاخونومرغان چېرتـــــه تلـــــلي
ســـــندهم خاموشـــــه لکـــــه ډب ولاړدي
دهســـــکوغرونوبازان چېرتـــــه تلـــــلي
مـــــونږه پـــــه خپلـــــه ورتـــــه ځـــــاي ورکـــــړي
چـــــې دلســـــتونږي مـــــاران چېرتـــــه تلـــــلي
حيـــــدري راشـــــه چـــــې راتـــــول کړوګريـــــوان
خـــــو چـــــې ريښـــــي دګريـــــوان چېرتـــــه تلـــــلي

کلـــــه يـــــواځې ســـــړی خوشـــــال وي
کلـــــه يـــــواځې ســـــړی بـــــدحال شي
ژونـــــد يـــــې خـــــراب ســـــکون يـــــې ورک شي
ارام يـــــي ورک شي چـــــې ډيـــــر يـــــي مـــــال شي

لکه ډیوه وه
رڼا یې وکړه
اولاړه رانه
ځواني وه راغله
مسکایې کړه
اولاړه رانه
پیري به راشي
ژړا به وکړي
اوځي به رانه
سلګي به راشي
ادابه وکړي
او ځي به رانه
یوورځ به راشي
دقبرسرته
دعابه وکړي
اوځي به رانه

ژبــــــــه وره ده کارونــــــــــه ســـــــــــترکړي
حـــــافظ دځـــــان شـــــه ژبـــــه خونـــــدي کـــــړه
اول مغزوکــــــــــــې خــــــــبره تــــــــول کــــــــړه
بیـــــــادي ګفتــــــار د نیــــــك ســـــــړي کـــــــړه

هرکـــارکېږي خوتـــه وايـــې چـــې وبـــه نـــه شي
دهـــدف پـــه لـــوري ځـــه دناکـــامی نـــه مـــه ډاريـــږه
کـــه نايـــل نـــه شـــوي دتلوچـــاره بـــه زده کـــړي
دبـــام سرتـــه چـــې خيـــژي دبـــلي نـــه مـــه ډاريـــږه

دســـبزيني (۱) پـــه نيـــت دکـــوره وځـــم
تـــګ مـــي ناڅاپـــه دګودرپـــه لـــورشي
نيـــت مـــي دمـــخ داړولونـــه وي
نـــوراني مـــخ تـــه مـــې کتـــل پـــه زورشي

تنـــدي پراخـــه کـــړه دوســـتان بـــه راشي
ددشمنانودشـــمنان بـــه راشي
تخمونـــه وشـــينده چـــې ونـــې شـــني شي
کـــلي بـــه شـــين شي اومرغـــان بـــه راشي

خلـــک لا مخکـــي روږدي شـــوي پـــه دې
حقيقـــت نـــه اوري اودروغ اوري
چـــې پـــه چـــادر وې ورتـــه غوږنـــه نيـــسي
درنځورنـــه اوري دروغ اوري

۱ سبزینه :شنه اوسمسوره

رازونه زړه کې ساته
قلفونه خوله کې ساته
چې بې ځای خلاصه نه شي
ولونه [1] وره کې ساته

مینه چې راځي نوناڅاپي راځي
دادمصلحت په بڼه نه راځي
ناڅاپه غلام دیارددرشولي
دانودذلت په بڼه نه راځي

ژوندون سمبال په صداقت پکاردی
دمحبت سره محبت پکار دی
د مینې لارکې چې غافله نه شي
متې راونغاړه محنت پکاردي
سترګي لروخوسمه لارنه وینو
په لاره تلوته بصیرت پکاردي
دلته چې مینه دارته خیژي هروخت
دغه رواج ته نور رخصت پکاردی
رندان بې خوده شوخمان یې مات کړل
خم میکده کې سلامت پکاردي
حیدري ولي داسې نه وایې شعرکي
نوردنفرت سره نفرت پکاردي

[1] ولونه یاولونه : ولونه چې ددردازو شاته دشپي دخوا لګول کیږي ترڅو په اسانۍ سره خلاصه نه شي

چې ګلونه دګلزاریې بیدارنه کړل
ژمی تیرشوپه بهاریې بیدارنه کړل
شپه یې ټوله په خوب تیره کړه زلمیانو
چې داولې په سهاریې بیدارنه کړل
په غزل اوپه ټپه یې بیدارنه کړل
په قربان اوایله زاریې پیدارنه کړل
حیدري دي ګیله من داخترونو
چې زمونږ ویده افکار یې بیدارنه کړل

بیلوبیلوباورونومونږه بیل کړو
اوخودساخته دیوالونومونږه بیل کړو
چایوه لاره نیولي اوچابله خوښه کړي
په څولارومزلونومونږه بیل کړو
رڼااورځې په رڼوسترګوشپه یې بولو
دزمان دي بدلولومونږه بیل کړو
دنیانه ناخبره دفکرونومحدوده کي
دي تنګونظرونومونږه بیل کړو

ځمکه په بیل اوړي اولوپه لورکېږي
ژوند په خاموشي نه شي په شور کېږي
دسترګي دجوړښت دې باریکۍ ته ګوره
څه کار په سپین شي اوڅه په تورکېږي

نـــه ړانـــده یونـــه کاڼـــه یونـــه دعقـــل نـــه معـــذوره
پـــــه هرڅـــــه بانـــــدې پـــــوهیږو خـــــودداریږو
اخـــرډوب بـــه شـــو دویـــري پـــه دریـــاب کـــې
پـــه ســـورۍ کشـــتۍ کـــې ناســـت یـــو غرقیـــږو

پـــــرون راتیرشـــــوم دبنګړوپـــــه کوڅـــــه
پیغلـــــــوهم شـــــوق زلونـــــــوکړي دی
هلتـــــه مـــــې داســـــې ګونګســـــې واوریـــــدې
لکـــــه چـــــې ننـــــګ یـــــې پـــــه زلمـــــوکړی دی

یوه طبي څلوریزه

ددمـــــاغ کارپـــــه نیـــــورن ســـــمبال دی
دپښـــــتورګوپه نفـــــرون ســـــمبال دی
دیـــــوي عضـــــوي فعالیـــــت چـــــې ګـــــورې
دادحجروپـــــه پیوســـــتون ســـــمبال دی

کـــــه داجنـــــګ دازادۍ دپـــــاره ښـــــه وه
خـــــواوس جنـــــګ دســـــوکالۍ دپـــــاره ښـــــه دی
شـــــاعرانوهم درزم شـــــاعري کولـــــه خلکـــــو
یوشـــــعرچې وي دبـــــزم دښـــــادۍ دپـــــاره ښـــــه دی

دیارپـــــه خولـــــه کـــــې مـــــې دشرژبـــــه ده
دشر د ژبـــــې سره چـــــې شر ونـــــه کـــــړي

د شـــــفقت دانتهـــــا اودوحشـــــت پـــــه جنـــــګ کـــــې
ګـــــوره تـــــاوان پکـــــې د سرونـــــه کـــــړي

ژونـــــدغریبۍ زمـــــونږ
ژونـــــدبي وســـــۍ زمـــــونږ
دلتـــــه دکـــــمال نیســـــتي
دېـــــر دجـــــمال نیســـــتي
دلتـــــه دفرهنـــــګ نیســـــتي
دلتـــــه څنـــــګ بـــــه څنـــــګ نبســـــتي
نـــــه شـــــته فرهنګـــــي غنـــــا
نـــــه شـــــته ســـــیاسي غنـــــا
نـــــه خوبصـــــیرت لـــــرو
نـــــه مـــــونږه ثـــــروت لـــــرو

پـــــه لیونتـــــوب خومـــــونږه ټـــــول لیـــــوني
خـــــوځنې خلـــــک پـــــه زنځیربانـــــدې تـــــړل غـــــواړي
نـــــه یـــــې عمـــــل نـــــه یـــــې خـــــبره ســـــمه
داځنـــــاورخونوردکلي نـــــه شـــــړل غـــــواړي

دکابـــــــل ســـــــپیني کـــــــوترې چېرتـــــــه لاړې
ګـــــــل ورینـــــــې یـــــــې وزرې چېرتـــــــه لاړې
کـــــوم صـــــفت یـــــې دقلـــــم دلانـــــدې راوړم
دادحســـــــــــن سرلښـــــــــکرې چېرتـــــــــه لاړې
پـــــه ســـــکون کـــــې دغنچـــــو پـــــه شـــــان خاموشـــــه
پـــــــه رفتـــــــارکې نـــــــازپرورې چېرتـــــــه لاړې
پـــــــه رازپـــــــوه وي دپـــــــردواو د تـــــــارونو
پـــــــه ســـــــندروکې غزلـــــــې چېرتـــــــه لاړې
سرې پښـــــې یـــــې لکـــــه زرکـــــې ښایســـــته وي
مســـــــتې زانـــــــې اوتنـــــــزرې چېرتـــــــه لاړې
حیـــــــدري لاخبرنـــــــه دی د خپـــــــل ځانـــــــه
تـــــه شـــــوي پـــــاتې ســـــتاملګرې چېرتـــــه لاړې

کـــــه هلتـــــه خـــــوروڅېږه اوکـــــه دلتـــــه خـــــوروڅېږه
دظلـــــــم انتهـــــــاده پـــــــوره مســـــــته خـــــــوروڅېږه
نویـــــــــــــه ویدوبیـــــــــــــدارشي
لړسرکشـــــــــــــه شي تیـــــــــــــارشي

نـــــه راوینس شـــــونه بـــــدل شـــــونه ســـــمبال شـــــو
زمـــــونږ دنـــــاپوهۍ کچـــــې ددې نـــــه معلـــــومیږي
بـــــاران کـــــې څخـــــوبي تـــــه مـــــولګنې پـــــه کوټـــــه کـــــې
زمـــــونږه دنیســـــتۍ کچـــــې د دې نـــــه معلـــــومیږي

مـــونږ چـــې غوښـــتل هغســـې ونـــه شـــولو
چـــې دوی يـــې غـــواړي ځـــوک هغـــه نـــه منـــي
اخـــر د دې بـــه ځنګـــه حـــل راوځـــي ځنګـــه بـــه شي
چـــې ځـــوک شـــينه او ځـــوک قرغـــه نـــه منـــي

چـــې مـــونږ نـــه غوښـــتل هغـــسې پـــه مـــونږ وشـــول
زمـــانې پـــــه بـــــې دردۍ پـــــه مــــونږه وكـــــړل
ځـــــــه موخپلــــــه نـــــــاپوهي نـــــــاخبري وه
اوبـــــس خـــــپلي سرزورۍ پــــه مــــونږه وكـــــړل

موســـــــم بـــــــدل شي كــــــال بـــــــدل شي
دشـــــــــت بــــــــــدل شي غربــــــــــدل شي
هرځــــه نــــوي شي خومــــونږه نــــوي نــــه شــــو
خدايـــــــه كلـــــــه بـــــــه دازوړتغربــــــدل شي

زمـــاتنكي بچـــي رالـــوی شي دنفـــرت پـــه غيږكــــې
دتورتمونـــــو نـــــاپوهۍ اوجهالـــــت پـــــه غيږكــــې
خدايـــه بـــدل كـــړه دارفتـــار اوداكـــرداردظلم
چـــې شـــو بينـــا لږدرڼـــا اوبصـــيرت پـــه غيږكــــې

چـــا یـــې منګـــی چـــایې بنګـــړې مـــات کـــړل
چـــا یـــې چارګـــل چـــا چمکـــلي مـــات کـــړل
دې ګنـــــاه ګارتـــــه مـــــونږه لاس ترزنـــــې
مـــونږیي لیدوپـــــسې تنـــــدي مـــات کـــړل

چارانـــــه ویـــــوړل کـــــه زمـــــونږ دلاســـــه
کـــلي کـــې بنـــګ پـــه ښـــارکې جـــام ورک شـــو
ژبـــــې ترخـــــې شـــــوې دریبـــــار او دیـــــار
پـــــه خـــــوږو خولوشـــــیرین کـــــلام ورک شـــــو

جانـــــــان تـــــــه کتـــــــل ګـــــــران وي
لکـــــــه لمرتـــــــه کتـــــــل ګـــــــران وي
شـــــــپه پـــــــه غیرکـــــــې دصـــــــنم وي
نوســـــــــهرته کتـــــــــل ګـــــــــران وي
دسرسربـــــــــه انتخـــــــــاب کـــــــــړو
هریوسرتـــــــــه کتـــــــــل کـــــــــران وي
ســـــــــاده خلـــــــــک ورروان دي
یومنظرتـــــــــه کتـــــــــل ګـــــــــران وي
خیرکـــــــه لـــــــبروي چـــــــې دانـــــــاوي
لـــــــوی لښـــــــکرته کتـــــــل ګـــــــران وي
نـــــــور د ســـــــولې پـــــــه ارمـــــــان یـــــــو
هروخـــــــت شرتـــــــه کتـــــــل ګـــــــران وي
حیـــــــدري دځمکـــــــې فـــــــرش شـــــــه
چـــــــې لوړغرتـــــــه کتـــــــل ګـــــــران وي

وایــــي چــــې تــــیرشي هغــــه هــــیرشي
ســـترګې چــه مــړي شي دخاورولانـــدې زیـــرشي
خـــو د ســـند تیـــږي بـــه هرزمـــان کـــې پـــایي
کـــه یـــوځلې یودریـــاب پـــه کـــوم ځـــای تیـــرشي

رنـــــــدان داســــــــې لکـــــــه ورونـــــــه
دپیالوپـــــــــــه سرخـــــــــــراب شي
لامبـــــــــوزن کلـــــــــه ناکلــــــــــه
دچپوپـــــــــــه سرخـــــــــــراب شي
چــــــې ګـــــلان کـــــري مالیــــــاروي
داغـــــــزو پـــــــه کرخـــــــراب شي
ســـــــپین مخونـــــــه دخوبـــــــانو
دغرموپـــــــــــه لمرخـــــــــــراب شي
خـــــــوارډ ورونـــــــه یووجـــــــودوي
پـــــــــــه پیســـــــــــاوزرخراب شي
حیـــــــــدري ډېـــــــــردي لیـــــــــدلي
جنـــــــګ کـــــــې لراوبرخـــــــراب شي

دلـــــــبلا چـــــــې دپـــــــړوني پلـــــــووچ وي
څـــه باوربـــه یـــې پـــه پـــسې شـــا ژړاکـــړم
ژونـــدون واړه د پـــردو هـــوس کـــې تیرشـــو
پښـــیماني کـــه پـــه ســـل وارې زه بـــوډاکړم

ما په ژوند مې د د هر کارسره مینه وکړه
ما د خیرې گربوانه د هریوتارسره مینه وکړه
مادشنواوتورواوښکي خپله لپه کي ساتلي
ما کامدیشماننگرهار سره مینه وکړه
زه د مینې منتظروم داسې ونه شو دا ولې
چادگل په ځای دخارسره مینه وکړه
ستادي تاته زمادي ماته مبارك وي
ما دکلي یار مې ښارسره مینه وکړه
لوړهمت لکه دلوړچنارپه شان وي
مرغوگوره دچنارسره مینه وکړه
پای زیبونو (۱)کې مصروفه ساده گیه
هوښیارانو پاس دهارسره مینه وکړه
چې تازه شي دکنړ د حجرو تنګ ټکورپه ژمې
حیدري دنغري اوراود ستارسره مینه وکړه

جهالت مې خپله مخه کې دیوال دي
رانه پټ چې په تندي درنجوخال دي
دي دیوال رانه بلهارازونه پټ کړل
یم په تنګه محوطه کې دامې حال دي

کـــــــــه دکـــــــــلي تلـــــــــل اســـــــان وي
صـــــــــــبريدل دزړونـــــــــــــــــوګران وي
کلـــــــــــه يادبـــــــــــه دې ګــــــــــــودرشي
کلـــــــــــــه يادبـــــــــــه دجانـــــــــــان وي
هـــــــري پېغلــــــي هرزلمــــــي پســــــې بـــــه ژاړي
دګودرمـــــــــــــازيګري پســـــــــې بــــــــــه ژاړي

ډېـــــــــره خـــــــوږه وي کليوالـــــــــه مينـــــــــه
داپـــــــــه اخـــــــلاص سره ســـــــمباله مينـــــــه
خـــــيردی شرميـــــږي ورځ کـــــې مـــــخ پټـــــوي
ټولـــــــه يـــــــې ســـــــاتلې وي بيګالـــــــه مينـــــــه

چـــــې جـــــام وي اوسرې شـــــونډې دجانـــــان وي
حيـــــــدري غريـــــــب ولاړوورتـــــــه حـــــــيران وي
درتـــــه ښـــــايمه يوبلـــــه رنګينـــــه د چـــــا د ظلـــــم
دوه تارونـــــه پـــــه ســـــپين مـــــخ چـــــې اويـــــزان وي

چـــــې کلـــــه غوږونيـــــسي کلـــــه خـــــبرې وکـــــړي
خـــــبرې ښـــــې دي چـــــې کمـــــترې وکـــــړي
پـــــه لـــــوړاوازدي دمجلـــــس ملګـــــري مـــــه تنګـــــوه
خـــــبري ښـــــې دي چـــــې پـــــه وزن برابـــــرې وکـــــړي

ځنې زخمونه په پټې جوړیږي
ځنې زخمونه په کتاب جوړیږي
دجهالت زخمونه داسې بویه
واړه دعلم به دریاب جوړیږي
اظهاردمیني لومړي ګام دمینې
په بل څه نه شي په ګلاب جوړیږي
چې نظم نه وي ستم نه جوړیږي
ګوره تارونونه رباب جوړیږي
سیلاب که هرڅه وي خځلي یوسي
وړوخوړونه سیلاب جوړیږي
د مظلوم ظلم بې بدله نه وي
اخر ددې نه انقلاب جوړیږي
که لمرنه وي ورځ به هم تیاره وي
ولي شعرونه په مهتاب جوړیږي
پرون مهتر[1]راته په غوږ کې وویل
اس ته ختل خوپه رکاب [2]جوړیږي
ماویل ملنګ بابا ستا ژوند اوسمځه
ویلي دښار ژوند په اسباب جوړیږي
نشاطي[3] وویل بدرنګه به وي
که کومه ناوي په شتاب جوړیږي
چې کعبه ته دغریبوورتګ نه شي
حیدري ته به څه لاره دثواب جوړیږي

---

[1] مهتر ډېري معناګاني لري لکه صغاکار سرلاري یامشراو...... خومهتر داسونوروزونکي ته هم واي

[2] رکاب داس زین ته دختلو دپاره دپښودایښودلو حلقي

[3] نشاطه ارایشکره

قلنگ دي بارکړ په اوښانوباندې
خو د دربار دپیرنه نه یې خبر
په هدیره کې چې په شناخته ځوړند
ددرد ددې تصویرنه نه یې خبر
ستا دهوس نه قرباني شوجنگ کې
اوس یې د مور د ویرنه نه یې خبر
ای ناخبره بنگ اوکلي اوته
خودانگوردبیر نه نه یې خبر
هسي چکچکې هرې لوبې ته کړي
ته دلوبغاړي اومیر(۱)نه نه یې خبر
دیوال ته گوري چې لویدلي دي نن
خودلویدلي تیر(۲)نه نه یي خبر
سفرکوي په یوسړک روان یې
خولادخام اوقیرنه نه یي خبر
حیدري گرځي دواگانې اخلي
دخپل پټي دسیر(۳) نه نه یې خبر

۱–میر دیولوبډلې مشرته ویل کیږي
۲–تیر تیر هغه نسبتاً ضخیم اوقوي لرگي ته ویل کیږي چې کوټي دپټولو په وخت کي دډاگو یادستکو دلاندي اچول کیږي اوبش هم ورته ویل کیږي
۳– سیر یاهوږه
دیادولووړده چې هوږ ددواپه شان تاثیرات لري

پنځه زره به څه کړو
په پنځوکي حساب نه شو
بس ریښي ریښي گریوان یو
په جاموکې حساب نه شو
د کلاله چې راغلي تش پراته یو
د گودر د سرمنگوکې حساب نه شو
لاښي (۱)کور(۲)یودمچوترحلقه تیرشو
ترخه نه شو په جاموکي حساب نه شو
لکه زوز(۳)دغسي وسو په بټو(۴)کې
د نغروپه سرو سکروکې حساب نه شو
مونږه شمع بلوودباران لاندې
نو د عقل په زینوکي حساب نه شو
نه مو پانگه نه موعلم شوپه برخه
وږي تږي په مه ږو (مږو)کي حساب نه شو
جهالت زمونږ دخپل بدن چنجي شو
یوچنجي ته په درو(۵)کې حساب نه شو
دماضي قصوته غوږ په مزه نیسو
په معاصروافسانوکې حساب نه شو
دجاهل په خوله ملاله شوله قتل
دتحلیل په جزیروکې حساب نه شو
صنف کي کینوصنف نه وځو
دتدریس په پروسوکي حساب نه شو
هسې جنگ ته بهانې دي نن سباکې
دوحدت لوړو پوړو کي حساب نه شو

شـــــكته پورتـــــه شـــــعارونه دخوارانـــــو دخولګونـــــه
خـــو دحـــزب پـــه جلســـو كـــي حســـاب نـــه شـــو
چــــــې رابنــــــــدي كړوپښـــــــي دظالمــــــــانو
مـــونږ پـــه هغـــه زلونـــوكي حســـاب نـــه شـــو
چـــې پـــري وتـــړو داځنـــې خـــولې د خلكـــو
پـــه رســـمان اوپـــه رســـوكې حســـاب نـــه شـــو
حيـــدري عمـــر دي تيرشـــو پـــه محنـــت كـــې
د ښـــه ژونـــد پـــه خـــاطروكې حســـاب نـــه شـــو

چـــــــې ســـــــــهرشي دخوبونوتعبيرګـــــــــورو
د لاس كرښـــــــوكې تنــــــدې او تقــــــديرګورو
پـــــه شتوســـــترګوكې ړانــــده يوپــــه نظـــــر
چـــې پـــه مـــاتو اينـــو كـــي تصـــوير ګـــورو

نـــــه پـــــوهيږو دښـــــاغلو مــــذهب څـــــه دي
دي وطـــــن تـــــه دراغلومـــــذهب څـــــه دي
لاره وركـــــه كـــــړه همـــــه حســـــن پرســـــتو
پـــــه دې كـــــلي كـــــې د ښـــــكلومذهب څـــــه دي

۱- لاښي. هغه ميوي ته ويل كيږي چې موسم يي تيروي
۲-كورياكوه رپه ځنو منطقوكي انګورو ته وايي
۳-زوز چې جمع يي زوزان دي يو ډول اغزي دي چې دسيځلوپه منظوراسعماليږي
۴-بتۍ يا به تۍ چې دپخولو په منظورتري كاراخستل كيږي لكه دجوارو دنيني كولو بتۍ

بیــــل بیـــــل یــــې صــــورتونه دي د دشــــتود مـــــارانو
بچــــي خـــوري پــــه نطفــــوکې دمــــوږک او دمرغـــــانو
پښـــي لـــري لکــــۍ لـــري او سر د مارپــه شـــان لـــري
خدایـــــه چاتــــه مــــه ښــــایه وحشـــــت دښــــامارانو

زمـــــــاطرف تــــــه چــــــې ګامونـــــــه نـــــــه بردي
نــــــــورمې لاســــــــــونوکې لاســـــــونه نــــــه بردي
ســـــاقي خـــــوهم پـــــه کـــــوم کړاواختــــه شــــو
چـــــې دچـــــامخي تــــــه جامونــــــه نــــــه بردي
چـــــــــــې وه ژونـــــــــدي دهرډګرقهرمـــــــــــــان
اوس یـــــــي پـــــــه قبرڅــــــوک ګلونــــــه نــــــه بردي
کـــــه لــــــبردي خلکــــــوکي څــــــه عقــــــل راشي
نوربـــــــه دي دروغوتـــــــه غوږونـــــــه نــــــه بردي
درنجــــــوغردي هـــــــم تـــــــلان اولوټـــــــک کـــــــړ
نــــــوري بـــــــه پیغلــــــې تورخالونــــــه نــــــه بردي
دحجــــــرې نــــــرخ دې هــــــم بــــــدل کړوختـــــــه
کوربـــــــه غریـــــــب تـــــــه بالښـــــــتونه نـــــــه بردي
ولــــــې راوړي مــــــونږ تــــــه ټوپــــــک اوکـــــــارتوس
ولــــــې مــــــولاس کــــــې قلمونــــــه نــــــه بردي
حیــــــدري وایــــــي داموخواســــــت دی ورتــــــه
نــــــوردې پــــــه لاره کــــــې خنډونــــــه نــــــه بردي

ښـــــــــځې دې ســـــــــړوته لاره پریـــــــــږدي
بوډاګـــــان دي شـــــاه زلموتـــــه لاره پریـــــږدي
چـــې دصـــیب غریـــب د تلـــو مـــزاحم نـــه شي
داواړه پیـــــاده روي دي ســــــپروته لاره پریـــــږدي

د دووغرونـــومنځ کـــې چـــې انګـــی ژبـــه پیـــداکړه
پـــه تکـــه تـــوره شـــپه کـــې خاموشـــی ژبـــه پیـــداکړه
هرڅـــه بدلیـــدونکي دي کـــه فکرورتـــه وکـــړو
کـــټ چـــې پـــاس پـــه بـــام شـــونوبلی ژبـــه پیـــداکړه

د انګـــور دســـیالې نـــه یـــې ای دکـــلي ســـاده بنګـــه
دترخودڅکلونـــه یـــې څـــه کچکـــول سره ملنګـــه
محبـــت پـــه یارانـــه کـــې دپیســـوپه قـــوت کیـــږي
چـــې نـــه وي درسره پنګـــه مـــه کېنـــه دیارترڅنګـــه

پـــــه وربلونـــــوکې ګـــــل پـــــانې ویـــــنم
پـــاس پـــه تنـــدي بانـــدې ممانـــې ویـــنم
نـــــور د ښـــــکلا د نښـــــوڅه ووایـــــم
هســـــکې غـــــړی یـــــې لکـــــه زانـــــې ویـــــنم

زه چې لستوڼي کې ماران ساتم
درمې منځ کې چې لیوان ساتم
دغه زما دبربادۍ نښه ده
خپل غلیمان لکه خپل ځان ساتم

پیران علاج په طبیبانواوروغتنونوکوي
مونږته علاج په تعویزونو او څاښتونو کوي
دوه هواګانې دیوبام په سرچلیږي کله
خو بیا باورپه روایاتو او متلونوکوي

خپل عیبونه لکه غرونه
تري خبردي ولسونه
بس دخپلونه منکریو
دپردووایوعیبونه

خپل احساس مې سوځوي
ټیټ اوپاس مې سوځوي
چې احساس په چاکې نه وي
تن اولاس مې سوځوي

دختوکورکې لوی شوم
د مینې شورکې لوی شوم
په ګرداب کې حصارنه شوم
دچپو په زورکې لوی شوم

ځـــــي چـــــې نوردابـــــادۍ پـــــه لـــــوروان شـــــو
دانـــــدوه داظطرابـــــه دښـــــادۍ پـــــه لـــــوروان شـــــو
هوســـــاژوندموپه مـــــاضي اوحـــــال ونـــــه ليـــــد
اينـــــده کـــــې دخوښـــــۍ پـــــه لـــــور روان شـــــو

دنـــــاپوه دخـــــولې خـــــبره
مونږګنولکـــــه شـــــکره
دازمـــــونږه نـــــاپوهي ده
حقيقـــــت نـــــه نـــــاخبره

دزلفوتـاريي پـه مـخ پـيچ وخـم دي زه تـري بوسـه پـه څـه هـنراخلم
دشـپي بـه ولوبومـه تـوري زلفـي خـولګۍ پـه ويښـه پـه سـهراخلم

زماژونـدون پـه سروسـکروټو دمانیواوسـپلني بـه شـاني
چـې دودشـم پورتـه دپيالونـه بـه قلنـګ ښـه برابـراخلم

شـــــورددرياب چوپتيـــــا دغـــــراخلم
لمـــــره تصـــــويردي مـــــازيګراخلم

دســـــپوږمۍ نوراونيمـــــه شـــــپه وي يـــــاره
زه بـــــه بوســـــه دبـــــام پـــــه سراخلـــــم

راتـــــه وعــــدې چـــې پــــه ماښــــام راکـــــوي
چـــې دکــــټ نښــــي مـــــي ګلفــــام راکــــوي
ویـــــلي چــــې مــــوړمي پـــــه پیالونــــه کـــړلي
خــــدایږوچې دې څلــــې بــــه جــــام راکــــوي
پـــــــرون مـــــــې ولیــــــــده هنرداغیـــــــار
پیــــالې د زهـــــرو ښـــــې پــــه پــــام راکـــــوي
لا پــــــه وېشــــــتلو یــــــې زړه نــــــه یخیــــــږي
اوس دمرغودپـــــــــــــاره دام راکــــــــــوي
پــــــه مـــــایې وکـــــرل نیـــــالګي پـــــه بـــــڼ کــــې
اوس نــــــه غـــــوزان اونـــــه بــــــادام راکــــوي
حیـــــدري څکــــــه پـــــه باربـــــار یـــــې اورو
چـــــې مونږتــــــه ستاشــــــعر الهــــــام راکــــوي

پـه میکـده کـي زوګ شـو دجـام نوبـت دکـوم خـماره لاړه
مـا بي نوبتـه پـه جامونووڅکـل عقـل زمـا پـه کومـه لاره لاړه
مـا یـي پـه تمـه ورځـي ورځـي تنـدي وګـاللي تـږي یمـه
تـږي وم تـږي بــه یــم دخولوځـاڅکي درخســاره لاړه

چــې شـــور د مرغـــوو اوروځـــې چـــې لوړچنارتـــه وځـــو
دجنګــــه دسرولمبونــــه بـــــه دســـــولې ښـــــارته وځـــــو
اوس کــــه پــــه کـــــږولارورواڼ یــــو منحـــرف یـــــو
اخـــــر بـــــه پـــــه یـــــو لارې یــــوې ســـمې لارتــــه وځــــو

یـــا دګوتوڅـــوکې راکــــړه یـــا دسرو شـــونډوسرونه
تـــوري زلفـــي دسرلانـــدي راتـــه کیـــده بالښـــتونه
خوشـــــبویي چـــــې دې دتـــــن دخولـــــو راشي
مانـــــه هـــــیرشي د دنیـــــا پـــــه مـــــخ عطرونـــــه

د نرګســـــو دګلـــــزاره نـــــه تـــــش راغلـــــې
داتـــه ولـــې د ننګرهـــاره نـــه تـــش راغلـــې
نـــه نـــارنج اونـــه دې ګـــوره ځـــان سره راوړه
دخـــوږو ګنـــو د ښـــاره نـــه تـــش راغلـــې
د ســـــــــــنځلواو مرســـــــــــلودتاټوبې
راتـــه ښـــکاري دعطـــاره نـــه تـــش راغلـــې
تـــوره شـــپه کـــې بـــه دخـــه رڼـــا تـــه کینـــې
دخالونودبـــــازاره نـــــه تـــــش راغلـــــې
هـــــسې وایـــــي ارمـــــانجن یـــــم دانـــــارو
دتګـــــاب اوقنـــــدهاره نـــــه تـــــش راغلـــــې
ســـــهارلاړې بیرتـــــه راغلـــــې دمکتبـــــه
خـــــودعلم د دیـــــاره نـــــه تـــــش راغلـــــې

حیـــــدري لا ټولـــــه ورځ ده پـــــوره پـــــاتې
تـــــه دوختـــــه دســـــهاره نـــــه تـــــش راغلـــــې

دې خلکو دخپل ښونه پښیمان کړم
دې خلکو خپلو کړونو ته حیران کړم
ته به ښه کړې خوتحلیل یې سرچپه شي
دې کار خوزه په ځان پورې حیران کړم

مینه وکړه د هرچا سره ژوند تیریږي
بې د مینې دژوند لارې نه سمیږي
لبره شات کړه دا دز هرو ډکه ژبه
نفرتونه په دې کارسره کمیږي

سترګې لروخوحقیقت نه وینو
صورت ته ګوروخوسیرت نه وینو
دووجنګ کې دغټانو ترخنګ
قوت ته ګورو ملامت نه وینو

راځې چې ځان ته پام کړو
داڅوکاره به انجام کړو
د درې سپینونه [1]لاس واخلو
اوورزش په ژوندکې عام کړو

[1] وايي چې د بشر درې سپين دښمنان دي، مالګه، غوړي او بوره.

هريـــــــوپردي راتـــــــه مغـــــــل ښـــــــكاري
ټولووعـــــــدوكې راتـــــــه چـــــــل ښـــــــكاري
مـــــــا رابلـــــــلي جانـــــــان رانغللـــــــو
داچـــــــې راغـــــــلى ماتـــــــه بـــــــل ښـــــــكاري
مـــــــونږلاره وركـــــــړه چـــــــې لېـــــــوان وشـــــــړي
خـــــــودا زمـــــــرى راتـــــــه هـــــــم شـــــــل ښـــــــكاري
زمـــــــونږ پـــــــه ســـــــترګوخه بلاشـــــــوي ده
راتـــــــه اغـــــــزي لكـــــــه دګـــــــل ښـــــــكاري
پـــــــوره جامونـــــــه چاتـــــــه نـــــــه وركـــــــوي
دازوړســـــــاقي هـــــــم راتـــــــه غـــــــل ښـــــــكاري
يـــــــارګوره دومـــــــره دخپـــــــل واكـــــــه نـــــــه دى
ماتـــــــه يـــــــې غـــــــاړه كـــــــې يـــــــو ول ښـــــــكاري
خلكـــــــه داپيغلـــــــې زلمـــــــي مـــــــه ګرمـــــــوئ [١]
اوردهورمـــــــون پـــــــه لمبوبـــــــل ښـــــــكاري [٢]
پيغلـــــــو پـــــــه مـــــــا موكـــــــوم جـــــــادوكړى دى
ستاســـــــوپيغام راتـــــــه غـــــــزل ښـــــــكاري
حيـــــــدري دومـــــــره پـــــــه كابـــــــل مـــــــين دي
ورتـــــــه هـــــــر ښـــــــكلي دكابـــــــل ښـــــــكاري

---

[١] مه ګرمه وي يعني مه ملامته كوي

[٢] په دي بيت كي يوطبي مفهوم پروت دي چې په پيغلواوزلموكي دجنسي هورومونو ارازديدو دوجي لذت داوردلمبو سره تشبه شويدي

اغیارلمنـــــه کـــــې ګلونـــــه اواغـــــزي ســـــاتلي
څـــه یـــي دزهـــرو څـــه دشـــاتوډک منګـــي ســـاتلي
کلـــــه اغـــــزي کلـــــه ګـــــلان پـــــیش کـــــړي
زمـــــونږ پـــــه ضـــــدیي مـــــونږبچې ســـــاتلي

دراتلـــــــودردمي هـــــم موراحســـــــاس کـــــــړو
چـــــې لویـــــدم نـــــودرد یـــــي نوراحـــــاس کـــــړو
دپلاراحساســـــه تـــــن مـــــي زار شـــــه لـــــه تـــــا
زمـــــــــادتللودردهم موراحســـــــــاس کـــــــــړ

هـــرمین د خپـــل صـــنم درنـــګ صـــفت کـــړي
څـــوک دګـــل سره دشـــبنم درنـــګ صـــفت کـــړي
داکـــــوم رنـــــګ دی چـــــې دټولـــــودزړه سردی
حیـــدري هـــم دغـــنم درنـــګ صـــفت کـــړي

مـــا چـــې دخاراوګـــل شریکـــه زنـــده ګـــي ولیـــده
دپروانـــــومې دګـــــل پـــــانوسره یـــــاري ولیـــــده

خوانســـان لـــوکړلې غـــوټۍ تنکـــۍ تنکـــۍ دګلـــو
مـــایې پـــه دوه ســـترګو یـــې پـــرون مســـلماني ولیـــده

ترخوبه دریبارزنه ورنیسمه ترخوبه دریبارسره اوسیږم
دګل په تمه تمه عمرتیرشولو بوډا شومه لادخارسره اوسیږم
تش نوم یي په خوله اخلم ګناهګاریمه دجام نه خبرنه یم
هسي ـ ددي ښارپه میکدوکي دمغرورساقي کنارسره اوسیږم

بې سکرومې پوخ کباب لیدلی نه دی
بې بارانه مې سیلاب لیدلی نه دی
د دې کلي دبچوبه څه انجام وي
ماپه لاس کې یې کتاب لیدلی نه دی
د هرکار لپاره خپل خپل بندوبست وي
چېرته اس مې بې رکاب لیدلی نه دی
هسې شعر په مې خانه اوپه جام لیکم
کله جام مې دشراب لیدلی نه دی
څه چې ګورمه دتوکومجموعه ده
بې تارونومې رباب لیدلی نه دی
څه چې خوښه د صاحب وي هغه کیږي
ما دصیب سره حساب لیدلی نه دی
توریحان همیش په توروورېلونو
ماوربل کې سورګلاب لیدلی نه دی
دجګړې دبربادۍ پوښتنه وکړه دافغانه
تا د سرو وینوخوناب لیدلی نه دی
ژوند دې تېر کړ په محدوده جغرافیه کې

تــــا ګیـــزاب او تــــا بلخـــاب [1] لیــــدلی نــــه دی
حیـــدري ولــــې صـــفت کـــړې د خـــتن د ښـــکلاګانو
نورســـتان کـــې یـــې دواب ([2])لیــــدلی نــــه دی

د سرکاســـې تـــه ګـــورم د کاســـولاندې کاســـې دي
یـــو قصـــې چـــې کلـــه وشي د قصوپســـې قصـــې دي
دپوهانـــــد او د عـــــالم هســـــې یونـــــوم دی
یـــا د هغـــه دي چـــې دچـــاسره پیســـې دي
دازه ولـــې پـــه عابـــدکې حســـاب نـــه شـــوم
نـــه یـــې ویشـــم نـــه لیـــدلي مـــي پیـــالي دي
حیـــــدري چـــــې ملامـــــت دی زه پـــــوهیږم
پـــه یـــولاس کـــي یـــې قلـــم بـــل کـــې ډیـــوې دي

خلکودپیالونــــــــــه انکـــــــــارکړی دی
پیغلـــــو دزلمونـــــه انکـــــار کـــــړی دی
دلتــــــه وهـــــم ویـــــره راپیداشــــــوله
څکـــــه موپردونـــــه انکـــــارکړی دی

[1] ګیزاب د دایکندي ولسوالي او بلخاب د سر پل ولسوالي ده.
[2] دواب دنورستان ولسوالي ده

راگیر د زلفوول کړمه
غلوسترگودې غل کړمه
داخه عجیبه انداز
جوړبه ترې غزل کړمه

تاسوښه ئې خویوزه درکې خراب یم
لړلړنه یمه اوښه درکي خراب یم
که په هرموقعیت ودریږم خراب یم
هم په ناسته اوپراته درکي خراب یم

چا دین دلاسه ورکړچا دنیا دلاسه ورکړه
چا دواړه دې گټلې چابقا دلاسه ورکړه
زمونږ دناپوهی نه خلکودېره گټه وکړه
څه ښکلي زنده گی وه ما اوتا دلاسه ورکړه

لمر دمازیگرسره دغرومینه
پاس یې ننداره کړه دسرومینه
باغ کې مې نن بل دمینې رنگ ولید
دگل دخفاظت سره داغزومینه
نن یوحقیقت راته برسیره شو
اوسپني سره وکړه سروحجرومینه

اور دهورمونودې دوی ګرم نه دي
دا د لېونتوب مينه د پېغلواوزلمومينه
هرځوك په ظاهرلباس كې سپين ښكاري
څوك وه چې وي نه كړه دپيالو مينه
خدايه زمونږزړونوكي پيداكړه دقلم مينه
وركه مو دزړونو كړه دجنګ اودجګړو مينه
هرڅو كه راغلي يم په ښاركي يم
هيره به مې نه شي دخپل كلي دكوڅومينه
اي مغروره ټول عمر ولاړ په تكبرسره
ځان كي دي پيداكړه دسجدومينه
د چاسره د سود او دپيسو مينه
ما انتخاب كړې د لونګو د خوشبومينه

كله مې دكلي ساده ګانوكې حساب كړي
كله مې په صف دباتورانو كې حساب كړي
داستا په نيرنګونو به پوهيږم سرخلاصي
اخربه مې د عقل خاوندانوكې حساب كړي

كه نورو وكړه مونږه هم ځان سرجفاكړيده
دبل په لمسه مودوررسره نارواكړيده
دبل تنې زمونږ ګريوان څيري شو
بيشكه مونږدغه جګړه ډيره خطا كړي ده

داهرځه په يوان کې تغير وخوري
تنهی هم په ګريوان کې تغير وخوري
سيوري دبدن درنه په سيوري کې جداشي
لمر چې په اسمان کې تغيروخوري

چا دپردو دوينوجام وڅکه
چا په سهرچاپه ماښام وڅکه
ماته په ګوټ اوبوجزاراکوي
وايي چې ولي دي حرام وڅکه

چاسره جامې نه شته چاسره ايمان نه شته
چاسره پيسې نه شته چاسره جانان نه شته
جاسره وسيلې نه شته چې کاروکړي
چاسره تنظبم نه شته سازمان نه شته

داغ يې د لبانوپه لبانو پاتې نه شولو
څه خواره کتل يې دچشمانوپاتې نه شولو
ختم مې باورشو په خپل ځان باندې
نورمې اعتبارپه انسانانو پاتې نه شولو

خاموشیکي خو یو شور راته ښکاریږي
دشمعې منځ کې اورراته ښکاریږي
وهي مي په څپېړومخ مي بل طرف ته نکړ
رابه وړم بدلون په تن کي زورراته ښکاریږي

د دې لندې شړی نه د پښوویستل په کار دي
د ګلاب د کروندې نه د اغزو ویستل په کاردي
چې ویش په کې د ټیټ اودبالا په بنیادکېږي
دښارنه دساقي او دپیالو ویستل په کاردي
دا ولې پابندي شوله په پیغلونن پرون کې
نور په مازیګرکې د منګو ویستل په کاردي
چې شوریې خوب ته نه پریږدي سهرشو
دیار دسپینولیچودبنګړوویستل په کاردي
زاړه شواو د ناکاموتجربوپسې روان یو
زمونږ دککرونه د مغزو ویستل په کاردي

دچا د تن دجاموشمارنه شته
چې کومه واغوندي نو وارنه شته
دچا ګریوان بیا ترلمني څيري
خو دګندلو کورکې تارنه شته

بارانه لوند دې کړم بیداردي کړمه
د للمې ګل ومه سنګاردي کړمه
زه چې دوريځو د غباره څاځم
بخته په توروربل انباردې کړمه
ربه په کوم کرم دې داسې وکړل
د ګودر سرکې پیره داردې کړمه
ماچې جوړکړی وه دیار د زلفو
په هغه دارکې سرپه دار دې کړمه
هم مې ګنډي هم راته خوله راکوي
دکوم عشق دتن پرهاردې کړمه
دشنه کنړه چې مې کډه وکړه
نوشین زیتون دننګرهاردې کړمه
ربه کرم دې په مادومره ډېردی
چې دلونګودمنځ تاردې کړمه

چا رباب ته غوږایښی چاستارته غوږایښی
چاخوشیطانانوچاشیطان ریبارته غوږایښی
داکلي خو ځکه راته وران اوکنډواله ښکاري
دې خلکوهمیش یوه پلید مکارته غوږایښی

د ګل اوخارتړون د دښمنۍ په معنانه دی
خلوت د نامخلصو ددوستۍ په معنا نه دی
د سوي چنارلاندي ناسته پاسته خاطره ده
داپه سترې ژوندکې د دمې په معنا نه دي

کوشـــش وکـــړه سترانســـان دځـــان نـــه جـــوړکړه
دانســـان پـــه شـــان انســـان دځـــان نـــه جـــوړکړه
کـــه ګـــوهراو دصـــدف پـــه شـــانې نـــه شـــوې
نـــو دغـــاړې ســـورمرجان دځـــان نـــه جـــوړکړه

اجـــــــازه تـــــــرې دپیـــــــالواخلم اوژاړم
پـــــــه بڼـــــــود غوځیـــــــدو اخلـــــــم اوژاړم
روانیږمـــــــه اوشـــــــاته شـــــــاته ګـــــــورم
اجـــــازه چـــــې تـــــرې د تلـــــواخلم اوژاړم

یـــــوه موقـــــع وي اوهروخـــــت نـــــه پیـــــداکیږي
پـــــه شـــــهرت اوپـــــه ثـــــروت نـــــه پیـــــداکیږي
پـــــس دمرګـــــه بـــــه دمـــــور اوپلارارمـــــان کـــــړي
بیـــــا موقـــــع یـــــې دخـــــدمت نـــــه پیـــــداکیږي

پـــه تدبیراوپـــه تصـــمیم پیســـې مـــصرف کـــړه
داولادونوپـــــه تعلـــــیم پیســـــې مـــــصرف کـــــړه
سرمایـــه دې پـــه خپـــل ژونـــد خپلـــه پکـــارکړه
دخپـــل تـــن پـــه هرتـــرمیم پیســـې مصرـــف کـــړه

اخلم چې بنګړي نوبنګړيواله لټوم
رنګ به يې په متېه کې بيګاله لټوم
د شپې په جنګ کې مات رانه بنګړي شو
چنډي به يې په کټ کې بياسباله لټوم
څنګ ته چې ورځمه نو په نيرنګ ورځم
ځان ته په خپل لاس دمچوجاله لټوم
ګرځم چې يوکلي لبرارام چېرته پيداکړمه
ټول کلي دپاميره تربنګاله لټوم
ساده نه يم وخت داسې په ما وکړل
دوچ چنار په ښاخ د مرغوځاله لټوم
د ډېروقافلومزه مې وليده هوښيارشومه
دې ځل به قافله چېرته سمباله لټوم
پرون راته ريباريوه دخوښۍ سلاراکړه
د پېغلو په بازارکې يوه تاله لټوم
دژوندلوړوژورو ستړي کړي حيدري يم
نور ځان ته يوه سمڅه بې جنجاله لټوم

دهرچا دقافلواسونه څغلي اوروان دي
خوځمااسونه شل دي اورنځوران دي
ټول روان دي د هدف ترحده تيرشو
لکه غر په ځای ولاړ دي افغانان دي

خلکـــــــو پـــــــه ګلونــــــــو مــــــــزې وکــــــــړلي
چـــــــا پـــــــه وربلونـــــــــــومزې وکـــــــــړلي

څـــــــوك پـــــــري هـــــــيڅ مړيـــــــږي نـــــــه
ســــــــمي پـــــــه جــــــامونومزې وكــــــــړلي
هـــــــيڅ حســــــاب يــــــــې نـــــــه شـــــــته دي
چاخوپـــــــــــه زرګونـــــــــــومزې وكـــــــــــړلي
څـــــــوك يـــــــې لوبـــــــوي پـــــــلاس
ډيـــــــرو پـــــــه تـــــــارونومزې وکـــــــــړلي
نورګـــــــــــــــــــوره اومونږګـــــــــــــــــوره
مـــــــــونږه پـــــــه جنګونـــــــــومزې وكړلـــــــــې
خلـــــــــك پـــــــه بـــــــــدلون كـــــــــې دي
مـــــــــونږ پـــــــه رواجونـــــــــومزې وکـــــــــړلي
څـــــــــــومره يـــــــــــوبې وســـــــــــــه اوس
مـــــــــونږ پـــــــه تـــــــاريخونومزې وكړلـــــــــې
خلـــــــــــــك مرضـــــــــــــونه او دوا لــــــــــــولي
موږ،نږ،پـــــــــــه تعويـــــــــــذونومزې وكړلـــــــــــې
يـــــــه حيـــــــدري خلـــــــك فـــــــاكولتي وايـــــــې
تـــــــاخو پـــــــه شـــــــعرونومزې وكړلـــــــې

لـــــــــوړه دچنارنامـــــــــه مـــــــــې خوښـــــــــه ده
ټولـــــــــوكې ديارنامـــــــــه مـــــــــې خوښـــــــــه ده
جـــــــوړيې راتـــــــه لـــــــين ديـــــــاراني كړلـــــــو
ځكـــــــه دريبارنامـــــــه مـــــــې خوښـــــــه ده

جنګ خوستړي نه شوخومونږستړي یو
جنګه مونږدې ټول په اوبووړي یو
جنګه دپیړوپیړواوسیږي په دې سیمه کې
مونږه دې تباکړو مونږغریب یوپوره وړي یو

جنګه نوزرمونږ دچمه کاږه شه
ځه د دې مرګو د غمه کاږه شه
دلته زلمي نه شته ټول دې وخوړل
نوردې ورکوم په سمه کاږه شه

ډېرې مې په زړه کې ګیلې پاتې دي
جنګه ستالانورې جګړې پاتې دي
ډېر دې په ناچله پیسوواخستو
ډېرې لاناچله سیکې پاتې دي

نیمه شپه کې د صنم قصې خوږې وي
مونږړندوته دتورتم قصي خوږې وي
داتوپیر خو ددې ځایه راشروع شي
چې غوټوته دشبنم قصې خوږې وي

چاپـــه لورکرکنـــه مـــاپرې پرخـــه نامـــه ایښـــې ده
ډېـــره مـــې خـــوږه ډېـــره بـــې نرخـــه نامـــه ایښـــې ده
فـــرق دنظرونونـــه دي جـــوړه دشـــمني نـــه شي
ماورتـــه نـــرګس اوتـــاپري ترخـــه[1] نامـــه ایښـــې ده

کـــه جیـــب خـــالي وي ذهـــن غنـــي وي
د الوړصـــــــفت د یـــــو رهبراوسترســــــــړي وي
دانوبیاســــــتره خطــــــا ژونــــــدون کــــــې
چـــې هرڅـــه ډېـــروي ذهـــن خـــالي وي

؛پـــه هروخـــت دحرکـــت فکرپـــه کـــاردی
هـــــر انســـــان سره فکرپـــــه کـــــاردی
پـــــه اول کـــــې ارتقـــــا د شخصـــــیت ده
دویـــم قـــدم کـــې د ثـــروت فکرپـــه کـــار دی

پـــه قومونـــو تجـــارت پایـــداره نـــه دی
د دې لارې ســـود ثـــروت پایـــداره نـــه دی
یـــوراضي خـــو لـــس بـــه نوردرنـــه بیـــزارشي
پـــه یوکـــورکې دا خصـــلت پایـــداره نـــه دی

[1] نوټ ترخه یوتریخ نبات دی چې په دشتونوکي زرغونیږي

لکه چې ګرځمه دیارسره د سیوري پشان
لکه سپوږمۍ سره ولاړیمه د ستوري پشان
زه په هرمتن کې خپل ځاي لرم ثبات لرمه
زه په هرمتن کې حساب لکه دتوري پشان

سپین ږیري شوم ارمان مې پوره نه شو
ارمان دیو ابادافغانستان مې پوره نه شو
کشمکش کې زنده ګي ده بدبختي ده
یو محراب کې یو اذان مې  پوره نه شو

په نورواتکا دشخصیت دبربادۍ نښه
په ځان باندې باوردسرلوړۍ نښه
ورکه تنبلي شه تل محتاج به یې
داپه هر ډګرکې د ذلت او د نیستۍ نښه

مرغۍ دانې ګوري خوجال نه ویني
په چغهارراشي خپل زوال نه ویني
زه مې دیار په دي کردارخفه یم
د چنارښاخونه ګوري خوټال نه ویني

چا دشګو په مزل کې خپل قدم لیدلی نه دی
پل شي پاتې خوچا سم لیدلی نه دی
کله سرې شي دپښوتلې پرې سوځي
خومجنون پکې چاتم لیدلی نه دی

يه درياب او په ګوهربانديې بدوايو
د لعلونو په ډك غربانديې بدوايو
كه يوكسب يوكمال وه چاراوړي
ساده ګان يوهرهنربانديې بدوايو
په زړولارو چې تګ كړو خوشاليږو
خو په نوي رهګذربانديې بدوايو
چاچې مونږ ته د ژوندلارسمه سيده كړه
مونږ د غرغوندي رهبربانديې بدوايو
حافظې زمونږه دومره دي كمزوري
چې د پوهې په لښكربانديې بدوايو
حيدري دلته دهرچا وزن من دي
په كفه (١) په برابربانديې بد وايو

بنګ به ځي د كلي نه
جنګ به ځي د كلي نه
رابه شي سالم زلمي
لنګ په ځي د كلي نه

ځوك چې خيالونه(٢١) دخپل يارساتي
هم به لونګ او هم به تارساتي
مينه يوه ده خواظهاربدل وي
مجاور( ٣)كورنه وي مزارساتي

[١] كفه : د تلې يا ترازو پلې ته وايي.
[٢] خيالونه كله كله په عاميانه ادبياتوكي داكلمه استعماليږي مثلاً وايي چې دفلاني خيال ساته
[٣] مجاور يا متولي هغه كس ته وايي چې ديوزيارت خدمت كوي په عاميانه اصطلاح يي منجابر هم بولي

د پیغورخلک به څه چاته پیغورکړي
خپلې کړنې دي د ځان سره انځورکړي
لا د خپل وطن وراني یې هېره نه ده
لږدې فکر مخکې وروسته په هرلور کړي

دیار خیاله په ماښام کې رانه مه ځه
شپه اوږده ده په یوګام کې رانه مه ځه
زماروحه په مستۍ کې رانه وځه
زما روحه په ارام کې رانه مه ځه

ساقي بدل شي خوجام نه بدلیږي
داني بدلې شي دام نه بدلیږي
قومونه ورسېدل کوم پړاوته
که زه بدل شومه قام نه بدلیږي

بي حده سرزوري شي ناکامۍ باندې تمامه
اخرکې شي دځان په بربادۍ باندې تمامه
د ډېرې سرزورۍ سره عزت لاړشي بربادشي
شي دشخصیت په نابودۍ باندې تمامه

بل ته دزارۍ نه په خپل ځان فشار پکاردی
دسوال له پیدایښته نه د یوکارروزګارپکاردی
چې د بل سازته چکچکې کړي خوندنه کړي
دپلارنیکه رباب ته مې یو نوی تارپکار دی

کتـــاب خاموشـــه وي خـــوږک د ملغلـــرو وي
ډک د حکمتونـــــو وي وړیـــــه دلوســــتلو وي
صـــحبت کـــوی فضـــوله خولـــه دې پټـــه کـــړه
یاخوهغـــه وایـــه مناســـب چـــې د ویلـــو وي

غلـــې ســـترګې او دغـــلا کتـــل یـــې خونـــدکړي
د ماښـــام او د ســـبا کتـــل یـــې خونـــدکړي
رخصـــت اخـــلي اوپـــه شـــا ســـترګې راواړي
پـــه مـــخ درومـــي او د شـــاکتل یـــې خونـــدکړي
هرکتـــل یـــې د هـــنر دي پـــه خنـــداکـــه پـــه ژړاوي
پـــه چربانـــګ کـــي دژړاکتـــل یـــي خونـــدکړي
پـــه ماښـــام کـــې خـــو د شرمـــه ښـــکته ګـــوري
خوبســـترکې د خنـــداکتـــل یـــې خونـــدکړي
خاموشـــی کـــې لکـــه بحـــر اوګـــرداب شي
پـــه شـــوخی کـــي دغوغاکتـــل یـــې خونـــدکړي
دکمـــــره پـــــه سرولاړه هســـــکه غـــــاړه
دلالـــه پـــه شـــان مســـکاکتل یـــې خونـــدکړي
چـــې نســـیم دغـــره دسره خـــوري زلفـــي لوبـــولې
مالیـــدلي تاویـــدلي دنخاکتـــل یـــې خونـــدکړي
پـــه سرولاســـو چـــې یوجـــام پـــه لاس کـــې درکـــړي
جـــام پـــه لاس کـــې د اداکتـــل یـــې خونـــدکړي
حیـــدري پـــه دې تصـــویرکې دې لـــوی رازدی
پـــه تیـــاره اوپـــه رڼاکتـــل یـــې خونـــدکړي

اینـــې ټـــولې کـــاذبې تصـــویرونه یـــې کـــاذب دي
نیتونـــه چـــې بـــدل وي تحلیلونـــه یـــي کـــاذب دي
ښـــه نـــوی دیـــوال وي دبـــاران دزوره نـــه وي
راولـــویږي پـــه څمکـــه دیوالونـــه چـــې کـــاذب دي
لاره دې مـــخ پاښواوصـــــفحو ده ورکـــــه کـــــړې
باوربـــه پـــه چـــاوکړي خبرونـــه ټـــول کـــاذب دي
مـــخ لکـــه ګـــلاب وي دمـــین مینـــه پـــري راشي
هـــوس دبوســـې مکـــوه مخونـــه ټـــول کـــاذب دي
د یونـــه څـــه راواخلـــه او د بـــل نـــه څـــه راواخلـــه
نـــوم یـــې دتـــالیف کـــړه کتابونـــه ټـــول کـــاذب دي
ســـنګري ددرواغـــوبس ښـــې ګرمـــې دي چلیـــږي
د کـــلي د مشرـــانودا قولونـــه ټـــول کـــاذب دي
لیکوالـــه پـــه لیکنـــو دې اولـــس بیـــداره نـــه شـــو
ســـوڅې واړه کـــاذبې اوشـــعرونه دي کـــاذب دي
نـــه د خـــم نـــه د بـــادې نـــه دپیـــالې شـــوې
ســـاقي دوېـــش جامونـــه دي کـــاذب دي
حیـــدري څـــان شـــاعرانوکې حســـاب کـــړ
قافیـــه دشـــعرغلطه اوخیالونـــه دې کـــاذب دي

چـــې واک دې کـــم پوهـــه دې ډېـــره وي
لاره بـــه کـــړئ ورکـــه او لار بـــه درنـــه هـــیره وي

چـــې واک دې ډېـــره پوهـــه دې کمـــه وي
ددي انجـــام نـــه داولـــس ویـــره وي

ستاوجودکي څه عجیب غوندي رازونه
په سپین مخ کې دي نغښتي سحرونه
دپیالوسره تشبیه یې شاعران کړي
حقیقت کې دواړه سترګې دي جامونه
کله کله چې په سپین مخ راخپرې شي
لکه راشي سپین سحرکې ماښامونه

هرڅه رابرسیره شو خومونږه اغیار نه پېژنو
د شاتومچې وژنوخولستونې کې مارنه پېژنو
مونږه په ماضې کې د رواج قرباني شوي یو
اوس هم په مونږشپه ده سهارنه پېژنو
نور یې راته وایي بې تحلیله یې مونږومنو
ځوورسره یوځای په یوه لاره خولارنه پېژنو
دلته کاروبارکړو خو اجرونه په عقبا غواړو
ژوند چې پرې جوړېږي هغه کارنه پېژنو

تورلونګ دونې اوسینه سپینه دپېغلې
رازوړندبختورشي په سینه سپنه دپېغلې
په ظاهره زاهدان یوڅه خو د شپې قصه بدله
توري شوندې اوسینه سپینه دپېغلې

يويوياررانه روان دى
په تلواررانه روان دى
هم دکلي ياران درومي
هم دښاررانه روان دى
داسې خوږ لکه دشاتو
تريخ خماررانه روان دى
ماويلې خوب ليدل دي
شوم بيداررانه روان دى
چا د شپې لاره نيولې
څوک سهاررانه روان دى
چې زمادپيالويار وه
شوبيماررانه روان دى
خدايه دومره بې اسرې شوم
خپل نګاررانه روان دى
څه به ټول زما ګريوان شي
ستنه اوتاررانه روان دي

په خپل لاس موبچي لوى کړه د مارانو
سرکړئ ښکته فکر وکړئ افغانانو
ماران سترشو په چنار دورختوشو
اوس په جالوکې بچي خوري دمرغانو

کلـــــــه کلـــــــه تحلیلونـــــــه سرچپـــــــه شي
کلـــــه کلــــــه رڼاورځــــــه تــــــوره شــــــپه شي
کلـــــه کلـــــه دګـــــرداب پــــــه څیرخاموشــــــه
کلـــــه کلـــــه د دریـــــــاب مســـــته چپــــه شي

چــــــا وچ ډاګونــــــه پــــه باغچوبـــــدل کـــــړل
مونږشــــــنه باغونــــه پــــه دښــــتوبدل کــــړل
خلکــــــــــوهنر د هنرمنـــــــــــدو زده کـــــــــــړ
د تیـــــږو غرونـــــه یـــــې پــــه رنجوبـــــدل کــــړل
مـــــــونږدهنر لاره خطـــــاکړه اوپــــــه بلـــــه لاړو
ارام وطـــــن اوارام کورموپــــــه جګړوبــــــدل کــــړ
زمونږچنــــارزمونږ چمـــــن کـــــې د بابــــا دلاســـــه
دبــــل . دپـــــاره موچنـــــار پـــــه سرولمبوبـــــدل کــــړ
زمـــــا د غــــــره نښــــــترزما د سرلــــــوړی نښـــــه وه
مـــونږ د پـــــردو د کورپــــه غبرګـــــو دروازوبــــدل کــــړل
حیــــــدري تانـــــه یـــــې تخمونــــــه دګلانویــــــوړل
ځکــــه ســــتاګل وطـــن یـــې ټـــول پـــه اغزوبـــدل کـــړ

ویـــش دجــــامعې خـــو د ثـــروت پـــه اســــاس کیـــږي
د مــــال او دارایـــــي او د دولـــــت پــــه اســــاس کیـــږي
ژبـــه قــــام اوســــیمه هســــې رنـــګ خلکـــــوورکړي
وروري دغریبـــــانو دغربـــــت پــــــه اســــاس کیـــږي

دکــوم ګــلاب نــه زارشــمه دکــوم ښــکلي نــه زارشــمه
زه د دې خورشـــیدوطن دکـــوم کـــلي نـــه زارشـــمه
ټـــول اولـــس دې ســـتړی خودمـــه پکـــې یوځوکســـان
دومــره همــت راکــړي چــې د هــر ســتړي نــه زارشــمه
ډېـــر دې ګرځـــولي پـــه اوږویـــم ښـــه پـــه یـــادمې دي
پـــلاره ســـتا دچـــپ کـــه ســـتا د ښـــي ولي نـــه زارشـــمه
تـــره وه کـــه بابـــاوه کـــه اغاوکـــه مورجانـــه واړه لاړل
خدایـــه تـــن مـــي یـــو دی اوس دکـــوم تلـــلي نـــه زارشـــمه
ځـــلي دوطـــن مـــې ټـــول دجنـــګ تـــرجماني کـــوي
کـــوم یوانتخـــاب کړمـــه او دکـــوم ځـــلي نـــه زراشـــمه
ټـــول بـــدن دې پـــلاره قربـــاني کـــړو د اولاد ځنـــې
ســـتا دســـتړي ژونـــد اوســـتا دکـــوم غـــړي نـــه زارشـــمه

خدایـــــــه داســـــــــې بهـــــــــار راوړې
چـــــــې مرســـــــلي پـــــــه وربـــــــل شي
اوردمینـــــي پـــــه بي مینـــــي زړه کـــــې بـــــل شي
خدایـــــــه داســـــــــې بهـــــــــارراوړې
چـــــــې اغـــــــــزي دمخـــــــــې دل شي
او وربـــــــــل دګـــــــــل محـــــــــل شي
خدایـــــــه داســـــــــې بهـــــــــارراوړې
چـــــــې زورواکـــــــې نوربـــــــدل شي
اوشـــــــپونکی پـــــــه کـــــــې اتـــــــل شي
خدایـــــــه داســـــــــې بهـــــــــارراوړې

چــــــې پــــــه ځــــــاي دپکـــــــړۍ ول شي
ورک پــــــه دې وطـــــــن کـــــــې چـــــل شي
خدايـــــــــه داســـــــــې بهـــــــــارراوړې
چـــــــې نــــــابود دپـــــــردي پــــــل شي
يـــــــا پـــــــــه دواړوپښوشـــــــــــل شي
خدايـــــــــه داســـــــــې بهـــــــــارراوړي
چـــــــې يــــــوورور د بـــــل سره مـــــل شي
اوراتـــــــــول پـــــــــه يوكابـــــــــــل شي
خدايـــــــــه داســـــــــې بهـــــــــارراوړي
چـــــــــې دالارې تـــــــــول كبــــــــــل شي
اواســـــــان پـــــــه كـــــــې مـــــــزل شي
خدايـــــــــه داســـــــــې بهـــــــــارراوړي
چـــــې پـــــه لاس كـــــې مومشـــــعل شي
اوتـــــورتم پـــــه كـــــې جـــــل بـــــل شي

ځوريښـــــــې مـــــــې دګريـــــــوان راوړي دي
دبـــــل نـــــه دي مـــــا د ځـــــان راوړي دي
ښـــــې لمـــــدې دې د پيـــــالو دنمـــــه تـــــردي
دامـــــــــې نښـــــــــې دبـــــــــاران راوړي دي
نـــــن خوښـــــه راتـــــه پـــــه دواړوسترګوزيرشـــــه
نـــــن مـــــې نښـــــې د خپګـــــان راوړي دي

لـــــــــر راسره روان دي ډېررانـــــــــه روان شـــــــولو
پــــاتې نيمـــه لاره کـــې بيـــل رانـــه يــــاران شـــولو
ماخوزنـــــده ګــــي دزنـــده ګــــی دپــــاره تــــيره کــــړه
ماتــــه ډېرناوختـــه دغــــه خلـــک امتحـــان شـــولو

متــــې دې راونغـــاړه يـــوې تنخواتـــــه مـــه کېنـــــه
اوس نــــه شروع وکــــړه نـــــن ســــباته مــــه کېنــــه
ښــــــه وي دتنخـــــــواسره کســـــــب کارښــــــه وي
خپــــل ســـــنجش دې وکــــړه چاتــــه مـــه کېنــــه

نـــــــــه جانـــــــــان مـــــــــې خـــــــــبراخلي
نـــــــــه يـــــــــاران مـــــــــې خـــــــــبراخلي
پـــــــــــه دې هــــــــــم شکروباســــــــــــم
خپــــــل ګريـــــــوان مــــــې خــــــبر اخـــــلي

دا دې شــــــــــور او دا دې زور دپيغلتـــــــــــوب دی
دابـــــې حــــده مســــت غـــرور دې ليونتـــوب دی
دا دســــــترګو مــــــړه کتـــــل دې زړه راويښ کــــړي
بــــس پــــه زړه کــــې دې اثــــر د مينتـــوب دی

چـــې ټوپـــک مـــو پـــه اوږه وي افتخـــارکړو
دربـــاب پـــه کرځولوبانـــدې عـــارکړو
مرګـــی غنـــدو خـــو د مـــرګ وســـیله ســـتایو
اومطـــرب تـــه بیـــا د دم پـــه نـــوم ګفتـــارکړو

وایـــې چـــې بـــوی دګـــل ګنـــا لـــري
دوی زړه کـــې کرکـــه د بـــورا لـــري
دګـــل غنچـــې باغوانـــه ځلـــه وروړې
دوی د مشـــام د حـــس خطـــا لـــري

دوخـــت نـــه مـــې ښـــه ډېـــر درســـونه زده کـــړل
ښـــه پـــوره مـــې د ژونـــدون رازونـــه زده کـــړل
خـــوبس وخـــت د وختـــه تېـــردې هرڅـــه تېرشـــو
ډېـــر ناوختـــه مـــې د ژوندچلونـــه زده کـــړل

ســـتا نظرکـــې چـــې داســـتوري واړه ښـــکاري
تاتـــه لـــوي کتـــاب کـــې تـــوري واړه ښـــکاري
داســـې ښـــکاري ســـتا نظرکـــې څـــه کمـــی دی
مـــازیګرکې درتـــه ســـیوري واړه ښـــکاري

چـــاپرون اوخـــوک مـــې نـــن پـــه کـــاڼو ولي
کلـــه مـــې سرکلـــه مـــې تـــن پـــه کـــاڼو ولي
مـــاتول کـــړي ورتـــه کـــاڼي ملامـــت يـــم
مـــا پـــه ناســـته اوپـــه رفـــتن پـــه کـــاڼو ولي

ښـــه پـــه جرګواومرکـــوکې ناســـت دي
کلـــه جومـــات کلـــه حجروکـــې ناســـت دي
لـــوړيي قدونـــه خـــو پـــه فکـــر واړه
د تنـــګ نظـــر تنګـــو پنجروکـــې ناســـت دي

پـــه وړې خبـــه مســـتي کلـــه کيـــږي
بـــې لـــه اخلاصـــه دوســـتي کلـــه کيـــږي
ځنـــې لټـــان وي بـــس تيـــاره غـــواړي
دژونـــدبهيرکې سســـتي کلـــه کيـــږي

پـــامير کـــه پـــه ســـپين غراوســـو
بـــادغيس کـــه پـــه لوګراوســـو
هرطـــرف ســـنځلې اوګلابونـــه دي
مـــونږه خوپـــه مشـــک اوعنبراوســـو
دا دهـــرې ژبـــې اوهرقـــوم وطـــن
مـــونږ پکـــې ډاډمـــن اوبـــې خطراوســـو
مـــونږ کـــې تـــور او ســـپين نـــه شـــته
ســـپين لکـــه ســـپين لمـــر اوســـو

ملګري چې دې حدنه پېژني
لکه څوک چې ښه اوبدنه پېژني
داوسپنې نينې به خوله کې درکړي
داخلک دجوار د نينې خوند نه پېژني

دابوی دلونګين راته نن خوږتر نورو شپودی
راځوړند په نخروخه په پستوپستوسينودی
پوښتنه په احتياط مې دجانانه څنې وکړه
ويل پوست کړي [1] مې په اوښکو د لېمو دي

د جاهل او بې ادب سره يوشپه ګذاره ګرانه
ته په يولار داپه بله لاره درومي قصه ورانه
د جاهل صفات خوشال دی بيان کړی
په مجلس د جاهلانو هرسړي شي پښيمانه

دنادانو دطعنوجواب چوپتياده
ښه دي خدايه چې په ماکې دا وړتياده
خاموشي داحمقانو په مجلس کې
د هوښيارسړي هم دالويه بريا ده

[1] پوست کول: لمدول لکه لونګين چې جوړېږي، نو لونګ ورته په شيدو کې پستوي.

اوس د چاخپـــل نـــه یـــم غربتـــه دادي څـــه وکـــړل
د کـــلي کـــوره شـــوم بـــې کـــوره دادې څـــه وکـــړل
زمـــا دتـــير ژونـــدون بهيرتـــه خوچـــا ونـــه کتـــل
د ژونـــد بهـــيره بـــې ضـــميره دادې څـــه وکـــړل

چـــې دې خوښـــه وه هغـــه دې وکړلـــه اغيـــاره
دلســـتونې يارانـــه وه لاس دې رانکړلـــو يـــاره
څـــه دغورځـــوپرزو ژونـــدو لاړوتيرشـــو
پـــس د دې بـــه زړه کـــې څـــه وي ســـتا دپـــاره

يولـــوی مـــلا لکـــه لـــوی غرلگيـــاوه
دجمـــع ورځ وه پـــه ممبرلکيـــاوه
چـــې دکوکنـــارو او رشـــوت پـــه پيســـو
حـــج دې نـــه کېـــږي زړه ورلگيـــا وه

دملـــك مخکـــې چـــې خولـــه برســـيره نـــه شي
بيـــا پـــه عمـــردې داخولـــه برســـيره نـــه شي
چـــې رښـــتيا او واقعيـــت ويـــلی نـــه شي
نوترمرگـــه دې داخولـــه برســـيره نـــه شي

څه جبر درواج څه داغا دی
برباد په کې ژوندون زما اوستادی
نه د حق خبره اورو نه یې وایو
غوږ لروستړگې لرو قصور دچا دی

ډېرڅه مې وکړل هغه نه یا دوي
چې لږونه شو هغه ښه یادوي
ماخو په ولوسور ترډېره ویوړې
اوس مجلسونوکې سواره یادوي

پاڼې پاڼې پروت یم که راټول شمه کتاب به شم
تاسو شا زلموته دتدریس ښایسته نصاب به شم
پاڼې زماډکې داغزوسره د نفرت په درس
ستاسو په لاسونوکه سمبال شومه گلاب به شم

چې منزل کوي حتمي منزل ته رسي
په گوهر پسې دبحرتل ته رسي
ټوله ورځ په زارۍ گانو ټوله شپه په نوازش
پس دډېروکړاونوبه دزلفو ول ته رسي

په یوکاروان کې روان خلك رانه یویومخکې کېږي
دژوند په هر ډگر کې وړاندې درومي کامیابیږي
بس یو زه یم د کاروان نه ستړي پاتې یم په لارکې
د ماضي جلال مې کم شو نوم نښان مې حذف کېږي

چې یوجام دخم نه وځکم
نو په وینه کې د اور نښې پیداشي
اوچې وځم د چې تې (۱) نه
نوپه خوله به مې د شور نښې پیداشي

په کوم کمال چې مونږکمال ته رسو
په هغه لارچې مونږجمال ته رسو
مونږه کړو ورانی دکمال او دجمال لارې
مونږه به په دې کړنوزوال ته رسو

مونږد ټپي بدن زخمونه گورو خاندوورته
مونږه تالا باغونه گوروخاندوورته
مظاهره موکله دخپل فن ونکړه
چې دپردو پرمختگونه گورو خاندو ورته

[۱] چې ته یا چته -دایوه محلي اصطلاح ده اوهغه وخت کارول کېږي چې یوڅوك ډېري سرزوي خبري کوي نوحانب مقابل ورته وايي

بیګــــاه دې پــــه ښنګلـــه کـــې خـــوښ نـــه وم
ګنـــــې کـــټ خــــومې دبـــــام دپاســــه نـــــه و
تـــش دچـــایو پـــه پیالـــه دې ګنـــاه ګـــارکړم
زمـــا لاس خـــو ښـــه د جـــام دپاســــه نـــه و

چـا دانګـور اوچـا دبنـګ دجـام صـفت کـړی دی
مـــونږه پـــه همـــدې خـــبره جنـــګ کـــړی دی
جنـــګ دچرګـــانو مـــونږ تـــرې جنـــګ جـــوړکړو
مـــونږ پـــه بیکـــاره کـــارکې ننـــګ کـــړی دی

مـــــونږ چـــــې اوریــــدلي وه هغســــې نـــــه وه
مــــونږه د جانـــــان او داغیـــــارڅیږې ولیـــــدلې
رحـــم نـــه پـــه یارنـــه پـــه اغیـــارکې شـــته
مـــــونږیې وارپـــــه وارڅیپــــــړې ولیــــــدلې

هوښیارخاموشـــه لیـــونی ســـړی خـــبرې کـــوي
یـــه خلکـــه غوږشـــئ پخـــوانی ســـړی خـــبرې کـــوي
چـــې د ظـــالم باچـــا پـــه مخکـــې یـــې اوازجـــګ شي
داکـــوم سرتـــیری توریـــالی ســـړی خـــبرې کـــوي

کله به گل پاڼې په گل پاڼو باندې وشیندم
څه به په کوتروڅه به زاڼو باندې وشبندم
دمرغانوکوم قاتل لمنه ډکه کړه دکاڼو
څمه چې تیزاب ورته په کاڼوباندې وشیندم

پرون دچانه ورانه وه اونن دچانه ورانه ده
داسل کلونه کېږي معامله دچانه ورانه ده
ټول خلک پوهیږي خواظهارکولی ته شي
د سرنه تراخره ماشوره [1]دچانه ورانه ده

ماخولاست دپیالې نه دی کړي
ولې غصې نه تکه سره شوې لاړې
تگ کې په شا په شاکتل څه معنا
پټه مسکی ظاهرخفه شوې لاړې

په قبر ژړا د دې کلي رواج دی
په ژوندیني دلته قدردچا نه شته
په ژوندون چې دې زماعزت ونکړ
داسې بویه چې بس قبرزما نه شته

[1] ماشوره دایومحلي اصطلاح ده اوهغه وخت کارول کېږي کله چې یوه مسیله دشروع څخه درسته نه وي

کله یارکله اغیارپسې بدوایم
کله کلي کله ښارپسې بدوایم
د سینو دلونګین لوبه مې نه زده
زه لونګ اوکله تارپسې بدوایم
خبرنه یم چې په څه نیت یې څښلي
بدعادت یم په خمارپسې بدوایم
دهرکارنتیجه وروسته معلومیږي
په شروع کې هریوکارپسې بدوایم
د خالق د تخلیقونوناخبره
چې د مینې په انګارپسې بدوایم
دا د پېغلې او زلمي د هورمون زوردی
زه ساده یم په دیدارپسې بدوایم
نازک ګل یمه خپل ځان ساتلی نشم
په سندروکي په خارپسې بدوایم
نه غزل اونه ټپه چا راښودلې
په رباب اوپه ستار پسې بدوایم
حیدري یم خپل مزل کولی نه شم
دجهان په تیزرفتارپسې بدوایم

په شعرونو کې تري جوړه هنګامه کړو
خوپه کورکي د بچوسره په پښتوخبرې نکړو
دامنمه نورې ژبې زده کول دژوند اړتیاده
نورې زده کړو پښتوپرېږدو په پښتوخبرې نکړو

هـــــم دمــــــلا لاس کـــــــې تســــــپې ژاړي
هــــــم دســــــاقي دويـــــــش پيـــــــالې ژاړي
دڅاڅکوڅاځکوســــــيلاب نــــــه جــــــوړيږي
ځکـــــــه بـــــــاران لکـــــــه شــــــيبي ژاړي
دومــــــره پـــــــه زورخــــــود شـــــــکولونه وه
څـــــيري گريـــــوان ريښـــــې ريښـــــې ژاړي
نياگــــــانې نـــــورې قصــــــې نکـــــړي د شـــــپې
چـــــې قصـــــه وکـــــړي نوقصـــــې ژاړي
دچاجانـــــان دچاپلرونـــــه دچاورونـــــه نشـــــته
څـــوك خـــو د ورځـــي څـــوك دشـــپې ژاړي
دجنــــــگ لمبـــــې خـــــوترممبره راغلـــــې
دلتـــــه رکـــــوع دلتـــــه ســـــجدې ژاړي
اوس قـــــافلې دلتـــــه دمـــــه نـــــه کـــــوي
اوس چنارونـــــــــه دمملـــــــــې ژاړي
زمامشرانوتاســـــــــــــوچېرته ولاړئ
تـــــش تـــــش کټونـــــه دجلگـــــې ژاړي
مســـــت دريابونـــــه اوس ډنډونـــــه شـــــولو
دي خاموشـــــــى تـــــه اوس څپـــــې ژاړي
دزنځيرشرنـــــگ تـــــه پېغلـــــې نـــــه راوځـــــي
ځکـــــــه ملنـــــــگ ددروازې ژاړي

حيـــــدري ستادشـــــعررنگ پيکـــــه شـــــو
ځکـــــه غـــــزل سره ټپـــــې ژاړي

نن دکلي هره لاره ژړیدله
یویتیمه وه بې پلاره ژړیدله

چې ژړا یې د ډولۍ سړي وانه وري
ناوې ځکه په قراره ژړیدله
ګلان ډېروه دواده بوډا په غاړه
بوډا خوښ وه خوګلناره ژړیدله
دتش شکوره نه چې تشه ګیډه راغله
ناوې ځکه په نهاره ژړیدله
کوم زلمي یې د مکتب لاره نیولي
مکتبي په ټوله لاره ژړیدله
هسې تورپرې چا د مستې پورې کړې
مالیدله بې خماره ژړیدله
مداري تمبک وهلو ماران ګډوه
خوبچوپسې یوماره ژړیدله
مړي پروت وه وارپه وار ژړاکیدله
یوه لوروه چې بې واره ژړیدله
په چوکیوصيبان ناست دي سازچالان دي
یوه ډمه ګډیله ژړیدله

حیدري بیګا مې مورته دسفرقصه کوله
بس قصه یې اوریدله ژړیدله

پـــــه ســــــپينوليچوچې بنگـــــــړي ويـــــــده دي
بـــــې غمــــه خـــوب كـــوي زلمـــــي ويـــــده دي
پيغلـــــې دي نــــه وځـــــي بـــــدنامې بـــــه شي
د ټوپـــــك خولــــه كــــې مـــــرده كـــــي ويـــــده دي
لاړشــــــم بازارتـــــــه بيرتــــــه تــــــش راشـــــــم
پـــــه تشــــه خېټــــه مـــــې بچــــي ويـــــده دي
مـــــــاويلې ښـــــځې دي ســــــل عـــــــذره لـــــــري
خوښـــــــځي كــــــاركوي ســـــــړي ويـــــــده دي
چاتـــــــه ډك جـــــام اوچاتــــــه تشــــــه پيالــــــه
جوړضــــــــــميرونه دســــــــاقي ويـــــــــده دي
ســــــيلۍ لگيــــــبري گــــــلان نــــــه ښــــــوريږي
د بـــــــام پــــــــه سرلاكشــــــــمالي ويـــــــده دي
زړه خـــــــــودرزيږي وينـــــــــه نــــــه چليــــــــږي
لاخورگونـــــــــــه دزړگــــــــــــي ويـــــــــده دي
دچــــــــالمنو كـــــــې آغـــــــزي ويـــــــده دي
چـــــې لاس ورنــــــه وړي منگـــــــري ويـــــــده دي
حيـــــــدري پــــــاتي دكـــــــاروان هغــــــــه وي
څــــوك چـــې پـــــه غيږكــــې دمـــــاضي ويــــده وي

باران په ګل اوپه اغزووريږي
لاندي په ځمکه پاس په غروريږي
جامې لمدې شوې پېغلې خاندي ورته
شيبې شيبې چې په زلموويږي
ګريوانه صبروکړه وخته دی لا
اول خواوښکې په ليموويږي
شيخانوپټې پيالې تشې کړلې
ظاهرکې کاڼي په پيالووريږي
کله دخوارو په نصيب نه شولې
پيسې راځي اوپه پيسو وريږي
نه يې پلرونه نه يې مينه دي دکار
مينه مې ټوله په لمسو وريږي
حيدري ژوند دې شو مينه مينه
دخداى رحمت دې په شعرو وريږي

موږشاعران کله عجيب غريب تخليق کوو
شراب موڅکلي نه دي دخمارشعرونه وايو
لا د ډېرې بې وسۍ نه ترماموره ورتلی نه شو
ملنګان يو خوباچاته داخطار شعرونه وايو

نــــــــوريٍ مينـــــــــيٍ رانـــــــه واخـــــــلي
مکرجنــــــه پــــه چـــــل چــــل کـــــيٍ
دزړه وينـــــــــيٍ رانـــــــه واخـــــــلي

دغـــــــنم رنګـــــــو يـــــاري ښـــــــه ده
دلونګويـــــــــــــــاري ښـــــــــــــــه ده
انګــــــوردي کـــــلي کــــــيٍ نـــــه شـــــته
نودبنګويــــــــــــاري ښـــــــــــــــه ده

کلــه کلــه ړوندشــه څــه نــاخوالي خوبــه نــه وينـــي
دا دزمـــاني پـــه شرســـمبالي خوبـــه نـــه وينـــي
ګرمـــه کرونـــده ده ټـــول د سر دپاســـه لوکـــوو
تــــه بـــه بختـــوريٍ لامحـــالي خوبـــه نـــه وينـــيٍ

دخپـــل قتـــل ننـــداره کـــړم خواظهـــارکولي نشـــم
تـــه خاموشـــه زه خاموشـــه اوګفتـــارکولي نشـــم
ناريـــه اوجراحيـــه وســـلي يـــي دواړه پـــه لاســـونو
پـــه څلورڅانګـــه ســـالم يـــم خويوکـــارکولي نشـــم

چـــــــــيٍ دعمـــــــــــردوران تـــــــــــيرشي
نوبوډادهرچـــــــــــــــــــــــــــاهيرشي
نـــــــــــه د تلونـــــــــه دراتلـــــــــوشي
يـــــــوقفس کــــــــيٍ بــــــه راګـــــــيرشي

مونږغواګـــــــــــــــانې دي لوشــــــــــــــــلې
دشـــــــــــــیدورنګونه ســــــــــــپین وي

مـــــــونږ پــــــه هرڅــــــــه ښـــــــه پــــــوهیږو
د دنیـــــــــــاوي اوکـــــــــــه د دیـــــــــــن وي

یــه خاونــده خــیردی کــه دســتمال پــه وینوســورنه شــو
مــاخو پــه ځــوانۍ کــې ډېــر پــه سرمنګــي راوړي دي
زه خـــوتبرګی پـــلاس دغـــره سرتـــه خـــتلی یـــم
مالکـــه دنـــر پـــه شـــان پـــه شـــا لرګـــي راوړي دي
مـــا خـــو د پښـــو پـــه سرلمڅـــي شـــړي مینـــځلي دي
اوبیـــامې بـــې زینـــي دلوړبـــام سرتـــه خیـــژولي دي
ګرانـــه دزړه سره کومـــه ســـتونزه درتـــه ووایـــم
مـــاچې څـــه ګـــاللي دي ټـــولې مـــې زغمـــلي دي
هســـې ســـوچ کـــې مـــه ځـــه بدګمانـــه پښـــیمانه وي
واللـه کـه پـه ژونـدکې مـې پـردی سـړی لیـدلی وي
زلمـی نـاوې پـه لاسـوکي راګـیره بیـا یـې ښـکل کړلـه
ماتـــه حیـــدري هرڅـــه دمخکـــې نـــه ویـــلي دي

اتفـــــاق ورونــــــو کـــــــې نـــــه شـــــــته
اوســـــــکون زړونــــــوکې نـــــــه شـــــــته
لمرپــــــــــه بلـــــــــه خواپریـــــــــــوزي
زیـــــــــړی لمرغرونــــــوکې نـــــه شـــــته

دیـــــدن پـــــه ټکنـــــده غرمـــــه نـــــه کیـــــږي
دچنارلانـــــدې اوس دمـــــه نـــــه کېـــــږي
خـــــبرې تـــــولې سرسري شـــــوي خلکـــــو
یوفیصـــــله هـــــم پـــــه زیمـــــه نـــــه کېـــــږي

دومـــــــره بـــــــه زر دختمولونـــــــه شي
لادســـــاقي پـــــلاس کـــــې جـــــام پـــــاتې دي
د مینـــــې نښـــــې لاپـــــه کـــــلي کـــــې شـــــته
یوکـــــټ لاپـــــاس پـــــه سردبـــــام پـــــاتې دي
دوه نابلـــــد دتـــــوري شـــــپې میلمانـــــه
زمـــــا پـــــه یـــــاد هغـــــه ماښـــــام پـــــاتې دي
پـــــرون مـــــې چېرتـــــه خـــــه رښـــــتیا وویـــــل
دېـــــرو ویـــــل چـــــې دا لاخـــــام پـــــاتې دي

پلاره

داهرخـــــه ســـــتادي زه بـــــه خـــــه ووایـــــم
پـــــلاره دا ژونـــــد راتـــــه انعـــــام پـــــاتې دی
اخـــــتره مـــــونږه لالایـــــق داخترونونـــــه یـــــو
ســـــتادرناوي تـــــه لایوګـــــام پـــــاتې دی
پـــــه مـــــونږ خـــــواري دبدلیـــــدو مـــــه کـــــړه
لازوړجومـــــات اوزوړامـــــام پـــــاتې دی
هرســـــړي تښـــــتي د نیســـــتی د ژونـــــده
یوحیـــــدري پـــــه کـــــې ارام پـــــاتې دی

د نيمـــــي شــــپې شــــوره خاموشـــه ولـــې
د پېغلـــو متـــې بـــې بنګـــړو خونـــه وي
داخـــاموشي مـــې پــــه حجروكـــې ولي
مـــا چـــې ليـــدلې بـــې نغموخونـــه وي
دارنـــدان ولـــې ســـپيري شـــونډې ګرځـــي
چـــې ميكـــدې وي بې پيـــالو خونـــه وي
يـــاران خفـــه دي خوخاموشـــه ناســـت دي
چـــې يـــاراني وې بـــې ګيلـــو خونـــه وي
دټيـــت اوپـــاس نښـــې بـــه ولـــې نـــه وي
دښـــاربنګلې دي بـــې پيســـوخونه وي
بنحـــاره هســـې بـــانې (بهاني)مـــه جـــوړوه
زري [1]رنجړومـــي بـــې رنجوخونـــه وي
هســـې ليلاتـــه عطرخـــه لـــه راوړې
ســـپين يـــې بـــدن وي بي خولوخونـــه وي
دتنـــاره پـــه سر دا ناســـتې پېغلـــې
سره يـــې مخونـــه بـــې لمبـــو خونـــه وي
حيـــدري ولـــې پـــرې اقرارنـــه كـــوي
دواده شـــپه ده بـــې مزوخونـــه وي

---

[1] زري يازه ري نجړومي يا سرمه دان او صلاحي ته سرمه چوپ وايي.

دجلال کوټ د تالاشۍ په منطقه کې
نن مې ولیدیوسپین ږیری په غرمه کې

پیوندي جامې په غاړه اوزړه خولۍ په سروه
راتاوکړي ترې یوپیڅکه دڅادروه
په پښویې د پلاستیک زړې څپلۍ وې
خپلې نه وې ماته ښکاري د پردۍ وې
په زاړه دستمال یې ملاکلکه تړلې
چې مې ده ته ورکتلي ماژړلې
پیانځې جګې اونرۍ پښې وي
په کې ډېرې دغمجن ژوندون قصې وي
په تلوارتلوار نژدې شو زما څنګ ته
هسې وکتل زماسپینوجاماوزمارنګ ته
ماراونیوه په غیږکې خوده ځان رانه جداکړ
لاړو مخ یې داوبونل ته صفاکړ
بیامې څنګ ته په قرارقرارروان شو
چې نژدې شو په کړشوپه خوله خندان شو
دپیپل دونې سیوري ته ګوښه شو
لږارام شولږمسکي شوچې دمه شو
ماویل عمربه دې څووي باباجانه
ویلي څه له داتپوس کوي له مانه
ماورته وویل کوم زلمۍ بچي دې نه شته
د تا پرته کوم دکارسړی دې نه شته
ویلې ولې نه زامن اولونه خدای راکړي

خــوك ژونــدي دي خــوك دمــرګ پــه لاره تلــلي
بــدامني كــلي تــه راغلــه مــونږ ښــارته كــډه وكــړه
مــونږ د كــلي نــه ننګرهارتــه كــډه وكــړه
دلتـــه هـــم دجګـــړې اوراپســـې راغـــی
یوراكـــټ مـــې كورتـــه كـــور(۱)راپســـې راغـــی
مشرــــزوی مــــې د بچــــوسره ســــاوركړه
مــور دزوی د مــــرګ ســــلګوسره ســــاوركړه
دې قصــې تــه زه ټبنــګ نــه شــوم پــه ژړاشــوم
د زړه درزا مـــــې ډېـــــره وارخطاشـــــوم
ماویــــل نـــن خوعرفــــه ســـبا اخـــتردی
خـــومره ســـتړی ســـتا د ســـتړي ژونـــد ســـفردی
ویــــلي زمونږدمزدورانوعرفــــه اواخترنــــه شــــته
یولښــــكریوخو زمــــونږه رهــــبر نــــه شــــته

تــه وای اخــتردې مــونږكره ســتنه اوتارنــه شــته
دګریـــــوان د راګنـــــډلو افزارنـــــه شـــــته

۱-كور ـــــړوند

چـــې ګـــرداب بانـــدې مـــین وي نوتـــاویږي
دچپـــومین جګیـــږي ښـــكته كېـــږي روانیـــږي
بیلې لارې دسند دوه غاړوته لارې
څوك په ښي اوڅوك په ګڅه روانیږي

د تــيري زنــده گــی کــې مــې هــنر د ژونــدون زده کــړ
پــه سختولاروتيرشـــوم ماســـفر د ژونـــدون زده کـــړ
چایوخــــه اوچـــا بـــل خــــه د نظراختلافـــات وه
ټولوتـــه مـــې غــوږ وه مــا مصــدر دژونــدون زده کــړ

ورســــه (ورسره) پيـــالي اوهـــم خـــمان شـــته
هـــم پـــه کـــي غشيـــ هـــم درمـــان شـــته
چـــې ســـپيني ســـپيني درتـــه ووايمـــه
ســـتادجانان داســـې چشـــمان شـــته

پـــه مادحســـــن انبارونـــــه بـــــاروه
دغنيمــــت پـــه نـــوم تـــالاکړه غلـــيم
زماپـــه څمکـــه کـــې پراتـــه لعلونـــه
دچـــور لپـــاره يـــې رســـواکړه غلـــيم

دلونگـــــو صـــــفت وايـــــه
خـــو د بنـــگ صـــفت نشـــه ده
دزلميانوپـــــه ايـــــن کـــــې
بنـــــه د پيغلوتماشـــــه ده

چـــه تـــالان پـــه کـــې د پېغلـــو تـــور وربـــل شي
بـــس داهســـې غنيمـــت زمـــا خـــوښ نـــه دی
کـــه حصـــول يـــې د سرو وينـــو پـــه قيمـــت وي
ددې حـــورو دا جنـــت زمـــا خـــوښ نـــه دی

خوځيـــدی نـــه شـــم دغمجـــال کـــې بنـــديم
روڼ قمـــريم خوچـــاپيره هـــال کـــې بنـــديم
چـــې شـــهبازمې د رنځـــورمطرب پـــه لاس کـــې
جـــوړ ربـــاب يـــم خـــوبې تالـــه تـــال کـــې بنـــديم

چېرتـــه بـــه خمارچېرتـــه بـــه نشـــې نـــه وی
هـــسې کـــه يـــودوه ورســـه پيـــالې نـــه وی
مـــا د تورلونـــګ پـــه صـــفت څـــه کـــول
ځوړنـــد لـــونګين کـــه پـــه ســـينې نـــه وی

مـــلا او ســـاقي دواړه د انګـــور د لانـــدې ناســـت دي
هـــسې يـــې پيـــالې پـــه مـــونږه مـــاتې کـــړې
نـــن پـــه رڼـــا ورځ مـــې ورتـــه لاس پـــه لاس کـــې وليـــد
هـــسې يـــې ډيـــوې پـــه مـــونږه مـــاتې کـــړې

پـه غرونو کې جنګ وکړو
پـه دشتونو کې جنګ وکړو
خوچې فتحه وشي واك دبل شي
اوخراب پـه کې کابل شي
دغرونو سختې تيره کړو
ګرمي اويخني تيره کړو
چې دښارشو
دبازارشو
اورحت شو
لرصحت شو
يوناځاپه ليوني شو
څه بې وخته سپېلنې شو
ښارخراب کړو
کارخراب کړو
رڼاګاني د ښار مړې کړو
ارزوګانې ديارمړې کړو
ګل راکوز کړو دوربله
لونګ کوز کړو دګوګله
درنجو خالونه وران کړو
هردلبر خفه له ځان کړو
بس ګټلې بريا بايلو
ښه غښتلې بريابايلو
جنګ کې ښه پـه اتفاق يو
دا اوس ولې پـه نفاق يو
ستانوم يوشی زمابل شی

څوک خوشال شي څوک مغل شي
څوک شي توره څوک ټوپک شي
جهان مونږه ته هک پک شي
تنګ نظري شوشدت کړو
کړۍ ماتې دوحدت کړو
یوکابل وې څووالیان شي
بیل بیرغ اوبېل نښان شي
ته وایي داباچا خراب دی
زه وایم داباچاخراب دی
دي سره ټول نظام خراب شي
ملت مات شي قام خراب شي
داوکړواوداوکړو
هرڅه دفناوکړو
راشي چې لږفکر دبقاوکړو
غم به دسبا وکړو
ډېرې قصې دي لیکل غواړي
دکاسولاندې کاسې دي لیدل غواړي
نورمې بس دی
دامې وس دی
د رښتیا مې خبردارکړي
په چل چل کې مې هوښیارکړي
که دافراط اوتندرفتار نه لاس ونه خلو
که د ډېرې تنګې لارنه لاس وانه خلو
تباه یوتبا کیږو
ددنیانه فناکیږو

چـــــې لايقـــــه دلـــــيلا دســــــپين ټترشــــــول
تورلونــــــګ دي پــــــه يوتاربانـــــدې پراتـــــه دي
پـــــه غوټـــــو د ســـــند دتلـــــه چـــــا راويســـــتل
مرواريـــــد دي چـــــې پـــــه هاربانـــــدې پراتـــــه دي
دلتـــــــه خلـــــــك لـــــــه ګلانـــــــومروردي
دکيکـــــــر[1]دونـــــــې خاربانـــــــدې پراتـــــــه دي
وريـــــې كړمـــــه دواده درك مـــــې نـــــه شـــــته
درانـــــه پيټـــــي مـــــې پـــــه ياربانـــــدې پراتـــــه دي
د جانـــــان دمـــــخ عـــــرق د عطـــــرو بـــــوى كـــــړي
ويـــــم شـــــبنم دې پـــــه رخســـــارباندې پراتـــــه دي
حيـــــدري ســـــتاپه شـــــعرونوكې شـــــفاده
كـــــوركمن دې پـــــه پرهاربانـــــدې پراتـــــه دي

وايـــــو چـــــې اتفـــــاق ښـــــه دى وروري ښـــــه ده
دمليتـــــو او د قومـــــو تـــــرمنځ دوســـــتي ښـــــه ده
د جهـــــل اونـــــاپوهى سره دشـــــمني ښـــــه ده
مينـــــه دمطـــــرب سره مينـــــه د مـــــالي ښـــــه ده

[1] کيکر يوونه ده چې اغزي لري

خـــه جـــواب بـــه دلـــیلا دګریـــوان وایـــم
د لونګـــــو دبـــــازاره چـــــې تــــش راغلــــم

زماقتـــــل نـــــو روا د عشـــــق پـــــه تـــــول دی
درنــــــدانود بنـــــداره چـــــې تـــــش راغلـــــم
د لـــــــیلا دپیکـــــــي ول تـــــــه ملامتـــــــه
د ګلونــــــودګلزاره چـــــې تـــــش راغلـــــم
شـــــکرانه مـــــې هســـــې ویوړلـــــه دربارتـــــه
دپیرانــــــو د ګفتــــــاره چـــــې تــــــش راغلــــم
شـــپه مـــې ټولـــه پـــه چرخـــولي (۱)کړلـــه تـــیره
شـــپه شـــوه تـــیره دســـهاره چـــې تـــش راغلـــم
یـــــاخزان اویـــــامې ژمـــــي کـــــې حســـــاب کـــــړه
دښایســـــته ښایســـــته بهـــــاره چـــــې تـــــش راغلـــــم
جــــلال کــــوټ کــــې بنګړیــــوالې ناســــتې نــــه وې
شرمنـــــده یمـــــه دښـــــاره چـــــې تـــــش راعلـــــم
وعـــــدې یـــــې ډېـــــرې وکـــــړې خونســـــیاوې
دامرصـــــیب ددربـــــاره چـــــې تـــــش راغلـــــم
کـــوم بخیـــل ســـړي پـــه بـــاغ کـــې پـــیره داردی
شرمنـــــده شـــــوم د مالیـــــاره چـــــې تـــــش راغلـــــم

د ژونـــــد چـــــاره مـــــې تراوســـــه ســـــمه نـــــه ده
حیـــــدري ســـــتا دشـــــعاره چـــــې تـــــش راغلـــــم

نـــــن دکــــــلي پـــــه چنـــــارکې مـــــزه نـــــه وه
پـــــه چمـــــن اوپـــــه ګلزارکـــــې مـــــزه نـــــه وه
ژردانـــــه دانـــــه لونـــــګ دلـــــونګین شـــــول
چـــــا پـــــیلي وه پـــــه تـــــارکې مـــــزه نـــــه وه
ســـــتنه نـــــه وه پـــــه اغـــــزي پیوندګندمـــــه
د کـــــم اصـــــل بـــــوټي خـــــارکې مـــــزه نـــــه وه
شـــــنه بنګـــــړي مـــــې وه پکـــــار دیـــــار مړونـــــد تـــــه
بنګـــــړي نـــــه وه ځکـــــه ښـــــارکې مـــــزه نـــــه وه
چـــــې دروخـــــتم بـــــې یـــــاره درکـــــې پـــــروت وم
کټـــــه نـــــن دې پـــــه چغـــــار کـــــې مـــــزه نـــــه وه
شـــــنه باغونـــــه دزیتونـــــو پـــــه بـــــاروتو لولپـــــه وه
لکـــــه دښـــــته پـــــه ننګرهـــــارکې مـــــزه نـــــه وه
څـــــه پـــــه لوڅوپوڅـــــوراغلم دیارځنـــــګ تـــــه
پښـــــیمانه شـــــوم پـــــه یـــــارکې مـــــزه نـــــه وه
د کـــــلي بنګـــــاوه کـــــوم بـــــې ګنـــــاه تیـــــاره کـــــړي
ځکـــــه نـــــن یـــــې پـــــه خمارکـــــې مـــــزه نـــــه وه
چـــــې یـــــوسرپکې د ظلـــــم حلقـــــه نـــــه شـــــو
نوحکومتـــــه ســـــتا پـــــه دارکـــــې مـــــزه نـــــه وه
چـــــې دوه ورونـــــه یـــــې پخلانـــــه کـــــړل ملګـــــرو
جرګـــــه مـــــار وه خـــــو ریبـــــارکې مـــــزه نـــــه وه
چـــــې ســـــینه دیارســـــورۍ نـــــه شـــــوه ملګـــــرو
دبنـــــو ولاړ قطـــــارکې مـــــزه نـــــه وه
حیـــــدري ســـــتا دګـــــذار ننـــــداره وکـــــړه
تـــــه کـــــم زورى خواغیـــــارکې مـــــزه نـــــه وه

تاکوکنــــــــارکرلي وه حــــــــاجي شـــــــولې
مــــــاچې لونــــــګ وکـــــرل کافرشـــــومه
کلــــه کلـــه خولـــه رانــــه بــــې واکـــه شي
ومـــــې ویـــــل رښـــــتیاکله پـــــه سرشــــومه

قـــديې لوړپـــه عمـــر پـــوخ بریـــره یـــې ســـپینه
خوپـــه عقـــل کـــې لاخـــام خـــوی د ماشـــوم دی
بـــس حســـاب پـــه ظـــاهر مـــه شـــه پـــه عمـــل شـــه
قاتـــــل هـــــم پـــــه ظـــــاهر بڼـــــه معصـــــوم دی

حقیقـــــــت راتــــــه پــــــه وروور ومعلــــــومیږي
د پــــــردې ترشــــــا رازونــــــه ښـــــکاره کیـــــږي
داجګــــــــړه د عقیــــــدې نــــــه ده ملګــــــــرو
د غټــــانو خلکـــــو جنـــــګ دي پــــه مـــــونږکیږي

د دوو صـــــــــــــــــــــــــیبانوجنګ دی
یوانګـــــــــور دی اوبـــــــــل بنـــــــــګ دي
مــــــــــونږ د دواړونــــــــــه بیــــــــــزاره
جنـــــګ بـــــدرنګ دی جنـــــګ بـــــدرنګ دی

صـــــيب بـــــې غمـــــه پـــــه خپـــــل كـــــوركې
مــــــــا او تاســــــــيځي پــــــــه اوركــــــــې
هغــــــــــوی يــــــــــوتيلي وهــــــــــلی
مـــــونږ اور خپوركړپـــــه هـــــر لـــــور كـــــې

پــــــــه يوكــــــــوركې وي دوه ورونــــــــه
كــــــــړي بــــــــدل ورتــــــــه فكرونــــــــه
چاتــــــــــــــه مــــــــــــــوټي اشرفي
اوچاتـــــــــه وركانـــــــــدي لعلونـــــــــه

صـــــــيبان ښـــــــه پـــــــوره هوښـــــــياردي
مطلبــــــــي دي پــــــــوه پــــــــه كــــــــاردي
چـــــې پـــــه هرميـــــدان كـــــې ګـــــوري
تابـــــه خپـــــل كـــــړي ښـــــه مكـــــاردي

كلـــــــــه وايـــــــــي عقيـــــــــده ده
وايـــــــــي تلـــــــــه يـــــــــې درنـــــــــه ده
پـــــــه همـــــــدې بـــــــه دې راګيركـــــــړي
دتـــــــــاريخ قصـــــــــه پرتـــــــــه ده

دوی ذهنونـــــــــــه غلامـــــــــان کـــــــــړي
یوکافربـــــــــــل مســــــــــلمان کــــــــــړي
ســــــــــــــــــــــــــــندونه ورسره دي
څـــــوك بــــــدان او څــــــوك نيكــــان كــــړي

هرڅـــــــه وكـــــړي لــــــوی كــــــمال كــــــړي
يــــــوحرام كــــــړي بـــــل حــــــلال كــــــړي
پـــــــــــه پســـــــــــتو پســــــــــتوخبرو
څـــــوك شـــــړی كـــــړي اوڅـــــوك شـــــال كـــــړي

چـــا لـــه جـــام چالـــه پيـــالي پـــه لاس كـــې وركـــړي
چـــا لـــه ښـــې اوږدې تســـپې پـــه لاس كـــې وركـــړي
شـــــيخ خوشـــــاله رندخوشـــــاله زه خفـــــه يـــــم
پـــه چـــل چـــل كـــې تومـــانچې پـــه لاس كـــې وركـــړې

جججج
څـــه كـــمال لـــري د تـــګ لارې كـــږې كـــړي
راپيـــدا پـــه مـــونږ كـــې هـــر ډول فتنـــې كـــړي
مـــونږه عقـــل كـــې بـــې شـــكه يـــوكمزوري
مـــونږه واچـــوي پـــه جنـــګ او دوي مـــزې كـــړي

آخـــــــــــري خـــــــــــــبرې دادي
د دښـــــــــمن طرحــــــــې رســـــــــوادي
مـــــــورږ روان پــــــه يـــــــوه لار كـــــــړې

پټـــــې ســــــترګې ومــــــه ښـــــاركې ګرځيــــــدم
نـــــاخبره پـــــه بـــــــازاركې ګرځيـــــــدم
نــــه بزازنــــــه مـــــې عطاركلــــــه ليـــــدلی
بـــــس د خلكـــــو پـــــه قطــــاركې ګرځيـــــدم
د بـــــــل دګوتــــــو زوروه چـــــــې روان وم
د تســــپې پــــه شـــــان پــــه تـــــاركې ګرځيـــدم
لكــــــه پرخــــــه د چربانــــــك سره عــــادت وم
پــــــه ګلپــــــاڼو پـــــه ســــــهاركې ګرځيــــــدم
زه ټپـــــه وم ديونســــــله بــــــل تــــــه پـــــاتې
پــــــه هنرپــــــه ايلـــــه زاركـــــې ګرځيــــــدم
زه بخـــــري پـــــه اســـــانه سره نــــــه مـــــرم
د ســـــــــكروټوپه انګــــــــاركې ګرځيـــــــدم
هســــــې بـــــدګمان پـــــه مــــا د زاهـــــد وشــــو
نورڅـــــــه نــــــه وه پـــــه خماركــــــې ګرځيـــــدم
اوس بلــــد شـــــومه د ښــــار هـــــره كوڅـــه كـــې
لټـــــوه مـــــې كلــــه كلــــه مـــــې خانـــــه كـــــې
كلـــــــه كيـــــــنم درندانوپـــــــه قطـــــــاركې
كلـــــه كلـــــه دپيرانـــــو پيرخانـــــه كـــــې

ورودانګـــــــه میـــــــدان د ســــــــړیتوب دی
د قــــام دی کــــه د ځــــان د ســـــړیتوب دی
د همـــــــه واړو افضـــــــله دا صــــــفت دی
کـــوم نـــوم چـــې پـــه جهـــان د ســـړیتوب دی
دا بـــاغ کـــه پـــه نرګســـو ښـــکلی ښـــکاري
پـــاس بـــام خـــو دریحـــان د ســـړیتوب دی
مـــاوکړه ورســـه ډېـــره نـــورمي بـــس دي
نـــور وخـــت خـــو د جانـــان د ســـړیتوب دی
قبـــول یـــې کـــړې ســـوالونه لویـــه خدایـــه
پـــه زړه چـــې یـــې ارمـــان د ســـړیتوب دی
ځوانـــــانو دا خوبونـــــه پرېـــــږدئ
داوخـــت اوس د هرځـــوان د ســـــړیتوب دی
بـــې لمـــره زنـــده ګـــي پـــه دنیـــا نـــه شي
دا لمـــر ځکـــه خـــتلی پـــه اســـمان دســـړیتوب دی
ټوپکـــه نـــور مـــې کوزشـــه د اوږونـــه
کتـــاب قلـــم ســـامان د ســـــړیتوب دی
زمـــا پـــه تبـــاهی کـــې سرلـــوړي چـــې د ځـــان وینـــي
دا خـــــومره بدنشـــــان د ســـــــړیتوب دی
حیـــدري چـــې د کتـــاب سره زنـــده ګـــي کـــړه
داخـــومره خـــوږ داســـتان د ســـړیتوب دی

زمــــــونږ د نـــــاپوهۍ ښـــــه ثبوتونــــــه ورسره دي
زمـــــــونږ د تیروتنـــــــــو ســــــــندونه ورسره دي
مـــــاچې یوتـــــه اوتابـــــل ډول تـــــه ګـــــډلي
دهغــــــــــو پــــــــوره فلمونــــــــــه ورسره دي

ځنـــــــې خلکـــــو د چنجوعـــــــادت اخیســــــتی
دکتــــــاب د پــــــاکو پـــــاڼو دښـــــــمنان دي
دا پـــــه مـــــونږده چـــــې دپاڼوحفاظـــــت کـــــړو
کتابونـــــــه رهـــــــنما د ټـــــول جهـــــان دي

ولـــــې د محفلـــــه مرورګرانـــــه پـــــه څـــــه شـــــولې
تـــه چـــې داینـــې پـــه ماتېـــدو دومـــره خفـــه شـــولې
زه بـــه دخپـــل قتـــل یولحظـــه درتـــه بیـــان کړمـــه
ســـاه چـــې مـــې وتـــه پـــه زړه مـــې تـــه شـــولې

بامونـــه مـــې د کـــلي دکتونـــو خـــالي مـــه شـــه
ګودرپـــه مـــازیګرکې د جنګونوخـــالي مـــه شـــه
ډک دي پـــــه انګــــــورو یاپــــــه بنګـــــو وي
کـــلي د پیـــالو او د جـــامونو خـــالي مـــه شـــه

د چــا پــه ارادوچــې ســاقي مــري اوجــام مــاتیږي
د چـــا پـــه ارادو چـــې دخوارانوبـــام ورانیـــږي
د چاپـــه ارادو چـــې د ننګرهـــارزیتون وچیـــږي
د چاپــه ارادوچـــې مکتـــب وران کتـــاب ســـوزیږي
د چاپــــه ارادوچــــې دپامیرهوســــۍ قتلیــــږي
د چاپــــه ارادو چــــې دکابــــل جونــــه زوریــــږي
د چاپــــه ارادوچــــې داواحــــدملت بیلیــــږي
د چاپــــه ارادوچــــې دوطــــن بچــــي ژړیــــږي
د چاپــــه ارادوچــــې درنجوغرونــــه نړیــــږي
د چاپــــه ارادوچــــې داوطــــن زمــــونږخرڅیږي
د چاپــــه ارادوچــــې څــــه منفورکارونــــه کېــــږي
زمونږپــــه ارادوبــــه د دې کــــلي نــــه ورکېــــږي
زمونږپــــه ارادوبــــه پــــه لمبــــوکې حریــــق کېــــږي
زمــــونږ پــــه ارادو بــــه یــــو واحــــد ملــــت جــــوړیږي

زماشـــــــعرکې دمـــــــات ربـــــــاب اواز دی
زماشـــــعرکې دخاموشـــــې شـــــپیلۍ ســـــازدی

زماشـــــــــعرکې ددردمنـــــــــــدوزړونو رازدی
زمـــــا شـــــعرکې د مینـــــې جینـــــۍ نـــــاز دی

زمـــــا شـــــعرکې د یـــــو وران کـــــلي انځـــــوردی
زمـــــا شـــــعرکې اواز د یـــــو رنځـــــوردی
مـــــا پـــــه خیـــــال کـــــي یوتصـــــویرځان سره راوړ
کـــــه یـــــې ګـــــوري دغـــــه لاس دیـــــومزدور دی

زماشـــــعرکې د یـــــوې بـــــورې مـــــور ژړاده
زماشـــــعرکې دیـــــوې کونـــــډې واویـــــلاده
هـــــره پیغلـــــه د یـــــو ورک جانـــــان پـــــه لټـــــه
ګـــــل مکـــــۍ کـــــه شـــــیرینۍ ده کـــــه لـــــیلاده

زماشـــــعرکې د یوســـــوې ګـــــلاب پـــــاڼې
چاویشـــــتلي دا د هســـــکو غـــــرو زاڼـــــې
چـــــې اوس مونږپـــــه کـــــاڼوولي
مونږټـــول کـــړي پـــه زولـــو کـــې ورتـــه کـــاڼې

دلتـــــه نښـــــې د پـــــردو دلاس د لمســـــونو
دلتـــــه نښـــــې د جـــــاهلو د فکرونـــــو
دلتـــــه نښـــــې د شـــــلیدلو ګریوانـــــو
خـــــو دا هرڅـــــه مـــــاویلي پـــــه شـــــعرونو

زماشـــــعرکې دبنـــــدي زلمـــــي فریـــــاد دی
بـــــې قصـــــوره بـــــې ګنـــــاه وه ماتـــــه یـــــاد دی
زماشـــــعرنه دیارنـــــه داغیـــــار دی
چـــــې چالوســـــتی هغـــــه ښـــــاد دی

زمـــــا شـــــعرکي اســـــیران ماتـــــه ژړیـــــبږي
چـــې پـــه یونـــوم اوپـــه بـــل نـــوم وژل کېـــږي
چاســـــــاتلي دادبدشـــــــګوم تصـــــــویردی
چـــې پـــه هـــره اینـــه کـــې ښـــکاره کېـــږي

زماشـــــعر د جهالـــــت پـــــه ضـــــدنارې دي
بـــــې دشـــــکه هوښـــــیارنوته خـــــورې دي
زمـــــا شـــــعر د کتـــــاب او د معلـــــم دی
زماشـــــعر کـــــې د مکتـــــب د زنـــــګ نغمـــــې دي

زمـــــا شـــــعر ټوکیـــــدلی پـــــه بیابـــــان دی
زمـــــا شـــــعر د خوارانـــــو تـــــرجمان دی
زمـــــا شـــــعرکې د شـــــمعو رڼاګـــــانې
چـــې روښـــانه پـــرې د هـــر ډګرمیـــدان دي

زماشـــــــعرکې خپلوورونوتـــــــه پیغـــــــام دی
ګـــــــورې ایښـــــــی دشـــــــمنانوموږته دام دی
دښـــــمن هیچاتـــــه غنچـــــې دګلونـــــه وړي
خوغـــــولیږي ملامتـــــه پـــــه دې قـــــام دی

ما په شعرکې د ظلمونو تشريح کړې
مادظلم دډولونو تشريح کړې
چې وسله دچا په لاس کې اوبل وژني
ما دجبردلاسونوتشريح کړې

که هرڅومره يادوم دژوند ناخوالې
که هرڅومره يادومه تالا جالې
پرې ډکېږي کاغذونه اوکتابونه
چې ليکم دژوند د هرډګر ناخوالې

د دې ستونزو څو د حل لارې لاشته دي
دزلفوتوره شپه کې د وربل لارې شته دي
حيدري په رباعي اونظم ديرنصيحت وکړ
پاتې دغزل لارې لاشته دي

زه د زلفو دارکې خوښ يم
زه لونګ يم تارکې خوښ يم
دجانان دپښو په ول وي (۱)
زه په هغه لارکې خوښ يم

۱ په ل – پل يا قدم

که څوخبرې د نوکر واورې
په شربه واورې که د شر واورې
د ورو خلکو مشورې وړې وي
په غربه واوړې که د غرواورې
د تورې شپې تورې تيارې شه ورکې
شپه به سهر شي که د لمر واورې
دځنو ځنونه به داغوره وي
چې خرسه کينې او د خر واورې
دزړه منل به دې مجنون کړي گوره
شې افلاطون به که د سرواورې
دخپلې لارې بيرته ونه گرځې
خيرکه خبري دخطرواوري
کابل خوران کړمونږ په خپلولاسو
اوس به گيلي دکوم گذر واورې
دشجاعت لاره به خپله کړي ټول
څووجيزي که دحيدر واورې
حيدري لاړشه دگودرپه طرف
چې څوټپې په مازديگر واورې

هسې ړندو ته چې بليږي ډيوه
هې بې ځايه به سوزيږي ډيوه
خوڅوك چې لارگوري اوځي په مخه
هغوته لاره کې مړه کيږي ډيوه

دمرغوپـــــه قتـــــل صــــيب راسره شريـــــك دي
چـــې پټـــي كـــي يـــي ددام اجـــازه راكـــړه
نـــن بـــه يـــارسره دســـپوږمۍ پـــه ننـــداره يـــم
چـــې دكـــټ يـــې پـــاس پـــه بـــام اجـــازه راكـــړه
څـــه مـــزه كـــړي چـــې د يـــارسره يـــې وڅكـــې
نـــن قـــاضي راتـــه دجـــام اجـــازه راكـــړه
ټولـــه ورځ مـــې يارتـــه تـــيره پـــه زاروكـــړه
ددیـــدن يـــې پـــه ماښـــام اجـــازه راكـــړه
نـــن زمانـــه ســـړیتوب پـــه چـــل كـــې اخـــلي
دشـــمن څكـــه ددشـــنام اجـــازه راكـــړه
جنـــازه دیارپوښـــمه پـــه ګلانـــو
پـــه جومـــات كـــې كـــه امـــام اجـــازه راكـــړه
زه پـــه لاره دخوشـــال او دخيـــام څـــم
كـــه مفتـــانو دكـــلام اجـــازه راكـــړه
دومـــره نازبـــه يارتـــه وركـــړم نـــازپروريم
كـــه جانـــان مـــي داكـــرام اجـــازه راكـــړه
حيـــدري خوځـــان ســـیځي جانـــان تـــه رسي
سروســـكروټو كـــه دګـــام اجـــازه راكـــړه

ما دژوندون اوږدسفر وهلی
څه مې په سمه څه په غر وهلی
ژوند په اسانه باندې نه تیریږي
هرې سختۍ ته مې ټټروهلی
یارته ورتلل دومره اسانه نه دي
د عشق سفرمې په هنر وهلی
ته پرې تیریږي افتخار پرې کوي
ما پوخ په لواړګي کې سنګروهلی
ډانګ مې په لاس کې نګهبان دکلي
ما دلیوانوپرې لښکروهلی
څه ته د شپې په انتظارپاتې شه
ماخوچکرپه مازیګر وهلی
په طوفاني کنډې پوریوتم
هري چپې سره مې ټکر وهلی
څه ښکلاګانې د تاشکند او کابل
هم مې قدم په لر او بر وهلی
دډیلي ښاره چې رایاد دې کړمه
تاکې مې مرګ سره ډغر وهلی
ته خوی تاب د ګرمۍ کله لرې
ما دلاهور مزل په لمر وهلی
سپین ږیری یمه خوملنګ د پیغلو
ماحیدري څکه هرور وهلی (۱)

شـــــــپه مــــــــېِ د يارپـــــــــه انتظـــــــــارتيره شي
ځـــــه پـــــه لمبـــــواو پـــــه انگــــــار تـــــيره شي
مــــــاچې ليدلـــــــــه کړېدمـــــــــه ورتـــــــــــه
سرکــــــــېِ گمنځـــــــه تارپـــــــــه تـــــــارتيره شي
لکــــــــه چـــــــېِ وڅکـــــــــي دشـــــــــاتومزه
کلـــــه چـــــېِ ژبـــــه پـــــه رخســـــارتيره شي
کلـــه چـــېِ تـــــن زماپـــــه تـــــن کـــېِ ورك شي
يوزلزلـــــــــــه د زړه پـــــــــــه ښـــــــــارتيره شي
نوروراتومـــــــــــــــه درواج بندونــــــــــــــــه
خيرزنـــــده گـــــي کـــــه مـــــي پـــــه دارتـــــيره شي
خــــــيردي زاهــــــده څــــــه گنــــــاه خونــــــه ده
کــــــه يوپيغلـــــــه پـــــــه دې لارتـــــــيره شي
نـــه بـــه مـــاتيرې نـــه بـــه څـــاڅکي تـــوی شي
ډکـــــه پيالـــــه کـــــه وارپـــــه وارتـــــيره شي
حيـــــدري غـــــوره زنـــــده گـــــي هغـــــه ده
چـــــــېِ پـــــــه عـــــــزت اوافتخـــــــارتيره شي

دبـــام پـــه سرداســـمان لانـــدې د ســـپوږمۍ رڼاتـــه
تـــه خوويـــده يـــې زه دې گـــورم دخـــولگۍ رڼاتـــه
هـــسې پـــه ســـتورو چـــې دعـــوه د رســـوايۍ ونکـــړې
ځـــان کـــې مـــې تـــاو او بيـــا راتـــاو کـــړه د ځـــوانۍ رڼاتـــه

بدکارونـــــه پـــــه اعتیـــــاد بانـــــدې بـــــدل شي
اوفاعـــــل یـــــې پـــــه معتـــــاد بانـــــدې بـــــدل شي

پـــــه اول کـــــې دلینـــــدۍ اوغشيـــــ ښـــــکار وي
وســـــله وال شي پـــــه صـــــیاد بانـــــدې بـــــدل شي
لـــــوي قاتـــــل او رشـــــوت خـــــوراو قاچـــــاقبروي
پـــــس لـــــه مرګـــــه ارواښـــــاد بانـــــدې بـــــدل شي
بې کـــــاري ترټولوبـــــد شـــــکل دکـــــار دی
ابـــــاد ژونـــــد یـــــې پـــــه بربـــــاد بانـــــدې بـــــدل شي
چـــــې دیـــــار دلـــــوري راشي زمالورتـــــه
لـــــوي طوفـــــان پـــــه نـــــرم بادبانـــــدې بـــــدل شي
کینـــــه ګـــــروي ژوندبـــــه ټـــــول پـــــه کینـــــه تیرکـــــړي
ښـــــاد زړګـــــی یـــــې پـــــه نـــــا ښـــــادباندې بـــــدل شي
چـــــې جـــــلال یـــــې تیـــــره کیـــــدي پـــــه تـــــاریخ کـــــې
د ښـــــار نـــــوم جـــــلال ابـــــاد بانـــــدې بـــــدل شي
دپیســـــوسره ډېـــــره مینـــــه بربـــــادي ده
افـــــراط کلـــــه پـــــه فســـــاد بانـــــدې بـــــدل شي

حیـــــدري شعرســـــمبال پـــــه قـــــافیوکړه
چـــــې محفـــــل کـــــې پـــــه ارشـــــادباندې بـــــدل شي

زما سترګې په کتلوستړې نه شوې
ستا دسترګوپه لیدلوستړې نه شوې

مازیګر کې د غوټۍ په شکل پایي
هرسحرپه سپړیدلوستړې نه شوې
چې قطره د پرخې راپریوزي
دا دشپې په وریدلوستړې نه شوې
دا دتور لونګ دانې څه بختوري
په سینو په څړولوستړې نه شوې
تورې زلفې دې د لوی کمال خاوندې
د سپین مخ په پټولوستړې نه شوې
د دې کلي پیغلې څومره کبرجنې
دزلمو په څورولوستړی نه شوې
مازیګرکې د ګودر په سرناتار وي
د منګوپه ماتولوستړې نه شوې
وای نه یې څکوپه جام کې د کلال
د پیالو په جنګولوستړې نه شوې

حیدري زه ستا لبانوته حیران یم
دسروشونډو په رودلوستړې نه شوي

مرغـــــۍ دبلـــــې مرغـــــۍ غبرګـــــه تلوســــــه وکړلـــــه
اجـــل نيـــولې دښـــکاري پـــه جـــال کـــې کښيناســـتله
اخرښـــــــيرې بـــــــه مـــــــې پـــــرې ولګيــــــبږي
چـــې بـــې لـــه مانـــه دچنارپـــه ټـــال کـــې کښيناســـتله
دلمرنـــــــه راغلـــــــه يوشـــــــغله ځمکــــــــې تـــــــه
تـــيره راتـــيره شـــوه د زنـــې خـــال کـــې کښيناســـتله
ټپـــــــه خوهلـــــــه راژونـــــــدۍ شــــــو خلکـــــــه
چـــې د منګـــي او دربـــاب پـــه تـــال کـــې کښيناســـتله

نـــن مـــې پيـــالې اوربـــاب دواړه د ريبـــاره غوښـــتي
خـــمارې ســـترګې اوځوتـــاره مـــې ديـــاره غوښـــتي
وايـــم چـــې لاره يـــي پـــه ګـــل پـــالېوفرش کـــړم
غنچـــې غنچـــې ګـــلان مـــې ځکـــه دګلـــزاره غوښـــتي
وايـــم چـــې ټـــول کـــلي بنګـــړي بنګـــړي شي
ځکـــه مـــې ټـــولې بنګړيـــوالې دبـــازاره غوښـــتي
د تـــن خـــولې بـــه دې د عطـــرو پـــه شـــان وســـاتمه
مـــا چـــې د عطـــرو بوتلونـــه دعطـــاره غوښـــتي
ښـــکلي خـــو ده چـــې نـــور هـــم ښـــکلي شي
دســــــينګار تـــــوکي مــــــې دښــــــاره غوښــــــتي

ړانده نه ښه ويني نه بدويني
نه د ژوندلاره اونه حد ويني
بازپه خپل ښکارپسې پروازکوي
نه خپل محيط اونه سرحدويني

په دي کلي کې خولږخلک هوښياردي
خداي وهلي جاهلان پکې بسياردي
دېرووازه خوله نيولې دوډۍ غواړي
خويوخوبېدې وهلي دي دکار دي

که غواړي چې کاميابه شي اوگټه وکړي
دشگوکورپرېږده خته به مه ته [1] وکړي
غصه اوقهربربادي راوړي جگړي زيږوي
که زمانه مني دبل چانه به لته [2]وکړي

د سروټيکه وي د زرگر دوکان کې
بوره پرته وي په هندوکان کې
د قدرځای به دې خپل وپېژني
بيسه تې [3]څه کوي دخان دکان کې

[1] مه ته يا مته خته چې دشگي په نسب قوي اودوام لرونکي ديوال تري جړېږي
[2] له ته يالته چې دتپوس يا پوښتنې په معنی دی
[3] بيسه تې يابيستې. لکه دخامتا په شان يوه پخوانۍ تيکه ده

که دې سرکښــــود دلاســــونومنځ کـــې
ځــــای بــه پیداکانـــــدي دزړونــــومنځ کـــې

زړه چــــې تنګیــــــږي پراخیـــــږي ښـــه دی
وینــــــه چـــــالان شي درګونـــــومنځ کـــــې
شي بـــــه دقتــــــل دالزامــــــه خلاصــــــه
نکریــــــزي کیــــده دکفونـــــو (1) مــــنځ کـــې
ځــــــه خوشـــــبیویي راتـــــه شــــمال راوړه
لکــــه چــــې اوســــې دګلونـــــومنځ کـــــې
ښـــــاره دشـــــور اوځــــوګ دې تـــــاب نلـــــرم
نوربـــــــه اوســـــیږمه دغرونــــــومنځ کـــــې
ماتـــــه مثـــــال دملغلـــــــرې لـــــــري
د یــــــار خولــــه درخســـــارونومنځ کـــــې
زمــــــاني دادې ځـــــه نــــــادوده وکـــــړه
چـــــې درزدې واچـــــاوه د ورونــــومنځ کـــې
واقعیتونوتـــــــــه بـــــــــه زیرهلـــــــــه شي
کـــــــه سردي کیښـــــــودزنګنونومنځ کـــــې
اخریوښـــــــــه فکربـــــــه درشي پـــــــلاس
کــــه فکروکــــړې د فکرونـــــومنځ کـــــې
حیــــــدري یـــــار درتــــــه ســــــنځلې راوړې
ځـــــه خوشـــــبویي ده دعطرونــــومنځ کـــــې

---

1 کف معني ورغوي لکه دلاس ورغوي

خپروخپـــرو قوموتـــه د وحـــدت شـــعرونه لـــیکم
د نفـــرت پـــه ضـــدولاړ د محبـــت شـــعرونه لـــیکم

نـــه بزګرشـــوې نـــه شـــپونکی نـــه کســـب ګرشـــوې
زه یـــي کارتـــه هڅومـــه دمحنـــت شـــعرونه لـــیکم
بـــس زمـــا د قلـــم نوکـــه دې ازاده ترقیامتـــه
چـــې همـــیش پـــرې دنهضـــت شـــعرونه لـــیکم
زمـــا د قلـــم نوکـــه خدایـــه ماتـــه قلـــم مـــات کـــړه
کـــه بـــه کلـــه دزبـــان اویادســـمت شـــعرونه لـــیکم
چاهنرپـــه پیســـوخرڅ کړجیـــب یـــې ډک شـــو
نـــه پـــه پـــول نـــه پـــه ثـــروت شـــعرونه لـــیکم
دتعلـــیم او د معلـــم او دکتـــاب سره مـــې جـــوړه
د وطـــن دابـــادۍ او د پیشرـــفت شـــعرونه لـــیکم
کلیـــوال یـــم اود کـــلي ژونـــدون مـــې خـــوښ دی
او د کـــلي پـــه دیروکـــې دخلـــوت شـــعرونه لـــیکم
هردیـــار تـــه پنـــاه ویســـم پښـــیمانه بیرتـــه راشـــم
پـــه دې ګـــډوډولارو د هجـــرت شـــعرونه لـــیکم
لـــږ پـــه دوه ټکوپـــوهیږم خـــو د ډیـــرو دعـــوه نـــه کـــړم
کلـــه کلـــه درنځونـــو اوصـــحت شـــعرونه لـــیکم

حیـــدري وایـــي دا مـــې عهـــد او پـــیمان دی
نـــور دجنـــګ نـــه د نفـــرت شـــعرونه لـــیکم

د خټوک وروم دپسخونه جوړوم
د چا دلاسه بې دیواله شومه

په بنګړیوالوشوبندیزکلي کې
زه دخپل کلي بنګړیواله شومه
ډومره به ژر دلوټیدلونه شم
ښه ده چې خیال کې دې ملاله شومه
کسب اوکمال رانه کابل کې پاتې
شومه سوالګره بې کماله شومه
د کلي ژوند دی په سبوتیریږي
خلاصه دغوښو دجنجاله شومه
یوه کوتره وم دباغه تللې
بیرته راوالوتم په ځاله شومه
ما د هجرت تودې سړې ولیدې
اوس خو په عقل ښه سمباله شومه
مانه مکتب کتاب معلم وه پاتې
اوس راستنه شومه برحاله شومه

خبرې ډېرې دي خولنډې بې کړم
دحیدري ښنګ کې خوشاله شومه

دســـترگونه د غـــلا مـــزه مـــې بیاچېرتـــه ونـــه لیـــده
ســـتا د شینکوســـترگو مـــې ادا چېرتـــه ونـــه لیـــده

پورتـــه چـــې اوربـــل کـــړې د ســـپین مـــخ څنـــې
بیـــا مـــې د ســـپوږمۍ د مـــخ رڼـــا چېرتـــه ونـــه لیـــده
ویشـــتله ښـــکاري ښـــکته راپریوتـــه دجـــالې نـــه
مـــایې د بچـــو دغـــه غوغـــا چېرتـــه ونـــه لیـــده
تـــاچې دچینـــې نـــه پـــه منگلـــومنگی ډك كړلـــو
مادغـــه مـــزه بیـــا پـــه دنیـــا چېرتـــه ونـــه لیـــده
څـــومره بختـــورووه پـــه ســـینوچې سرتـــه وختـــو
مـــا د ســـورمنگي دغـــه ښـــکلا چیرتـــه ونـــه لیـــده
نـــن زمـــونږ پـــه کـــلي کـــې غوغـــاوه د دا را پـــه مـــرگ
مـــا د خـــوار پـــه مـــړي کـــې ژړا چېرتـــه ونـــه لیـــده
خونـــــدکوي خـــــمارشي ســـــړی وخانـــــدي
مـــونږه پـــه مـــزه مـــزه خنـــدا چېرتـــه ونـــه لیـــده
راشي ښـــاماران اوغرڅنـــی دســـتوني تـــیرې کـــړي
مـــونږ ددې نـــه ســـتره نـــاروا چېرتـــه ونـــه لیـــده

وایـــي حیـــدري زمانـــه واوری یوپیغـــام د ژونـــد
مـــا د تقلـــب د نـــاروا د ژونـــد بقاچېرتـــه ونـــه لیـــده

منم چې ډم دی خوقاتل اوخونخوارنه دی
څه به گټي خوکیسه بر د بازار نه دی
نه یې ټوپک نه یې چاړه نه یې تلوار لیدلی
دسولې مل د جگړې ضد په چاد وارنه دی
حجره دکلي گردچاپیر کټونه پکې ستارغږوي
دا ژوندیې خوښ دی پرواگیره دښارنه دی
په لاره ځي ډېر په احتیاط میږی ازارنه شي
په خوی عاجز د نازسړی دی دازارنه دی
شپیلۍ وهي دغره مرغانو ورته غوږنیولی
ناز د مرغانو په لیمووړي خو دښکارنه دی
ډم دی منم یابه رباب یه به سیتارغږوي
غزلي وایي دایي کار دی دبل کارنه دی
خپل یې احساس دی خپل یې تال دی
په خپله لاره دې روان دچا په لارنه دی
منم چې ډم دی اونغمې غږوي شعروایي
خوپه تحقیر او په تکفیر کې لا دشمارنه دی

حیدري تاخوډېرصفت یې د هنر وکړو
داخولایقه دسروگلو دی د خارنه دی

چــــــې د اغزیــــــو لـــــو تــــــه لورجــــــوړوي
خدایـــه حـــداد(۱)مـــې بـــې ســـندانه مـــه کـــړې
کتـــــی (۲) کـــــلال زمـــــا دکـــــلي ښایســــــت
خدایــــه بامونــــــه بي ریحانـــــه مـــــه کـــــړې
مونږلمســـــــــــوي رول دابلـــــــــیس لوبــــــــوي
دغلـــــیم کـــــورمې بـــــې شــــیطانه مـــــه کـــــړې
چــــې کلـــــه کلـــــه پـــــه یارچـــــک لګـــــوم
دامســــته خولـــه مـــې بـــې دندانـــه مـــه کـــړې
چــــــــې سرې غـــــــاټولې دې کـــــــــبږې ولاړې
خدایـــــه دا دشــــــته بـــــې بارانـــــه مـــــه کـــــړې
د کــــــلي پیغلـــــې چــــې ګودرتــــه پـــــرې ځــــــې
پــــه ګلـــــوفرش کوڅــــه یــــې ورانـــه مـــه کـــړې
پـــــه چاخوښــــه پــــه چـــــاخو بـــــد لګیـــــږي
مــــــا پـــــه شــــعرونو بدګمانـــــه مــــه کـــــړې
حیــــدري ډېرســــــوالونه وکــــړه دایـــــې هـــــم ومنـــــه
یارپـــــه راکـــــړې خولــــه پښــــیمانه مـــــه کــــړې

چـــــې مـــــې د یـــــارمخ کـــــې غصــــه کمــــه شــــوه
ښــــه شـــــوه دمـــــخ نـــــه یـــــې لمبــــه کمــــه شــــوه
ســــــــاقي هرچاتـــــــــه ډک جامونـــــــــه ورکـــــــــړل
زمـــــــاچې وارراغـــــــــی پیالـــــــه کمـــــــه شـــــــوه
یـــــــــاخوګوړپز هنرکـــــــــې پـــــــــاتې راغـــــــــی
یـــــا پـــــه کنـــــوکې جـــــوړ خـــــوږه کمـــــه شـــــوه
اوس لـــــــونګین پــــــه ســـــــینه خوندنــــــه کـــــوي

پکـــــې د تـــــور لونـــــګ دانـــــه کمـــــه شـــــوه
کــــلي کــــې داکمـــــه شـــــوه داکمـــــه شـــــوه
کلـــــه بـــــه واورم چـــــې جګـــــړه کمـــــه شـــــوه
حيـــــدري چـــــاسره قطـــــارکې مـــــه ځـــــه
پـــــه غریـــــب جیـــــب کـــــې دې پیســـــه کمـــــه شـــــوه

ګـــــلان پـــــه دشـــــته کـــــې بـــــاران غـــــواړي
نـــــه دا چـــــې رعـــــد شـــــور فغـــــان غـــــواړي
تـــــه هـــــم بـــــاران شـــــه پـــــه قراروريـــــږه
ځمکـــــه هـــــم دادرنـــــه احســـــان غـــــواړي
بـــــاران چـــــې ورو وریـــــږي ښـــــه جـــــذبیږي
ځمکـــــه طوفـــــان ځنـــــې امـــــان غـــــواړي
خلکـــــوکي دادی یوخصـــــلت د ځمکـــــې
دتشـــــدد نـــــه خـــــلاص انســـــان غـــــواړي
تـــــه کـــــه هرڅـــــوك اوســـــې پـــــه هـــــر مقـــــام کـــــې
تانـــــه ښـــــه نـــــرم شـــــان زبـــــان غـــــواړي
د کـــــور د خلکـــــو دا ارزوپـــــه ژونـــــدکې
چـــــې د کـــــور مـــــشر مهربـــــان غـــــواړي
ګټـــــه یـــــې ډیـــــره وي نـــــاروغ تـــــه دتاوانـــــه ځنـــــې
بـــــیماران دغســـــې درمـــــان غـــــواړي
یوڅـــــوك یوڅـــــه غـــــواړي بـــــل نورڅـــــه غـــــواړي
یـــــو ښـــــوتنی درنـــــه ګریـــــوان غـــــواړي

چـــې شـــعر واورې اوعمـــل پـــرې وکـــړې
تاســـــونه دغـــــه شــــاعران غــــواړي
څـــومره چـــې لیکمـــه خـــلاصی یـــې نشـــته
ډېـــري نمـــرې مـــې شــــاګردان غــــواړي
پیغلـــې دې مســـتې دڅـــوانۍ پـــه اوج کـــې
پلاریـــــې ولاړ وي خوجانـــــان غــــواړي
دحیــــدري نـــه چـــې چـــازړه وړی دی
حیــــدري هغـــه شـــنه چشـــمان غـــواړي

چـــې دبـــازپنجې یـــې څـــټ کـــې ښـــځې نـــه شي
دچنچڼـــو د شـــوکارو بـــه څـــه جـــوړشي
چـــې یـــي فکـــر لـــوړپرواز تـــر غرونونـــه کـــړي
دوړو تنګـــو افکـــارو بـــه څـــه جـــوړشي
چـــې ګټـــل کـــوي خـــوړل اوبښـــل نـــه کـــړي
ددي کـــلي دمالداروبـــه څـــه جـــوړشي
نظرانـــه چـــې څـــوان تـــه نـــه ورکـــوي پیغلـــه
د سرو شـــونډو او درخســـارو بـــه څـــه جـــوړشي
مونږلاســـونه لپـــه کـــړي اوښـــیري کـــووغلیم تـــه
چـــې ګـــذارکولی نـــه شـــو دکوکـــارو بـــه څـــه جـــوړشي
باغـــدارۍ اومالـــدارۍ بانـــدې شرمیـــږي
د دې کـــلي د بـــې کاروبـــه څـــه جـــوړشي
د چلـــــم او تنبـــاکو او چرســـــوتاو یـــــو
دســـګرت او دنســـوارو بـــه څـــه جـــوړشي
حرکـــت زلمـــوکې نشـــته اوخـــاموشي ده
حیـــدري ســـتا د اشـــعاروبه څـــه جـــوړشي

کـــــــــبرجن بـــــــــه خـــــــــوارو زار وي
کـــــــه د کـــــــلي کـــــــه د ښـــــــار وي
پـــــــــه ظاهرکـــــــــه ورسره ښـــــــــه وي
زړه کـــــــــي هرســـــــــړی بیـــــــــزاروي
ګـــــــــــــذاره ورسره ګرانـــــــــــــه
دچاورورکـــــــــــه د چـــــــــــاپلار وي
کـــــــبر هرکاســـــــب تبـــــــاه کـــــــړي
کـــــــه طبیـــــــب وي کـــــــه عطـــــــاروي
علـــــــم اودیـــــــن بـــــــه پـــــــرې بـــــــدوایي
چـــــــي روان پـــــــه بـــــــده لار وي
پـــــــه خوارانـــــــوکبر مکـــــــوه مغـــــــروره
خپـــــــل اولاد بـــــــه دې بیـــــــا خـــــــواروي
کبرهیچابانـــــــــــــدې مکـــــــــــــړه
کـــــــه غریـــــــب اوکـــــــه مالـــــــداروي
تـــــن بـــــه یـــــې خـــــود د خولـــــو بـــــوی کـــــړي
چـــــې پـــــه بـــــاغ کـــــې دې مالیـــــار وي
حیـــــــدري کبرپـــــــه هیچـــــــا روانـــــــه دی
کـــــــه اغیـــــــاروي کـــــــه دې یـــــــاروي

کـــــــلي تـــــــه تلـــــــلي وم کوځـــــــووژړل
هـــــــم راتـــــــه خپلـــــــوهم پـــــــردووژړل
د چـــــــا د ســـــــترګونه ســـــــیلاب شـــــــوروان
چـــــــا پـــــــه درنودرنوســـــــلګووژړل

افتخار په تاریخونو
په جگړو او په جنگونو
څه به ځای دا افتخاروي
چې اولس دې خوارو زاروي
جنگ کې وران شو مکتبونه
اورکې وسول کتابونه
زه بې علمه ته مې مل یې
زه که ړوندیمه ته شل یې
په نس وږي اوبربنډیو
په قدونوباندې لنډیو
دتور سکورنه چې اوربل کړو
خپل تاوان ګټه دبل کړو
زه تباه شوم بل باچاشو
ژوند د بل مرګی زما شو
څوک چې جنګ جګړه روانه
هره چاره به وي ورانه
خلک ځي په مخ روان دي
خوساکنه افغانان دي
ځئ بدلون په ځان کې راوړو
اورغون په ځان کې راوړو
ځئ چې خپل کلي ابادکړو
خپل ژوندون په ښاد وښاد کړو

بیرتـــــــــــه راولــــــــــــو کــــــــــــــوترې
مــــــــــــروري چېرتــــــــــــه تلـــــــــــلي
حیـــــــــــــدري شـــــــــــعرونه لیکــــــــــــه
دوطـــــــــــــن دردونــــــــــــه لیکــــــــــــه

بنګـــــړي ورتـــــه راوړم خوبنجـــــاره کـــــلي کــــې نشــــته
بازارتــــه پســــې ځمــــه چــــې خــــورجین تــــه ورســــیږم
پــــه ځــــان مــــې قبــــول کــــړي د مچــــواغزي نیشــــونه
پــــه خیربــــه د سروشــــونډو ډک ګبــــین تــــه ورســــیږم
ددشــــت تــــبږي ګلونوتــــه بــــه لپــــي اوبــــه راوړم
پــــه لپــــوکې راوړم کــــه یوځــــل ســــین تــــه ورســــیږم
ځــــوک چــــې پــــه دوســــتی کــــې دشــــمني کــــړي
قاتــــل یــــم د مــــارانو کــــه اســــتین تــــه ورســــیږم
هنربــــه دغنچــــې د جوړولــــو چېرتــــه زده کــــړم
ګلــزار لــه بــه ورځمــه چــې ګــل چــین تــه ورســیږم
دمینــــي پــــه ګنــــاه مــــې ډېرځوانــــان دي قتــــل کــــړي
خــــدای خبرکــــه زه یــــې نــــور تکفــــین تــــه ورســــیږم
چــــې ډکــــې د اغــــزو وي پــــه هغــــولارو بــــه ځمــــه
نــــوري لارې ګورمــــه چــــې چــــېن تــــه ورســــیږم
وایــــې حیــــدري داس ســــورلي اســــانه نــــه کیــــږي
رکــــاب بانــــدې بــــه خیژمــــه چــــې زیــــن تــــه ورســــیږم

ونـــــه ومـــــه شـــــنه ومـــــه میـــــوه داره وم
ښـــــکلې وم ښایســـــته ومـــــه نامـــــداره وم
امیـــد د خلکـــو زړونـــوکې میـــوې تـــه وه
ډک مـــــې وه ښـــــاخونه اوبـــــارداره وم
ډېـــرې ونـــې څنـــګ کـــې بـــې میـــوې زمـــا
زه پکـــــې سرلـــــوړی وم نامـــــداره وم
څـــانګې د میـــوې مـــې ښـــکته ځوړنـــدې
ډکـــه دمیـــو او د دانـــووم ګلنګـــاره وم
بیـــامې مـــرض وکـــړو بې بي ثمـــره شـــوم
خلـــک ټـــول زمانـــه زه دخلکـــو مـــروره شـــوم

چـــې ګـــورم د اشـــنا د اوښـــکوڅاڅکي
پیـــل شي هـــم زمـــا داوښـــکوڅاڅکي
نـــن ډمـــه لکـــه لښـــته تاویدلـــه ژړېدلـــه
شـــمارل یـــې ورتـــه مـــا داوښـــکوڅاڅکي
څپیـــړه پـــه مـــخ وخـــوري چـــې حـــق غـــواړي
څڅیـــږي بـــه دسرګوخامخـــا داو ښـــکوڅاڅکي
هرڅـــوک چـــې ژړیـــدلي دي جفـــا ورسره شـــوې
چاکلـــه څڅـــولي پـــه رضـــاد اوښـــکو څـــاڅکي
مجنـــون بـــه خامخـــا پـــه صـــحرا سر وي
پـــرون چـــې یـــې لیـــدلي دلـــیلا د اوښـــکوڅاڅکي
داســـترګې همـــیش ژاړي دغمونـــو پـــه غمونـــو
حیـــدري بـــه کلـــه وینـــي دخنـــدا داوښـــکوڅاڅکي

د ځنـــګ نـــن مـــي بيـــا ديوچنارجنـــازه لاړه
دا چـــا پـــه اوږوويـــوړه پـــه تلوارجنـــازه لاړه
د ژمـــي يخـــه شـــپه يخـــه کوټـــه اوتنهـــايي وه
د شـــــپي دمســـــافرو پـــــه ســـــهارجنازه لاړه
د علـــم خـــــدمتګاروه انـــدېوال د معلمانـــــو
پـــه رښـــتيا چـــې ديارانونـــه د يارجنـــازه لاړه
منمـــه چـــې عـــاجز وه اوعـــاجز د دنيـــا تيرشـــو
پـــه ګڼوولولـــوکې يـــې ســـينګار جنـــازه لاړه
مغـــارف بـــه يـــې ويـــاړي پـــه رنګينوکردارونـــو
دپـــــوهې د ډګـــــر دخـــــدمتګارجنازه لاړه
حيـــدري بـــه څـــه ارام کـــړي پـــس لـــه دېنـــه
لونـــک دانـــه شـــوچې د تارجنـــازه لاړه

چـــې د تـــيرو پســـې لاړې هســـې هيروپســـې لاړې
اينـــدې نـــه دې ډارېـــږې هســـې ويروپســـې لاړې
چـــې هـــنر د مخکـــې تلودرنـــه هيرشـــوي نـــو دا ولـــې
مخکـــې بـــاغ د سرو انـــارو شـــاته بيروپســـې لاړې

ســـپوږمۍ د لمرنـــه رڼـــا اخـــلي چـــې رڼـــا پيـــداکړي
زلمـــي د شـــپي مـــزلي وکـــړي چـــې ســـباپيداکړي
غـــاټول دبـــاغ نـــه دفـــرارلاره پـــه دې ونيـــوه
لـــه قيـــده خـــلاص شي چـــه بيـــديا کـــړي

خیرکه هرڅه په ماکېږي
ژوند مې ښه که خرابیږي
په دنیامې پروانه شته
ابادېږي که ورانیږي
دلته گورمه گل تږی
باران ولې نه وریږي
ولې جنگ دکلي نه ځي
بیرته بیرته راستنیږي
دخوارانو وینې توی شوې
غټان نورپکي غټیږي
گونگسو دجنگ ته غوږیو
دا بدرنگې خولې خوزیږي
نابللي چې میلمه شو
چې بې سته پاتې کېږي
خدایه داسې ولې وشي
چې ډېروږي یومړیږي
دور تیر د غلامۍ دي
خو زمالونه خرڅیږي
د اغزوپالنه کېږي
خودگل پانې رژیږي
څوک یې نوم باندې کافرشو
څوک جامونه څکي مستیږي
چې زمونږ نه یې اخیستي
اوس په مونږه تقسیمیږي

په هنرغلاګاني کېږي
غل په غلاونه شرميږي
لږکنړته سربښکاره کړه
چې جوړپلونه يې ورانيږي
حيدري به رښتيا وايي
خيرکه سريي حلقه کېږي

بيا زمونږ دشوګيرونو نصيب راغی
بنګړيوالې چې په ښارکې راپيداشوې
عطرمه راوړه زلميه دعطاره
دلونګ دانې په تارکې راپيداشوې
که هرڅودي انکار وکړلو زاهده
د ګوټ نښې په خمارکې راپيداشوې
لکه ورانه شي ياري دڅوکلونو
د اغيار نښې په يارکې راپيداشوې
په هرکال کي پوست بدل کړي
د مارنښې په مارکې راپيداشوې
دملت د خزانې لالونه ورك وه
اخرخونه دښامارکې راپيدا شوې
بس دکلي مينه پټه وه رسواشوه
چې دټال نښې چنارکې راپيداشوې
حيدري يې په ليدلوليونی شو
دخولو نښې رخسارکې راپيداشو

کلـــه چـــې لونـــګ دانـــه دتـــاره ځنـــې ووځـــي
ولـــويرې پـــه ځمکـــه دقطـــاره ځنـــې ووځـــي
شـــمار دتســـپو کېـــږي خـــوچې تـــارکې وي
دتـــاره چـــې شـــوه بيلـــه نـــو دشـــماره ځنـــي ووځـــي

کـــه دبـــڼ مرغـــۍ دې ټـــولې پـــه ډز مـــړې کـــړي
دا د غرومســـــــتې تنــــــــزرې لاڅونــــــــدۍ دي
لاس دې برشـــو دچرګـــۍ ســـکاره دې مـــړه کـــړل
اوربليـــږي بيـــا د سره چـــې بخـــري لاڅونـــدي دي

چـــې نـــه مســـتي نـــه خوشـــالي اونـــه خمارپيـــژني
نـــه د بـــادي اوميکـــدې پـــه لـــوري لارپيـــژني
چـــالاس نيـــولی دجـــام وېـــش تـــه راوســـت
نـــه يـــي کلـــه کـــړي نـــه ليـــدلي نـــه داکـــارپيژني

ډېـــرې ځـــان ځـــانی سره ځانونـــه خلکـــو وخـــوړل
پـــه دې تنـــګ نظريونهضـــتونه خلکـــو وخـــوړل
تـــه پـــه کـــې فـــلانی شـــوې زه فـــلانی شـــومه
پـــه دې خوخپـــل ګوندونـــه خلکـــو وخـــوړل

رالويـــدلې د تـــاقچې يـــم مـــړه ډيـــوه يـــم
زه پـــه لاس کـــې د زاهـــد تشـــه پيالـــه يـــم
څـــو لحظـــوکې بـــه دغـــره د سره واوړم
مـــازيگر کـــې د افتـــاب زيـــړه شـــغله يـــم
د ســـــــــحرپيغام د چـــــــــرگ اذان سره راشي
چـــې د يـــار دغېـــږې څمـــه ديوانـــه يـــم
عمـــر لنـــډه دی ژرتيريـــږي پـــه يـــورپ کـــې
يمـــه پرخـــه پـــه گـــل پاڼولاپرتـــه يـــم
پـــه مســـتۍ مســـتۍ ســـاحل تـــه راروانـــه
دلتـــه ورکـــه شـــم د ســـيند مســـته څپـــه يـــم
ټولـــه ورځ مـــې شـــاکردانوسره الفـــت وي
خوجاهـــل سره چـــې کيـــنم ډېرخفـــه يـــم
پـــه کـــمال مـــې د پنبـــې نـــه تـــارراجوړکړ
دامـــنم چـــې د لرگـــي ســـاده څرخـــه يـــم
حيـــدري زمـــا پـــالنې تـــه شـــا نـــه کـــړې
ماپـــاللي اوس دې کـــورکي مېلمنـــه يـــم

ددردونـــوخزانې دي چـــې پرتـــې زماپـــه تـــن کـــې
نـــه يـــي غـــل وړي نـــه يـــې مـــاسره عـــلاج شـــته
د سر زورو خلکـــو درد د جهالـــت دوجـــي راشي
نـــه خـــويې نـــن اونـــه ســـباسره څـــه عـــلاج شـــته

دا دغـــــره د سر نښـــــتر دې پـــــه چـــــاخرځ کـــــړل
یـــــو خونـــــه وه سراسر دي پـــــه چـــــا خـــــرځ کـــــړل

ټـــــول بامونـــــه دې خـــــالي کـــــړه د لرګونـــــه
دروازې کړکـــــۍ او وردې یـــــه جـــــاخرځ کـــــړل
غرونـــــه غرونـــــه ټـــــول المـــــاس اوټـــــول لالونـــــه
ثروتونـــــه د دې غـــــردې پـــــه چـــــاخرځ کـــــړل
دسیندشـــــګې دې د شـــــګو پـــــه بیـــــه ورکـــــړې
پـــــه دې شـــــګوکې سره زردې پـــــه چـــــاخرځ کـــــړل
ډک خـــــورجین وه پـــــه ارزانـــــه پیســـــوخرځ شـــــو
بنجـــــاره سره ګـــــوهردې پـــــه چـــــا خـــــرځ کـــــړل
دا دې خـــــرځ کـــــړل دادې خـــــرځ کـــــړل
دومـــــره ډېرپـــــه کـــــوم هـــــنردي پـــــه چـــــاخرځ کـــــړل

اوس حـــــاجي شـــــوې اوس ملـــــک زمـــــونږدکلي
خپـــــل اعـــــمال پـــــه بحروبـــــردې پـــــه چـــــا خـــــرځ کـــــړل

یـــــو اولـــــس وه خـــــوفرقي راکـــــې پیداشـــــوې
ښـــــه خـــــواره وه خـــــوکینې راکـــــې پیداشـــــوې

ښـــــه ښایســـــته پـــــه اتفـــــاق وه ښـــــه خـــــواره وه
تنظیونـــــه شـــــوجګړي راکـــــې پیـــــدا شـــــوې

چې په خپله موښامارته په لاس ورکړي
نوچورشوخزانوته څه گناه ده
بينا خلك گمراه دي په غلطو لارو درومي
په دې کلي کې ړندو ته څه گناه ده
د دانه وښونه يې بچوته خونه جوړه
زه اوته يې بچې وژنوپرستوته څه گناه ده
د ساحل غاړه چې هيڅ مقاومت نه کړي
دې کې سيند دې کې څپوته گناه ده

هره خواچې لاړشم يوانځور مخې ته راشي
روغ چېرته ونه وينم رنځورمخې ته راشي
زخم وي د خلکو په پټه اودرمل جوړشي
زخمونه دوطن لکه ناسور مخې ته راشي

مونږ په خپله په ځان کړي
اوس پردوته ځه گناه ده
په جامونوڅکل رواج شول
نوپيالوته څه گناه ده

تــــورې خــــورې چـــې پــــه یاربانـــــدې انبــــارشي
د دنیـــــا پــــــه سریـــــې خـــــتم کاروبـــــارشي
هـــــسې خوشـــــې ریبـــــاري اوبـــــدبیني کـــــړو
قصـــــــه ختمـــــــه دریبـــــــاراوهم دیـــــــارشي
ځـــــي دخلکونـــــه د ژونـــــدلارې جـــــداشي
تورلحـــــدکې دې شـــــپي ورځـــــې اوســـــهارشي
همـــــــه واړه راســـــــتانه شي کورتـــــــه لاړشي
پـــه لحـــدکې بـــه نـــه څـــوک څـــه دچاپکـــارشي
څـــو ورځـــې خلـــک پورتـــه ښـــکته ځغـــلي
وروســـــــته هرســـــــړی روان پخپلـــــــه لارشي
یوکـــــال وروســـــته دې یادونـــــه افســـــاني شي
کـــه څـــوک تېـــر دي پـــه قـــبره اوپـــه مـــزارشي

کـــــلال دې مړکـــــړ اومنګـــــي دې مـــــات کـــــړل
اوس دې پــــه خپــــل قصــــورپوهیږې کــــه نــــه
زمـــا د کـــلي د ســـپین روبي مـــلا څـــه ګنـــاه وه
بـــې جنـــازې بـــه اوس ښـــخیږې کـــه نـــه
خپــــل باجــــه مارنــــه دې باجــــه واخیســــته
د پــــردې ســــازته اوس ګــــډیږي کــــه نــــه
ډیرعاشـــــقان دې ملنګـــــان کـــــړه خالــــــه
درنجوخالــــه اوس ورانیــــږې کــــه نــــه
خلـــک د ځمکـــې نـــه ســـپوږمۍ تـــه لاړل
حیـــدري تـــه اخـــر وینـــیږې کـــه نـــه

عاطفـــــــــــه وه کـــــــــــه الهـــــــــام وه
واقعیـــــــــــت وه کـــــــــه الـــــــــزام وه
خپلـــــــــه هـــــــم ورتـــــــه حـــــیران وم
عقـــــــــــل واړه مـــــــــــې تمــــــــام وه
ټـــــول بـــــدن یـــــې ســـــترګې ســـــترګې
هـــــره ســـــترګه یـــــې انـــــدام وه
یـــــــا اثـــــــر دیـــــــار دســـــــترګو
یـــــامې څکـــــلی چیرتـــــه جـــــام وه
چـــــې مـــــا ځمکـــــې تـــــه کـــــتلی
دیارکـــــــټ مـــــې پـــــاس پـــــه بـــــام وه
جـــــــه نصـــــــیب ددیـــــــدن نـــــــه وه
حیـــــــــدري لکـــــــــه سرســـــــــام وه

مـــــــــیرمن د ژونـــــــــد ملګـــــــــرې وي
خـــــــوږه وي خـــــــوچې غلـــــــې وي
شرچـــــــــــې یـــــــــې خصـــــــــلت وي
نـــــــوبس هرڅـــــــه یـــــــې بـــــــایللي وي

چـــــې غنـــــي وي اوســـــخي نـــــه وي
چـــــې پـــــه کـــــار دســـــړي نـــــه وي
څـــــه بـــــه ژونـــــدوي بـــــې لذتـــــه
چـــــه بـــــاده وي خـــــو ســـــاقي نـــــه وي

د خیرکـــــــــــــار ونـــــــــــــه وشي
کلـــــه کلــــــه شر او شـــــور کـــــېږي
تابـــــــه یــــــــوطرف نیـــــــــولی
کاربـــــه وشي پـــــه بــــــل لـــــورکېږي

پـــــه اعمالـــــوسره شـــــناخت دســـــړي وشي
پـــــه ظـــــاهره بـــــه ترخوخلـــــك غـــــولیږي
نـــــه دهقـــــان یـــــې نـــــه طبیـــــب یـــــی
ژوندبـــــــه څنګـــــــه ســـــــمبالیږي

چـــــې دې برخـــــه رســـــیدله دریـــــې نـــــه کـــــړه
د ســـــاقي نـــــه دې د جـــــام پوښـــــتنه وکـــــړه
کلامونـــــــه د صـــــــوفیانودې خوښـــــــیږي
خـــــیردی کلـــــه دخیـــــام پوښـــــتنه وکـــــړه

چـــــــــــې و یـــــــــــې سر د غوڅولـــــــــــو
مونږهماغـــــــــــــه نـــــــــــــازولو
وه دکـــــــــــــلي دشـــــــــــــړلو
مونږبـــــــه کورتـــــــه رابللـــــــو
دصـــــــوفیانوپه حلقـــــــه کـــــــې
دېرخـــــــه نـــــــه وه دلیـــــــدلو

خطاکېږي دهرانسان نه
هم د زاړه نه اوهم دځوان نه
دسورگلاب نه په شين گلشن کې
پاس په بلې د تور ريحان نه
ما وليدلې په زنده گۍ کې
کله زمانه کله جانان نه
چې خطاوکړي اصلاح يې نه کړي
تل به زوريږي دخپل وجدان نه
ديار د سترگوخطاوې ډېرې
کله دزيزموکله مژگان نه
خان اومزدورنه خطاوې کېږي
لږې مزدورنه ډېرې دخان نه
د هوښيارانو دخولې خبره
خاورې به اخلي دلوی ډېران نه
د چړ اوبه دي وړلی دې نه شي
ځان دې ساته دلوي طوفان نه
چې خطاوشي تجربه وشي
اصلاح په کارده اول دځان نه
چې سراسرظلم ته گورم
گيله مې راشي د ټول جهان نه

گټه به واخلو مه خفه کېږي
حيدري ستا د هربيان نه

پــــه تنهـــــاکې لاس مـــــې جوړکړلـــــه ټالونـــــه
اوس زانګــــي پــــرې مســــتانې زه خوشــــال یــــم

نــه مــې غــل باچــا ګــټلي نــه ټیکــه مــې کلــه وړې
ټــــولې لــــوبې مــــې بــــایللي زه خوشــــال یــــم
پــرون دصــیب حجــره کــې کبابونــه اوتیکــي وې
صــــیب خــــوړل مــــونږه کتــــل اوزه خوشــــال وم
دښــــوبدوتمیزمې کلــــه ونــــه کــــړد ملګــــرو
ښــــه مــــې پرایښــــي بــــد مــــنلي زه خوشــــال یــــم
پــرون مــې یومیــدان کــې مــداري پــه ګــډا ولیــد
مــــاهم ورســــه ګــــډلي زه خوشــــال یــــم
حیــــدري نــــه دمنصــــب نــــه د پیسوشــــو
بــــس چــــې ښــــکلي یــــې ســــتایلي زه خوشــــال یــــم

زه څوکیــــدار د نــــورو سر د نــــورو مــــال ســــاتم
زنګیــــږي یــــار دیــــار سره زه ورتــــه ټــــال ســــاتم
زمــــا خودنــــده دایمــــي ده حفاظــــت دنــــورو
ورځــــي هفتــــې میاشــــتې اوکــــال ســــاتم
دبــــــــاغ میــــــــوې د نــــــــازولوخلکو
زه ورتــه بــاغ کــې د میــوو نــه ډک نهــال ســاتم
زمــا دې بــدل شــوي لړیــاغي مــزاج پکــاردی
پــس لــه دې بــه ځــان او خپــل عیــال ســاتم

چېرته چې غم وي مونږ څېرو ورته
لکه داوښکو په ليموکې مړه شو

کله سيلاب اوکله تندر راشي
کله په اورکله اوبوکې مړه شو
مونږ چېرته بل لکه ډيوه نه شولو
دسپېلنوپه شان لوگوکې مړه شو
هرڅه مونږ کړي دي په خپله په ځان
چې د تنگ فکرزولونوکې مړه شو
کله مرگي راپسې کورته راشي
کله بهر په سنگروکې مړه شو
دجنگ لمبوته پتنگان شومونږه (۱)
وزري وسبځو لمبوکې مړه شو
کله قاعده کله قيام کې ولاړ
کله پراته په سجدوکې مړه شو
حيدري دومره يې په خوندمه وايه
ستا دغزل په زمزموکې مړه شو

---

[۱] په لمبو د پتنگ سېځل په پښتو شاعرۍ کې ډېره مروجه ده، خو د دې ساينسي او بيولوژيکي علت دادی چې پتنگان د لمر او سپوږمۍ د نور څخه په استفادې سره خپل حرکت ته دوام ورکوي چې دا يو طبعي حالت دی خو کله چې مصنوعي رڼاگانو لکه شمعې مخامخ شي، طبعي توازن دلاسه ورکړي، ځو ځله د شمې گرد چاپېره په سرعت سره تاو راتاو شي او وسوځي او ژوند دلاسه ورکړي.

د دروغو دوعدو نه دې رساجواب بهتردی
په ګډو وډو سريې خوصفا جواب بهتردی
وعدې د دروغو ورکړي کال اومياشتې
د مياشتوانتظار نه د سبا جواب بهتردی
دا ډېرې فيصلې د ريبارانوپه لاس وشوې
نوماچې درليږلي نو زما جواب بهتردی
کله ځراغ مړ وي ډيوه مړه وي تروږمې وي
دتورې تروږمې نه په رڼا جواب بهتردی
جوابونه مختلف وي خوسوال يو وي
د ډېرو جوابونونه خوستا جواب بهتردی
وايي حيدري تندی پراخ ساته جواب کې
دبدو خاطرو نه په مسکا جواب بهتردی

هوښيار مړشو يوبيړا سړی شتمن شو
باغ وچ شو خو د تيږو غر اوبلن شو
معيارونه چې تللي اوزان يې ورك شو
دچارك وزن معادل ديوه من شو

چې ښه خلك وي ناخوالوته سكوت كړي
د نا اهلو په رفتارشي ځان ثبوت كړي
خاموشي دناراواو سره بدتره ناروا ده
په بوكيانوبه احمق ګمان دتوت كړي

لمريوځل سره راخيژي مازيګرلويږي (۱)
هم دا قانون دی چې نه بدليږي
دژوند شروع لکه سحر کې د لمرختل دي
پايان دژوند په مازيګر لمر پريوتل دي
نه يې ختل زمونږ په وس دي
په دې پوهيږو هم دومره بس دی
لمرچې راخيژي څرېکه په غرکړي
سلام دغر هرمازيګر کړي
دژوندمسير دغرنه ياد کړه
د سولې خوند د شرنه ياد کړه
زما دشعر نتيجه داشوه
ژوندبه تيريږي نه راستنيږي
ميوه پخيږي دونې لويږي
پاڼې شي زيړې اخر رژيږي
حيدري ښه په دې پوهيږي

د جهــــل اوتــــورتم سره جګـــــړه اســــانه نــــه ده
د شــــپې سره دورځـــــې يارانــــه اســــانه نــــه ده
هرڅـــه بـــه نــارواکړي پـــه ســـبابه يـــې رواکـــړي
د هوښـــــياروپه ايـــــن دافيصـــــله اســــانه نــــه ده

[1] د لمر ختل او پرېوتل د ايو اوږد بحث دی، خو کله چې موږ د ځمکې هغه برخه کې .... چې لمر زموږ د سترګو پناه شي د لويدلو په نوم او کله چې بيا ووينو د ختلو په نوم يادوو.

د جهـــل سره جګـــړه ډېـــري پخـــې ارادې غـــواړي
دا ســـختې جګـــړې دي او اوږدې زمـــانې غـــواړي
فکـــر کـــې بـــدلون پـــه جبرنـــه کېـــږي ملګـــرو
دا کـــار د پـــاس د مـــاغ سره زمـــونږ فیصـــلې غـــواړي

نـــن مـــې نـــژدې ملګـــرو دروغ وویـــل
پـــه ښـــو الفـــاظو ښـــه یـــې روغ وویـــل
اعتبـــاردومره راکـــــې ورک شـــــولاړو
چـــې مـــا ماســـته ویـــل ده دوغ وویـــل

بې شـــوره زنـــده ګـــي پـــه مقـــبره کـــې زنـــده ګـــي
بـــې مـــوره زنـــده ګـــي کومـــه دېـــره کـــې زنـــده ګـــي
بې اهنګـــه زنـــده ګـــي پـــه مغـــاره کـــې زنـــده ګـــي
خـــوږه وي د کـــوچۍ سره خیمـــه کـــې زنـــده ګـــي

مرګـــه ګـــوره بـــې جانانـــه مـــې پـــرې نـــه ږدې
ســـوال مـــې کـــړی پښـــیمانه مـــې پـــرې نـــه ږدې
لکـــه ســـترګه یـــم د ســـپین اوتـــور نـــه جـــوړه
بـــې نـــرګیس اوبـــې ریحانـــه مـــې پـــرې نـــه ږدې

ماهله بایلوده چې وروسته پوه شوم
چې په لستوني کې مې ماردېره شو
له مورږ دې واخستلې خان شوې خانه
په خزانو دې اوس ښامار دېره شو
یوخوارخوکلی د نیستۍ پریښوده
لانورغریب شو چې په ښار دېره شو
د مینې زوره تاکي ځومره زور دی
چې یوپه دشت اوبل په دار دېره شو
حیدري دادې څه کمال وکړلو
دزړه دنیاکې دې یویار دېره شو

دا مه وایه لالاپرې خفه کېږي
اوکه دا وایې ملاپرې خفه کېږي
دا هسې څه دروغ خبره نده
دا دواړه په رښتیاپرې خفه کېږي

دلته خوټول کال باران ونه شو
په چېتر اوپشکال باران ونه شو [1]
څاځکي څاځکي کله راشي
سم سمبال باران ونه شو

[1] په چیتر : د حوت د میاشتې او پشکال د اسد په میاشت کې بارانې وختونه دي. البته دا مې د کلي د ماحول څخه اخیستی محلي اصطلاحات دي که د قیق نه وي، نو بخښنه غواړم.

پــــــــه چناربــــــــــه خــــــــاخکي شـــــــــوي
خوپــــــــه ټـــــــال بــــــــاران ونـــــــــه شــــــــو
د زلمــــــــــود زړه دعاقبولـــــــــــه نــــــــــه شـــــــوه
پـــــــه خوارانــــــو د وصـــــال بــــــاران ونــــــه شــــــو
بــــــې هــــــــنره زلمـــــــي ګــــــــرزي ډلــــــې ډلــــــې
پـــــه دي کــــــلي د کـــــــمال بـــــــاران ونــــــه شــــــو
حيـــــــدري بـــــــه د بدرنګونــــــــه رنـــــــګ اخــــــلي
دلتـــــــه کلــــــه د جـــــــمال بــــــاران ونــــــه شــــــو

ســــــــــــــــــــــــــاقي لاړو زاهدشــــــــــــــــــــــــو
دزاهـــــــــــد پــــــــه لاس کـــــــــې جــــــــام شــــــــو
خدايـــــــــــه هرڅـــــــــــه سرچپـــــــــــه شــــــــــول
درندانوبـــــــــــــــــــد انجـــــــــــــــام شـــــــــــــــو

چــــــــــــــې رښـــــــــــــتياخبره وکـــــــــــــــړم
مســــــــــــــخرې پــــــــــــه مــــــــــــاشروع شي
څـــــــــوک يــــــــې نــــــــه منــــــــي ملګـــــــــرو
او دعـــــــــــــوې پــــــــــه مــــــــــــاشروع شي
نـــــــــــــور دليـــــــــــــل ورسره نـــــــــــــه وي
خوقصـــــــــــــــې پــــــــــــه مــــــــــــاشروع شي
خـــــــــــو رښـــــــــتيامې لکــــــــــه لمـــــــــرشي
پلوشــــــــــــــې پــــــــــــه مــــــــــــاشروع شي

یو بدلون په ځان کې هست کړه
دکاروان سره ځان پیوست کړه
کله سیند په غاړه کېنه سیند ته ګوره
ځان د موج په شانې مست کړه

نن که یوه ده خوسبا بیلېږي
زمونږ به لاره خامخا بیلېږي
یار دې وه وژني زه یې بله کړمه
توري تیارې به د رڼا بیلېږي

دښکلوتاب په چاکې نه شته
عامي کې نه شته ملاکې نه شته
چې رخسارګورم ورته رپیږم
دصبرتاب په ماکې نه شته
زاري کوي اوګوټ ترې غواړي
دجام انکارپه تاکې نه شته

دخبرو ترکولو هنرښه داوریدلو
کمال یادکړه د خبرو دتللو
داحمق سره دبحث اړتیانشته
توان خولري د پاڅېدلو

کـــــارزمونږه نــــه اولـــــه کـــــې خطـــــا شـــــو
چـــــې دتخـــــم انتخـــــاب کـــــې وارخطاشـــــو
دخطمـــــې پـــــه ځـــــای اغـــــزي کروپـــــه بـــــاغ کـــــې
پـــــه خپـــــل لاس یـــــې پـــــه رمبـــــي کروپـــــه بـــــاغ کـــــې
للـــــون وکـــــړو ځـــــان خـــــولې کـــــړو
اوچـــــې ســـــتړي شـــــوګیلې کـــــړو
انتظـــــام د اوبـــــه خـــــوریې پـــــه اخـــــلاص کـــــړو
سره اخلـــــود پیســـــونه پـــــرې ځـــــان خـــــلاص کـــــړو
بـــــوتي ســـــترشي ګـــــلالی شي
خوګـــــل نـــــه نیسيـــــ اغـــــزی شي
بیاغصـــــه شـــــو لـــــور راواخلـــــو
ارام پریـــــدو شـــــور راواخلـــــو
دنیـــــالګي ریبـــــل شروع کـــــړو
د اغـــــزي ریبـــــل شروع کـــــړو
ځـــــانګې لوکړوســـــته پریـــــږدو
ګـــــوتې لـــــوکړو متـــــه پریـــــږدو
ســـــته کـــــال تـــــه بېرتـــــه شـــــنه شي
دناســـــورپخه دانـــــه شي
چـــــې شروع د کارناســـــمه
وي د تللـــــو لار ناســـــمه
نواخرپـــــه بـــــدانجام شي
دخـــــراب انګـــــور نـــــه جوړبـــــه خـــــراب جـــــام شي
بیـــــا خفـــــه شـــــو یـــــو قســـــمت زمـــــونږخراب دی

یـــا د ځمکـــې جنســیت زمـــونږ خـــراب دی
کلـــه وایـــو چـــې پـــه سرو کـــې فســـاد دی
اســـتعمال یـــي لازم نـــه دی مضـــاد دی (۱)
کلـــه کلـــه پـــه حکومـــت انتقـــاد وکـــړو
پـــه شـــاهي پـــه جمهوریـــت انتقـــادوکړو
خـــوچې کـــوم ځـــای کـــې خطـــاوه
غلطـــــــي زمااوســـــــتاوه
یادونـــــه یـــــې مونږنـــــه کـــــړو
ســـــمونه یـــــې مونږنـــــه کـــــړو
دا پـــــــه نظـــــــم یوقصـــــــه وه
وه وړه خوښـــــــه درنـــــــه وه

څـوك زماجیـب څـوك مـې ځـولۍ تـه ګـوري
څـوك مـې سـاعت اوڅـوك ګـوتمۍ تـه ګـوري
دلتـه د نـورو وصـفو قـدرکم دی ښـه پـوهیږي
څـوك دې پیسـوڅوك دې ځـوانۍ تـه ګـوري

څـیروم یـې خپـل ګریـوان نـه پیـژنم
پیـالې پـه انګـوکـې د جانـان نـه پیـژنم
دا چیرتـه لـونګین پـه سـینه ځوړنـدکړم دیـار
د سـپینې غـاړې لانـدې سـپین میـدان نـه پیـژنم

[1] مضاد – تقابل یا تضاد

چـــې لمرســـــپوږمۍ دواړه اســـــمان کـــې ګـــوري
د شـــین اســـمان داســـې رنګونـــه کلـــه کلـــه راځـــي
یوخــــوا جـــوار ولاړ وي بـــــل خــــواغنم لـــــوکیږي
د جـــدا وخـــت یوځـــای فصـــلونه کلـــه کلـــه راځـــي
هســــــــې د خـــــــوب لیـــــــدل وه تېرشــــــــولاړل
د نورســــــتان دامنظرونـــــــه کلـــــــه کلـــــــه راځـــــــي
مونږتـــــه للـــــوکې پیغامونـــــه د خوبونـــــو راځـــــي
د پاڅیدلوپیغامونـــــــه کلـــــــه کلـــــــه راځـــــــي
پـــــه هرکتـــــاب کـــــې مـــــې د جنــــګ افســـــانې
دلتـــــه د ســــــولې کتابونـــــه کلـــــه کلـــــه راځـــــي
حیــــــدري ټــــــول عمربــــــې شـــــمعې ویــــــده
دزنــــې خـــــال لانــــدې خوبونــــه کلــــه کلــــه راځــــي

گرځـــــــي راګرځـــــــي زمـــــــا کورتـــــــه راشي
دنــــابللي شــــور اوشرنــــه مــــې ګــــیلي وکــــړې
پـــه جـــلال کـــوټ کـــې څـــونیزې راښـــکته
ډېـــره ګرمـــي ده ځکـــه لمرنـــه مـــې ګیلـــې وکـــړې
چـــې تـــرې پناشـــولې د ســـپوږمۍ پلوشـــې
ځکــــــه د غرنــــــه مــــــې ګیلــــــې وکــــــړې
لایــــق یــــې نــــه وه خوپــــه سریــــې کړلــــه
دچـــــا د سرنــــــه مــــــې ګیلــــــې وکــــــړې
چـــې بـــې لـــه ســـوچه ځـــي د جنـــګ میـــدان تـــه
د لــــــر او بــــــر نــــــه مــــــې ګیلــــــې وکــــــړې

شـــپه شـــوه اوږده اوســـحرانه غللـــو
ناوختـــه راغـــی د ســـحرنه مـــې ګیلـــې وکـــړې
پـــه احساســـاتو زلمـــي جنـــګ تـــه بـــوځي
ســـتا د ســـنګر نـــه مـــې ګیلـــې وکـــړې
چـــې نـــه کتـــاب منـــي نـــه علـــم نـــه بـــدلون منـــي
هرڅـــه منکرنـــه مـــې ګیلـــې وکـــړې

زمـــا د کـــلي ورانیـــدو کـــې خـــو د بـــل لاس دی
خوڅـــه ناڅـــه پکـــې زمـــا د بچوخپـــل لاس دی
لا د پخوانـــه مسلســـله دلتـــه روانـــه داســـې
چـــا د پخوانـــه ننـــه ایســـتی دلتـــه بـــل لاس دی

دوه ورځـــې دنیـــاده پیـــداده اوفنـــاده
نـــه زمـــا پـــه ټیکـــه ختـــې نـــه زمـــاده اونـــه ســـتاده
راشي بیرتـــه لاړشي وایـــم پـــاتې د هرچـــا ده
د دوو حجـــرو مینـــه د بشرـــد ژونـــد بقـــا ده

پـــه واحـــده لاره ولـــې مـــزل نـــه کـــړو
دالفـــت پـــه فلســـفه هـــم عمـــل نکـــړو

دســـاکن پـــاتي کیدونـــه لـــذت اخلـــو
چـــې د اولـــې حرکـــت تـــه تکـــل نکـــړو

پــــه نفــــير[1] کـــې غېـــږه ورکــــړې دا د مينـــې انتهــــاده
ژونــــد د مينـــې نـــه شروع شي انګـــازه يـــې د وفــــاده
د دې ځمکـــې پـــه مـــخ اوســـودا زمـــونږه سرپنــــاده
دا دځمکـــې نعمتونـــه کـــه اوبـــه دي کـــه هـــواده
خومـــونږاورپکې بـــل کـــړی د جګـــړو پکـــې غوغــاده
دلتـــه تـــوپ اوطيـــارې دي دا بـــاروت بلـــه بـــلاده
تـــه شـــه زه او زه بـــه تـــه شـــم داخـــبره مـــې رســـاده
يـــو وجـــود يـــو يـــو بـــدن يوبېلـــول پکـــې جفـــا ده
حيـــدري ملنـــګ د مينـــې اوپـــه مينـــه کـــې ښـــکلا ده

خـــــوك د ډنمـــــارك خـــــوك د کابلــــــه راشي
داســــــې وختونــــــه کلــــــه کلــــــه راشي
دپــــــسرلي ښــــکلي بادونـــــه کلـــــه کلـــــه راشي
زمـــــا دکــــــلي نــــــه ګلونـــــه کلـــــه کلـــــه راشي
خــــــورږ مـــــازيګر اوســــــحرونه کلـــــه کلـــــه راشي
ترڅوبـــــه لـــــيکم دابـــــه کلـــــه دابـــــه کلـــــه راشي
پـــــه حيـــــدري داســــــې شـــــعرونه کلـــــه کلـــــه راشي

[1] –نفـير دښځوژژدتناسـلي الـې هغـه برخـه ده چـې د نرسـپرم او د ښـځې تخمـه سره يوځـای کېـږي اوالقـاح صـورت نيسي۔ د جوړښـت لـه نظـره تغير د تخمـدان او د رحـم تـرمنځ واقع دی. کلـه چـې موپـه ۱۴۰۲/٦/۱٤نيټه دسي شنبي په ورځ دنورستان سفر پيل کړمشکل خوخونده ورسفروه

نه په حسن کې د شمار دي
نه بانه دي نه رخسار دي
په یوه لاره مونږ سره نه ځي
ډېر مغروره دنیادار دي
هامیانې ورسره ډکې
تش روان د ډک بازاردي
نه د شرنګ اونه د ترنګ دی
بې تارونومات سېتاردی
نه دجام نه د پیالې دي
میکده کې پیره دار دي
تل په کبرپه قیام کې
د سجدوځنې بیزار دي
قافله چې ځي بیده وي
چې روانه شي بیدار دي
حیدري لنده یې وایه
دلته نښې د ښامار دي

ډېوه خونه یم چې خاموشه سوځم
اونه پتنګ یم چې بې هوشه سوځم
زه چې سوځېږمه تیارې وژنم رڼا خپروم
هسې د خلکو په نظرکې فراموشه سوزم

شـــیرین عمـــر د جګــــړو پــــه اورکــــې تېرشــــو
د راکټودبمونــــــو او توپونــــــو شــــــورکې تیرشـــــو
زه ناپوهـــــه تـــــه ناپوهـــــه یارنــــاپوه دامنمــــــه
تـــول قـــوت موپـــه بـــې ځایـــه زورکـــې تیرشـــو
لــــه مشرــــقه ترمغربــــه لــــه شــــماله ترجنوبــــه
څــــه انــــداز و چـــې کنـــړ اوغـــور کـــې تیرشـــو
څــــه هنـــــداري سرچپـــــه وي اوڅـــــه مـــــونږه
ســـپین تصـــویر و او بـــدل پـــه تـــورکې تیرشـــو
نــــه مــــې ځـــوان اونـــــه بـــوډا لاره پیـــــداکړه
تـــول ســـفرمې پـــه بـــې لارې لـــورکې تیرشـــو
غریبـــی اونـــاپوهی د حیـــدري چـــاپیرکې کرځـــي
تـــول ژونـــدون یـــې بـــس پـــه فقـــر پـــورکې تیرشـــو

مـــونږه تـــول د محبـــت د کمالونـــو نـــه منکریـــو
د یـــار دیـــار موخـــوښ دی خـــو د تللونـــه منکریـــو
بـــری او ناکـــامي د هـــرې پېښـــې سره ملګـــري
تصـــــورکې دبـــــایللوخو ګټلونــــــه منکریــــــو

طبقـــې لـــه کومـــه راغلـــې سرمـــایې لـــه کومـــه راغلـــې
د چاجیـــب تـــش بـــل تـــه پیســـې دکومـــه راغلـــې
تـــه انســـان یـــې زه انســـان یـــم بـــل انســـان دی
ماتـــه دردماتـــه مـــرض تاتـــه مـــزې لـــه کومـــه راغلـــې

یو دبنګړو خوراك او بل په قبربنګړي
یوې د یار له غمه مات کړه د صبربنګړي
چاویل د یار دلاسه څومره یې ونازوم
بیا یې په متوکړل څومره په قدربنګړي

د سترګوقتل مې کتوکې د یار یادکړ
دامې دیار نه د هنرڅه کاروبار یاد کړ
د ژوند هنرمې په سختۍ زده کړو
څه مې دکلي څه د ښار تېر یاد کړ

کله خوقتل پاس په داروشي
کله مرګونه په سنګسار وشي
ماخوقتلونه داسې هم ولیدل
چې په ښو او په رخسار وشي
کارونه سم به شي په لاره به شي
کاږه کاته کله مې د یار وشي
مینه خوهله لوړ معیارته رسي
چې د یوزړه نه بل ته لاروشي
اخربه داکلي زرغون شي بیرته
که لږعزت یې د مالیار وشي
تللي کوترې به بیا بیرته راشي
که څه خدمت ددنګ چنار وشي
تېې خوهله مزه دارې راشي
چې ورسره غږدې له زاروشي

پـــه زړه کـــې رحـــم مـــې د یـــار رانغـــی
کلـــه مـــي ځنـــګ تـــه پـــه قراررانغـــي
زه پـــه غرمـــوکي دځـــان ســـیوري تـــه ناســـت
پـــــــه ماخوســـــــیوري دچنـــــــارراتغي
ماتــــه شـــوي دام پکــــي راګیرشــــومه زه
ماتـــــــه پـــــــه لاس دزلفوتـــــــاررانغي
هسيــــــ دي مـــــات کــــړه داوبــــوخمان وه
دمیکــــــدي نـــــه څـــوك خماررانغـــــي
وایـــــي اغـــــزي د ګـــــل بـــــلا اخـــــلي
کلـــه خوګـــل سره داســـې خـــار رانغـــی
ټـــال مـــې پـــه لوړچنـــارکې واچولـــــو
خـــود زنګلـــو مـــې پـــرې وارانغـــی
مـــــاکلی پرېښـــــوده دښـــــارپه تمـــــه
کـــــڼه پـــــه سرمخـــــې تـــــه ښـــــاررانغی
حیـــــدري څـــــومره دې تمکـــــین کولـــــو
ګـــــوره کـــــوم خپـــــل دې پـــــه مزاررانغـــــی

چـــاکره چـــې بـــې ســـته ســـتانه نـــه شـــئ
چېرتـــه چـــې بـــې قـــدره میلمانـــه نـــه شـــئ

ژبـــــه پښـــــتوزده کـــــړئ اولادونوتـــــه
ګـــــوره تربګنوتـــــه پښـــــتانه نـــــه شـــــئ

متــــل دی چـــې دبــــل پــــه لاس مارمــــه وژنـــئ
چـــې مــــاران خـــوري هغـــه ښـــامارمه وژنـــئ

مســـتي کـــوترې دې د بـــاغ زمـــا دکـــلي ښــــکلا
هـــم یـــې پـــه دام هـــم یـــې پـــه ښـــکارمه وژنـــئ
یارتـــه یـــې وکتـــل پـــه ســـترګوکې د ســـترګولاندې
ســـترګې نـــاداني پـــه وړه ګناخویارمـــه وژنـــئ
د مینـــې جنـــګ دی ښـــه پـــه نـــره یـــې وکـــړئ
جنـــګ کـــې بانـــه وریځـــې رخســـار مـــه وژنـــئ
اوس چـــــــې کړیـــــــږو د منصـــــــور د قصـــــــو
نورعشــــقان دلتــــه پــــه دار مــــه وژنــــئ
د یارســــــلام چــــــې درتـــــــه کورتــــــه راوړي
نـــــور دشـــــیطان پـــــه نـــــوم ریبارمـــــه وژنـــــئ
چــــې پــــه جنــــت کــــې یــــې ویــــالې روانــــې
دلتــــــه پــــــه یوګــــــوټ یوخمارمــــــه وژنــــــئ
خلکوتــــــه ګــــــوره د هرڅــــــه نــــــه منکــــــر
خــــــوار او غریـــــب پـــــه یوانکارمـــــه وژنـــــئ
پـــــه یـــــوه ســـــپیره ټـــــول پوســـــتین مـــــه ســـــیځئ
ټـــــول کـــــلی مـــــه وژنـــــئ اوښـــــارمه وژنـــــئ

حیـــــدري وایـــــي یـــــوقلم لـــــرم لیکـــــل کومـــــه
پـــــــه دې ګنـــــــاه ماګناهګارمـــــــه وژنـــــــئ

نـــــه پـــــه فـــــارسي نـــــه پـــــه پښـــــتوپوهيږي
نـــــه پـــــه غـــــزل نـــــه پـــــه ټپـــــو پـــــوهيږي

نـــــه د خوشـــــال پـــــه غـــــيرتي شـــــعرونو
نـــــه د الفـــــت صـــــيب پـــــه نثروپـــــوهيږي
نـــــه د ســـــعدي لـــــه گلســـــتانه خـــــبر
نـــــه د خيـــــام پـــــه كنـــــاروپوهيږي
شـــــاكره ســـــتاگيله هـــــم سرپـــــه ســـــترگو
داخلـــــك كلـــــه پـــــه گيلوپـــــوهيږي
ســـــاقي پـــــه دې رندانوخـــــه ملامـــــت
چـــــې نـــــه پـــــه جـــــام نـــــه پـــــه پيـــــالوپوهيږي
چـــــاترې اخيســـــتې ارزښـــــتونه د ژونـــــد
غاصـــــب سره كلـــــه پـــــه جگـــــړو پـــــوهيږي
كمـــــيس بـــــه خـــــيرې ترلمنـــــې پـــــورې
خـــــو چـــــې پـــــه خـــــيرو گريوانوپـــــوهيږي
كتـــــاب قلـــــم اومكتـــــب پـــــاتې دي نـــــه
دې پـــــه ټوپـــــك اومـــــرده كوپـــــوهيږي

پـــــه خپـــــل همـــــت پـــــه خپلوپښـــــوولاړيم
زه مـــــزدورۍ تـــــه پـــــه ســـــاعتو ولاړيـــــم
د ننگرهـــــار گرمـــــي قبولـــــه مـــــې ده
پيټـــــى چلومـــــه پـــــه غرمـــــوولاړيم

توراڼکه
دچنارپه څانګه ناسته
نه ارام کړي نه یې ملاسته
ورځ یې ټوله نارامه
دښکاري دبده کامه
توریې رنګ اوږده لکۍ ده
توره ټوله ګلالۍ ده
اوري راوړي پښتونخواته
ژمی یوسي بلې خواته
هرسحرسندرې وایي
په هنرسندرې وایي
په سندروکې لذت دی
پکې درس د محبت دی
د ژوندون سندرې وایي
دسمون سندرې وایي
لږوخت پاتې وي اذان ته
پیغام راوړي هریوځوان ته
خامخاکړي اوازونه
چې راویښ کړي اولسونه
چې شپونکي له خوبه پاخي
ګلالی له خوبه پاخي

ځـــم دبـــدلون پـــه لـــوري ګـــام اخلـــم
د تېرتـــاریخ نـــه بـــه الهـــام اخلـــم
خلـــك لګیـــادي ســـیم اوزراخـــلي
زه صراحـــي ســـاغر او جـــام اخلـــم
دیـــاغیتوب پتـــه ددې نـــه لګـــي
دیارنـــه خولـــه سرماښـــام اخلـــم
پـــه ماګـــذار د هـــرې خوانـــه وشـــو
زه بـــه هریونـــه انتقـــام اخلـــم
چـــې کـــړم جامونـــه تقســـیم
پـــه میخانـــه کـــې یومقـــام اخلـــم

ماتـــه د لـــوړې د زغملونصـــیحت کـــوي تـــل
ځـــان تـــه د زرو د ګټلونصـــیحت کـــوي تـــل
ځـــان تـــه ژونـــدون غـــواړي بریـــا غـــواړي
مونږتـــه د نـــورو د وژلونصـــیحت کـــوي تـــل

دلتـــه جـــذبې شـــته خونـــاره پـــه کـــارده
ځـــه د اظهـــارخو وســـیله پـــه کـــارده
کـــه مـــو نـــور وس دځـــه شي نـــه رســـیږي
دوخـــت باچانـــه خوګیلـــه پـــه کـــارده

داځنې نښې په جانان کې ښې وي
دګلوخانګې په ګلدان کې ښې وي
اوښکې محفوظې په چشمان کې ښې وي
چې میلمنې شي په ګریوان کې ښې وي

هرسړی روان دلته په خپله لاروان دی
زه په بله لاره اویارپه بله لاروان دی
په دې کې اغزي شته هم ګلان شته
څوک اغزوکې په پاګله راروان دی

د فرهاد او شیرینۍ قصه دپندده
دعبرت ده او دمینې ده د خوند ده
شیرینۍ ده چې یادیږي هرمنزل کې
درباب نغمه کې نغښتې بندپه بندده

د مینې دانجام قصه په څه باندې ختمیږي
په بدکارسره که په ښه باندې ختمیږي
فکر وکړه بیاجواب ددې بیت راکړه
چې خواږه انګور ترخه باندې بدلیږي

د دې کلي دف نوازې (۱)ښځې څه شوې
په ښاديو کې ښيرازې ښځې څه شوې

وه پرې گرم مجلسونه اتڼونه دخوښيو
سره لاسونه اوممتازې ښځې څه شوې
په ښايست کې يې د گل سره سيالی کړه
دغه زاڼې زرکې بازې(۲) ښځې څه شوې
نيمه شپه کې چراغدان (۳)سره ملگرې
دابشاشي داايازي (۴)ښځي څه شوي
په پاکۍسپيني هيلي په قدلوړي ترهيليو
غټې وي داقازي(۵) ښځي څه شوي
داعتماداودباورپه پسول (٦)سمبال وي
دارښتيني اوهمرازي ښځي څه شوي

حيدري څومره وصفونه دي بيان کړل
دباتوري اوسربازي ښځي څه شوي

۱ -ده ف ديرال يه چمبه – د ف نوازې هغه ښځې چې چمبه وهي.

۲-بازي هدف تري باښه ده چې دباز دکورنۍ سره تړاولري

۳–چراغدان کله چې دواده نه يوه ورځ مخکې جوړه يارخت چې دناوي لباسونه اونور.... پکې وي دښځوپواسطه دريا په وهلوسره دناوي کورته ويوړل شي په همدغه شپه بيا ښځې په لگن اويابل کوم مناسب ظرف کې دشونتۍ دلرگوسخه اوربلوي اوډشپې ناوخته يې په سازاوپه سرود دنکريځوسره دناوي کورته وړي چې دچراغدان ورته وايي

۴–اياز درروشن اودرخشان معني ورکوي يعني روشانه اوځليدونکي ښځي يوروايت دادي چې ايازترکي لفظ دي

۵–قازه دهيليو يوه نوعه ده جه بدن اوغاړي يې ترهيليوغټې وي

٦–پسول گاڼې

فقـــیره زنـــده ګـــي مـــي ددولـــت نـــه هـــم خـــوږه ده
نیســـتیي راتـــه دکـــلي دثـــروت نـــه هـــم خـــوږه ده
لـــړ کـــوچ اولـــږه ګـــوړه یوپیالـــه بـــه سره اوړه وه
جـــوړه بـــه حلـــوا شـــوه دشربـــت نـــه هـــم خـــوږه وه

بـــیمار ومـــه دمـــه مـــې د لـــیلا پـــه غیږکـــې وکـــړه
وړه شـــانې دمـــه وه دصـــحت نـــه هـــم خـــوږه وه
داځـــه جـــادو اثـــردی کـــه تعویـــذدی پـــه ماشـــوی
غصـــه مـــې د جانـــان د محبـــت نـــه هـــم خـــوږه وه

ســـاده د چیـــټ جـــامې بـــه یـــې بـــه تـــن وي ( [1] )
داپیغلـــه مـــې دکـــلي د خلقـــت نـــه هـــم خـــوږه وه
وړانـــدې پـــه دره کـــې د بانـــډې خلـــک فرارشـــول
دا پـــه کـــې دیـــره وه د هجـــرت نـــه هـــم خـــوږه وه
حیـــــدري د کـــــلي مینـــــه د خوبانوپټـــــه کېـــــږي
پټـــه شـــوه دشرمـــه نـــود پـــت نـــه هـــم خـــوږه وه

[1] چیت : د ښځو د لباس د پاره ساده او ارزانه رخت ده.

لـــــبړي بــــه مـــا ډېـــرې بـــه تاوويـــــل
ســــتا هرســـــتم تـــــه مـــــې وفاوويــــــل
ســــتاپه كـــــلام بــــه وه د شــــپې يادونـــــه
مـــــا هرپيغـــــام كـــــې د ســـــبا وويـــــل

پــــه ماپســـې خـــبري پــــه اشـــنا پســـې خـــبرې
كېـــــبړې دې دنيــــاكې پــــه هرچاپســـــې خــــبرې

پــــه يارپســـې خـــبري پــــه اغيارپســـې خـــبرې
خـــبر د ځانـــه نـــه يـــې كېـــبړي تاپســـې خـــبرې

زماپــــه مټــــوكېږي اوزمـــا پـــه ضـــدجګړه ده
فنـــا تـــه بـــه مويـــوسي دبقـــا پـــه ضـــدجګړه ده
بـــدرنګوخلكو راوړه پـــه بدرنګــــه لاره راغلــــه
برنګـــې ارادې دي د ښـــكلا پـــه ضـــد جګـــړه ده
د شـــنوكو تـــرو د خلـــوت قصـــوته غوږنـــه نيســـو
مـــونږه د مينـــې محبـــت قصـــوته غوږنـــه نيســـو
هرڅېرتـــــــه اورو د اللــــــه د عذابونوقصــــــې
مـــونږ د اللــه د مرحمـــت قصـــوته غوږنـــه نيســـو

کـــــه لـــــږ فکـــــر دې زماوينـــــا تـــــه وکـــــړي
توجـــــــه مــــــو د بچوســــــباته وکـــــــړې
د تـــــــورتم نـــــــه دوتلـــــــولاړې گـــــــورې
اميدونـــــــه د ســـــــحر رڼـــــا تـــــه وکـــــړي

يارېـــــــــــه وي اوجـــــــــــام بـــــــــــه وي
څـــــــه ښـــــــکلي ماښـــــــام بـــــــه وي
زلفـــــــــې دلـــــــــيلا پـــــــــه مـــــــخ
ټـــــــــال بـــــــــه وي اودام بـــــــــه وي
عطريـــــــــې د تـــــــــن خـــــــــولې
څـــــــه ښـــــــکلي مشـــــــام بـــــــه وي
اوس يـــــــــي د څنگلـــــــــې وخـــــــــت
خـــــــوښ يـــــــم چـــــــې مـــــــدام بـــــــه وي
څـــــــوک چـــــــې ورتـــــــه وگـــــــوري
ټـــــــول خلـــــــک سرســـــــام بـــــــه وي
څـــــوک چـــــې يـــــي زغمـــــی نـــــه شي
انشـــــــــالله ناکـــــــــام بـــــــــه وي
څـــــــــوچې غـــــــــمازان راځـــــــــي
کـــــــــار د يارتمـــــــــام بـــــــــه وي
تـــــــــن د حيـــــــــدري بـــــــــه وي
گـــــــل بـــــــه وي گلفـــــــام بـــــــه وي

داڅه توره ده څه ننگ دی
په مشکڼه زمونږجنگ دی
دوړوکي کور ترمیم کړو
خولوی کلی زمونږ ړنگ دی

په سترگو ړوند ترسترگوره جاهل ښه دی
منصف وایي یوځل نه سل ځله ښه دی
ای کابله تاپه دې حالت چې گورم
وایم دوزخ له اوسني کابله ښه دی

نه روغ یم نه ناجوړه
نه بوډایمه نه ځوان یم
دې حالاتوداسې کړی
ارام نشته سرگردان یم

هغه ښه دي چې وطن پرې ابادیږي
هغه ورک شه چې وطن پرې بربادیږي
ځي چې لپوکي اوبه لمنې ډکې کړو د خاورو
چې خاوره او اوبه وي نوتخمونه زرغونیږي

پــــــــه کــــــــلي کــــــــې ځــــــــواني وه
نیســــــــــــــــــــتي وه خومســــــــــــــــــتي وه
رانجــــــــــــــــــــه ودنداســــــــــــــــــــه وه
خوپــــــــــــه پیغلــــــــــــوکې ســــــــــــیالي وه

زه ځــــــــــــــــــــوان وم ګرځیــــــــــــــــــــدلم
او د پیغلــــــــــــــــــو ځاریــــــــــــــــــــدلم
زه هــــــــــــــــم بي متــــــــــــاع نــــــــــــه وم
او د پیغلوخوښــــــــــــــــــــــــــــــــــــیدلم

مـــــــــا یـــــــــې ســــــــینوسره جنــــــــګ لیــــــــدلی
مــــــــــــاچې تورلونــــــــــــګ لیــــــــــــدلی
چــــــــــــې ځوړنــــــــــــدپکې ټــــــــــــال وه
ماچنــــــــــــاروه دنــــــــــــګ لیــــــــــــدلی

مــــــــا لیــــــــدلې وې د پیغلوهســــــــکې غــــــــاړې
ښــــــــکاریدلې تیرولــــــــې چــــــــې بــــــــه یــــــــې لاړې

راپــــــــه یــــــــاد چــــــــې شي وختونــــــــه وه اوتېرشــــــــو
زه ژړیــــــــږم اوښــــــــکې تــــــــوییږي ســــــــترګې ژاړي

غریبــــــي وه نـــــه پـــــه غـــــاړه دجاهــــــار و
نـــــه نقـــــره وه نـــــه طـــــلاوه نـــــه ســــنگار و
خوژونـــــــدون و حرکـــــــت و مکتبونــــــه کتابونــــــه
مالــــــداري و دهقــــــاني وه کســــــبگرو کاروبــــــارو

دســــــت اورد چــــــې یــــــې ښــــــه نــــــه وي
داعمـــــــل چـــــــې ښـــــه ونـــــه گڼـــــي انســـــانه
چــــــې تراوســــــه دې خــــــه کــــــړي فکروکــــــړه
تــــــرې راضي یــــــې کــــــه پــــــه کړویــــــې پښــــــیمانه

تــــــه وایــــــي داغلــــــیم مــــــې مــــــات کــــــړ
زه وایــــــم داغلــــــیم مــــــې مــــــات کــــــړ
پــــــه ظــــــاهره داســــــې ښــــــکاري دامنمــــــه
دامــــــات نــــــه شــــــوخوبدن ســــــلیم دې مــــــات کــــــړ

تاجــــــک لــــــه قهرمــــــانو عــــــزت واخیســــــت
پښــــــون لــــــه بــــــاتورانوعزت واخیســــــت
دوطــــــــــــــــــــــن ټولوقومونــــــــــــــــــــــو
دخپــــــل قــــــوم لــــــه عزیزانــــــو عــــــزت واخبســــــت

دوطن پېغلې يې نوم پسې خفه دي
اوبه وچې په ډك خم پسې خفه دي
چې سوره ناوې سوره جانان ته يوسي
مستې پېغلې داس سوم پسې خفه دي

دوطن پېغلې ما اوتامحرومې کړي
دامو ولې له خندا محرومې کړي
په ماضي کې هم په حال کې يې يوحال دی
په قسم چې مونږرښتيا محرومې کړي

مونږه ټول خو د وطن دابادۍ سندرې وايو
غم دي ورك شي د ښادۍ سندري وايو
په دې ښارکې چې رباب نه پيداکېږي
بې ربابه دمستۍ سندرې وايو

چې د فکرپه نړۍ کې بدلون راشي
ورسره به زنده گۍ کې بدلون راشي
تنګ نظر او تنګ فكرونه تنگې لارې
په دې کله به نړۍ کې بدلون راشي

پـــه پیالوبانـــــدې شرع وه جـــام تــــه ورســـــیده
د بنـــګ نشـــه ســـحرشروع وه شـــام تـــه ورســـیده
ســـاده مرغـــۍ وه د دانـــې پســـې روانـــه شـــوله
دام کـــــې بـــــه ګـــیرشي دام تــــه ورســــیده

پـــــه هرڅـــــه کـــــي انتخــــاب پکــــاردی
انتخـــــاب هـــــم دښــــه کتــــاب پکــــاردی
میلمـــــــه دې څـــــوك دی دعـــــوت کورتــــــه
زړوتــــه پوســــت شـــامي کبـــاب پکـــاردي [1]

نــــــری پشـــــم بـــــاران اویـــــخ بادونــــــه
خدایـــــه راولـــــې ننګرهارتـــــه دا وختونـــــه
نـــه بجلـــۍ اونـــه ســـولرته حاجـــت منـــد یـــې
درتـــــه یـــاد کانـــدي دکړنـــګ ژمـــي خوندونـــه

د لونګوبــــــــــوی تــــــــرې راغــــــــــی
مــــــــایې شـــــــــونډې ښـــــــــکلولې
د انګـــــور اوبــــه تــــرې تــــوی شـــــوې
چــــې پــــه خولــــه کــــې مــــې زبیښــــلې

[1] شامي کباب اصلاً دشبانه دفارسي کلمي سخه اخستل شویدي چې دکفتي دغوښې څخه جوړیږي اودتیکه کباب په نسبت نرم وي

لوته ږدو اوپرې تيريږو
واورپه وارپه خوړکې لويږو
د خوړ دې غاړه ولاړيو
له سفره پاتې کيږو

دگريوان په ځای مغزوکې فکر وکړئ
د دماغ دبيلوبرخومرکزوکې فکروکړئ
هغه وکړئ چې يوځه خوپه لاس درشي
نور د گل په کروندوکې فکر ورکړئ

د لنډ مهال دامن فايده نشته
دا د بلې زوره ورې جگړې پيل دی
په وږو خولو به يې کله حل راوځي
بيا دغتې خوله ورې جگړې پيل دی

په اغزوکې چې گلفام غواړي
لکه بوکيانې نه بادام غواړي (۱)
ځای د خوږو اود ترخوثابت دي
ياردساغره نه خوږجام غواړي

[۱] بوکيانه چې شانډی هم ورته وابې ادومرخټې ياعناب په شان ميوه نيسي خو خوړلو وړ نه وي

تاسوچې ملاح لرئ تاسوچې سفان لرئ (۱)
تاسوښه کشتۍ لرئ تاسوښه ایمان لرئ
تاسوښه محکمه اراده باور په ځان لرئ
تاسود سفر لپاره ټول اړین شیان لرئ

ګله چې کشتۍ په سمندرنه کړي
نه به حرکت نه به سفر وکړي
ولاړه به ساحل کې په کلونو وي
نه به سیل د بحرنه د بر وکړي

یه حیدري مست شه په څپو ورځه
نیغ په گردابونواوطوفانو ورځه
کله د ډار ن نه مشوره مه اخله
نورچې ځي زما په مشورو ورځه

شاو خوامې د کاذیوخلکوباب دی
ژوندون د فریبونو یودریاب دی
دې غنچې د کاغذي گلونوجوړې
په ظاهره یې هرگل لکه گلاب دی

---

۱ سفان کشتۍ جوړونکي اوچلونکي
ملاح کشتي چلونکي

د بـــاطن د زنـــده ګـــی نـــه څـــوک خـــبر وي
د دنیـــا ژونـــدون یـــي ښـــه پـــه اب وتـــاب دی
دچاغـــاړه کـــې ښایســـته پـــه عـــزت پـــروت دی
نـــه اوازکـــړي اونـــه ســـازکړي مـــات ربـــاب دی

عشـــق کـــاذب دې واقعـــي نـــدی ملګـــرو
لکـــه اوړي کـــي چـــې هرطـــرف سراب دی

لمـــر دڅمکـــې نـــه پـــه ســـل کرتوســـتردی
چـــې مثـــال یـــې دیـــو کـــاڼي او د غـــر دی
لمررڼـــــــاده اولمرزیږنـــــــده د ژونـــــــد ده
پـــه مونږســـیوری نورپـــه تولـــه دنیـــا لمـــردی

زمـــــــا لعـــــــل د بدخشـــــــان دی
مشـــــــهوره پـــــــه جهـــــــان دی
زمامـــــــال دی زمانـــــــه دی
چـــــــې پردوتـــــــه اویـــــــزان دی

زماپیغلوپـــــه چشـــــمان لیـــــدلی نـــــه دی
دوی پـــه غاړوپـــه ګریـــوان لیـــدلی نـــه دی
نـــن راووځـــي دکانـــه ســـباورك شي
ماپـــه لاس کـــې د جانـــان لیـــدلی نـــه دی

رنګـــــــین کـــــــمان ښــــــکاره شـــــــو
څــــــه زیبانشـــــــان ښــــــکاره شـــــــو
لکــــــه ایـــــرو داســــي پــــــه نـــــاز راتـــــاووه
ډېرښایســــته وه پـــــه اســــمان ښــــکاره شــــول
د نـــــور وړانګــــوسراسر یــــاري پخــــه کـــــړه
د ځــــاځکو سره لمــــر یــــاري پخــــه کـــــړه
د لمرنـــــور دې د اوبــــو د قطـــــرو تیرشــــــو
رڼــــايي شــــو او بــــاران د خلکــــو هېرشــــو
دا نمــــــاد دروشــــــنایی دی اوخــــــدايي دی
دا نمــــــاد دطبیعــــــت د زیبـــــــایی دی
زیبــــــا دې خــــــــو زود د ګــــــــذره
ســــــیل یـــــــي وکـــــــړه نـــــــازپروره
دي رنګونـــــه یــــــې د بـــــاغ دګلابونــــــو
ترجمـــــــه ده دجانـــــــان دښایســـــــتونو
ماشـــومان دکــلي وایــــي دبــوډی پــه ټــال بــه زانګـــو
درنګینوابریشمواوښــــادی پـــــه ټــــال بـــــه زانګـــــو
شــــاعروايي ښــــاپیری بــــه پــــرې زنګیـــــږي
مخلوقـــــات دي نـــــوراني بـــــه پـــــرې زنګیـــــږي

یوخـــــودداه چـــــې بي وزلــــه یوخــــواران یـــــو
بلـــــه دا چـــــې هــــنر نلـــــرو نــــادان یـــــو
مــــــونږ د ژونــــــدد حقیقـــــت نـــــه نــــاخبره
مــــــونږه هربهیرکــــــې اوښـــــکې دګریــــوان یـــــو

سـتـرګوکې ځـای نـه شـوم
دبڼـو پـه سريـې پـاتې شـوم
ګنـده يـې دکمـيس نکـړم
لاړم دسـينوپه سريـې پـاتې شـوم
اوبښکه شـومه تـوی شـومه
سـمه اننګوپـه سريـې پـاتې شـو
پېغلـې کبرجنـې زه ملنـګ يمـه
غـل ددروازوپـه سريـي پـاتې شـوم
ګرځمـه تـاويږم چـې نظرنـه شي
اور د سـپېلنوپه سريـې پـاتې شـوم
يمـه کشـمالي بـې قـدره نـه يمـه
پـاس دوربلوپـه سريـې پـاتې شـوم
ډېـره پـه زبيښـلومې خولـه کړلـه
نښـه دخولوپـه سريـې پـاتې شـوم
زه حيـدري ټولـه شـپه بيدارومـه
شـور وم دبنګـړو پـه سريـې پـاتې شـوم

د مـالګو ذايقـې دي دجهيـل اوبـه تـروې دي
د خوږوپـه تمـه مشـه دا ناکـامې تجربـې دي
ازمـوده را ازمـودن مـيګن خطـا اسـت
ماليـدلي پـه کتـاب کـې پـاس جملـې دي

حيـــــــدري وايـــــــي مـــــــونږوکړي دلعلونـــــــو
پــــــه غــــــاړه دګــــــوهر اودګلونــــــو
اختيارزمونږنصـــــــــــــــــيب کــــــــــــړي
دوطـــــــن پـــــــه خزانواوپـــــــه کـــــــانونو
د رواجونــــولااوړده شـــــوه اواوږدېــــږي پســــې
ځکـــه کارونـــه نـــه لنـــډيږي اواوږدېـــږي پســـې
شـــپي پـــه دي کـــلي کـــي ديـــره شـــوي ســـمي
د جهالـــــت شـــــپه وه اوږده وه لا اوږدېـــږي پســـې

کــــه پــــه سرولاســــودې راکــــړې نــــه وی
دميوحـــــام بـــــه مـــــي ډک څکلـــــې نـــــه وی
لاړم د ژونـــــدون اوزنـــــــده ګـــــــی ووتـــــــم
کاشــــکې ستاحســــن مــــې ليــــدلی نــــه وی

د کابـــل د ســـيندپه سر د پـــول هارتـــل پـــه يـــاد
چـــې د ســـيندوه غـــاړې ونښـــلي يوځـــای شي

هغــــه وخــــت کــــې د غــــازي بابــــا ارمــــان و
د ســـــنګي خښـــــتونه جوړشــــو لــــوی کــــمال و

جــــوړېږنکي دهارتــــل پــــه نــــوم يوځــــوان و
چــــې پــــه اصــــل کــــې جــــرمن و دالمــــان وه

نه سلام اونه کلام
نه په خواروغریب پام
تفاوت و دمکان
زه په فرش اوته په بام
زه يې وڅکم په ګوټ
تا وڅکل په جام
ته په جام سره خمارنه شوې
زه په ګوټ شومه سرسام
د ګیلونه مې زړه ډک دی
خوغوړنه نیسي ګلفام
ښه پیغام په کې د ژوند دی
په سهر او په ماښام

خـــــان د نورونـــــه کـــــم مـــــه ګڼـــــه هوښـــــیاره
غـــــبرګ پـــــه لاره ورسره ځـــــه پـــــه یـــــوه لاره
یـــــومرض مـــــونږکې پـــــه ځـــــان بـــــې بـــــاوري ده
ځـــــان دي وســـــاته ددې رنـــــځ دناتـــــاره

## د کنړسیندته

په مستۍ دجگوغرونه راتیریږي
غورځوپرځوګړنکونه راتیریږي [۱]

لوړچنارکي یولوی ښاخ دی [۲]
تیر اجمیردی که نوشاخ دی [۳]
هندوکش نه دی راوتی سرچینې دي
پکې ستا د عظمتو قصې پرتې دي
ستاوجود د څوسندونوپه وحدت کې
د مستوج او د باشګل په محبت کې [٤]
تاته یادې دي قصې د تاړاکونو
ته شاهدې د تاریخ د غورځنګونو

تاته خپلې د مستۍ ورځې یادیږي
ستا د زوره ستا د شمن په غوږکنیږي

[۱] غورځي پرځي. کشمکش
[۲] لوړچنار مطلب دهندوکش غردي
[۳] تیراج میر اونوشاخ دهندوکش څوکې دي
[٤] باشګل اومستوج. دکنړدسنددوه معاونونه دي

نــــــن مژګـــــــان دی دچشـــــــمانوبدل ښـــــــکارې
قتلـــــــــــول دعاشـــــــــــقانوبدل ښـــــــــــکاري

تنکـــــۍ شـــــونډې یـــــې زبیښـــــلې کـــــوم ناترســـــه
ښـــــکلی رنـــــګ یـــــې د لبانوبـــــدل ښـــــکاري
جـــــه د زلفـــــو بـــــوی یـــــې نـــــه رسي ترمـــــونږه
رومالونـــــــــــه دخوبانوبـــــــــــدل ښـــــــــــکاري
چـــــې اوبـــــه پـــــه کـــــې زمـــــونږ دکـــــوه رو [1]نـــــه وي
حکمتونـــــــــــه دخمانوبـــــــــــدل ښـــــــــــکاري
چـــــې اغـــــزي یـــــې د ګلپـــــاڼوسره راشـــــنه شـــــول
اوس شـــــــــــکلونه دګلانوبـــــــــــدل ښـــــــــــکاري
چـــــې پـــــه چـــــل یـــــې دمریـــــد دکـــــوره یـــــوړل
قلنګونـــــــــــه دپیرانوبـــــــــــدل ښـــــــــــکاري
لیـــــوني کـــــلي کـــــې نـــــه ګرځـــــي سرســـــامه
ډک جامونـــــــــــه درندانوبـــــــــــدل ښـــــــــــکاري
چـــــې زمـــــونږ داوریـــــدلو هـــــنرورک شـــــو
ترنـــــګ اوشرنـــــګ دمطربانوبـــــدل ښـــــکاري

چـــــې بویونـــــه یـــــي د پیغلـــــو د تـــــن نـــــه دي
نـــــوکمال د عطـــــارانو بـــــدل ښـــــکاري

---

[1] کوه، یا کوز : انګور

چې رښتیاوایي نوخواردی
خوار د خواروسره یاردی
چې ښکاره یوحقیقت کړي
هرې خوانه پرې گذاردی
دلته قدردپیسودی
زور د دروغو د قصودی
داحالت زما دکلي
ویمه چور دبدلېدو دی

چې تهداب د دېوال لویږي
دایې سربانددي دیوال کړي
دي په فکر د تعمیردي
خوکارونه دزوال کړي
ددې کلي دکان بند دی
پېغلې به پیدا د کومه شال کړي
درنجوغریي تالاکړلوناځوانو
څوك به جوړ د تندي خال کړي

دېرې خبرې زړه کې پټې ساتم
ځنې دزړه نه زړه کې پټې ساتم
وایمه تول وجود مې ونه سیزي
پټې د اورځان کې سکروټې ساتم

زلفــــې لوبـــوم د زلفوتــــار تـــه شــــوګیرې کــــوم
ویښ یمــــه خیـــــل یارتــــه شــــوګیري کــــوم
جوړبــــه لــــونګین کـــړم د دانــــه دانــــه لونګونــــه
ســـــتړی شــــوم چـــې تارتــــه شـــوګیري کـــوم
نــــن دبنجــــاره دکـــان بـــــازارکې افتتــــاح شــــولو
سر دنــــوې شـــپې نــــه بازارتــــه شــــوګیرې کــــوم
هســــې بـــې ګنــاه پـــرې څــوك پــــه دارنــــه شي
ورځ اوشـــــپه بــــه دارتــــه شــــوګیرې کــــوم
اوربــــه شي راپــــورې سره لمبــــه بـــــه شــــم
خودبـــه د ښـــکلا داور انګـــار تـــه شـــوګیرې کـــوم

کلـــــــه خوشـــــبو یـــــې د زلفـــــــانوراشي
د خــــــدای کـــــرم وي پـــــه خوارانــــــوراشي
ورسره فضــــــــا شي معطـــــــــره ډېـــــــره
بـــــــوي دســــــــنځلو د ګلانــــــــو راشي
کلــــــــه اثریـــــــــې د چشـــــــمانو راشي
غـــــــشي یــــــې ســــــم دباڼوګــــــانوراشي
د تللووخــــــت کـــــې یـــــــې د شــــاکتلو
اجـــــــــــل د واړه عاشــــــــــــقانوراشي
واریـــــــــې د زنـــــــــې او رخســـــــار راشي
لکـــــــه چـــــې مخــــــې تـــــه ګلنـــــارراشي
د زنـــــې خالــــــه څــــــه جــــادو دې وکــــــړ
اوس د خالونوبــــــــــــــه قطـــــــــار راشي

مونږ چې کولوهغه کار ونه شو
زمونږ د مینې کاروبار ونه شو
ډېرې مې لارې د جرګې ونیوې
په تللو راتللو د ریبار ونه شو
مارانولوټ کړې د مرغانوځالې
په عظمتونو د چنارونه شو
هرڅوک دیار نه جداتمه لري
ماچې غوښته هغه سنګارونه شو
دزهرو غاښ یې لاتراوسه شته دی
دم دملاپه کوم ښامارونه شو
کله لکۍ کله خطاشي ګذار
په تورښامار د مرګ ګذارونه شو
چاشمعې بلې کړې دزړه په وینو
چابیرته مړې کړلې دیدارونه شو

وار د صفت دی د چارګل کومه
د نتکۍ سیل به څه په چل کومه
د سپیني غاړې به زه څه ووایم
ګوټ به دشوندو لکه غل کومه

سپینې سینې ته احترام دی زما
تور لونګین ته دې سلام دی زما
سرپه سینه بږدم رسوایې نه کړم
څلورطرف ته ګوره پام دی زما

لاندې به نه څم بیاختلی نه شم
دپښوتل ته رسیدلی نه شم
وایم چې فرش شم ستا قدم دپاره
خوبیا د ځمکې پاځیدلی نه شم

که غواړې عزتمندشې
نو د نورو عزت وکړه
دسپینوعزت وکړه
او د تورو عزت وکړه

چې دردپکې انځور شي
اوعلاج  دهر رنځور شي
نودا شعردی داهنر دی
چې له داره کوزمنصور شي

پیغلـــــــې ګورګـــــورې اوممانـــــــې غـــــواړي
کلـــــه خوشـــــنې دمـــــانو(١)پـــــانې غـــــواړي
زلمـــــي خـــــوهم څـــــه پـــــه کـــــراره نـــــه دي
رنـــــګ دنـــــرګېس غـــــاړې دزانـــــې غـــــوړي

چـــې د ژوندپـــه هنرپوشـــوم ژونـــدتمام شـــو
بي هـــنره زنـــده ګـــي وه دا انجـــام شـــو
میخانـــه کـــې مـــې فـــن زده نهـــوه دناســـتي
چـــې ســـاقي پـــه لاس کـــې راکړوچپـــه جـــام شـــو
ګلکارومـــــه خوپـــــوره مـــــاهره نـــــه وم
نـــن مـــې جـــوړکړ ســـباو ران رابانـــدې بـــام شـــو
پیرزوینـــې مـــې ښـــې ډېـــرې پـــه وړو اوزړو وکـــړې
وار زمـــا شـــو اوس هرســـړی ناکـــام شـــو
چـــې پـــه ســـپین کفـــن کـــې تاوشـــوم درنـــه ځمـــه
هـــم مـــې جســـم هـــم مـــې روح ایلـــه ارام شـــو

حیـدري یـم پـه سـهر یـي د لحـد پـه تیـرو پـټ کـړم
مـــا ســـحر ګټلـــو تـــور ماښـــام شـــو

[١] ماڼو یوغرنی پوټی دی چې شنې پاڼې یی ښه بوي لري اوخلک یي دسپلنو په شان کاروي

بـــــاور بــــــه مـــــړشي چــــــې وعــــــدې وژني
څـــــه پــــــه ســــــحر او څـــــــه د شــــــپې وژني
کلـــــه تـــــاريخ کــــــې داســــــې قتـــــل شــــوی
چـــــې شريــــــــک يـــــــار د بســـــــترې وژني

چــــې هـــــم مينـــــه وي هــــــم جنـــــګ وي
خـــــورږ پـــــه مينـــــه کـــــې غورځنـــــګ وي
کلــــــه يوبــــــــل سره پـــــــه جنـــــــګ شي
يوخوشـــــــــال شي بـــــــــل اورنـــــــګ شي
کلـــــه يوبــــــل نـــــه فــــــدا د سره تېـــــر وي
ليلاشــــــــــمعه يــــــــــار پتنــــــــــګ شي
کلــــــه لويشـــــته کــــــې ځـــــان ځـــــای کــــړي
شــــــــه پراخــــــــه يـــــــــې پالنـــــــګ وي
کلـــــــه رحـــــــم زړه کـــــــې زيـــــات کــــــړي
کلــــــه زړه يـــــــــې لکــــــه دســـــــنګ وي
کلـــــــه خــــــان بــــــه پــــــه ثـــــروت وي
کلـــــــه يـــــــې وګــــــوري ملنـــــــګ وي

جنــت تــه مــود تلوپــه لارنــيران تــه لاره جــوړه کــړه
دغــــه موپردوتــــه کــــه مونږځـــــان تــــه لاره جــــوړکړه
مـــونږ د نـــاپوهی نـــه تـــل د ځمکــې تـــل تـــه لاروهـــو
خلکـــو هوښـــيارانو خـــو اســـمان تـــه لاره جـــوړه کـــړه

چې هرښکلي ته لوګی شم
زه به څومره سپېلنی شم
شپه او ورځ د ښکلوسوچ کې
زه به خدایږو لیونی شم
چې د ښکلوسره نوکرشم
بیا به ښه دکارسړي شم
په حجره کې به سیتار شم
د ګودر په سرمنګی شم
وربلونوته مرسل شم
رقیبانوته اغزی شم
شم مزدور به مې ساتم
د خپل کلي به شپونکی شم
د سینوپه سربه خان شم
که په غاړه چمکلی شم
حیدري که د لیلاشم
خیرکه خپلوته پردی شم

څه به شوې چې څه کېږي
ښه به شوې چې ښه کېږي

مونږه واړه ناخبره د هرڅه نه
چې به کېږي که نه کېږي

لیلا ښکلې ده خوبې وفاده
چې په شان د زندګۍ ده نورښتیاده
بس د ژوند او د لیلا تړون یوشان دی
زه حیران د دې چاربیتې څه معناده

احساس دې د ستایلو دی ملنګه
چې کجکول دې د وېشلو دي ملنګه
نه خیرغواړي نه په غلاکړي دیدنونه
دا عادت دې د ښاغلو دی ملنګه
بې ریا اوبې جنجاله دې ژوندون دی
هر ګفتار دې د منلو دی ملنګه
چې شیطان دې د مکانه خبرنه شي
نو وجود دې دپښلو دي ملنګه
لږ خو مونږه لیونوته سرښکاره کړه
اوس دې وخت د رابللو دی ملنګه
په جامه کې د ملنګ خوفلسفي یې
نور دې نوم دبدلولو دی ملنګه

دسفرملګري نامي دوستان ملکري کلیوار او......وه سفرپه ۱۸-٦-۱٤۰۲ نیټه پاي ته ورسیده
دسفرملګروزما دمشرولۍ داستاذۍ اودپاچاولۍ او.....ډېرپاس وساته مننه تري کوم داشعرددغه
سفرملګرو په ناړۍ بریکوټ کامدیش اوبرګمټال کي خبلودرنومیزبانانوته ډالي کوم

شاعره ته خوپه شعرونوکې
موجونه د درباب ستایې
خو فکرنه کوي یوبل طرف ته
چې ته مرګونه دحباب ستایې
ولي سنځلې دې د چانه کمې
چې مرخنې ستایې عناب ستایې
د اخلک لږ د محبت لابق دي
ته په سندروکې خوناب ستایې
په سر سرتورو څه ګناکړې ده
خوشمله ور په ا بوتاب ستایې
لږه مزه خو د نشاط وکوره
ته زنده ګې داضطراب ستایې

د نقرې په انګشترکې
د دې سپینې حلقې سرکې
یوجانان په کې غمی دي
زه یې ساتم په هنرکې

لکه شمع د لمبو د سرپه سر سوځم
توري تیارې رڼاکومه په هنرسوځم
دلته تیارې ښې په قوت خپرې دي
ځکه به زه په سمه اوغرسوځم

پانې دي ورژیږي ریښې ثابتې ښې دي
ځان دومره مه بدلوه ریشتې ثابتې ښې دي
پېغلې سنکار وکړي نوښکلې به شي
خو د کوټې په دېوال اینې ثابتې ښې دي

شاګردان که زمازیات دي
خوزه هم د چاشاګرد یم
په رتبونه پوره کېږي
په رښتیا د چاشاګر دیم
که یوحرف درځني یادکړم
یم استادخوستاشاګردیم
زه په حال اوپه ماضي کې
نن شاګرد سبا شاګرد یم
ښکته پورته په زیرګورم
زه د هرې خواشاګرد یم

د لونګوسره جانان شه
ځه سینوکي اویزان شه
یا د کلي نه بهرشه
کومه دشته کې چوپان شه

د بدلیــــــدودې رانـــــه تلـــــل ښــــه دي
د ځنـــــې ګټـــــې نـــــه بایلـــــل ښــــه دي
نـــــه مـــــې احـــــوال نـــــه مـــــې خـــــبراخلي
نـــــور مـــــې د تانـــــه پاڅیـــــدل ښــــه دي
هســـــــــــې د زور او د ظـــــــاهر خنــــــداده
ماتـــــــه پـــــه سروســــــترګو ژړل ښــــه دي
زمـــــا د ګلبـــــار پـــــه جـــــامو کـــــبر کـــــوي (۱)
نـــــوریې د تـــــن ځنـــــې ویســــتل ښــــه دي
پـــــه اوریدوبـــــه دې یقـــــین رانـــــه شي
لـــــبږ ورتـــــه وګـــــوره لیـــــدل ښــــه دي
دغریبـــــــانوغږ څـــــــوك کلــــــه اوري
ډېــــــرو ویلونـــــــه لیکـــــــل ښــــه دي
ګیلـــــې خـــــوډېرې حـــــل بـــــه دا وباســـــو
چـــــې د ســــــاتلونه خـــــوړل ښــــه دي

پـــــه ګرموشــــــــګومزل ســــــــخت دی
خوتوقـــــف هـــــم د حـــــل لاره نـــــه ده
نـــــن راتـــــه غـــــوږکې یـــــو مـــــین وویـــــل
شـــــګه خوګرمـــــه د انګـــــاره نـــــه ده

---
۱

زمـــــونږاتڼ او د پـــــردو ســــازونه نــــه جـــوړيږي
راځــــئ چـــې بيرتــــه د ربـــاب سره تـــړون وكـــړو
زمونږګـــــذران بـــــه ډنـــــډ كـــــې كلــــه وشي
ژونـــد چـــې كـــوو نوبـــه دريـــاب سره تـــړون وكـــړو

چــــې بـــوډا شـــوې انـــزوا سره ځــــان اشــــناكړه
محلــــه كـــې بـــل بــــوډاسره ځــــان اشــــناكړه
د خـــــوړو تنظـــيم دې خپلـــه ځـــان لـــه وكـــړه
د طبــــي خـــوړو غــــذاسره ځــــان اشـــنا كــــړه
د زړو خلكـــــوخبرىَ كــــه هرڅـــــومره مـــــوثرې
چـــې يـــې نــه اورې چوپتيــاسره ځــان اشــنا كـــړه
پــــه هرڅــــه چـــې ســــتا د ذهـــن ارامـــي شي
د دنيـــــا هـــــرې اداسره ځــــان اشـــــنا كـــــړه
دمـــــاضي قصـــــې دې لاړلـــــې پنــــا شــــوې
بــــس د نــــن او د ســــباسره ځــــان اشــــناكړه
ښـــه پاســــته او د پنبـــې د كــــالو شــــوق كــــړه
دپســـتي پســـتي هــــواسره ځــــان اشـــنا كـــړه
پــــه اخركــــې مــــې هـــــم دا خـــــبره واوره
حيــــدري وايــــي زمــــاسره ځــــان اشــــناكړه

چــــې نـــه پـــوهيږې نـــه خــبرې دپوهــــانومني
نــــه دې تحليــــل شـــته نـــه د نـــورو عالمـــانو منــــي
ژونـــد بـــه پــــه كومـــه طريقـــه ســـمبال كـــړې
نــــه دې د مـــور نـــه دې د پـــلار نــــه د مشرـــانو منــــي

زه د خپلـــــــو روږدو عادتونوقربـــــــاني شـــــوم
ســــپیلني شــــوم د دودونـــــو قربـــاني شــــوم
مــــا خـــــوجزا د خپلــــو نیکـــــوکردارو ولیـــــده
دخپـــــل لیکنـــــو او شـــــعرونو قربــــاني شـــــوم

د ســـــیند پـــــه سریـــــې وچ لکـــــه غریـــــي
ســـــوي ګـــــلاب یـــــې ســـــوی پـــــه لمریـــــې
چـــــې اوبـــــه نـــــه وي نـــــو ژونـــــد بـــــه نـــــه وي
څـــــه بـــــه کابـــــل وي څـــــه بـــــه لـــــوګریې

د دې کـــــلي پـــــه مرغانوڅـــــه بـــــلا راپریوتلـــــه
کـــــوم مـــــرض مـــــې د کـــــوترو پـــــه وزر راغـــــی
هـــــر لورتـــــه مـــــې لاســـــونه ور اوږده کـــــړه
مـــــا دخیرتمـــــه لرلـــــه لاس کـــــې شر راغـــــی
پـــــه خـــــیرات کـــــې راتـــــه لنـــــډکمیس راکـــــړي
چـــــې مـــــې واغوســـــته ایلـــــه مـــــې ترکمـــــر راغـــــی
یـــــا زمـــــا نصـــــیب خـــــراب وه چـــــې رســـــوا شـــــوم
یـــــابې وختـــــه مـــــې د یـــــار پـــــه بـــــام قمـــــر راغـــــی
پیســـــې راغـــــلي خلکـــــو ویـــــوړلې د ځـــــان ســـــه
نـــــن د بـــــل پـــــول د لویدلونـــــه خبرراغـــــی
مـــــونږه ولیـــــدل ظـــــاهرکې ښـــــه خوشـــــاله
خوپـــــت وجـــــدان کـــــې یـــــې مـــــحشر راغـــــی
نـــــه مـــــې وســـــه د کلچـــــو شـــــته نـــــه دکیـــــک
حیـــــدري وایـــــي چـــــې څلـــــه دا اخـــــتر راغـــــی

دا ګلان وربل سره هم دم نه دي
دا زمونږ د خپل پټي شړشم نه دي
بېل راته تالونه درباب ښکاري
ځکه خوسازونه یورقم نه دي
ماهسې په ورانو لار ومه بوځه
دا د غرمې شګې د قدم نه دي
نن مې د اغزو دپاسه ولیدل
دغه خصلتونه دشبنم نه دي
داخودجګړې سره نغښتي وي
داګیلي زمانه د صنم نه دي
جوړې چې خوراک ته د صیبانوشي
ګوره پشدی[1] وریجې لادم نه دي
یه حیدري هرځه نوي شوي دي
ستادا پخوانی قصې د زغم نه دي

زاړه فکرونه تفکر چې بدل نه شي
د رواج دا تسلسل چې بدل نه شي
نو همیش به مضیقه کې زنده ګي کړو
دادفکرتنګیدل چې بدل نه شي

[1] پشد د کونړ ولایت د سرکانی ولسوالی مربوط یو سرسبزه سیمه ده، کله چې دا کلی ودان و، و وریجو یې ډېر شهرت درلوده.

اوس خـــو زه پـــه خولـــه ویـــلی نـــه شـــم څـــه
زړه کـــــې مـــــې دردونـــــه پـــــټ ســـــاتلي دي
دصـــــیب قـــــوي څپیـــــړه زمـــــا ســـــوی مـــــخ
ماورتـــــه د ګوتـــــو نښـــــانونه پـــــټ ســـــاتلي دي
تـــــه کـــــه منکرېـــــږې ثبـــــوت شـــــته راســـــه
مـــــا د کمیســـــنو ګریوانونـــــه پـــــټ ســـــاتلي دي
ګـــــوره چـــــې د خلکـــــو ازار څـــــه کـــــوي
زړونـــــو فریادونـــــه پـــــټ ســـــاتلي دي
ولویـــده پـــه زور دچـــا د زنـــې نـــه د چـــا پـــه لاس
وخـــــت هغـــــه خالونـــــه پـــــټ ســـــاتلي دي
ډېـــــرو درتـــــه وویـــــل ګـــــلان مـــــه شـــــکوه
پیغلـــــو سره ګلونـــــه پـــــټ ســـــاتلي دي
تـــــه وایـــــې شـــــعرونه بېـــــولالې دي
ماعـــــاجز شـــــعرونه پـــــټ ســـــاتلي دي

لـــږ خـــواړه لـــږې خـــبرې د هوښـــیارو خلکـــو کـــار دی
بـــاور پـــه دې اصـــولو د نـــام دارو خلکـــو کـــار دی
ډېـــرې ویـــل کـــړې یـــوه نـــه اوري نـــادان دی
ډېرخـــواړه ډېـــرې خـــبرې د بـــدکارو خلکـــو کـــار دی

چـــــې تــــــه کوکنـــــــار او زه انګـــــــور کرمـــــه
خـــــير درنــــــدانو پــــــه قطـــــارکې ښـــــه يـــــم
چـــــې تـــــــګ راتـــــــګ راتـــــــه د پيغلـــــــو وشي
زه دلونګـــــــو پــــــه بـــــــازارکې ښـــــه يـــــم
دپـــــــس فطرتـــــــه اوبـــــــې پتــــــه ژوندنـــــــه
زه پـــــه تختـــــه پـــــه سرد دارکـــــې ښـــــه يـــــم
دانــــــه دانـــــــه يـــــم څـــــه جـــــوړيږي رانـــــه
چـــــې لـــــونګين شـــــمه پـــــه تـــــارکې ښـــــه يـــــم
د ورځـــــــې ګـــــــرم د ګـــــــلاب پـــــــه غرونـــــــو
د شـــــپې نښـــــتر او پـــــه چنـــــارکې ښـــــه يـــــم
زمابـــــــل چېرتـــــــه ګـــــــذاره نـــــــه کيـــــــږي
لکــــــه خولـــــه ديـــــار رخســـــارکې ښـــــه يـــــم
شی رانـــــــه جـــــــوړه دکـــــــمال وســـــــيله
د اهنګرپـــــه تـــــود انګـــــار کـــــې ښـــــه يـــــم
دا ځنـــــــې ځنـــــــې ککـــــــرۍ ورکـــــــې شـــــــه
زه چـــــې خنجـــــريم پـــــه ګـــــذار کـــــې ښـــــه يـــــم
ډېـــــرې مـــــې ويـــــلي د پـــــردۍ ســـــــندرې
زه پـــــه قربـــــان او ايلـــــه زارکـــــې ښـــــه يـــــم

د خپـــــل ذهـــــن پـــــه وهمونـــــوکې راګـــــيريم
پـــــه وړو وړو تنګوفکرونـــــو کـــــې راګـــــيريم
خلکـــــو عـــــزم د مـــــريخ د ســـــفر کـــــړي
زه د ځمکـــــې پـــــه تلونـــــو کـــــې راګـــــيريم

علم دهقاني که استادي ده
دظريفوخلکو کسب زرگري ده
پروانوپه شان د گل سره مينه وکړي
عطر تول کړي اوپيشه يې عطاري ده

هريوکارپه زړه چاودلوسره کېږي
په لويدلو زوريدلوپاڅيدلوسره کېږي
اننگي په زوره کله چاښکل کړي
دا په مينه اونازولوسره کېږي

نطفه وه ځوانه شوه، شگوفه شوه
غوټۍ وچاوده په زړه نوبياغنچه شوه
دا سفر د گل دې مونږ ته د ژوند راز شي
چې په لاس د هرې پېغلې گلدسته شوه

زمونږه تندې د منگو په اوبوماتې نه شوې
هم د چينو او دويالو په اوبوماتې نه شوې

چاراته وويل چې وړاندې يودرياب بهيږي
اوبه يې پاکې دي رڼې دي په شتاب بهيږي

د کیفیـــــت او کمیـــــت اصـــــل خوشـــــته دي
کلـــه کلـــه پـــه یوګـــل بانـــدې بهـــار شي
ډېرتارونـــــه پـــــه ربـــاب بانـــدې خــــواره دي
تـــــول پکـــــاردي خویوتـــــارپکي شـــــاتارشي
چـــې د پېغلـــویې غوبـــل پـــه دکـــان جـــوړوي
بختـــــور هغـــــه ســـــړی وي چـــــې عطـــــارشي
پـــه حجـــره کـــې مـــزه هلـــه راپیـــداشي
مجلـــس ګـــرم د منګـــې سره ســـیتارشي
کـــلي او ښـــار درنګـــا رنګوخلکـــو ډک دی
ډېـــــر ناکـــــاره یـــــو د کـــــار شي
دانـــه دانـــه لونـــګ پـــه کـــې یوځـــای شي
حیـــدري دې د لونګـــو د مـــنځ تـــارشي

د چـــا پـــه ولـــو چـــې ســـورنه شي
تـــګ پـــه خپلـــو پښوښـــه دی
د پـــردي پلویـــو ورځ وي
قناعـــت پـــه ســـبو ښـــه دی
ډېرړانـــده دي یوبینـــا دی
یوبینـــا ترړنـــدو ښـــه دی
اوریـــدلی مـــې متـــل دی
خپـــل تـــر ډېـــرو پـــردو ښـــه دی
د ښـــځود ناندرونـــه
لـــبرمجلس د ســـړو ښـــه دی

دوهلو لایق نه دي
محبت د وږو ښه دی
چې د ژرندې کاردې سم شي
نونوبت په دانوښه دی
د سرو غوښو د خوراک نه
یوګیلاس د شیدو ښه دی
چې رشوت اخلي اوغلاکړي
دې نه خرڅ د چڼوښه دی
حیدري ته څه شی راوړمه دکلي
ویم یودیګ د مستوښه دی

یاسمبال په خاموشۍ شه
یافن زده کړه د خبرو
چې په سوچ خبرې وشي
وي ښایسته ترملغلرو
ښې خبرې لکه ګل دي
ښې لګیږي په سیالګرو
د اغزو تخم دې ورک شي
نور یې تېرشه د کرلو
یوکمال ځان کې پیداکړه
چې لایق شي د ستایلو

حیدري وایي دومره بس دی
نورڅه نشته دویلو

څــوك کــړي پــه کــلي څــوك پــه ښــارعبادت
څــوك پــه جومــات کــي کــړي پــه جارعبــادت

مــا پــه تســپوکې د یــار زلفــې کــړې تــار
اوس بــه کــوم پــه دغــه تــار عبــادت
حســـن دې ډېرکـــړل کـــافران دکـــلي
خــود بــه کــوي ســتا د رخســار عبــادت
زمــا درنــج چــې وســیله جــوړه شــوه
قبــول بــه نــه شي زمــا دیــار عبــادت
د لتــه یوڅــه مــې سرچپــه ولیــدل
ګــل پــه ښــکاره کــوي د خــار عبــادت

حیــدري بیرتــه ځــه خپــل کــلي تــه ځــه
هلتــه مرغــۍ کــړي د چنارعبــادت

مــدرنې غلامــۍ مــې ملاکــږه کــړه
د پــردو پــه دلالــۍ مــې ملاکــږه کــړه

څــه بــه ګورمــه پــیرۍ کــې لویــه خدایــه
پــه دې دنګــه ځــوانۍ مــې ملاکــږه کــړه

يــــــارچې راځــــــي نــــــو زه شــــــېبې شــــــمارم
لکـــــه چـــــې ګوتـــــوکې تســـــپې شـــــمارم
يــــــوه ځپيــــــړه مــــــزدوري يـــــې راکـــــړه
د درد نــــــــه ژاړم خوپيســــــــې شــــــــمارم
د غريبـــــۍ نـــــه ګـــــوټ کـــــولی نـــــه شـــــم
هســــــې رندانوتــــــه پيــــــالې شــــــمارم
دلتــــــه پــــــيران ترمريــــــدانو ډېرشــــــو
لنګــــــري خورمــــــه پيرخــــــانې شــــــمارم
پــــرون موســـــهوه نـــــن هـــــم ســـــهوه کـــــوو
اوس بــــــه د سهوسلســــــلې شــــــمارم
هــــم رانــــه يــــار هــــم رانــــه پلارخفــــه دی
زه بــــــه د دوی د خولــــــوګيلې شــــــمارم

پتــــــه مــــــې واخيســــــته اولاړم هلتــــــه
د ډېــــــرې تنــــــدې نــــــه بــــــه ژاړم هلتــــــه
تنــــده مــــي ډېــــره شــــوه ســــفرمې وکــــړ
هــــم پــــه هــــواره هــــم پــــه غرمــــې وکــــړ

د ســــــيندپه غــــــاړه يوفقيرامســــــاپه لاس ولاړ و
لــــبړه پــــه لــــوړه پــــه ډبــــره بانــــدې پــــاس ولاړ و
فقيرنــــاري کــــړې دا دريــــاب ګــــوره پخپلــــه تــــږی
لــــه تانــــه زيــــات دی څــــوکرتې پــــه ســــل ځلــــه تــــږی

د تن جامې مې خپلې دي
زمادې ماته ښکلي دي

خیردی که پیوند لري
خیردی که شلیدلې دي
ماته ښایسته ښکاري
مور راته گنډلي دي
گوري چې په غاړه پیوندي جامې
دغه ماشومان زما دکلي دي
تانه خوشه نه غواړي
ولې دې رټلي دي
خرمخونه یې خړښه دي
پانې د سنځلې دي
زه یم یوملنگ شاعر
شعرکې مې ستایلي دي

منځ کې حیدري ولاړ
ټول مې رابللي دي

زمونږ د تږو خلکو د وینو تږي خلک
په وینونه مړېږي د عمروړي خلک

د عوه په ټول جهان کوو
د تاريخ حساب په ځان کوو
هره دافراط نښه په مونږ کې ده
لاپې تراسمان کوو

خوله لرو عمل نه شته
لاره کې مل نه شته
ټول ژوند په ناخوالو کې
مونږ سره يې حل نه شته

جنګ وکړو ګټه د نورو شي
شګه زمونږ شي مټه د نورو شي
د صيب د ژرندو ولې مونږ وباسو
ګوډي زمونږ شي څټه د نورو شي (١)

لږسوچ فکر په کار دي
په سنجش ژوندون په کار دي
تفکراو تعقل دژوندن اصل
نور زمونږ بدلون په کار دي

[1] ګوډي معمولاً دوزو دپوستکي نه جوړيږي اوډېرلږ غنم يا جوار پکې ځايږي څه ته يا څټه دا دډېرودغلودانودساتلو دپاره پکاريږي

ماپه اسمان کې دلیلا دمخ خالونه کتل
ماپه اینه کې دټولني انځورونه کتل
کتب خاني مې د کابل لاهورديلي وليدي
ما دټولني داصلاح څوکتابونه کتل

ماخپل ژوندون ښادنکړو
مادمدحي هنریادنکړو
لینده وه کاڼي هم راسره
ما د مرغانوژوندبربادنکړو

مونږه د کلي د چنو سیورو ته کیناستلو ([1])
مونږه بي رڼا دترږوموسیوروته کیناستلو
مونږویلې وینږ به داملت کړو د خوبونو ځنې
هسې بې ګټې د ویدو سیوري ته کیناستلو

اوبه شي جذب په هضمي سستم کې
خو اوبه سږو کې نقصان پیښوي
جام په منګي اويا د خم په سر کې
جام د ساقي لاس کې تاوان پیښوي

---

[1] - - چې نه یا چنه داکلمه په ځني منطقوکي کارول کیږي لکه دديوال چنه کله څوک په ډیره عاحزۍ یوملک ته وایي چې ملک صاحب ستاسو چني ته موپناه راوړي ده

د دوه لاسي ســــــــــــلام دې قرضـــــــــــداری
دمیـــــــــو ډک جـــــــام دې قرضـــــــداری
ســـپوږمۍ تــــه چـــې زمـــا دیـــدن تـــه ناســـته
ماخســـــــتن او د ماښـــــــام دې قرضـــــــداری
تـــــایواڅې د یوشـــــــپې قصـــــــه لیکلـــــــې
زه ملامتـــــــه تـــــــل مـــــدام دې قرضـــــداری

مرغـــۍ ګـــوري چـــې د کـــلي زلمـــي کـــاڼي ټولـــوي
پـــه دې کـــلي کـــې ښـــځې ســـړي کـــاڼي ټولـــوي
پخـــوا بـــه زمـــرو ګاڼـــه پیغـــور د ځـــان لپـــاره
اوس خـــو ګیـــدړان او زمـــري کـــاڼي ټولـــوي

د مـــــــخ ګونجـــــــه مـــــــې کتـــــــاب دی
پـــــــــه لوســـــــــتلوکې ثـــــــــواب دی

ګــــــــونجې یـــــــو د بـــــــل دپاســـــــه
هــــــره ګونجــــــه مــــــې بیــــــل بــــــاب دی

څـــــــوک پـــــــه اس بانـــــــدې ســـــــپریږي
چـــــــانیولی یـــــــې رکـــــــاب دی

د جمعـې پـه ورځ پـه ۱۴۰۲/۶/۱۴ نیتـه دخپلولمســوسره
دننګرهارولایت دمملي باغ ته ولاړو

## دا شعر د هماغې ورځ سره تعلق لري

د مملې باغ

د مملـــــــــــې د بــــــــاغ ښــــــــتره
ښایســـــــــته پـــــــــه مـــــــــازیګره
تـــــــــاریخونوکې راســـــــــتره
هســـــــکه ونـــــــه ترســـــــپین غـــــــره

چنـــــــــــاران قطـــــــــــار ولاړدی
کـــــــه بانـــــــه د یـــــــار ولاړدي
دخـــــــزان پـــــه لـــــوري غشي
منتظـــــــــــره دګـــــــــــذار دي

ټولـــــــه ځمکـــــــه دې ســـــــبزه ده
پـــــه هرځـــــای کـــــې دې مـــــزه ده
شـــــــنه کبـــــــل اوسره ګلونـــــــه
هرطـــــــرف تـــــــه دې فـــــــرزه ده

ابریشـــــــم ځـــــان سره دروړمـــــــه
یارتـــــه ټـــــال تـــــرې جوړومـــــه
زه پـــــــه دې یمـــــــه خوشـــــــاله
یارپـــــه ټـــــال کـــــې ځنګومـــــه

دباچا لوريې ممله يې
د تاريخ يو اسطوره يې
د جماله او د کماله
دواړونه پوره يې

ته محل د کاروانونو
ته يې مهد د تاريخونو
گهواره دتمدن يې
دپېړيو د کلونو

ټوله سيمه کې يادگار يې
ته نعمت دکردگاريې
ته يې ناوې ناوې اوسه
افتخار د ننگرهار يې

ته محل دنرگسونو
د انار د سرو گلونو
د شهرت قصې دې کېږي
په نثرونو په شعرونو

حيدري که دې باغوان شي
نوپوره به يې ارمان شي

اوسپنه سره شي د لمبونه وځي
دسروسکروټود نغرو نه وځي

کمال ته ورسي ابزارد کار شي
اوپه ډېران د پریوتونه وځي
څي پاڼې پاڼې شي او ورژیږي
کله ګلاب چې دغنچونه وځي
شي به بدلې میکدې په کنډر
که صراحي د میخانونه وځي
هله به پوه شو د کتاب په مزه
دجنګ قصې که د متنونه وځي
د یار خولګۍ مې دسپوږمۍ په مثال
اوربه کړي بل که دهالو نه وځي (۱)

حیدري دومره مینه مه ورکوه
یاربه مستۍ کې دچتونه وځي (۲)

۱ هاله هغه حلقه چې دیخي هوادکبله دسپوږمۍ په اطراف کې جوړیږي
۲ چته یاچې ته کله چې څوک بي حده دشدت نه کارواخلي نويل کېږي چې دچتي نه مه وځه

## دا شعر د هغه لخظوپه یاد لیکل شوي چې کله مو د کنړ سخه کډه کوله

زمـــــــا دپـــــــــلار او د نیکونــــــــو کـــــــــوره
زمـــــــا د خـــــــوار بــــــــې دیوالونوکــــــوره

دوړوکتـــــــــوب د خـــــــاطرو نــــــــه ډکـــــــه
اي دســــــــــــــــکون اولـــــــــــــــذتونوکوره
هســــــت وبـــــود د ژوندانــــــه مـــــې تــــه یـــــې
زمـــــــا دپــــــــــت اوعزتونـــــــو کـــــــور ه
زمـــــــا دخوینـــــــــدو د لاســــــــونو هـــــــــنر
وي راتـــــــــه ښـــــــکلي تـــــــر قصرــــــــونوکوره
چـــــې درنــــــه ځمــــه نوهرڅـــــه رانـــــه ځـــــي
زمـــــــا د مـــــــــور د یادګــــــــارونو کـــــــوره
یـــــــوه قلایــــــو دروازه یـــــــوه درنــــــه کـــــــورنۍ
زمــــــــــا د تـــــــــــن د انـــــــــــــداموکوره
نـــــــوره مــــــې تــــــاکې ګــــــذاره نــــــه کېـــــږي
نـــــــور درنــــــه ځـــــــم د عظمتونـــــــو کـــــــوره

زمـــــــــــــا د دنګوچنــــــــــــــــــــارونوکوره
زمـــــــا د پـــــــــلار د زحمتونـــــــــو کـــــــوره

وخت به راشي راروان دی زه به نه یم
که په قبرکله راشي زه به نه یم
داچې هرڅه ماسمبال کړه
دابه واړه د لیلاشي زه به نه یم

ما دبنګړو د شرنګهار منله
د شپې مې ټوله شپه دیارمنله
مورې چې ته رانه خفه شوې په دې
ماخپله سهوه په سهارمنله

هر فقر دې ورک شي
فرهنګي فقردې ورک شي
زمونږ د زمامدارو
سیاسي فقر دې ورک شي
شمعې دې رڼا شي
تورتمی فقر دې ورک شي
خواړه شه پریمانه
غذایي فقردې ورک شي
هر فقردې ورک شي
خوفکري فقردې ورک شي
دجام پسې ړانده شو
دساقي فقردې ورک شي
په حال کې فقرورک شه
د ماضي فقردې ورک شي

د شـــین اســـمان دلانـــدي غـــزل لـــیکم
خـــونن دبـــاران لانـــدي غـــزل لـــیکم
چـــې بهانـــه مـــي ددیـــدن جـــوړه شي
د جـــان او جانـــان لانـــدې غـــزل لـــیکم

مـــال چـــې دې وســـاتلولاړو د بـــل شـــو
کـــه دې مصرـــف کـــړو نوبیـــا دې خپـــل شـــو
وڅکـــه وخـــوره خوارتـــه یـــې ورکـــړه
یـــې بـــه خوشـــاله نـــوم دې اتـــل شـــو

د ســـاقي او دمـــلا انـــدېوالي شـــوه
د انګـــور او د حلـــو انـــدېوالي شـــوه
چـــې ماکړلـــه نـــاروا انـــدېوالي وه
چـــې تاوکړلـــه روا انـــدېوالي شـــوه
دســـاقي بازاربـــه ولي نـــه ګرمیـــږي
د ســـاغراو د مینـــا انـــدېوالي شـــوه
شـــکرانه بـــه یـــې پـــه کـــوم انـــداز اداکـــړي
د مجنـــون ســـه د لیلاانـــدېوالي شـــوه
ژوندبـــه هلـــه د دوام پـــه لار روان شي
کـــه د ســـرو او هـــوا انـــدېوالي شـــوه
لمرســـپوږمی ســـتورو او مونږتـــه رڼـــا راکـــړه
د ژونـــد او د رڼـــا انـــدېوالي شـــوه
ژوندبـــه هلـــه پـــه دنیـــا پـــای ترتلـــه

که دبقا او د فنا اندېوالي شوه
مونږ به خلاص شو د کاذبوکنايونه
که قلم سره د رښتيا اندېوالي شوه
حيدري څومره دې وويل نوربس دی
ستا د شعر او ددنيا اندېوالي شوه

صحت ثروت دی مرض نیستي ده
نیستي شه ورکه په کارهستي ده
يوڅه لټومه څه رانه ورك دي
ځواني ده ورکه ورکه مستي ده
چې يوڅه چې ګورې ويلی نه شي
دا برده ګي ده دا غلامي ده

وايي چې مرګ تريخ حقيقت دی
دابه منې دابه زغمې داواقعيت دی
تول ور روان يو دا زمونږلاره
د تلونه مخکې د مينې وخت دی

نه راله چاشور د چې ياد کړلو
نن راته دریاب یوه ګیله وکړه
هسې ادم خان سره یادېږمه
پته چې رباب يوه ګيله وکړه
خپلو بچوورېبلم وچ شومه
باغ کې چې ګلاب يوه ګيله وکړه

هرســــــړي میــــــدان کـــــې پهلـــــوان شـــــولو
ځکـــــه خوســـــهراب یـــــوه ګیلـــــه وکـــــړه
وروســـــــته د تالیفـــــه چاونـــــه لوســـــتم
ســـــمه چـــــې کتـــــاب یـــــوه ګیلـــــه وکـــــړه
نـــــه دې کلـــــه ګـــــوټ کـــــړه نـــــه دې وڅکلـــــه
دغـــــه خوشـــــباب یـــــوه ګیلـــــه وکـــــړه
زه خویوبـــــدلون وم نورڅـــــه نـــــه ومـــــه
غـــــلی انقـــــلاب یـــــوه ګیلـــــه وکـــــړه

چـــــې د امـــــن د راتلـــــو لپـــــاره کیـــــږي
بربنـــــډتن تـــــه د کـــــالو لپـــــاره کیـــــږي
چـــــې یـــــو وږی پـــــه کـــــې مـــــوړشي
چـــــې دنـــــس د ډکیـــــدو لپـــــاره کیـــــږي
د یوخوارغریـــــب پـــــه کـــــورکې
د چـــــراغ د بلیـــــدو لپـــــاره کیـــــږي
چـــــې زمونږنـــــه تیـــــاري یـــــوسي
د ډیـــــوې د بلیـــــدولپاره کیـــــږي
دغـــــه جنـــــګ تـــــه هـــــرکلی وایـــــو چـــــې راشي
اوزمـــــونږ ه بدبختیوتـــــه شـــــفا شي

زمـــــا او ســـــتاخو د تقـــــدیریاري ده
د مســـــتې پیغلـــــې اوفقیریـــــاري ده
زه یـــــې پـــــه شـــــعرکې تمثیـــــل نـــــه شـــــمه
خـــــو د هنـــــدارو او تصـــــویریاري ده

سپین لیکل به یې کول په سپیوپاڼو
د مرزا د قلم رنګ دې په چاخرخ کړ
د کوچنیو مرغوجالې پکې جوړې ([1])
د مرغیو هغه بنګ دې په چاخرخ کړ
چې د کلي د زلمو دزړګي سر وه
د سینو د سرلونګ دي په چاخرخ کړ
جګ محل داوسیدو و د مرغانو
د کلي چنار دنګ دی په چاخرخ کړ
حیدري بې ترنمه شاعري کړي
دربابه سره ترنګ دې په چا خرخ کړ

د جهان ښکلو کې ښکلی زما یار دی
سپینه مټه کې د شنو بنګړو قطار دی
ملغلرې وشرمیبري او مخ پټ کړي
لکه غاړه کې د سپینې جینۍ هاردی
په هنرې د سینو په سرکې شپه ده
په هنر دخپل هنر لونګ کې تاردی
د رنجوسره پرې توره اوښکه څاڅي
د بڼولاندې د چا ښکلې رخسار دی
ماته ژوند او جانان واړه دځان تیردي
خوبس ګران راته په دواړو اعتبار دي
حیدري لیکي نازک شعرونه
په هر وخت کې ورته تېزقلم پکاردی

[1] یوډول کوچني مرغان چې چتي یې بولي د بنګوپه بوټوکي ځالي جوړوي

یــا د بــه یــوکمال کــړم چــې ګنــده‌ل دګریوانونـــوکړم
دې کـــې شرم نـــه شـــته دی عارنـــه شـــته دی
خپـــل ورونـــه د ورونوګریـــوان څـــیرې کـــړي
دې کـــې خوکـــوم لاس داغیارنـــه شـــته دی
هســـې مـــې د کـــلي کـــده راوړلـــه شـــهري شـــومه
دې کـــې خـــو څـــه خونـــده دښـــارنه شـــته دی
یـــه خلکـــه خـــواري عبثـــه مـــه کـــوئ
بـــې د درس تعلـــیم بلـــه لارنـــه شـــته دي
تـــه بـــه داپیغـــام رســـوي خلکوتـــه
یـــه حیـــدري ســـتاخوبل کارنـــه شـــته دی

اعتـــدال چـــې موســـمونو کـــې ناســـم شي
بـــې وختـــه بارانونـــه اوســـیلابونه بـــه راځـــي
پـــه لمانځـــه کـــې ســـجده اوقیـــام دواړه
کـــه یـــوشي درنـــه پـــانې عذابونـــه بـــه راځـــي
کـــه یـــي واک د خلکـــو خلکـــو تـــه ورنـــه کـــړ
یـــو بـــه ځـــې نورحکومتونـــه بـــه راځـــي
کـــه تجـــویز مـــو د پـــیبنې شـــوي غـــم ونکـــړ
یـــوغم رانـــه ځـــي خـــو نـــور غمونـــه بـــه راځـــي

## یواردوشعرچې دعبدالروف عارف له خوا پښتوته ترجه شوي دي اوعنوان یې دی

## ځنګل قانون

## ماددغه شعر څخه په الهام سره داشعرلیکلي دی

کلـه چـې مـوږشي د ځنګـل باچـا بیـا غوښـې نـه خـوري
ښـــکلې هوســـۍ دخپلـــې خوښـــې نـــه خـــوري
دونـــې لانـــدې ډه ډه واچـــوي دمـــه جـــوړه کـــړي
ســـــمه د عـــــدل محکمـــــه جـــــوړوي
بادونـــــه تیـــــزشي او جـــــا کـــــړي راشي
جالوتـــــــه میانـــــــدې بې وزرې راشي
د ونـــــې سرکـــــې تـــــو راڼکـــــه ناســـــته
اوږده لکـــــۍ تـــــوره بڼکـــــه ناســـــته
هلتـــــه یـــــې ځالـــــه د قارغـــــه ولیـــــده
ماننـــــــداره د دې مرغـــــــه ولیـــــــده
د ســـینې لانـــدې تورغـــاړې بچـــي کـــړل
دمرګـــه خـــلاص یـــي د پـــردي بچـــي کـــړل
هلتـــه لړوړانـــدې د یـــو بلـــې ونـــې
یـــوبچې ولویـــده دځـــالې نـــه دبلـــې ونـــې
مـــــاچې کتلـــــې رالویـــــدلې ونـــــې
لـــه هســـکه ځمکـــې تـــه لویـــدلې ونـــې
یومرغـــه ولویدلوســـیندته د مـــاهي د پاســـه
ډاریـــې د ســـیند دسیمســـارۍ د تبـــاهۍ دلاســـه
خومـــاهي جـــګ کړلومرغـــه د خپـــل وزر دپاســـه

مرغـــه خولـــه ورکـــړه لاړه کېناســـته د غـــر د پاســـه
دي وخـــت کـــې ســـیندکې یوطوفـــان راغـــی
د ســـیند پـــه سر د لرګـــو پـــول و پـــه لـــړزان راغـــی
چـــې پـــل راوغورځېـــد تختـــې تختـــې شـــو
لکـــه یوجوړګریـــوان ریښـــې ریښـــې شـــو
زه پـــه ځیرځیرهـــرې لحظـــې تـــه ګـــورم
د محبـــت یـــوې صـــحنې تـــه ګـــورم
پـــه یوتختـــه بانـــدي یوپړانـــګ او وزه دواړه ناســـت دي
مـــار او مـــوږك غـــاړه پـــه غـــاړه ناســـت دي
مـــا د ځنګـــل د قـــانون رازولیـــده
چـــې بچـــی نـــه خـــوري دکـــوترو مایوبازولیـــده
زمونږپـــه کـــلي کـــې خـــو داســـې یـــو قـــانون نـــه شـــته
زمونږپـــه کـــلي کـــې د خلکوپیوســـتون نـــه شـــته

طبیبـــه نـــورې نســـخې مـــه راکـــوه
زمـــا عـــلاج د چـــا پـــه مینـــه کېـــږي
هغـــه ویناهغـــه جرګـــه کامیابـــه
چـــې دهرخـــواخبره ســـپینه کېـــږي
ځنـــې وخـــت کارپـــه دواګانونـــه شي
د کمخـــونۍ عـــلاج پـــه وینـــه کېـــږي
پـــه کلکـــه غوښـــه خوتســـل نـــه کېـــږي
تســـل پـــه نرمـــه اوپـــه خوږینـــه کېـــږي
یـــوه خـــانم یـــوه د ښـــځې خـــور وري
لکـــه د خـــور تســـل پـــه ښـــینه کېـــږي

دتنگ نظراوجهالته توبه
بل د بدانو د خلو ته توبه
ستا د خبرو چې پروا نکوي
د کبرجنو د خصلته توبه

نه په تلوکې څه مزه سته نه راتلوکې
نه په خم کې څه مزه شته نه پيالوکې
بي گناه چې د مظلوم د پښو توق وي
پاتې نه شوښه اوصاف په زلونوکې

چاپلوسي يوبدعادت دی
د سپکوسپک خصلت دی
سړی خلاص کړي د حيثيته
نه وړ د احترام نه دعزت دی

د ورتلو په انتظارشوم
د ريبار سره په گفتارشوم
څه ښه وشولويه خدابه
هم بستره چې ديارشوم

نيم په ليمونيم په وربل ليکمه
قلم په لاس دغم غزل ليکمه
پلوکي وړم ستا د لحدنه خاورې
ستا نشانې د زړه په تل ليکمه

ټوپــــك بــــه كېـــدم د قلـــم سره تصـــويراخلم
د اخـــــتر ورځ ده دصـــــنم سره تصـــــويراخلم
ســــتا ســــتمونه اوزمــــا پرهرپرهـــــر وجـــــود
ســــتا د رتفـــار خـــو هرقـــدم سره تصـــويراخلم

چېرتــــه چـــې زغـــم نـــه وي هلتـــه بـــه غـــم وي
نـــه بـــه وصـــال نـــه بـــه جانـــان نـــه بـــه صـــنم وي
چـــې گـــلان نـــه وي نوپـــه اغـــزو بـــه لـــويږي
څـــه بـــه افـــق څـــه بـــه ســـحرڅه بـــه شـــبنم وي

د کـــلي گـــر د چـــاپيره د دوديـــز عقـــل دوران دی
دا عقـــل اشـــكاردی حقيقـــي عقـــل پنهـــان دی
دلتـــه تـــول د عقـــل كېـــږي د دوديـــز عقـــل پـــه تلـــه
چـــــــې داولـــــــې د ارواح دی دا ميـــــــزان دی

چېرتـــــه پېغلـــــې دســــــاتي ([1])قربـــــاني كېـــــږي
چېرتـــــه پېغلـــــې پـــــه پيســــوباندې خرڅيـــــږي
چـــې پيســـې گټـــي اوســـپينې ســـينې ښـــكاري
چـــــې دا ښـــــځې ولـــــې داســـــې مجبـــــوريږي

[1] ساتي دهندوانو پخواني رواج وه چې ميړه به يي مړشو ښځه به يې هم وژله

ملګرتيـــــا دا بـــــرو منـــــدو خلکـــــو ښـــــه ده
دوســـــتي د عقـــــل منـــــدو خلکوښـــــه ده
بـــې وقوفـــوسره هـــيڅ پـــه لاره مـــه ځـــه
خپلـــــــولي د عزتمنـــــــــدو خلکوښـــــــه ده

د دې جنګونوتـــــود بـــــازار ښـــــه نـــــه دی
پـــــدې بـــــازار کـــــې کاروبـــــار ښـــــه نـــــه دی
اوس د بـــــازاره ترکـــــورو نـــــو راغـــــی
اوس پـــــه کورونـــــوکې روزګارښـــــه نـــــه دی

هرچـــــا د ځـــــان سره دشـــــمني شروع کـــــړه
چـــــاچې ظـــــالم سره دوســـــتي شروع کـــــړه
حـــــالات خوهلـــــه شـــــو بـــــدتر لـــــه دې نـــــه
چـــــې ډېرغريـــــب شـــــويوخانی شروع کـــــړه

چـــــې چاپـــــه دام اوچاپـــــه جـــــال نيـــــولی
مـــــا د مرغـــــانو شـــــور تـــــه ډېـــــر وژړل
چـــــې پـــــه کـــــې رســـــم وه حالـــــت دوطـــــن
نـــــن رنځـــــورانز ورتـــــه ډېـــــر وژړل

اول کې د زړگي گناه
بیامې دچشمان گناه
ولې خندل راته
دامې د جانان گناه
لویه مې گناه وکړه
ماپه شبستان گناه
ستاوربل چې لوټ شولو
دا د تور ریحان گناه
کله کړي ساقي گناه
کله کړي خمان گناه
جام چې په سرواړوي
نه مني رندان گناه
هسې په کمزورولاسو خیرې شو
دامې دگریوان گناه

ستا ذهن غلام دی او زما ذهن غلام دی
گورم چې هرچاته د هرچا ذهن غلام دی

زه خولا دځان اود جانان فکرکې غرق ومه
گردچاپیره گورم د دنیا ذهن غلام دی

فقردې ورک شي
که فرهنگي وي که د پیسووي
فقردي ورک شي
که دقلم یادکتاب یا کتابجووي
فقردي ورک شي
که د غواگانوکه دشیدویادمستووي
فقردې ورک شي
که د بچو وي که د لمسو وي
فقردې ورک شي
که د غزل وي که دټپو وي
فقردې ورک شي
که د مکتب او فاکولتو وي
فقردې ورک شي
د هلکانو که د جلکو وي
فقردې ورک شي هرفقردې ورک شي
فقر فقیردی فقیرحقیردی
فقیرکه هرڅوپه عمر پوخ وي
چې وس یې نه وي لکه صغیردی

چې پیسې نه وي ژوندبه په خه کړي
په خه لباس کړي په خه خواړه کړي
دې خوارغریب ته به خه شی ورکړي
په خه څلورکړي په خه پنځه کړي (۱)

۱ ذکات اوحج

زړونـــــه زمونږدســــــينوواك يــــې پــــردوسره دی
ګنـــاه انګـــوروكې ده جنـــګ دپيـــالوسره دی
هرخـــه ســـمبال پـــه خپـــل كـــمال سره دی
چـــــې د اتـــــوم ذره كــــې واك د ذروسره دی
فقرناكـــــــام پــــــــه هرميــــــــدان دی
فقرناكـــــام پـــــه ټـــول جهـــــان دی
زمونږكتــــــــاب مونږتــــــــه ويــــــلي
فقـــــــر د شـــــــمن دی اول دځــــــان دی

كـــــــــه دخلكوســــــــپكه غــــــــواړي
نــــــــوخيردې دځـــــــــان غــــــــواړه
دا نشـــــــــان دبـــــــــې حرمتـــــــــو
نوحرمــــــــــت دانســــــــان غــــــواړه

وينـــــــــــه تويـــــــــول ښـــــــــه دي
كـــــــه وينـــــــه وركـــــــول ښـــــــه دي
وښـــــــــايه ملګـــــــــري ديزيدراتـــــــــه
ځكـــــه دحســـــين پـــــه لاره تلـــــل ښـــــه دي

نـــن بيـــا دكـــار ســـړي ديوتـــودې ګـــولۍ خـــوراك شـــو
د اولـــې د نرګســـو بـــاغ د دې ږلـــۍ خـــوراك شـــو
د اولـــې دا د كـــار خلـــك د دارپـــه سرزړيـــږي
د اوېـــي دا سرونـــه دحلقـــه رســـۍ خـــوراك شـــو

تـــــا یـــــې صــــــفت د تـــــورو زلفوکـــــاوه
یارخولینـــــدا یـــــار خـــــو پمـــــن راووت

د ســــیند د غـــــاړې کـــــوردې هـــــم ولویـــــده
تاویلـــــــــه متـــــــــه ده شـــــــــګلن راووت

هســــــې یـــــې مـــــونږه پـــــه ژړاتیروتـــــو
یـــــار همیـــــانی سره ډاډمـــــن راووت

دګــــل پـــــه نـــــوم یـــــې ځوتخمونـــــه راکـــــړه
خـــــوترې اغـــــزي پـــــاس پـــــه چمـــــن راووت

تـــــاریخ کـــــې دغســـــې قصـــــې هـــــم شـــــته دي
چـــــې زمـــــوږ دوســـــت زمـــــږ دښـــــمن راووت

مونږشـــــــاهدان یوټـــــــول دي د روغ ویـــــــلي
داحیـــــــدري ځکـــــــه ډېرخـــــــــوږمن راووت

نیمـــــه شـــــپه ده خـــــوب مـــــې نشـــــته دی بیـــــداریم
دازه ولـــــې لیـــــونی شـــــوم زه دچـــــا پـــــه انتظـــــاریم
کلـــــه لاړشـــــم تصـــــورکې د خپـــــل کـــــلي دیـــــدن وکـــــړم
اوچـــــې سر دزنګـــــون جـــــګ کـــــړم نوپـــــه ښـــــاریم
دې ډېـــــرو شـــــوګیرونو بـــــې متـــــاع کړمـــــه دکـــــلي ([1])
نـــــه منګـــــي شـــــوم نـــــه ربـــــاب شـــــوم نـــــه ســـــیتاریم

[1] بي متاع - فقير بي دارايي

دا خلـــک پـــه مینـــه کـــې جګـــړه نـــه پیـــژني
پـــه نـــه خـــبره جنـــګ کـــوي ګیلـــه نـــه پیـــژني
ژر د خـــــود خـــــواهۍ دریـــــاب تـــــه دانګـــــي
زور د چپونـــــه وینـــــي چپـــــه نـــــه پیـــــژني

دلتـــــــه څـــــــوک رســـــــاخبرې نـــــــه اوري
دا اولـــــــس رښـــــــتیا خـــــــبرې نـــــــه اوري
ډوبـــــــې اومبهمـــــــې ډېـــــــرې ښـــــــې اوري
ســـــــپینې او پرمعنـــــــا خـــــــبرې نـــــــه اوري

**ای زلمیه**

لږخـــــــو د پـــــــلار د جیبـــــــه لاس وباســـــــه
هـــــــم دبغـــــــل هـــــــم یـــــــې دپـــــــاس وباســـــــه
مســـــــیولیت ومنـــــــه پـــــــه خپلـــــــه غـــــــاړه
دپلارنـــــــه شـــــــکر پـــــــه اخـــــــلاص وباســـــــه

ښـــه بـــه داوي چـــې هـــم ســـتاشي هـــم زمـــاشي
دابـــــه نـــــارواوي چـــــې دا هرڅـــــه واړه ســـــتاشي
ځـــــه تـــــه ډيـــــوه راوړه اوزه بـــــه تیـــــل راوړمـــــه
وېـــش بـــه هلـــه وکړوچـــې ډیـــوه بلـــه کـــړو رڼـــاشي

تـــه خاموشـــه زه خاموشـــه لاس دزنـــې لانـــدې
ياپيتـاوي تـه پراتـه يـو يـا يـو ناسـت دونـې لانـدې
غـل بـه کـلي کـې بـس ټـول کورونـه لـوټ کـړي
مونږخاموشـــه ملامتـــه د ظـــالم د ودې لانـــدې ([1])

منفـــي فکرونـــه د رنځـــورو خلکوکـــار دى
پـــه منفـــي لاروبـــه درومـــي بـــد کـــردار دى
ســـمې لارې پـــه مثبـــت فکرپيـــداشي
چـــې اثـــر يـــې د دنيـــا پـــه کاروبـــار دى

د دهقـــان زوى د تعلـــيم پـــه زورمعلـــم شي
او د مـــزدور زوى پـــه مکتـــب کـــې مـــتعلم شي
تعلـــيم اصـــل دبـــدلون پـــه جامعـــه کـــې
د تعلـــيم سره عقلونـــه ټـــول ســـليم شي

څـــوک وايـــي خاموشـــه اوســـه
څـــوک وايـــي شورښـــه دى
څـــوک وايـــي ســـپين ښـــه دى
څـــوک وايـــي تورښـــه دى
زلفـــې پرتـــې ښـــې دي
وربـــل يـــې خـــور ښـــه دى
څـــوک اوس د چـــا ومنـــي
نصـــيحت د مـــور ښـــه دى

[1] وده معنا دتاثيراو نفوذ لاندې

مکتـــب تــــه د چـــړو او تومــــانچو سره راځـــــي
ټوپـــــک یـــــې پـــه اوږو د مردکـــــو سره راځـــــي
هـــیڅ فکـــر د قلـــم اوکتـــاب نلـــري پـــه سرکـــې
دکـــوره چـــې راځـــي نـــو د چړچـــوسره راځـــي

داســـې مـــه کـــوه زلمیـــه د کتـــاب لاره رانیســـه
داغزوپـــه لاره مـــه ځـــه د ګـــلاب لاره رانیســـه
دجنـــګ او د جګـــړو ډګـــر دوچـــې دشـــتې کـــوردی
راځـــه دســـیند دزوګ او د دریـــاب لاره رانیســـه

د تعلـــیم لارکـــې عـــزت دی اوشرافـــت دی
وړانـــدې تـــګ اواعـــتلا ده او پیشرـــفت دی
د دنیـــا کارونـــه واړه پـــه تعلـــیم اوتربیـــه دي
طبابـــت دی کـــه فرهنـــګ کـــه صـــنعت دی

نـــو راځـــه اول کـــې ځـــان جـــوړکړه
بیـــا دا وطـــن افغانســـتان جـــوړکړه
د نـــاپوهۍ پـــه ضـــدبیرغ پورتـــه کـــړه
دهربچـــي نـــه دې انســـان جـــوړکړه

هـــــدف چــــې ښــــه وي اومسيرښـــــــه وي
لاربـــــه صـــــفاشي چــــې تدبيرښــــــه وي
دقطـــغ ځـــګ بـــه پـــرې ښــه راتـــول شي
چـــــې خمخـــــې لويـــــه اوقفګيرښـــــه وي
دوخـــــت زلميـــــان کــــه لرهوښــــيارشي
د طــــاووس ځـــان خـــو فقـــير ښـــه وي (1)
پـــه درد ونخـــورې ځنـــې مشرـــان هـــم
د دوى د شرنــــــه بــــــه صغيرښــــــه وي

تـــل بـــه زه مزدوريمـــه کـــه زه بـــه کلـــه خـــان شـــمه
تـــل بـــه ريبـــاري کـــړم کـــه بـــه زه دچاجانـــان شـــمه
پيغلـــې راروانـــې دي نـــرګيس وړي وربلونوتـــه
کلـــه بـــه ددغـــه بـــڼ صـــاحب کلـــه بـــاغوان شـــمه
زړه مـــې کلـــه ډک شي خوژړاکـــولى نـــه شـــمه
کلـــه بـــه دســـترګو نـــه شـــيبې شـــيبې بـــاران شـــمه
هســـې اينـــې ګـــردې ګرځومـــه ګـــل خوبانوتـــه
کلـــه بـــه اينـــه شـــم چـــې ديـــوال کـــې اويـــزان شـــمه
ډېرکـــوم ســـوالونه دلمانځـــه پـــه دعاګـــانوکې
کلـــه بـــه قبـــول شي چـــې ابادافغانســـتان شـــمه
مـــا حيـــدري ژونـــد کـــې داســـې لار انتخـــاب کـــړې ده
ډيـــر ځلـــه د نـــورو کلـــه کلـــه لـــږ د ځـــان شـــمه

---

[1] قطع – طاوو - کبرجن

يــــه حيـــــدري خولـــــه دې وړه خـــــبرې غټــــې کــــوي
خوخپــــــل اولــــــس تــــــه پکـــــې ګټـــــې کــــوي
پـــــه کــــوم مکتـــــب کـــــې دې لوســــــتلي دي دا
رد دخـــــورې اوغــــــوړو صــــــفت دبټــــې کــــوي([1])

ترســــــولي ښــــــې وې ځنـــــې جګـــــړې هــــــم
خيرکــــــه خــــــيره وي ځنــــــې ډيــــــوې هــــــم
پــــه چـــرت کـــې پـــروت يـــې شـــپه لالهنـــــده
لـــــه دې چـــــې واورې ځنـــــې قصـــــې هــــــم
مخکـــــــې روانـــــــه او شـــــــاته يـــــې مـــــخ دي
سرکــــــې د يــــــار وي هميشـــــــه مـــــړي هــــــم
ســـــپينه نازکـــــه پښـــــه لکـــــه پـــــري پـــــه شـــــاني([2])
ديــــوان بـــــه ســــمې کــــړي ورتـــــه پښـــــې هــــم([3])
خــــــبري خونـــــــدکړي د مـــــــاه خوبـــــــانوسره
خــــير پـــــه غوږنـــــو کـــــه وي راتـــــه کڼـــــې هــــم
حيـــــدري پيغلـــــو تـــــه بـــــه درونـــــدکتل کـــــړي
کــــــه نابينـــــاوې کـــــــه وي ړنــــــدې هـــــــم

[1] بټه يابه ټه اوروټه داوربشوډوډۍ ته وايي ددي بيت هدف دادي چې د چې دغوړواوخوږوطبي ضررونه خوراډېر اوداوربشوطبي فايدي ډېري دي

[2] پري - ښاپيري

[3] ديوان افسانوۍ مخلوقات دي چې لوی جسامتونه لري

نــــور ښـــــه پــــه محنـــــت تخمونـــــه وکــــــري
تــــول شي د وحــــــدت تخمونـــــه وکـــــــري
ورك شـــــه دنفــــــرت تخمونــــــه مــــــه كــــرئ
مینـــــه راپیــــــدا د محبــــــت تخمونــــــه وكـــــرئ

مــاپـــــــه شـــــــعرونوكې رښـــــــتیاویلي و
مــــا پــــټ رازونـــــه ښـــــه صـــــفا ویـــــلي و
هغــــه وخــــــت چـــــاراسره ونــــــه منـــــــل
نـــــن وایــــــي تـــــا مخكــــــې رســــــاویلي و
دلتـــــه دا ســـــپین بږیــــري خلـــــك څــــه كـــــوي
دلتــــــه داســـــپین سري خلـــــك څــــــه كـــــوي
ولــــــې ټــــــول ولاړدي دامســــــا پـــــــه لاس
داپـــــه ګیـــــډه وږي كړیـــــدلي خلـــــك څـــــه كـــــوي
ښـــــكاري چـــــې طلــــــب د مـــــــزدورۍ كـــــوي
غــــــواړي مـــــــزدوري صـــــاحبه ښـــــه كـــــوي

نـــه پـــه نشـــه كـــې اونـــه پـــه هــــوش كـــې ښـــه یــــم
نـــه پـــه نرمــــۍ اونـــه پـــه جـــوش كــــې ښـــه یــــم
نـــه پــــه مـــاضي اونـــه پـــه حـــال ســـمبال شــــوم
نـــه خــــو پــــه یادنـــه فرامــــوش كــــې ښــــه یـــــم
بـــــس د زړګـــــي حــــال بــــه درتــــه اوس ووایــــم
ســـاغر دې ســـتا وي زه پـــه نـــوش كــــې ښــــه یـــــم

دیار په قول اعتبار ورك شو
ځکه خوخوند د انتظار ورك شو
ځکه زلموبل خواته مخه وکړه
چې د گودر په سر دیدار ورك شو
اوس دې د مخ رڼا ځلانه کو
چې دخالونوپړې قطار ورك شو
د پردو سازته مواتڼ شروع کړ
زمونږد خپل کلي ستار ورك شو
مزه دې لاړه د حجرې مجلسه
چې د ټپوسره ایله زارورك شو
دهرې شپې پسې سبارانه غی
ددې متل خو نورگفتار ورك شو
ښارونه ټول داوسیدلونه دي
ښاري کلتور لاړو دښار ورك شو
کوشیر د لوبو یې په کمال کولو (۱)
لاړ مرورشولو صفار ورك شو (۲)
دلته رواج چې شیروار ورك شو
منداڼو ورك شو او نجارورك شو (۳)

---

[۱] کوشیر پخواژوند ډېرساده غریبي هم ډېره وه خلکوبه خپل لوبې اومات چېنې لوبې ترمیمول چې دي ته دکوشیر اصطلاح کاریدله

[۲] صفار په فارسي ژبه مسگراوپه پښتوکي ورته ټټار(ټه ټار) وایي

[۳] – منداڼو په کلوکي دغواگانو اومیښوساتل دخلکودژوندتامین دپاره یوموثراوابرومندانه کاروه دشیدو سخه دسوچې غوړو داستحصال دپاره به شیدي تومنه اوچې کله به ماسته شول بیابه دشیرواردعملیي پواسطه تري غوړي استحصالول چې دشیروارعملیه دنجارپه لاس دلرگونه دجوړې الي یعني منداڼو(کیداي شي داپه نورومنطقوکي په بل نوم یادشي یاممکن په بله بڼه ولیکل شي نوزه

دنن غمونوگریوانونه ترلمن لامده کړل
د اوښکو رود راته کالي زمادتن لامده کړل
د سباغم ته به د نورو اوښکو زېرمه گورم
وبی منم که اندامونه یې دبدن لامده کړل

نن د سهر مرغان خاموشه دچنارپه سرکې
ولې نشه مسته خاموشه ده دیارپه سرکې
خدایه ته داسې لیونۍ کلۍ ته بیاراولي
چې یوه مسته خندا وکاندي د دارپه سرکې

مرض دشمن دی دشمن دسردی
ښکارې وړوکي لوی لکه غردی
ښه په حکمت به تري ځان ساتي
مرض کې غم دې مرض کې شردی

ورگډ مه شه څوک دعشق په دریابونو
نه به خلاص شي په هفتونه په کلونو
داخه دومره په اسانه سره نه شي
تاوراتاوبه شي بیا ډوب په گردابونو

معذرت غواړم)په واسطه سرته رسیږي همدارنگه کله چې دچا هڅوکي مات اوبیا ترمیم شي دې ته هم د کوشیراصطلاح کارول کیږي

هرســــــــــــــتم دي هيرکړلـــــــــــــو
ســــــــتړي غـــــــم دی هيرکړلـــــــو
خانـــــــــــــدي بدخواهانوتـــــــــــــــه
خپـــــــــل صـــــــــنم دې هيرکړلـــــــو
ځنـــــــې دکـــــــبرو لرګومشـــــــال لـــــــري
ســـــــم ناســـــــم دې هيرکړلـــــــو

کتــــــــاب ترپايـــــــــه ولولـــــــــه
پـــــه پشــــــتي قضــــــاوت مـــــه کـــــوه
انســـــــان هـــــــم لکـــــــه کتـــــــاب دې
پـــــه ظـــــاهر قضـــــاوت مـــــه کـــــوه

زه چـــې د غرونـــواو ســـيندونو سر ســـتر شـــومه
نـــونرمې مـــې داوبـــو عظمـــت دغرپـــه شـــان
ســـترګي پيـــالې دي خوبنوتـــه بـــه څـــه نـــوم اخـــلي
قطـــارولاړ لکـــه دجنـــګ د لـــوي لښـــکر پـــه شـــان
تـــوره بدرنګـــه پشـــدي پلـــو دې ډېربـــدرنګ کـــړ (۱
د پلـــومنځ کـــې تـــور ښـــکاريږې دکســـکر پـــه شـــان۲
همـــه و اړه ســـتاري چـــې نـــوراني دي دافتابـــه
خوزماجانـــان ځليـــږي لکـــه ســـم دلمرپـــه شـــان

### یومتل دی

د وړو کارنــــــــه شـــــــته واړه وزګارنـــــــــه شـــــــته
دمارپـــه ســـوړه کـــې کاربښـــه دی جـــه مارنـــه شـــته
هـــــدف یـــــې نـــــه وي معلـــــوم خوشـــــاوخوالټوي
ځـــي هغـــه ځـــای لټـــوي چـــې چېرتـــه کارنـــه شـــته
ځنـــــې لویـــــان همداســـــې -وي دوړو پـــــه شـــــانې
پـــه عقـــل ټـــول کمـــزوري پـــه کـــي هوښـــیارنه شـــته
هســـې دیـــرې هســـې حجـــرې د خلکـــو مـــه لټـــوي
دلتـــه ټـــول کـــې منګـــي نـــه شـــته ســـیتارنه شـــته
کـــلي ســـوکړه شـــولوانکورنه شـــته وربشـــې نشـــته
خـــم نـــه شـــته ســـاقي نـــه شـــته اوخمارنـــه شـــته
داڅـــــیرې څـــــیرې ګریوانونـــــه دګنډلونـــــه دي
چـــې پـــه کورونـــوکې ســـتن نـــه شـــته اوتارنـــه شـــته
څـــه مفتېشـــه خپـــل تفتـــیش دې پـــه ارامـــه وکـــړه
لارې صـــفا دي اغـــزي نـــه شـــته اوخارنـــه شـــته
حیـــدري وایـــي کنـــایې خوخلـــک ټـــول پـــوهیږي
حیـــدري ســـتا د چانـــه ویـــره نـــه شـــته ډارنـــه شـــته

یـــــــاخو شـــــــپې زمونږپـــــــه شـــــــان شـــــــوې
یـــــــاخو مـــــــونږ د شـــــــپوپه شـــــــان شـــــــو
دانـــــه وینـــــو لومـــــه نـــــه وینـــــو پـــــه دام کـــــې
دامـــــونږ ولـــــې دهواداســـــې مرغـــــان شـــــو
دمرســـــل پشـــــان وربـــــل کـــــې دېـــــره نـــــه شـــــو
پایزیبونـــــه پـــــه پښـــــوکې دجانـــــان شـــــو (۱)

ټـــول بـــدل شـــورابدل شـــوپه بـــل رنـــګ شـــو
نـــورسره رنګـــه اوپـــه یـــوبڼ کـــې ګـــلان شـــو
د بهرنـــــه د خـــالې پیالودشـــــور او ځـــوګ اوازه
نورخاموشـــه میخانـــه کـــې ډك خـــمان شـــو
چـــې پـــه لانـــدو لارو لاړو لانـــدې کیـــږولا تراوســـه
نوربـــه پورتـــه ځـــوچې ســـتوري داســـمان شـــو

دکلـــــــــــــې واك دملکـــــــــــــانوسره دی
څـــــه د مـــــلا څـــــه د پیرانـــــوسره دی
کـــــاره واره ځـــــې کلـــــه ســـــم لاړشي
دغـــــه هـــــنر بیـــــا دمـــــارانوسره دی
خـــــبره راشي دخپـــــل واك اوعـــــزم
دغـــــه قـــــوت د زورواکـــــانوسره دی
نـــــن نـــــاروا پـــــرون رواعمـــــل وه
د دغـــــې حکـــــم د مفتیـــــانوسره دی
ډیـــوه بـــه څـــوك پـــه کـــوم هنربلـــه کـــړي
چـــــې اورلګیـــــت دجـــــاهلانوسره دی
مـــونږه تـــورتم اوجهالـــت کـــې ســـاتې
درڼـــــا څـــــرك د هوښـــــیارانوسره دی
حیـــــدري تابانـــــدې اســـــونه ســـــاتي
داس رکـــــاب دصـــــاحبانوسره دی

مخې له راشې خوپه شالاړه شې
هرځل چې راشې بیرته بیالاړه شې
زه هم حیران یم خپله هم حیرانه
خواله راځې بیامې له خوالاړه شې
ځنک ته مې راشې دخندا په اوربو
سترګې یې سرې شي په ژړالاړه شي
کله مرغې شي په شانومې کینې
په رپ کې والوزې عنقالاړه شي([1])
زه چې مزل کړم لاس ددې په ولو
مخکې مې ځې لکه امسالاړه شې
دغرومزل به جانان ځنګه کوې
سپینه سپوږمې که دسمالاړه شې
خودبه دالوی انسان دبرمه وځې
که طب اوپوهه دسینا لاړه شي([2])
اخربه څه کړومونږدمینې ړانده
دسپین جبین نه که رڼا لاړه شې
ماته به بوډۍ انا قصه کړې وه
کله مجنون کله لیلالاړه شې
دا دی فطرت د زمانې دغسې
پرخه دوخته په سبالاړه شي
راځئ چې دشتونه ځنګل جوړکړو
چې زمونږ سږوته هوالاړه شي([3])
غلیم لګیادی منصوبه جوړوي

[1] عنقا یو خیالي مرغه دی
[2] سینا ابوعلي سینا
[3] شنې ونې اکسجن ازادوي اومونږېې د دسږو دلارې تنفس کوو

چـــــــې مـــــــو دشـــــــونډونه مســـــــکالاړه شي
نـــــــن ددنيـــــــا د زلموغرپورتـــــــه شـــــــو
وايـــــــــي جګـــــــــړه دې د دنيـــــــــالاړه شي
حيــــــدري ســـــتا ددوه مخـــــى نـــــه توبـــــه
يـــــــادې جفـــــــا يـــــــادې وفـــــــالاړه شي

ګ

کـــــه داغـــــزو پـــــه مـــــټ دګـــــل زرغونـــــه کېـــــږي
ګـــــل دې نـــــه شـــــې اوغـــــوټى دې ورژيـــــږي
کـــــه کتـــــاب کـــــي دفايـــــدې خـــــبره نـــــه وي
دلوســـــــتوپه ځـــــــاى تـــــــاقونوکې ورســـــــتيږي
دســـــــــتونزوحل پـــــــــه تـــــــــدبيرونوکيږي
ددشـــــــت ګـــــــلان پـــــــه بـــــــارانونو کېـــــــږي
د چـــــــانظر وي پـــــــه چارګـــــــل اونتکـــــــى
زمـــــــا تســـــــل پـــــــه سرو خـــــــالونو کېـــــــږي
نـــــــرګس خوشـــــــاله د لښـــــــتو پـــــــه غـــــــاړه
نښـــــــتر د لـــــــوړغره پـــــــه سرونـــــــوکيږي
چـــــــې د بنګړوپـــــــه مـــــــنځ کـــــــې سرلګـــــــوي
مـــــــزې پـــــــه داســـــــې مړونـــــــدونو کېـــــــږي
د ميـــــــدان جنـــــــګ دى پـــــــه ټوپـــــــک وګاتـــــــه
اوس يـــــــــې ســـــــــاتل پـــــــــه کتـــــــــابونوکيږي
چـــــــې پـــــــه ژونـــــــدون دې رانـــــــه مـــــــخ پټـــــــاوه
دمـــــــرګ ليـــــــدل بـــــــه پـــــــه قبرونـــــــو کېـــــــږي
پـــــــه سرولاســـــــوچې درلـــــــه جـــــــام درکـــــــړي
خمارپـــــــه دغســـــــې جـــــــامونو کېـــــــږي
چـــــــې حرکـــــــت تـــــــه ځوانـــــــان وهڅـــــــوي
شروع د داســـــــــې فرمـــــــــانونو کېـــــــــږي

شرچې د شر سره په شر واچوي
فتحه له دغسې شرونو کېږي

ځان کې مې دځان دناروغې نښې
گورم شوې پیدا دادبربادۍ نښې
هرخومره که وایمه چې خپل یمه
تن کې راښکاره شوې دپردۍ نښې
نن مې په یومخ کې عجیب رازولید
وي په کې د ستورو او سپوږمې نښې
ماچې په سروشونډو شونډې کېښودې
ماپه کې احساس کړې دنتکۍ نښې
کله ځان ملنگ کړم خیر بانه کړمه
گورم چې پیداکړم په بلۍ نښې
دومره د یارحسن ته تسلیم شومه
ځان کې احساسوم دغلامۍ نښې
زه د چرگۍ اوریم خیرکه مړشمه
تل کې مې ساتمه د سپرغۍ نښې
هرڅوکه منکرشي چې یې نه څکمه
ماپه کې مونډلی ښې دلې نښې(۱)
هرڅوکه کابله ځان بدل کړي ته
شته لادگډ خوب اوصندلۍ نښې
ډېرخوطوفانونه دلته تېرشولو
ورکې خدایه مه کړې د سیلۍ نښې

دګـــل عطـــر پـــه ګـــل پـــاڼوکې موجـــود دی
اوسره زر دغــــره پـــــه کــــاڼوکې موجــــود دي
زمـــري دي پـــه قـــوت کـــې خـــود مـــار دزوره نـــدي
دغـــه متانـــت یـــواځې خـــاڼوکې موجـــود دي[1]
تـــــوره ده ګورګــــوره خودشــــاتونه خــــوږه ده
میګــــون خوپــــه ممانـــوکي موجـــود دي[2]
واړه مرغـــان خپـــل مقـــام کـــې ښـــکلي دي
ګردنونـــه پـــاس پـــه زانـــوکې موجـــود دي
زماشـــعر چـــې ګـــوري هرڅـــوك خپلـــه اینـــه کـــې
زمادشــــعرګوهر دکاغـــــذپاڼوکې موجــــود دي

مـــونږه خـــواران خـــو تـــش لاســـونه راغلـــو
جـــوړ درمندونـــه رانـــه بیـــادکلي خـــان غـــواړي
چـــاسره لورپـــه لاس غـــوټې ریبـــي ګلونـــه ریبـــي
څـــوك دقلـــم پـــه زورابـــاد افغانســـتان غـــواړي
چـــا پـــه جنګونـــوکې مـــانۍ شرکتونـــه جـــوړکړل
دابیـــوزلان ګـــوره دجنګـــه خـــلاص جهـــان غـــواړي
حیـــدري نـــه ډارېـــږي زغـــرد یـــې وایـــي
پـــه ســـپینه ږیـــره دلربـــاغواړي جانـــان غـــواړي

[1] یـــوډول حیـــوان چـــې صـــحرایي موږکانوتـــه یـــا خـــاڼې مشـــابه جوړښـــت لـــري اودمارانو سره دجګړي توان اوبالاخره بریالي کېږي
[2] -میګون دشرابو په شان سري شونډې

د خپـــل ســـاغر د واوبـــو جـــام پـــه اشرفوخرخـــوي
مانـــه . زمـــا د کـــلي بنـــګ ځـــومره ارزان غـــواړي
کلـــه ســـاقي پـــه خطـــایی کـــې راتـــه جـــام ونیسي
پـــه بدلـــه کـــې یـــې انګورغـــواړي خـــمان غـــواړي
دکـــــلي ټولوماشـــــومانوته یـــــې کنجکـــــي راوړې
بـــدل کـــې هـــار د طـــلاو ړي ورســـه مرجـــان غـــواړي

څـــــوځلي خوبنګـــــو لیـــــوني کړلـــــو
بیـــانو پـــه دې بنګـــو لاروځلـــه ځـــو
ښـــه پـــراخ میـــدان اوسرکونـــه دي
هســـې پـــه دې تنګـــو لارو ځلـــه ځـــو
ســـمې لارې تلـــلي زمـــونږکلي تـــه
ولـــې او پـــه ګړنګولاروځلـــه ځـــو
هلتـــه کلیـــوال دي ګـــل پـــه لاس ولاړ
پـــه اغزنوپـــه بدرنګولاروځلـــه ځـــو
مونږتـــه پـــه غریبولاروتـــګ ښـــه دي
نـــوروسره پـــه دنګولاروځلـــه ځـــو
زمـــونږه لـــوګرې ډول اواتـــڼ ښـــه دي
دجـــازسره پـــه شرنګولاروځلـــه ځـــو
خـــوږدی دا فغـــان سره دننـــګ لفـــظ
تـــریخ اوپـــه بـــې ننګـــولارو ځلـــه ځـــو
یـــه حیـــدري تـــاکي مـــواخلاص ولیـــد
تـــاسره د اخـــلاص پـــه لارســـل ځلـــه ځـــو

؛دادښـــــتې اوســــــندونه او داغـــــر وطــــن زمـــــادی
د سرو ګلونولښــــــته اوګــــــل سرو طـــــن زمـــــادی

تمامـــــه پـــــرې د ښــــکلو اوزینـــــت پریمـــــاني ده
رب راتـــــه جــــوړکړي پـــــه هـــــنروطن زمـــــا دی
بابـــــا دې کـــــــه پامیرکـــــــه هنـــــــدوکش دی
هســــــک ولاړســــــپن غـــــــروطن زمـــــادي
نښــــې د وحـــــدت یــــې پـــــه څلــــورو زاویـــــوکې
راس یــــــــې دکابلـــــــه سراسر وطـــــــن زمـــــادی
ونیـــــــسي شـــــــمال د جنــــــوب پبغلــــــه دبغلــــــه
ســـــالنګ دې کــــــه شــــــیبر وطــــن زمـــــادی
چـــــې بـــــوی کـــــړو د نرګســـــونه پـــــه مملـــــه کـــــې
ســـــفرکوو پـــــه غرونـــــو مـــــاهیپروطن زمـــــادې
دلتـــــه دي راغـــــلي پښــــیمانه بیرتــــــه تلـــــلي
سراسریـــــــــاغي اودا ســـــــــنګروطن زمــــــا دی
دلویـــــــدیځ نــــــه دختـــــیځ تـــــــر نورســــــتانه
پـــــه تـــــاریخ کـــــې دا ظفـــــر وطـــــن زمـــــادی
هســــــې خـــــوختن پـــــه ګـــــل مشـــــهور شـــــولو
مشــــــک دې کـــــــه عنـــــبر وطـــــن زمـــــا دی
هلمنـــــــد دی کـــــــه فـــــــراه رود او کـــــــه امـــــــودی
مســـــت روان ن؛کنـــړ کـــې ســـور او شر وطـــن زمـــا دی
زه حیـــــــدري زوړشـــــــوم د وطـــــــن پـــــــه غـــــــم
دځانـــــه راتـــــه ګـــــران لکـــــه دلـــــبر وطـــــن زمـــــادی

ځــوک مخکـــې ځـــي ځــوک شــاته ځـــي روان دي
ځـــوک وفـــاکړي ځــوک جفاتـــه ځـــي روان دي
چـــاکچکول تـــه تـــرجيح ورکـــړه پـــه ملنګـــولاړولاړ
ځـــوک ســـاغراو ځـــوک ميناتـــه ځـــي روان دي
ډېروملتونـــود بقـــالار انتخـــاب کـــړه مخکـــې لاړل
افغانـــان دې دبقانـــه چـــې فنـــا تـــه ځـــي روان دي
دچنارنـــه د کـــوترې بچـــي پـــاځي پروازوکـــړي
ځـــه ناکـــام شي ځـــه فضـــاته ځـــي روان دي
پـــه ښايســـت کـــې چـــې خالونـــه دســـپين مـــخ شي
کـــبرجن شي پـــاس ســـماته ځـــي روان دي
درب د قدرتونوتسلســـل جهـــان کـــې ګـــوره
دمبدانـــه شروع شـــوى انتهاتـــه ځـــي روان دي
زمـــا د فکـــر او مغزنـــه چـــې راووځـــي خيالونـــه
فـــرار وکـــړي زمانـــه ديـــار خواتـــه ځـــي روان دي
دې خلکـــو د ابلـــيس د فريبونوځکـــه وکـــړه
د کـــاذب نـــه اوس رښـــتيا تـــه ځـــي روان دي
مارپـــه ژبـــه اورېـــدل اوبويـــول کـــوي هوښـــياره
مـــاران ژبي راوبـــاسي اوغذاتـــه ځـــي روان دي
ښـــه خـــواران دي نـــه ټـــاکو لـــرې نـــه زرنـــه هميـــانۍ
خـــوښ ژونـــدون کـــوي مســـکاته ځـــي روان دي
پېغلـــې منـــدې کـــړي تـــوپ واچـــوي ميـــدان تـــه
توروېښـــتان يـــې ســـم نځـــا تـــه ځـــي روان دي
پـــه سرونـــو يـــي سره منګـــي پـــه غرورايښـــي
شـــنه چشـــمان يـــي چېرتـــه غلاتـــه ځـــي روان دي

پــــه هرانـــــدام کـــــې د خـــــالق د قـــــدرتونو نښــــې
دیارپـــــه مـــــخ کـــــې تکـــــې سرې د ګلابونونښـــــې
کــــــه لمرســــــپوږمۍ اوســــــماوې اجســــــام دي
دې کـــــې نغښـــــتي دجـــــلال اوعظمتونونښـــــې
دونـــــې پاڼـــــه چېرتـــــه دومـــــره ســـــاده ونـــــه ګڼـــــې
پکـــــې دي ډېـــــرې د ژونـــــدون د بنیـــــادونو نښـــــې
دژونــــــــدون شروع د دوه حجرونــــــــه کیــــــږي
راوړي د ځــــــان سره د مینــــــدو اوپلرونــــــو نښــــــې
کــــه کهکشــــان دی طبعیــــت کــــه کاینــــات دی
پــــه کــــې ښــــکاره دی د غفــــار درحمتونونښــــې
غـــــر او ځنګـــــل دریـــــاب تـــــه سرښـــــکاره کـــــړه
بحرکـــــــې ګـــــــوره د نهنـــــــګ دجسدونونښـــــــې
دپــــوش پــــه مــــنخ کــــې یــــووړوکی مکــــروب
چـــــې راپیـــــداکړي د ســـــلګونو مرضـــــونو نښـــــې
حیـــــدري ســـــتا دشـــــعر بیتونـــــه کفایـــــت نکـــــوي
نـــــه پـــــوره کیـــــږي پـــــه قلـــــم او پـــــه شعرونونښـــــې

چــې د یــار د ســترګو تــوی شي پــه لیمــوکې میلمنــه شي
رخصـــت واخـــلي د لیمونـــه اننګـــوکې میلمنـــه شي
وکـــړې بـــل مســـیرته مخـــه ګریوانـــوکې میلمنـــه شي
پـــه ســـکون سره د اناروپـــه بـــاغچوکې میلمنـــه شي

مونږه ستا د زحمتونو وقرضداري
ستا د زغم ستاد دردونو قرضداري
ته زمونږ دژوندچینه یې بې له شکه
د بې شمیره نعمتونو یې قرضداري
چې زه ګل شم داغزومزل دې وکړ
دابله پښودواړه قدمونوقرضداري
لکه ځاله کې مرغۍ په بجوناسته
مونږبچې دې دوزرونوقرضداري
پرون بازمونږ په ځالوحمله وکړه
ستاپیکار ستا د جنګونو نه قرضداري
دللو ورن دی نه شته دې غزل کې
دسندریزه ماښامونو قرضداري
مورې ستا د ربړیدلي ژوندقصه ده
مونږه واړه په عمرونو یو قرضداري

گیلې مکړه گلان یوسه جانان ته
نرگس یوسه ریحان یوسه جانان ته

غزل غزل لفظونه درسره یوسه
داواړه په زبان یوسه جانان ته
ورك دې د ماښام داتروږمې شي
رڼا د سپین اسمان یوسه جانان ته
غوښتې مسافردرنه میوه دخپل وطن ده
انځر د سمنگان یوسه جانان ته
دیدن ته چې راښکته شي له پاسه
څوڅاڅکي دباران یوسه جانان ته
خیرکه قتلمې دې وس کې نه شته(۱)
یوڅو دانې غوزان یوسه جانان ته
یه ریباره دې ځلې خوبله لوبه وکړه
غېږکې دې جانان یوسه جانان ته
تا چې ژوند د یاره قربان کړی دی
ځان سره دې ځان یوسه جانان ته

یه حیدري تانه چې یارغوښتې دي
شنه شنه دې چشمان یوسه جانان ته

[۱] قتلمې یا کتلمه یوه محلي اصطلاح ده چې معمولاًدخوږوخوړو دپاره کارول کېږییا داچې یوه نوعه خواړه دي چې داوړو شیدو هگیو اوغوړو سخه جوړیږي

ته وايې زه يې نه کړم
زه وايم زه يې نه کړم
نودادکلي مکتب چا وسېزه
اودغه ځای دادب چاوسېزه
ته هم منکريې
او زه هم منکريم
نوداروغتون دکلي ولې وران شو
اوروزنتون دکلي ولې وران شو
ته دشمشيره منکر
او زه ترې هم منکريم
نودا دکونډې بچی چاوواژه
ياتاوژلي دي يا ماوواژه
ته دانصاف دعوه کړې
زه له تر ډېردعوه دار
جګې بنګلې نوتادکومه کړلې
ډکې پيالې نومادکومه کړلې
ته د انګورو منکر
اوزه دبنګومنکر
ساقي خانې نودلته چاراوړلې
ډکې پيالې نودلته چاراوړلې
ته وای کوکناربد دي
زه وايم سل واربددي
نودافين ګدام دکومه شولو

په شکل پوخ اوخام دکومه شولو
ته د پوډروکاروبار نه کوې؟
چې زه یې وایم اعتبارنه کوې
نودې معتاد ته پوډرچاراول
پرون که تاراوړل نن ماراوړل
ته درشوته منکر
زه د سرقته منکر
ما او تا دواړه کوو
غاړه په غاړه کوو
زه وایم ټول کنهګار
پوره په تول کنهګار
په سرسرتورګنهګار
کلاه پکول ګنهګار
پیغلوباورپرې وکړو
ملنګ کچکول ګنهګار
دومن خان په مرګ کې
پوره کهول ګناهګار
لیوانو وخوړلي
شپونکي اوشپول ګنهګار([1])

[1] شپول ډېري معناګاني لري خوهغه محوطه چې معولاًً دکنکونه جوړیږي اودشپې له خواپکي میږي اوپسونه ساتل کیږي شپول ورته وایي

لادمشرانوپه بل شوي اورکې سوځو
هم بیرون هم په دننه کورکې سوځو

نه دموراونه دپلارغېږه محفوظه
ځان ته ګورو او په غېږد مورکې سوځو
څه خومونږه دثبات غېږې ته نه ځو
مونږ د ډېرې خاموشۍ په شورکې سوځو
کله کله ځان خراب کړونورابادکړو
دغه وخت کې د پردو په تورکې سوځو
سیندته ودانګو لمبې زمونږ مړې نه شي
هم په هاغه هم په دغه لورکې سوځو
مونږدورور سره د فتنې په تول روان یو
مونږبه ځکه په فریاد دورورکې سوځو
نه مولوراونه موخورته برخه ورکړه
لورخاموشه په غوغا دخورکې سوځو
زمونږ دناغېړې ابعاد دحده نه سیوادي
دکوټې په طول کې سوځو سورکې سوځو
پیغلوزلموپاڅېږئ زخمي ته وینه ورکړئ
خپل اوپردي مه ګوئ پردي ته وینه ورکړئ
خیرکه مخالف دي اوزمونږسره جګړه کوي
پروت په بستر ه دی بسترې ته وینه ورکړئ
ښځه که سړي دي دواړه حق لري په مونږه
هرې ګرانې خور او هرسړي ته وینه ورکړئ

خیرکـــه یـــې پـــرون ډک ډک جامونـــه راتـــه راکـــړل
وایـــي حیـــدري خـــیردی ســـاقي تـــه وینـــه ورکـــړئ
ټولـــــه مشرـــــقي نـــــن دخفګـــــان ښپونیـــــولې ده
یوزمـــونږ وطـــن دی مـــشرقي تـــه وینـــه ورکـــړئ
ټولـــــه مشرـــــقي ده خـــــوکنړیې ډېـــــرځپلی دی
ژرکـــــړئ لغمانیـــــانوکونړي تـــــه وینـــــه ورکـــــړئ
پـــروت د مـــور پـــه غېږکـــې دې ټـــوټې بـــدن
بیـــره کـــړئ ځوانـــانوګلالي تـــه وینـــه ورکـــړئ
وګـــــورئ طبـــــي لښـــــکرو کلکـــــه ملاتړلـــــې ده
ټولوتـــه کـــه نـــه شي حیـــدري تـــه مینـــه ورکـــړئ

د اغـــــزو پــــه ځــــاى د ګــــل سره مينـــــه ښـــه ده
د نتكـــــــى او دچارګـــــــل سره مينـــــــه ښـــــه ده

چـــــې خـــــوراك يـــــې د مرغـــــانوتنكى غوښـــــې
بــــــازان ورك شـــــه دبلبــــل سره مينـــــه ښـــــه ده
دګونګـــــوټ پـــــه شـــــان سرګـــــين نـــــه مـــــه تـــــاويږه
شـــــاعر وايـــــــي دســــــنبل سره مينـــــه ښـــــه ده
چـــــې ولاړدي دبادامو پـــــه دانـــــو لكـــــه سرتـــــيري
دبانـــــه مينـــــه بهـــــتره دقاتـــــل سره مينـــــه ښـــه ده
پـــــه تـــــورتم كـــــې نـــــه پتنـــــګ مـــــري اونـــــه شـــــمعه
خودشــــــمع اومحفـــــــل سره مينـــــــه ښـــــه ده
زمـــــاكلي كـــــې د هـــــر ديـــــاره خلـــــك ميلمانـــــه دي
د عاقـــــل سره د جاهـــــل سره مينـــــه ښـــــه ده
ژونـــــــد د ســـــــــتونزو اوخوښـــــــــيومجموعه ده
د خوښـــــې او د مشـــــكل سره مينـــــه ښـــــه ده
حيـــــدري ديـــــار د سراو د پښـــــو زار شـــــه
تاتـــــه وايـــــي دتوركاكـــــل سره مينـــــه ښـــــه ده

دکلـــــــــــي پـــــــــه کوځـــــــــــوکې
پـــــــه دیـــــــرو اوپـــــــه حجروکـــــــــې
پـــــــــه ســـــــــهر اومـــــــــــازیگرکې
اوپـــــــــــه ټکنـــــــــــده غرمــــــــــوکې
دســــــــــــــــوزانده لمردلانـــــــــــــــدې
او د شـــــــــپې پـــــــــه تروږمـــــــــوکې
دچنـــــــــار د ســـــــــیوري لانـــــــــدې
پـــــــــه سمســـــــــوره چمنـــــــــوکې
هـــــــم دناســـــــتې پـــــه محـــــــل کـــــې
هـــــــــم دلارې پـــــــــه اوږدوکـــــــــې
دیوســـــــــــتړې ســـــــــــفرموخه
هـــــــم پـــــــه ناســـــــته اودمـــــــوکې
لټومـــــــــــه یـــــــــوه ورکـــــــــه
پـــــــه پیالواوپـــــــه رنجـــــــــوکې
دقیـــــــام محـــــــــل دې گـــــــــورم
لټـــــــوم یـــــــــې ســـــــــجدوکې
ســـــــم سرســـــــامه لیـــــــونی شـــــــوم
اوترگـــــــــــرځم میکـــــــــــدوکې
دژونـــــــــدو د یـــــــــارمې پرېښـــــــــود
پـــــــه طلـــــــب د هـــــــدیروکې
ســـــــتړی ســـــــتړی شـــــــومه خدایـــــــه
پـــــه دې ډېـــــرو دتلـــــــو راتلـــــوکې
یودیـــــــارمې مـــــــې پرایښـــــــی نـــــــه دی

دهدف په جستجوکې
ستړی ستړی مې سفروه
دمه نه شوم په دموکې
د یو ورک هدف په لټه
مزل کوم په کړلیچوکې
لالهنده مې سفروه
شوم حساب په لیونوکې
په رښتیا چې لیونی یم
لعل لټوم په ایروکې
بس د پلارد قدم خاورې لټوم
دم په دم دکلي لارې لټوم
په یوځلې که ونه شوي
په سل واري لټوم
پلاره ستا دپلونوښې
دبڼو په څوکو گورم
که مې دلته پیدانکړې
بیا دغروپه
څوکوگورم

لنډه داوږدمزل وه
زماعزم اوتکل وه
ما دپلار دقدم خاورې لټولې
نه قدم وه اونه پل وه

# دپوهاند حیدري لنډه پیژندنه



پوهاندډوکتور سید قمبرعلی (حیدری) د سید محمد حیدر زوی د سید عبد الله لمسی په (1336)هـ ش کال کی دکونړ ولایت دپـــشد پـــه تـــاریخی کلی کی دســاداتــو په کورنی کی زیږیدلی دی٠

ابتدائي زده کړی ئي دپشدپه ښونځی ، ثانوی زده کړی ئي دنرنګ په لیسه او لوړی زده کړی ئي د کابل په پوهنتون کی سرته رسولی دی٠

پـه (1359)هـ ش کال کی د ننګرهاردطـب دپوهنځی د فارمکولوژی په څانګه کی د استادپه حیث مقرر شو چی تر نن تاریخ پوري ئي د استادي مقدسي دندي ته دوام ورکړ٠

نـوموړي د استادي د مـقدسـي دنـدي تـر څـنـګ د طبي پـوهي مـجلي د نشراتو بـورډ (کـتـنـپـلاوي) د غـړي ،د کـریـکـولـم د کُـمـیـټـي غړي، د طب پوهنځي د علمي شــورا د غــړي او د فـارمــکـولــوژي د دیـپـارتـمـنـت د شِف (مشر) په حیث دنده اجرا کړي ده٠

استاد حــیدري په خـــصوصي پوهنتونونو کې (سپین غر،روښان اواریانا) کي پـــه غـــیر رســـمي وخـت کي د فارمکولوژي مــضمون تـدریس کړي دي ، په دغه مـــوده کي نـــوموړي ګڼ شــمیر کانــفرانسونه ارایـــه کړي ، پـــه علمي سمینارونو ، ورکـــشاپـــونـــو او روزنـــیزو کورســـونو کي ئي بـــرخـــه اخیستلي ده او په دي مـــوده کي ګڼ شـــمـــیـرستایـــنلـــیکونـــه هـــم اخـــســتلي دي – چي وروستـــي يي 4901/5228 ګڼه -10-14 1394 د لوړو زده کړو وزارت لخوا د ښه لکچررسپاس نامه ده.

## نوموړی په دی موده کی لاندی علمی اثار ټولنی ته وړاندی کړی دی

1: داوتونوم سستم دواګانی(ترجمه)۰

2: د درملو په ځای کارونه ۰

3: دپیازو فارمکولوژیکی اغیزی ۰

4: د توکسوپلازموزیس ضد دواګانی ۰

5: ماکرولایدونه اودهغونوی مُستحضرات ۰

6: په وینه کی د پوتاشیم په سویه د درملو اغیزی ۰

7: په پوستکي باندي د درملو بدي اغیزي

8: په وینه باندي د درملو بدي اغیزي

9:د انتی سیپتیکونود اړخیزو اغیزوڅیړنه ۰

10: د درملو بدی اغیزی) (تالیف)۰

11: ددرملوڅخه درامنځ ته شوی هایپونایتریمیا د پیښو څیړنه ۰

12: په ینه(ځیګر) باندی د رملو د اړخیزو اغیزو څیړنه ۰

13:دیوحجروی پرازیتونو او چینجوضد دواګانی (ترجمه)

14: په اوبو کی د ایودین مقدار او د اینډیمیک جاغور سره ئي اړیکی ۰

15: دجراحی وقایوی انتی بیوتیکونودمعیاری درملنی لارښود ۰

16: دبیتالکتام انتی بیوتیکونواودبیتالکتماز نهی کونکو درملو تر منځ سنرجیزم۰

17: په بیوشیمیکی پارامترونوباندی د Cucurbita د زړو او Immunomodulators د اغیزو پرتلیزه څیړنه ۰

18 : Knowledge and attitude of pharmacists Regarding climate change and Impact on drugs in Jalalabad City

19 : Opiate dependence

20 : Prevalence and Risk Factor of Hypertension Among diabetic Patients

21: ددرملو تیراتوجنیکی اغیزی ۰

22: په ماشومانوکی ددرملواغیزی ۰

23: دهوږی فارمکولوژیکی اغیزی ۰

24: دزیتون فارمکولوژیکی اغیزی ۰

25: د Cannabinoids کارونه ۰

26: کیموتراپی ۰(تالیف)۰

27: فارمکولوژی ۲ ټوک (تالیف)۰

28: فارمکولوژی ۳ ټوک (تالیف)۰

29: شعری ټولګه د قلم په ژبه

30: شعری ټولګه د رڼا پیغامونه